# ځوانان او شخصیت جوړېدنه

لیکوال:

ډاکټر تاج الدین (ملت مل)

۱۳۸۹ لمریز

Ketabton.com

دویم چاپ

د جلال اباد ښار _ننګرهار، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ځانګړنې:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | ځوانان او شخصیت جوړېدنه |
| لیکوال | :: | ډاکټر تاج الدین (ملت مل) |
| دلیکوال بریښنا لیک | :: | tajmim@aol.com |
| دچاپ لړۍ | :: | دویم چاپ، له نوو زیاتونو سره |
| ژبنیز اصلاحونه | :: | هجرت اللّه (اختیار) او حیات اللّه (وړ) |
| کمپوزګران | :: | شمس الدین (الفت) او عبدالقدیر (امین) |
| پښتۍ او ډېزاین | :: | رحمان اللّه بهیر |
| دچاپ شمېر | :: | ۲۰۰۰ ټوکه |
| چاپ ځای | :: | حلیمی مطبعه |
| دکتاب د لاسته راوړنې پته | :: | نوی سید جمال الدین (افغان) انستېټیوت |

دچپرهار زړه هډه، دننګرهار د بریښنا ریاست ته
مخامخ، د تالاشې چوک ته نږدی، جلال آباد ښار
اړیکشمېرې: ۴۵۴ – ۰۰۶ – ۷۰۰ (۰)
۳۳۳ – ۰۰۰ – ۶۰۲ (۰)


ددې کتاب د کاپي او چاپ ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي، سرغړونکی به یې له سختو قانوني مجازاتو سره مخ شی، د اجازی لپاره له لیکوال سره اړیکې ونیسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپل دغه اثر د افغانستان دتوریالې، ولې ساده (!) او محروم ملت هغه ځوان نسل ته چې دطاغونیت دوحشتونو له لاسه یې د خپل ماشومتوب زرینې ورځې او شپې یې په غرونو، رغونو کې، په سرو غرمو، سړو او واورو کې په بې کوري، یتیمۍ او نا هیلیو کې تېرې کړي، او آن داچې همدا نن هم له خپلو نړیوالو همزولو سره د سیالۍنه بې برخې کړای شوي، په خورا درناوي ډالۍ کوم.

**ډاکټر تاج ا لدین ( ملت مل)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دکتاب موخه

دټولنیزو بریالیتوبونو او لاس ته راوړنـو بنـسټ پـه ځـوانۍ کـې ایښودل کیږي. له بده مرغه، هغه وخت چې ځوانان دا واقیعیت درک کوي، نو دومره پرې ناوخته شوی وي چې بیا هغه د لاس نه وتلې وخت نـشي جبرانـولای. ددې کتـاب د لیکلـو اصـلې موخـه همدا ده، چې تاسي ځوانان و دغه حساس ټکی ته متـوجې کـړي، تر څو په خپل راتلونکې ژوند کې لوړو مقامونو ته د رسـیدو پـه لاره کې تاسي هغه وړ او ضروري فرصتونه لـه لاسـه ورنکـړي، د کومو چې زه او زما په څیر نور یې ارمان کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه

دا دخوښي ځاي دي چه د "ځوانان او شخصيت جوړيدنه" کتاب د دوهم ځل لپاره د نوي اضافي او اصلاح شوي موادو سره د لوستونکو او علاقه لرونکو په وړاندې ډالۍ کيږي.

زه يو ځل بيا ددی کتاب په تهيه، ټائيپ، اصلاح او چاپ کښي د يو شمير زياتو ملګرو او دوستانو د نه ستړي کيدونکي هلو ځلو نه مننه کوم. په خاصه توګه زما د کورنۍ د څو تنو ځوانانو شمس الدين (الفت)، عبدالقدير (امين)، اشرف خان (شيرزاد) او مشرف خان (حيران) هلې ځلي چې څو څو ځله يي د کتاب په درستونه او د کتاب په کمپوز کولوکي کړي د ستائني وړ بولم.

ددې تر خوا د محترم هجرت الله (اختيار) صيب، اوحيات الله (وړ) صيب دوامداره هلې ځلي د کتاب د ژبنيز اصلاح او ډيزاين په برخه کي او همدا راز د ښاغلې نجيب الله( نايل ) صيب او رحمان الله بهير چټکي او ضروري لاسوهنې د کتاب د ډيزاين په برخه کی دومره با ارزښته دي چي د دوي ددغو علمي مرستو پرته به دا کتاب لکه د يوه بي مالګي قطغ په شان وه. زه ددوی د هريوه له اخلاصه ډکو هلو ځلو نه د زړه له کومې مننه کوم

بی ويلو دي نه وي چې دا د ښاغلې عبدالبصير سباوون هر اړخيزه همکاري وه چي دغه کتاب ئي زما دخولي او فکر نه ستاسي لاسونو ته درورساوه. دده د دوامداره مرستو نه بغير به دغه کتاب اوس هم يو خيال وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته دا په ځاي ئي بولم چي دشمشادد تلويزون، دننگرهارد ملي تلويزون،د شرق ږ تلويزون اود افغانستان د ملي تلويزون د مسئولينو او كاركوونكو نه اوهمدا راز داباسين، نرگس، شرق او كليد راديوگانو د كاركونكو څخه هم د زړه له كومې مننه وكړم چي ټولني ته ئي ددي كتاب دور پيژندنې په برخه كې خپلې هر اړخيزه همكاري په نه ستړي كيدونكې توگه جاري ساتلې دي.

بلاخره غواړم چي ديو شمير زياتو هغه ځوانانو نه مننه وكړم چه دكتاب د لوستلو نه وروسته ئي په خورا مشكل سره زما سره اړيكي نيولې او دخپلو نيكو نظريو، انتقاداتو او پيشنهاداتو سره ئي نه يوازي دا چه دا كتاب ښكلي او رنگين كړې بلكه ماته ئي هم ددي خدمت د ادامي وركولو لپاره دوامداره انرژي او مينه رابخښلي ده.

په پاي كي بايد ووايم چي زما د كورنۍ د ټولو غړو او په خاصه توگه زه د خپلي گرانې ميرمني گلالۍجانې او خوږي لور هڅاندي نه مننه كوم چه دوي د خپلي ميني او وخت يو لويه برخه ماته رابخښلي وه چي د هغې نه په استفاده زه يو ځل بيا دا اثر له سره تنظيم او ستاسي درنو لوستونكو تر لاسو در ورسوم.

خپلې خبري په دي لنډول غواړم چه افغانستان زمونږ هيواد دي. ددي ازادول، ابادول، اصلاح او ښكلي كول دهر افغان مسئوليت دي. راځي چي په گډه خپل دغه دروند تاريخي مسؤليت په صداقت، او ايمانداري سره ترسره كړو.

**په خورا درنښت**

**داكتر تاج الدين ملت مل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب په اړه

دا کتاب د انسانانو د ژوند تر ټولو مهم اړخ (تربیې) ته وقف کړل شوی دی. تعلیم سړي ته هوسا ژوند کول او تربیه ورته ابرومند ژوند کول ورزده کوي. تعلیم د هر انسان د هوسا ورځینې ژوند لپاره د وسایلو او وسایطو د جوړولو او د هغوي نه د مؤثري ګټې اخستلو وسیله ده. او تربیه بیا په ټولنه کي د انسانانو تر منځ د اجتماعیت، او انساني نیکو اړیکو او په ټولنه کي نورو ته د ګټورثابتیدلووسیله ده. انسانان په نړۍ کي د یوه تر ټولو لوړ اجتماعي مخلوق په توګه د تعلیم نه ړومبې تربیې ته زیات او جدي ضرورت لري. د شرقي ټولنو یو ښه صفت هم د همدې ښې تربیۍ لرل وه او دی. سره لدی چي غربي ټولني په مادی لحاظ ډیر پرمختیاوي تر لاسه کړي دي، خو د تربیې او معنوی نیمګړتیاو په وجه نن هغه ټولني ډیري پریشانه او د ډیرو اجتماعي ستونزو سره مخ دي.

زمونږ هیواد هم د شوروی له خوا د راتپل شوي جګړې دمخه و د غربت او وروسته پاتېوالی د ټولو مصیبتونو سره سره، بیا هم د معنویت او خاصتاً د تربیۍ له پلوه یوه بډای ټولنه وه. ولې بدبختانه د تیر دري لسیزو راتپل شووجګړو په نتیجه کی، زمونږ ټولنه د دوه نوعه زیانونو سره مخ شوه. یویي فزیکي زیان او خرابونه ده، چي په هغي کي د سرکونو، کورونو، مځکو، بندونو، خرابوونه او له منځه تلنه شامل ده، او بل یي معنوي زیان دي چي په هغی کي د ټولنی د غړو، خاصتاً د ځوان نسل تعلیمي او تربیوي خرابوونه شامل دي. چي ددي جملې څخه زمونږ د ټولنې تر ټولو مهم او ستونزمن زیان د ځوان نسل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تربـې لـه منځـه تلـل او ددوي ذهنـې او تربيـوي خرابونـه ده. د هيـواد فزيکې بيرته رغونه اسانه او حتا خارجيان هم کولاې شي چې تـر ډيـره حده هغه ترسره کړي، ولې د هيواد معنوي زيان خورا ګران، او پخپلـه د افغانانو نه پرته بل هيڅوک هم نشی کولاي چې هغه ترسره کـړي. پـردي برسيره، ذهنی رغونـه د فزيکـې رغـوونې پـه نسبت اوليت لـري. ترڅو چې مـونږ د خپـل خلکـو ذهنونـه د هېـواد او ملـې ګټـو پـه خـاطر امـاده نکړو، ټولي فزيکې رغووني به بيځايه، بېوختـه، او داسـي بې نتيجې وي لکه همدا اوس چې دي.

متأُسفانه، زمونږ پـه هېـواد کـی نه دولـت، او نـه هـم خلـک و دغـې مهـم او ضـروري اصـل تـه دومـره توجـه کـوي. د نـورو ډيـرو علتونـو تـر خـوا کيداې شي يو علت دا هم وي، چې معنوي رغونـه، او د ذهنونـو اصـلاح کوونه ستونزمن کـار، او تـر بـل هـر څه زيات نموني جوړيدنې ته ضرورت لري. ممکن همدا عوامل وي چې لاتر اوسه پدې برخه کي هيڅ او يا هـم ډير ناڅيز اقدامونه تر سره شوي دي.

زه دا خپـل افتخار بولم چې د خپلـې ټولنې د يـوه اګـاه او بـا مـسؤليتـه سياسـې انسـان پـه توګه، ددغـه اساسـې سـتونزې پـه درک کولـو، او ددي سـتونزې د اساسـې او بنيـادي حـل پـه لاره کـی د هيـوادوالـو پـه پوهونـه، راوينبـوونه، او ددوي پـه لاژمه تجهيزونه کې خپـل لومړنـې مـسؤليتـونـه ددي کتـاب لـه لاري تـر سـره کـوم. ولـې دا هـم لاژمـې بـولم چې خپـل هيوادوال ددي مشکل ژوروالـې، پراخوالـې او عـاجـل والـې تـه متـؤجې کړم. افغانان بايد پدې پوه شي چې دا ستونزه ډيره پيچلې، او چاره يـي هـم خـورا ګرانـه، او ډيـرو پراخـو، او هـر اړخيـزو هلـو ځلـو او قربـانيـو تـه ضرورت لري. يوازينې لاره چي مونږ بـه وکولاې شـو چې د خپـل هيـواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښانه راتلونکۍ ته اميدوار شوو، هغه به همدا د سالمې ملې روزنې په لاره کې د ټولو افغانانو (دولت او ملت) نه سترېکيدونې دوامداره او صادقانه هلې ځلې وي او بس. نو پدې ځای کی دا خپل ملې، اسلامې او انسانې فرض بولم، چې د خپل ځان په مثال کيدو سره، تاسې ځوانان او مشران هر يو پدې لاره کې د منظمې او مؤثرې ونډې اخستلو ته راوبولم. راځې چې په ګډه د خپل ځوان نسل د سالمې روزنې په برخه کې مونږ هريو خپل اتل توب او مخکښوالې ښکاره کړو.

**تاج الدين ملت مل**
**جلال اباد**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال لنډه پېژندنه

ډاکټرتاج الدین (ملت مل) د ننګرهار ولایت د چپرهار د ولسوالۍ د شولانې په کلي کې د نن نه ۵۷ کاله پخوا زېږېدلی دی. نوموړي په تنکۍ ځوانۍ کې د خپلو خاصو علمي توانمدیو په وجه ثانوي زده کړې په لسو کلو کې مکملې کړي چې د ننګرهار د عالي لېسې څخه په اعلی درجه د فراغت نه پس د ننګرهار د پوهنتون د طب په پوهنځي کې شامل او په ۱۳۵۵ کال کې د طب د پوهنځي څخه هم په اعلی درجه فارغ شو. دی په هېواد کې د څو کاله خدمت نه وروسته د کمونستي دولت له خوا په سیاسي بند د پلچرخې په زندان کې بندي کړای شو چې د راز، راز شکنجو نه پس بیا د زاندان څخه د خوشې کیدو سره سم ده په کابل کې یي خپله وظیفه اوکور پریښودل،اودجهاد په لیکوکې یي دخپل هیواد داستقلال، ملي حاکمیت اوداسلام د مقدس دین څخه ددفاع په لاره کې مبارزی ته دوام ورکړ. خودجهاد په منځ کښې تنګنظری ددي سبب وګرځیده چه دي یي دهیواد څخه په هجرت کولو مجبور اوپه سره ژمي کښې دتوري بوري دغرو له لاري پاکستان ته مهاجرشو.

په پاکستان کي (۱۳۵۹– ۱۳۶۷ ل) کلونو کې، ده برسیره پردي چې په مختلفو موسسو اوشفاخانو کښې دافغاني ګډوالو اومبارزو مجاهدینو لپاره نه ستړي کیدونکي طبي خدمدتونه ترسره کړل، ددي ترخوایي همیش دخپل ګران هیواد او هیوادوالو د اتحاد، استقلال، ازادۍ اوخوشبختۍ په خاطر هر اړخیزه سیاسي هلی ځلې هم کولې، او ورسره یي دهرنوع تخریب کارانه دسیسو په وړاندی اګاهانه، شعورې، اومنظمه سیاسي مبارزه هم پر مخ وړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دارتجاع او خارجي شبکو په وړاند ي دده همدغه قاطع اوغوځ دریز ددي سبب شو چه بلا خره دې دپاکستان څخه امریکي ته په سیاسي پناه اخستلو مجبورکړاي شو. غربت اود هیواد نه لریوالې دده په هاغه توده مینه کي چه یي دخپلو خلکو اوهیواد سره لرله هیڅ نوعه بدلون رانه وستلای شو، اوپدي توگه دده هلته په امریکي کښي هم په دوامداره او قاطعانه توگه دخپل هیوادنه په دفاع کولو اوخپلو هیوادوالو دسیاسي وحدت په لاره کښي نه ستړي کیدونکي مبارزي ته ادامه ورکړي اوورکوي یي.

ملت مل صاحب په امریکي کښي نور لوړتجصیلات هم وکړل او دوه ماستړ دیگري دامریکي څخه هم لاس ته راوړي. دده دطب، ټولنیزو اوسیاسي موضوعاتو په برخه کښي دولس کتابونه لیکلي اودده څلو راختراع گاني هم په نړي والي کچه منل شوي اودامریکي دکانگرس په کتابخانه کښي دده په نوم ثبت دي، چه دهغي جمله څخه یو هم دیوي دایمي کلیزي اختراع اوبل هم د داسي یوه ساینسي فارمول اختراع شامل دي دکوم له مخي چه هجري شمسي نیټي په میلادي اومیلادي نیټي په هجري شمسي نیټو په د قیقه توگه بدلیدلاي شي. دپورته علمي اثارونه علاوه ملت مل دطًب په ساحه کښي فوق العاده زیات علمې خیړنـي کړي اودهغي تحقیقاتي مقالي دامریکا اواروپا په مشهورو طبې مسلکې مجلو کې نشر اودده طبي تحقیقاتو نړي والي جایزي ترلاسه کړي دي.

داکترملت مل دسولي په برخه کي په نړي واله کچه یو پیژندل شوې او منل شوې شخصیت دی. دنړي والي سولي په برخه کښي دده اثار اووړاندیزونه په پراخه کچه منل شوي او په دي لاره کي یي دده ته و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوهیوادونو ته دسفر اوپه نړي والو کنفرانسونو کښي د مهمو بیانیو دورکولو شرایط برابر کړي دي. ده د خپلو همدغو هلو ځلو په نتیجه کي د (دسولي نړي وال سفیر) جائزه ګټلې، او (د سولې د نړیوال سفیر) په توګه په نړیواله کچه پیژندل شویدی.

ملت مل دسیاست په ډګر کښي هم دیوه غښتلي ، ثابت دریځ او دوراندیش ( لرلید ) ملي اسلامي مبارز په توګه دهیواد په ډیر و نازکو حالاتو کښي دخپلي خاوري اوخلکو دحقوقو نه په دوامداره او زړه وره توګه دفاع کړي اوکوي یي . دسیاسي فکر له نظره ملت مل یو ملي،مسلمان، په اجتماعې عدالت، او دیموکراسي باورمند مبارز شخصیت دی. دی که له یوی خوا اسلام د یوی سیاسي وسیلې په توګه استعمالول د اسلام او مسلمانانو په ګټه نه بولی، د بلې خوا دي د سوسیالیزم او کمونیزم تر شعارونو لاندي هر نوعه مبارزه چې د افغانانو د ملي مقدساتو او ملي کلتور سره مخالفه وي په جدي توګه محکوموي. نوموړي همدا اوس هم دخپلو نورو سیاسي ملګرو په ملاتړ دهیواد دابادۍ، سولي سوکالي ،ازادۍ اوکامل اسقلال په خاطر، دداسي یوه سیاسي تشکل په جوړښت کارکوي چه یوازی هغه تشکل کولاي شي داهیواد ددي درند و ستونزو نه بچ او د ابد لپاره په یوه مستقل ، خپلواک او سرلوړي هیواد بدل کري.

ملت مل د طبي او سیاسي خدمتونو سربیره په خیریه کارونو کي هم تر نورو ګړندي او همیشه مصروف پاتي شوي دي . د اجتماعي خیریه کارونوپه جمله کښي دده له خوا په چپرهار کي دکونډو ښځو یوه پروژه، دسولي په نوم د غټو جنکو لپاره یو ځانګړي مکتب، دننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپوهنتــون ســره مرســتي، اودهــزاره جــات خلکــو تــه يــو لړخدمتونــه دیادونې وړدي.

داکتر ملت مل د هيواد د ځوان نسل د عملي تشويق او د هيواد په بيا رغونه کي د ځوانانو د سالمې او مؤثرې ونډې اخستلو په منظور د ( ټولنيز خدمتگاران) په نوم يو اجتماعي تحريک ايجاد کړي دي چې دغــه تحريــک هيــوادوال خاصــتاً ځوانــان د هيــواد پــه رغوونــه او سالمتياکي فعالې داوطلبانه ونډې اخستلو ته هڅوي. ددي اجتماعې تحريک اهداف ډير ساده او فوقالعاده علمې، اوعملي دي. ، چې په لاندې ډول ذکر کيږي:

۱. د هيـواد د مـالې ودي د تقـوې او پـه خپـل ځـان د اتکـا پـه غـرض د ملې توليداتو استعمالونه، هڅونه ، سپاربتنه، او د هغـوي د ساتنې او پراختيا نه پلوې

۲. پـه ملـې کچـه د سـالم، پـاک او ښـه چاپيريـال د جوړونې او سـاتنې لپــاره وقــايوې، او معــالجوي تدبيرونــه، هلــې ځلــي او د هيوادوالــو خبرتيا ، روښانتيا او هڅونه

۳. د ښه، غوره او نيـک کلتـور وده، پراختيـا او د خـراب کلتـور سره مجادله او د هغې مخنيوي

داکترملت مـل د يـوه بامـسؤليته سياسې انسان پـه توگـه، هميـشه د خپـل هيـواد ستونزو تـه ژوره پاملرنـه کـړې، او پـه دي توگـه يـي هميش خپل وطنوالو ته بې جوړي لاربښووني وړاندي کـړي دي. ښـاغلې ملت مـل د خپـل کاهـل ژونـد پـه ډيـرو لومړنيـو شـيبو کـي د خپـل هيـواد او هيوادوالو لپاره د سياسي خدمت ډگر ته ورودانگل. ده د خپـل عمـر پـه شپاړس کلنې کي د (ملت مل) تخلص ځان ته غوره کړ، او دده پـه قـول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هماغه وخته تر نن ورځې پورې نه يوازې داچې و دې تخلص ته په هرا ړخيزه توګه صادق او وفادار پاتې شوی دی، بلکه په همدې لاره کې يې بې شميره او کم مساله قرباني ورکړې دي.

د ملت مل له نظره يو سالم سياسي شخص هغه دی چې د تاريخ په هره مقطع کې په دوامداره توګه، خپله ټولنه منطقه او نړې وارزوې، او په دې بهير کې د خپل هيواد او خلکو رښتيني او دوامداره ګټې درک، او د هغو د لاس ته راوړلو او ساتلو لپاره داسې سالم پروګرامونه او لارې چارې خلکو ته وړاندې کړي، چې هغه د هغې ټولنې د بقا او سرلوړې سبب وګرځي.

ملت مل چې د خپل هيواد په خدمت کولو کې د مشتقيمې ونډې اخستلو په غرض دوه کاله دمخه هيواد ته راستون شو، نو د يوه ژورعلمي تحليل په رڼا کې ده د هيواد د ځوان نسل روزنه او پوهنه تر بل هر څه مهم و پيژندل، او دا يې و پتيله چې تر څو مونږ د هيواد ټول ځوان نسل، خاصتاً د پښتنو بچي په سالمه تربيه او پوهنه ملبس نه کړو، نو مونږ نشو کولای چې د پردو لاسونه د خپل ملک او خاوري څخه لنډ کړو. او ددې په نتيجه کې به نه يوازې دا چې پښتانه هميش خوا او زار وي، بلکه دهمدې کبله به د پښتنو بچي هميشه د پردو د لاس اله، او ددوې په لاسونو به د هيواد د نورو قومونو د بچو ژوند هم نا ارامه او پريشانه وي. نو دا نه يوازې دا چې د پښتنو د مشرانو مسؤليت دی چې ددې بچو سالمې روزنې او تربيې ته توجه وکړي، بلکه دا دنورو قمومونو د لرليد لرونکومشرانو مسؤليت هم دی چې د خپلو بچو د روښانه او ارامې راتلونکې په خاطر هم د پښتنو د بچو په پوهنه او روزنه کې جدي ونډه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت مل د همدي اصل په درکولو سره، د هیواد ، او خاصتاً د پښتنو د بچیانو پوهنۍ او روزنۍ ته ځان وقف کړ، او په دي لاره کي يي د ښه خدمت کولو په غرض، په ننګرهار کي د نوي سېد جمال الدين افغان انستيتيوت پرانست، او ددي انستيتيوت له لاري نه يوازی داچې ددي بچو په تعليم کي په مؤثره توګه خدمت کوي، بلکه د تعليم تر خوا و دي ځوانانو ته د شخصيت جوړيدنې د سيمينارونو او ورکشاپونو په ورکولو، او د شمشاد دپه تلويزون کي د يوې ژوندۍ برنامې له لاري، ده خپل ځان په عملې توګه د هيواد ځوان نسل ته دخدمت په لاره کي وقف کړي دي. ملت مل ادعي کوي چي دي د ځوانانو سره ځانګړي مينه لري، او دې خپل ځان دځوانانو د سالمي تربيې اوشخصيت جوړيدنه په لاره کي مسول او دخيل ګڼي. نوراځي چه ددي ادعئ دثبوت لپاره دده دغه ليکي اثر ته مراجعه وکړو، تر څو دده ددي ادعي د حقانيت په اړه سالم او ښه قضاوت وکړاي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال خبرې

دویارنې ځاي دي چې یو ځل بیا دګران هېواد او په ځانکړې توګه ځوانانو په چوپړ کي یم او د "ځوانان او شخصیت جوړیدني" کتاب د دوهم ځل لپاره دلومړی ټوک سره د یو څه نورو مخلوماتونو په زیاتولو او دیو لړ نیمګړتیاو دسمونې سره ستاسي مخې ته ږدم. د ځوانانو سره زما مینه پخه او پخوانۍ ده. ما دخپل ژوند په اوږدو کښي ډیر ځوانان د تصور نه اوچت روزلې دي چې ښه شخصیتونه تري جوړ شوي دي. د نورو پخوانیو قیصو نه علاوه په ۱۳۸۲ کال کښي مې دوه ځوانان د امریکي نه ځان سره هیواد ته راوستل او د ننګرهار پوهنتون کي مو د کمپیوتر د دیپارتمنت بنسټ کیښود. دي سفر دهغه ځوانانو او دهغوي د کورنۍ سرنوشت بدل کړ. چې اوس هغوي هر کال افغانستان ته راځې او دلته رنګارنګ مرستې کوې.

کله چې ما ددي کتاب په لیکلو شروع وکړه. د ځان سره زړه نا زړه وم. دي زړه نا زړتوب دوه علتونه لرل:

۱- زه لیکوال نه وم او ډیر ډاریدم چې هسي نه داسې څه ولیکم چې خلک راپوري وخندوي. سره له دي چې تر دي دمخه هم زما څو طبي مسلکئ کتابونه چاپ شوي وه خو د هغي موضوعات مسلکئ او د موادو لاسته راوړنه ئي اسانه وه. اما د دي کتاب لیکل د هغي ټولو په نسبت ګران ول، ځکه چې مواد ئي کم او په غرب کي نشرشوي مواد چې زما په لاسرس کي وه ، د هغې موادواکثراً ئي بیا دغربې ټولنو په کلتور پورې اړه نیوله چې د افغانې ځوانانو لپاره دومره په درد نشو خوړلاي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ما غوښتل چي کتاب ډير روان او دافغاني ټولني سره د مقائيسي وړوی. خو متائسفانه په افغانی کلتور او زمونږ په ټولنه کي چا پدي نوعه موضوعاتو هيڅ ليکني نه دي کړي. نو ماته دموادو پيداکول بلـه ستونزه وه. دی حالاتو زه مجبور کړم چي دخپل ځان او يو شمير ملګرو ځني داسي قيصي د خپلي ليکني د منبع په توګه استعمال کړم چي حتیٰ دهغوي ليکل او د خلکو سره شريکول هم په افغاني ټولنه کښي يوه ستونزه وه. خو چي کله مي کتاب خپور او په کمه کچه نشر کړ نو لومړی خو دهغو دوستانو سپارښتونو او هڅو راته يو څه ډاډ راکړ چا چي پري د چاپ نه مخکي ليکني کړي وي. اماکله چي کتاب د ځوانانو لاسته ورغي نوما هره ورځ د کتاب نه ځوانانو ته د ګټي د رسيدو په اړه نوی او په زړه پوري قيصي اوريدلي. نو خوراً زيات خوښ يم چي وتوانيدم د خپل هيواد دځوان نسل په وړاندي ددي افتخار و لرم چي اقلاً ما د خپل توان په اندازه يو څه دوي ته وړاندي کړي دي.

په تيرو دوه کلونو کي زه په افغانستان کي پاتي شوم او ما دځوان نسل د سالمي روزني په برخه کي يو بل درونـد مسئوليت ( دنوی سيد جمال الدين افغان انستيټيوت) پرانيست او هلته مي ددي کتاب نه په ګټه اخيستنه ځوانانو ته تربيوي سيمينارونه شروع کړل او دهغي اثرات ورځ په ورځ راته د خوښي لمحي رابخښلي. ددي خدمت نه لاس ته راوړنو زه لانور هم وهڅولم.

زما همدي هلو ځلو راته د شمشاد په تلويزون کښي د يوه دوامداره ژوندي پروګرام شرائط راکړل چه پدي اړه د شمشاد د اداري نه مننه کوم چه زما د زړه دا هيله ( ځوانانو ته خدمت) لپاره ئي خپل نړيوال مايکروفون يي زما په اختيار کي راکړ. ددي پروګرام له لاري راسره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلګونو ځوانانو اړیکې نیولې او خپلي ستونزي ئي مطرح کولې چې د دوې دغو عملي ستونزو ته ځواب پیدا کول او وړاندی کول زما علمې توانمندي له دوو اړخونو لازیاته کړه. اول داچي د خپل ټولنې دځوانانو اساسې ورځني ستونزي په لاښه توګه درک کړم او بیا ددي ستونزو ته د حل په لاره کښي ځوابونه تهیه کړم. چي دي موضوع د کتاب دوهم ځل چاپ لاغښتلې اونور هم افغانې کړ.

همدا راز ددي هلو ځلو په اوږدو کښې ما ته ددي سرلوړي راپه برخه شوه چه د ننګرهار د پوهنې د ریاست د یو شمیر نیکو او توانمندو مشرانو (په خاصه توګه د محترم استاد اول ګل ابوزاهد) په لارښونه او همکاري دا کتاب د افغانستان د پوهني د وزارت د تالیف او ترجمې ریاست ته د ارزونې لپاره وړاندي کړم. د پوهني وزارت زما دغه اثر د کامیابې ارزونې په نتیجه کښي ومانه او دائي تصمیم ونیوه چي دا کتاب به د دری ترجمې سره د هیواد د ټولو مکتبونو ته توضیح کړي. زما په اند چه د تدریسي نصاب د کتابونو په خوا کي دا اولین کتاب دي چه دپوهني وزارت ئي د هیواد په کچه ټولو ښوونځیو ته د توضیح کولو هوډ نیسئ. دا ماته، تاسي ځوانانو او د ننګرهار دخلکو ته د خوښي او افتخار ځای دي چي ددي سیمې د یوه لیکوال اثر پدي کچه پالل کیږی.

ګرانو ځوانانو!

مونږ په خپل هیواد کښي د تیر دیرش کلن راتپل شوي جنګ له کبله دتربې نورمال محیطونه له لاسه ورکړل، چي په نتیجه کي یي زمونږ موجوده ځوان نسل د رنګارنګ تعلیمی او تربیوی نیمګړتیاو ښکارشول. ولي تاسي هر یو غواړي چي ستاسي او لادونه باتربیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رالوی شي نو يوازيني لاره ئي داده چي مونږ او تاسي هريو په دي برخه کي خپل مسؤليترنه درک، او د تربيي د اصلاح په برخه کي مونږ او تاسي هر يو علمي او عملی قدمونه پورته کړو.

دا کار بايد له همدي ځايه شروع کړي، داکتاب واخلي، پخپله ئي ولولې، په کورنۍ کي ئي په نورو غړو ولولی او دخپلو بچيانو سره ئي ګډ ولولی او دهغوي دښوونځي معلمانو ته ئي په اختيار کي ورکړې چې ئي ولولی او عملی ئي کړي. دابه ستاسي د بچيانو په ژوند کښي تر بل هر څه ګټور کار وي او ستاسي د بچيو په رانلونکې کې به له بل هر څه ستاسي ښه سرمايه ګذاري وي. هيله ده د کتاب په لوستلو کي دهغوي سره په هغوي کي د شخصيت د پيدا کيدو او ديوه شخصيت د ادعيٰ کولو روحيه او توانمندي منځ ته راوړي. او چي کله هم ستاسي بچيانو د ناهيد په څير (ددي کتاب مخ وګوري) د خپل ځان سره او په خپل ځان کښي د يو شخصيت لرل تر لاسه کړه نو بيا تاسي په ټوله معنيٰ ددي ما شومانو د ځارني نه بيغمه کيداي شي.

نو راځي چي په ګډه ددي هيواد دجوړښت په خاطر له خپل ځان او خپلو کورنيو شروع وکړو. او پدي وسيله خپل راتلونکي نسل ديو سالم، باديانته او با شخصيته افغانانو په توګه وروزو تر څو خپل عقيدي، خپل هيواد او خپلو خلکو ته وفادار او خدمتګار پاتي شي. تربيه يوازي هغه څوك ورکولي شي چه په ټولنه کښي نورو ته مثال جوړ شي.

**درنښت**

**ډاکټر ملت مل**

**۱۳۸۹ لمريز، جلال اباد ښار**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یادونه:** دا یو واقعت دی چې زموږ افغاني ټولنه له یو لړ بې شمېره ستونزو او ننګونو سره مخ ده، چې نېغ په نېغه یې زموږ د ځوان نسل پر روزنې او شخصیتونو خپل اغېز کړی دی. په دې لاندې لیکنه کې زموږ د ټولنې دغو مهمو ستونزو او ننګونو ته اشاره شوې ده، چې د کتاب تر لوستو دمخه یې د ځوانانو لپاره لوستل اړین بولم.

## د افغاني ټولنې او افغانانو (خاصتاً د پښتنو) د خویونو په اړوند ځنې تراخه حقیقتونه، واقیعیتونه او ستونزې

د ځان نه دفاع د خداې (ج) له خوا ورکړل شوې داسې یو میخانیکیت دی چې په هغې پوهیدل کله نا کله ګران وي. دا دفاع د بدن د مختلفو غړو له خوا په مختلفو طریقو تر سره کیږي. تاسي به دا ډیر ځله لیدلې او تجربه کړیوې چې سترګې د یوه آنې خطر سره د مخ کیدو په صورت کې په داسې یوه سرعت سره پټېږي شي چې سړی یې تصور هم نشې کولای. او یا هم دماغ د یوې خطرناکه حادثې په صورت کې داسې فورې او جدې احکام د بدن نورو غړو ته صادروي چې د هغه سرعت د تصور نه بیخې لرې او ناممکن ښکاري. د همدی دفاعې مخایکیت یوه برخه هم انکار دی.

اکثره انسانان دردونکې او پریشانوونکې پیښې، او خویونه او حرکات په قصدې او عمدې توګه له نظره غورځوي، تر څو د هغو یادول دوي لازیات پریشان نکړي. چې متأسفانه دځنو غلطیو او ستونزو دغه نوعه شاته اچول او تري انکار کول بیا د انسانانو د نورو ډیرو ستومانیو او پریشانیو سبب کیږي. او په دې صورت کې د دا نوعه نیمګړتیاوو را ښکاره کول او د هغوي اصلاح کول ممکن د ټولنې په ګټه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولنيزو عيبونو او غلطو خويونو لرل، و هغه سرطاني دانو ته ورته وي چې يوائينۍ علاج يي تشخيصول، او د جراح په وسيله د هغې پريکول او لرېکول وي. دداسې دانو نه انکارکول، او د هغو په علاج پسي نه ګرځيدل ، هغه ناروغې له منځه نه وړې، بلکه برعکس هغه ناروغي په تدريج سره د هغه شخص د لاضعيفه کيدو او حتا د هغه د مړينې شرايط برابروي.

د کتاب په دې برخه کې زه غواړم د خپلې ټولنۍ يو شمير هغه نيمګړتياو او غلطيو ته اشاره وکړم چې د ټولنې زيات غړې ممکن و نه غواړې چې دا ستونزې ومنې او د هغوي ذکر کول ممکن ښه ونه ګڼې، او ممکن دوي ددی ستونزو ليکل هم خطا ، او د افغانۍ دود او دستور خلاف يو عمل وبولې. خو زه غواړم دا په ډيرو واضح ټکو کې ووايم چې د نيمګړتياو د مخنيوې او اصلاح لاره، د هغوې نه انکار، او د هغوې پټول نه، بلکه د نيمګړتياو پيژندل، او په ټولنه کې و نورو ته د هغوې ورپه ګوته کول، او د هغوي له منځه وړلو لپاره د يوه مناسب او عملې پروګرام جوړول او عملې کول دي او بس. نو راځې چې په ګډه د خپلې ټولنې د يو لړ هغه غلطياو او نيمګړتياو چې د هغو راسپړل او پري پوهيدل به مونږ سره د هغو په اصلاح کولو کې مرسته وکړې، ښيړنه او پري اعتراف وکړو.

۱. **ستونزه**: افغانستان يوه قبيلوې ټولنه ده چې لاتر اوسه يي د ملت جوړونې پړاو ندی مکمل کړی:

تقريباً څلويښت کاله دمخه زمونږ هيواد د ملت جوړيدنې مرحلې ته په ښه توګه د پيشرفت په حال کې وه، چې د شوروې اتحاد يرغل، او تر هغه وروسته د همسايه هيوادونو د توطؤ او په هيواد کې دننه د جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارانو د لابیګانه پرستۍ او مجرمانه توطیؤ په وجه بیرته د ملېګرایت په عوض په تدریجي توګه د قومي ګرایي خواته ویوړل شوو او وړل کیږی .

**وړاندیز**: ددی حالت په وړاندې مبارزه فوقالعاده هوښیاري ، ګذشت، او حوصله مندي ته ضرورت لری. دا په احساساتو نه بلکه په سوچ او پاملرنه ترسره کیداې شي. خو متأ سفانه زمونږ خلک سره لدي چې پدی ضرورت هم پوهیږي، ولې د اصلاح په لاره کی بې د ستونزو سره مخ کیږي. اکثره تعلیمکړي بیا په دی لاره کی د نازدهکړو نه زیات منفي رول ادا کوي. زمونږ د هیواد د هر قوم، او هر قشر خلکو ته دا لازمي او ضروري ده چې ددی بې اتفاقیو او قومېګرایو تر شا د ددي وطن او زمونږ د خلکو د دښمنانو توطۍ تشخیص او د هغی د خنثي کولو په لاره کی خپل ملۍ مکلفیتونه په علمۍ او عملۍ بڼه ترسره کړي.

**۲. ستونزه** : مونږ یو توریالۍ او جنګیالۍ هیواد یوو، ولې یو هوښیار هیواد نه یو!

دا یو داسي تریخ واقیعیت دی چې ممکن منلو ته یې ډیر افغانان غاړه کینږدي. هو دا رښتیا او ښه خبره ده چې مونږ په خپل وطن ، ناموس او عقیده باندې هر نوعه قربانیو ته تیار یوو، ولې اساسې سوال دادي چې دغه لاس ته راوړني که د جنګ په عوض په نورو لارو تر لاسه کړاي شوو، او تر هغې لامهمه داده چې هغه لاسته راوړنې وساتلې شو، نو دا به ځمونږ لازیاته هوښیارې وی. مونږ هر وخت د تجاوز په وړاندې جنګ کړي، او چې کله مو جنګ ګټلې دي، نو بیا مو په ډیره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیره وطن ته شا کړي، او دا مو نه دي کړي چې خپل وطن د ترقۍ و یو داسي پړاو ته ورسوو چي بیا بل څوک پری د یرغل کولو توان ونه لری.
نو د همدی کبله، د هر جنګ نه وروسته، مونږ فوراُ په خپل منځې جګړو اخته شوي یو، او همدا جګړي ددي باعث شوي، چي هیواد مو په اجتماعي او اقتصادي لحاظ وروسته پاتې شوې، او بیا په ډیره اسانۍ سره د بل یرغلګر د یرغل ښکار شوي یو.

مشوره: که مونږ یو هوښیار ملت شوو، او یو ځل خپل هیواد ازاد، او د ازادۍ سره سم هغه اباد، غښتلي او پیاوړي کړو، نو بیا به د همیش لپاره د پردو د تهاجمونو نه بیغمه شو. نو راځې چي په ګډه د خپل ګران هیواد لپاره د یوې دایمي ازادۍ، سولې، او سوکالۍ په لاره کي د خپل توریالي توب تر خوا د لږ څه هوښیارتوب نه هم کار واخلو، او نور ددي داخلي جګړو او وروروژنې د توطیو ښکار نشو.

**۳. ستونزه**: افغانان په عمومي توګه عکس العملي **Reactionary** خلک دي نه تدبیري یا **Proactive** خلک!

انسانا په عموعي توګه دوه ډوله دي: یو هغه خلک دي چي خپل کړه وړه د یوه پلان او تدبیر له مخې عیاروي. دغه نوعه خلک همیشه کوښښ کوي چي د خپل ژوند پوري اړوند پیښي تر ډیره حده لرلید (پیش بیني) کړي، او د هغو لپاره هماغه شان مناسب تدابیر ونیسي. چي دي نوعه خلکو ته تدبیري یا **Proactive** خلک وایي. د **Pro** کلمه د **Prophylaxis** نه اخستل شوي چي د وقایې په معنا ده. او بله ډله یي هغه خلک دي چي دوي د خپل ژوند او په هغه پوري اړوند موضوعاتو په اړه کوم تدبیر او پلان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، دوي يوازي هلته په يوه عمل لاس پوري کوي چي پري عمل يا تجاوز تر سره شي، نو بيا پـه ډيره بيړه او وارخطاېي سره د هغی عمل په مقابل کي عکس العمل غوره کوي. د عمل Action پـه مقابـل کـې عکـس العمـل تـه Re-action وايـی. نـو ددي کبلـه چـي ددوي دغـه انتخاب د يوی حادثې پـه مقابـل کـي او پـه يـوه غيـر طبعـې حالـت کـي اجرا کيږې ، نو هغه اکثراُ د غلطياؤ او نيمګړتياو سره مل وي.

مشوره: زما هيله د هيوادوالـو پـه خاصـه توګـه د ځوانانو نه داده چـي خپـل ځانونـه د عکـس العملـې خلکـو پـه عـوض پـه تـدبيرې خلکـو بـدل کړي، تر څو د موضوعاتو او حودثو پـه اړه د تـصميم نيولـو لپـاره کـافې وخت او ارام او باسکونه دماغې حالت ولرې. نو پـه دي صـورت کـي بـه ددوي فيصلي هم بهتره ، مؤثره او ګټورې وي.

**۴**. **ستونزه**: د نړۍ د نورو خلکو په خلاف، افغانان اول عمل کوې بيا فکر!

که لږ هم ځير شو نو دا تريخ واقيعيت به راته په ډاګه شې چې افغانـان په مجموعې توګه او پښتانه په خاصه توګه ، ډير ژر احساساتې کيـږي، او بيلدي چي د يوی موضوع پـه اړه فکـر او سنجش وکـړي، دوي فـوراُ عکس الملل ښکاره کـوي، چـي اکثـراُ دغـه نوعـه عکـس العملونـه ډيـر منفـي او خرابـي پـايلي لـه ځـان سـره لـري. پـدي اړه راتـه يـوه خـوږه او د معنـاو نـه ډکـه قـصه را يـاد شـوه. وايـي چـي يـو پـښتون چـې شـيرخان نوميده په هندوستان کـي د يـوه هنـدو پـه کـور کـي ختـي کـولي، يـو چـا هندو ته وويل چې دغه پښتانه ډير احساساتې خلک دي، او بيلدي چي يوی موضوع ته فکر وکـړي، فـوراُ پـری اقـدام کـوي. هغـه هنـدو تـه دا د منلو نه ښکاريده. بله ورځ چې شيرخان د هغه پـه کـور کـی پـه دريـم پـوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی کار کاوه، او یوه بل پښتون وړاندې په پټهو کې منډې وهلې، نو دکور خاوند شیرخان ته وویل: چې شیرخانه! ځوي دې هغه سړي په ټوپک وویشته او مړ یې کړ. شیرخان په غوصه شوه او د یوې ښکنځلې په کولو سره یې ټوپ کړ، او ځان یې ددریم منځل نه راوغرځاوه، او دواړه پښې یې ماتې شوې. څو لحظې پس چې شیرخان لږ څه په هوش راغې، او سترګې یې وغړولې، نو یې وویل «او، ما خو لاتر اوسه واده نه دې کړی»

مشوره: مونږ افغانانو خاصتاً پښتنو ته دا پکار ده، چې د خپل کړو کړو په اړه د جوش په عوض د هوش نه کار واخلو. لومړې فکر او بیا عمل وکړو. کیدای شي چې ددې په وسیله د ډیرو ستونزو او د شیرخان په څیر بیځایه د خپلو پښو د ماتیدو نه مخنیوې وکړو.

**۵. ستونزه**: د نړۍ د نورو خلکو په خلاف، افغانان په بې علمۍ کې د هر مسلک متخصصین دي!

دا زمونږ د ټولنې یو ډیر لوي مشکل دی. تاسي په دی باور زکړي، که همدا اوس تاسي په یوه مجلس کی چې لس کسه داکتران هم ناست وي، د طب په اړوند په یوه موضوع بحث شروع کړې، نو بی سواده، او کم سواده خلک به د هغې موضوع په اړه داسی نظرونه ورکول شروع کړي، چې دی داکترانو ته به نوبت هم ورنکړي. او که بیا د سیاست په اړه بحث شروع شي، نو بیا به هم همدغه وقیان، د سیاست په متخصیصنو بدل، او په هغه مجلس کی به ناستو د سیاست متخصینو ته هم د خبرو کلو وخت پرینږدي. دا نه یوائې ددوي مشکل دی، بلکه ددې ترخوا، په هغه ناست مجلس کی بل هیڅوک هم ځانته دا اخلاقې جرُت نه ورکوي چې دغه بل پرنسیپه خلکو ته دا ووایي چې، «وروره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهربـانـې وکـړه، او د هـري موضـوع پـه اړه د هغـه موضـوع مـسلکې او متخصص خلکو ته وخت ورکړه)

مشوره: زه غواړم پدې وسیله ستاسو ځوانانو توجو پـه دی برخـه کـې دری ټکو ته راواړوم: اول: لطفاً تاسو ددی بی اصولیتیو څخه پـه کلکـه ډډه وکړي، او پـه هغه څه چې تاسي پوره مهارت نه لري، د تبـصرو کـولـو نه ډډه وکړي. دوهم: پـه مجلسونو کې د یوه پوه او بامسؤلیته افغـان پـه توگه خپلو مسؤلیتونو ته متوجې اوسي، او مـه پریـږدي چـې داسـي بـی اصوله خلک د مجلسونو واگې پـه لاس کې واخلـې. خـو احتیـاط وکـړي چې ددی خلکو سره د ټکر زمینه هم برابره نکړي.

۶. **ستونزه**: د نړۍ د نورو خلکـو پـه خـلاف، افغـانـان خپـل مخکـې والـې د نورو پـه شاته کولو کې گوري!

دا یوه داسي ستونزه ده چې په افغانانو کی یـي داسـي ریـښـي زغلـولـي چې اکثره افغـانـان اوس دا د خپـل عـادت پـه توگـه ترسره کـوي، او هغـه ورته حتا کومه اشتباه او خطا هم نه ښـکاری. زمـونږ رقابـت یـو اړخیـز دي، او هغه دا چې که زه وتوانیږم چې خپـل رقیـب کـم راولـم، نـو دا بـه هغه په قطار کی دوهم کړي، او زه چی اوس پـه قطـار کـي دوهـم یـم، نـزو بیـا خـو بـه زه اول شـم. پـدی اړه راتـه یـوه ټوکـه رایادشـوه چـې وایـي: ملایکې په دوزخ کي گرځیدې چي د خلکـو حـال وگـوري. پـه هـره کنـده کي چې به دوزخیان پراته وه، نو پر هغو به یو پیرهدار مقرر وه، ولـې پـه یوه کنده کي ډیر خلک پراته وه خو کوم پیرهدار یي نه درلوده. ملاُیکو پـه ډیره حیرانتیا پوښتنه وکـړه چـې دا خلـک څـوک دي چـې پیرهـدار تـه یـي ضـرورت نـشتـه. ملایکـو تـه وویـل شـول چـې دا پـښتـانـه دي. ددوي پیرهدار ته ځکه ضرورت نشتـه چـې دوي هر یو د بل پیـره کـوي. چـې یـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يي ددوزخ د کندې نه د راوتلو کوښښ وکړي، نو هغه بل يي د پښو نه راکشوي، او ورته وايي چې( چيرته ځې، ولاړه خو رانه لاړشې، زه به دلته يم، او ته به رانه ځې، دا خو کيداې نه شي)

مشوره: اې ورونو او خويندو: راځې چې د خيل هيواد ا ابادې او اوادې لپاره په خپلو کې متفق شو. دلته مونږ هر يو ته ضرورت دی. د دوزخ نه د يوه په وتلو، په مونږ عذاب نه زياتيږي. راځې چې خپل لوړوالي د خپل ځان په لوړوالي کې ولټوو نه د نورو په راټيټولو کې.

۷. **ستونزه**: د نړۍ د نورو خلکو په خلاف، افغانان دنورو د خبري د تأُيد په عوضِ هماغه خبره بيا بيا کوي!

رښتيا هم دا يوه بله غټه ستونزه ده. مونږ د خبرو په لنډولو پسې ده بلکه د هغې په اوږدولو پسې يو. هريو هماغه يوه خبره بيا بيا کوو، چې پخ نتيجه کی يي د دقيقو خبره ساعتونه او د ساعتونو خبري مو ورځي او مياشتي نيسي.

**مشوره**: ښه به دا وی چې د تکرار په عوض، د نورو هغه نظرونه چې مونږ ورسره موافق يو تايد، او د هغه سره چې مخالف يو، خپل ځانګړي پيشنهادات وړاندي کړو، او بيا د مشاجرو په عوض فيصلي نورو ته ورپريږدو.

۸. **ستونزه**: د نړۍ د نورو خلکو په خلاف، افغانان د( انشأُاله) مبارکه کلمه صرف د مسؤليتونو نه د فرار په غرض د يوې وسيلې په توګه استعمالوي!

هو، دا زمونږ د مسلمانانو يوه غټه خلا ده. ددي خبري اصلي معنا داده چې مونږ په خپلو ژمنو کې جدې نه يو. او ددي کبله چې په خپلو وعدو باورې نه يو، نو د انشا الله کلمه ددي لپاره استعمالوو چې که دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار ونه شو نو بیل به یي پړه په ما نه وی، بلکه هغې ته به داسي توجې
ورکوم چې ګوندې پدی کار کې خو د خدای (ج) رضا نه وه. پدي اړه یو
متل دي چې وایي. خدای (ج) به د قیامت په ورځ د نورو ټولو خلکو
سره حساب کوي، او هغوي به د حساب له مخې یا جنت ته او یا دوزخ
ته استوي، خو ښتانه به بیله حسابه ټول دوزخ ته واستوي. او خدای
پاک به ووایي چې ده غهغ خلک وه چې هر کار به یي پخپله خراباوه،
ولې تهمت به یي په ما کاوه، چې دا کار خدای پاک و نه کړ، او یا
خدای پاک ونه غوښتل چې دا کار دی وشې.

مشوره: راځي چې د خدای پاک د مرستې تر خوا په خپلو عزمونو کې
جدیت راولو. او هر څه د خدای (ج) په بهانه وخت او قضا او قدر ته
پرینږدو، بلکه د یوه واقعې انسان په توګه چې خدای پاک اشرف
المخلوقات پیداکړي یو، مونږ خپل ټول مسؤلیتونه درک، او تر ممکن
حده هغه عمل کړو.

۹. **ستونزه**: د نړۍ د نورو خلکو په خلاف، افغانان ددي پر ځای چې
زمانه او طبیعیت د ځان لپاره مهار کړي، ځانونه د طبیعیت منګلو
ته سپارې.

هو دا یوه پراخه او هراړخیزه ستونزه ده چې زمونږ د افغانانو د ژوند
زیاته برخه یي رامحاصره کړیده. پداسي حال کی چې نړیوال لمر،
سپوږمۍ، او ستوري محاصره کویي، خو زمونږ ملا صاحبان او علماُ
کرام، بیا پدې اړوند خبري کزل هم جرم بولې. پداسې حال کی چې
ددنیا نور عالمان او دیني مس

شران، خپل خلک څیړنو او اختراعاتو ته هڅوي، زمونږ علما کرام
بیا اختراعات بدعت او شرک بولې. دا خو همدا وجوهات دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانان او اسلامي هیوادونه چې یو وخت د علم ،تمدن او پیشرفت زانګو وه نن په غربت، بدبختیو او د نورو هیوادونو د تولیداتو لپاره ددنیا په یوه اوچت مارکیټ بدل شوي دي. مشوره: اې مسلمانانو او افغانانو ورونو، راځئ چې په ګډه د اسلام په مقدس دین اول ځانونه پوه کړو، او بیا په ګډه د هغې په درسته توګه د عملي کولو سره خپل د خلکو د سرلوړیو غوښتونې شوو. لوی خدای پاک، مونږ ایسانان پدی دنیا کې خپل خلیفه ګرځولي یو، تر څو د هغه د مخلوقاتو نه د انسانانو د بهبود لپاره ګټه پورته کړو. راځئ چې خپل ځانونه نو ددي ]هل د تورو تیارو نه راوباسو، او د اسلام د مقرس دین لاښوونو په عملي کولو سره دغه توري تیاري په رڼاو بدلې کړو.

**۱۰. ستونزه**: افغانان هر یو ښه سیاستمدار دي خو د بل په درسترخوان!

تاسي به دا لیدلي وي چې د افغانانو په منځ سیاسي بحثونه همیشه ډیر تاوده وي. دا بحثونه خو هلته بیا لاډیر ګرم شي، چې خلک د بل چا په کور کی د ښې او غوړې غذا نه وروسته په بحثونو شروع وکړي. نو بیا خو زمونږ هر یو داسی پوخ سیاستمدارشی، چې د سیاست داکتان هم د هغې په مخکی خبري نشي کولای. خو که ددغو مصنوعې سیاستپوهانو هریو څخه ددي غوښتنه وشي، چې ددي سیاست په اړه د خپل امکاناتو نه کار واخلي، نو بیا خو به یي پیداکول په دوربین کی هم محال وي.

مشوره: هیله ده چې افغانان به د خپل ملک په مسایُلو کي هراړخیزه ونډه واخلي. مشهور متل دي چې وایي: (د سوال په اوبو ژرنده نه چلیږي) نو د ملک داسي درانده کارونه هم یوائې د یوه یا څو کسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوږو وراچول مناسب او صحيح کار نه دي. نو که د رښتيا سياستمداران يو، نو بايد چې د دي سياسي بحثونه لپاره خپل درسترخوانونه هم د نورو په خدمت کې ورکړو.

**١١. ستونزه:** افغانان هر يو ښکلې، ازاد او پرمختللې افغانستان غواړي، خو پدی لاره کی هيڅ نوعه مسؤليت اخستلو ته غاړه نه ايږدي!

افغانان په مجموعي توګه، او په بهر کی اوسيدونکی افغانان په خاصه توګه، د هيداد د جوړښت په اړوند ډير ښه نظريات لري، چې دا نظريات يي تر ډيره حده د خارجي هيوادونو د ترقی او پرمختګونو نه د خبرتيا او کتنو نه سرچشمه اخلی. ولې متاسفأنه کله چې بيا ددوي ځخه غوښتنه وشي چې د هيواد د بيا رغونې او ترقی په برخه کی ونډه او مسؤليتونه واخلې، نو بيا د سلو بهانو په پيداکولو، او د رنګارنګ اعتراضونو په وړاندي کولو سره د مسؤليتونو نه تيښته کوي.

مشوره: افغانانو خصوصاً په خارج کی ميشتو افغانانو ته دا خواست دی چې د پوهانو او عالمانو په څير د خپل هيواد د ستونځو په حل کی با مسؤليته او اګاهانه ونډه واخلې. د نورو نيمګړتياوې د بهانې په توګه استعمالول نشي کولای چې ددوي مسؤليترڼه رفع کړي. راځې چې نورو ته د مثال کيدو له لارې، د خپل هيواد په سمسورتيا او پرمختيا کې ونډه واخلو، تر څو نور هم و داسې ونډې اخستلو ته راوبللای شو.

**١٢. ستونزه:** مونږ هر يو پر نورو اعتراض کوو، خو په خپل ځان د اعتراض اوريدو ته هم تيار نه يو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو دا هم د هماغو تیرو ستنونځو یوه برخه ده. زمونږ هیوادوال بیلدې چې فکر وکړي، چې دوي پخپله د ډیرو نیمګړتیاو لرونکې دي، په ډیر جدیت سره په نورو نیوکي کوي.

مشوره: راځې چې د اعتراصونو لړۍ ته د عمل کولو په لړۍ سره ځواب ووایو. دا پدی معنا نه ده چې مونږ دی په غلطیو انتقاد و نه کړو، خو په نورو انتقاد کول، ولیۍ پخپله عمل نه کول یوه غټه اشتباه ده. ددی تر خوا، پر نورو انتقاد، باید همیش د رغوونکو وړاندیزونو سره ملګری وی.

**۱۳. ستونزه**: افغانستان خیمه نه ده چې دخپلې خوښې سره یې په کوم بل ځای کي ودروو!

زمونږ اکثره هیوادوال د ګاونډیو هیوادونو نه داسی سرونه ټکوي، او په دی اوه داسي جدې پرخوردونه کوي، چې ته به وایي، دا غونډه دنیا ددوي په اختیار کی ده. واقیعیت د مسلۍ دادی چې زمونږ په هیواد کې د خارجیانو د لاس وهنو اصلې علت دهغوي ملې ګټې دې. هر هیواد د خپل هیواد د ګټو لپاره کار کوي، دا خو زمونږ بدبخته مشران دي چې دخپلو شخصې ګټو په خاطر د هیواد ملې ګټې تر پښو لاندې کوې، او د پردو هیوادونو د لاسوهنو وسیله ګرځې.

مشوره: داچې زمونږ هیواد خیمه نه ده چې پخپله خوښه یې په پل ځاې کې ودروو، دا مونږ ته یو لړ دراندہ مسؤلیتونه را په غاړه کوي. دا خبره ما د افغانستان د بهرنې چارو پخوانۍ وزیر، داکتر رنګین سپانتا ته هم په یوه رسمې مجلس کې په امریکا کې کړیوه، چې د افغانستان مسؤلین، دا مسؤلیت لري چې خپلې ستونځې د همسایه هیوادونو سره دډیپلوماسې له لارې حل کړي. دوي نشې کولاې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازی د شکایتونو له لارې خپل هغه مسؤلیتونه تر پخو لاندې کړې کوم چې دوي یي د خپلو خلکو او همسایهګانو په وړاندې لري. موږ ډیر داسي وسایل او زرایع لرو چې د هغو په درست کارولو سره موږ خپل همسایه ګان دی ته مجبورولاې شو چې زموږ ملي ګټهو ته احترام او زموږ د ملکونو ترمنځ اړوند مسایل زموږ سره د مفاهمې له لارې حل کړي. خو دا کار موږ هلته کولاې شو چې تر هرڅه اول، زموږ دغه مسؤل دولتي چارواکي خپل ځانونه مستقل کړي، او ددي همسایه هیوادونو د تنخواهګانو نه صرفالنظر شي. او بیا د سالم فکر او ښو او نیکو افغاني مشاورینو په مشورو د حل داسي لاري چارې وړاندې کړي چې ردول یي د مخالفینو د توان نه پورته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## محترمو لوستونکو!

مننه کوو، چې دا کتاب مو تر لاسه کړ هیله ده چې لوستلو به یې تاسې، ستاسې کورنۍ او په کورنیو پورې مربوط له ځوانانو سره مرسته وکړي، د دې لپاره چې خپل دغه اجتماعي خدمتونو ته ادامه او پراختیا ورکړای شو، ستاسې مالي ونډه به مورږ ته د دې توانمندۍ راوبښي، چې دغه شان نور ګټور اثار راټول او د ټولنې په خدمت کې ورکړو، نو لطفاً خپله مالي ونډه په دغه لاره کې مه سپموئ.

منډه

ډاکټر تاج الدین ملت مل

جلال اباد- ننګرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ څپرکی

# دکتاب په اړه

١- د کتاب ارزونه :

کله چې ما دا کتاب وليکه او د لومړي ځل لپاره چاپ او په ټولنه کې د ځوانانواو زړو لاس ته ورغی؛ نو له دوه ډوله ارزونو سره مخ شو.

لومړی د کتاب له چاپ نه دمخه ارزونه:

ما دا کتاب له چاپ نه دمخه، د هېواد يو شمېر پوهانو، علماوو، ملي شخصيتونو او ليکوالو ته د ارزونې لپاره ورواستوه. د هغوی له ډلې اکثرو دا کتاب ډېر خوښ کړ او ډېرې علمي او مؤثرې تبصرې يې پرې وليکلې، چې د ځينو تبصره کوونکېو تبصرې په مکمله توگه په لومړي چاپ کې ځای شوي، ولې د کتاب د حجم د کمښت له کبله د يو شمېر دوستانو تبصرې او ليکنې له چاپ پاتې شوې. هيله ده، چې معذرت به مې ومني او په دې اړه به راته ښښنه وکړي، دا دی په دويم چاپ کې د لومړي چاپ د نشر شوو تبصرو لنډيز له تاسې درنو لوستونکو سره دلته شريکوو:

- د هېواد پياوړي ليکوال او لوړ ملي سياسي شخصيت، استاد حبيب الله رفيع صيب پرې د يوې پراخې علمي تبصرې په لړ کې داسې ليکلي دي:

((له دې حساسو او ملي ځوانانو څخه يو هم ډاکټر تاج الدين ملت مل دی، چې د ملت د جسمي ناروغيو د تداوۍ تر څنگ د ځوانانو د روحي او معنوي ناروغيو د درملنې هڅې هم کوي. ده د "ځوانان او شخصيت جوړېدنه" کتاب، چې پاڼې يې لږې خو کيفيت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ او محتویٰ یې ژوندۍ ده، د همدې تشې د ډکولو له پاره ولیکه. دا کتاب یې په داسې حساس وخت کې ولیکه، چې نه یوازې دا چې زموږ نوی نسل به یې په لوستنې د ملي روزنې په رڼا کې خپل شخصیت جوړ کړي، بلکې زموږ هغه ځوانان به هم د خپلو شخصیتونو نیمګړتیاوو ته ځیر کړي، چې په تېرو دېرشو کلونو کې د تعلیمي او فرهنګي ګډوډیو په ترڅ کې ورسره مخامخ شوي دي.

د ډاکټر ملت مل دا کتاب د علمي تیوریو په رڼا کې کښل شوی، خپلې تجربې او لېدنې کتنې یې پکې راغبرګې کړي او خپلو ځوانانو ته یې په ډېره خواخوږۍ، زړه سوي او لورېینې او ورسره په ډېر فصاحت، بلاغت، په بشپړ روڼتابه او د هر څه په څرګندولو سره بیان کړي دي، او د ملي شخصیت د جوړېدلو ټولې خواوې یې ورته په شمېرلي او کوټلي ډول روښانه کړي دي.

د کتاب منځپانګه او د کتاب زمان او مکان په دقیق ډول په نښه شوي او همدا فرصت دی، چې د ملي روزنې د نیمګړې کېدلو په دې حساس او بحراني حالت کې د دې نیمګړتیا د لرې کولو او د دې تشې د جبیره کولو له پاره به ډېر ګټور وي، چې دا کتاب خپور شي.

زما وړاندیز دا دی، چې دا کتاب زر، دوه زره نسخې نه؛ بلکې په زرهاوو نسخې د ښوونې او روزنې وزارت له خوا تکثیر شي او د هېواد په ګوټ ګوټ کې لږ تر لږه د هر ښوونځي کتابتون ته یوه نسخه ورسول شي او ځوانان یې نه یوازې لوستلو؛ بلکې عملي کولو ته هم راوبلل شي. ډاکټر صیب او نور لیکوال باید دا لړۍ نوره هم پسې وغځوي او د هغو علمي، روزنیز او فرهنګي زیان د جبران له پاره چې په تېرو دریوو لسیزو کې ملي روزنې ته رسېدلی، او ځوانانو له خپلو ملي ارزښتونو سره واټن پیدا کړی، لاس په کار شي او زموږ ځوان نسل د ملي روزنې په صراط المستقیم سم کړي.))

- : د هېواد یو پیاوړي ځوان ژورنالیست، ښاغلي عبد البصیر سباوون صیب پرې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوي اوږدې تبصرې په برخه کې داسې کښلي:

((د یوځوان په توګه ماته، خو نوموړی اثر ډېر په زړه پورې او یو ځانګړی لاربنود تمام شو، سمه ده، چې د ماشومانو او ځوانانو په اړه به ډېرې لیکنې شوي وي؛ خو پر داسې بنسټیزې موضوع به بل داسې کتاب نه وي، چې د محتوا له پلوه دې وزمین او هم دې د ژبې د رواني او ساده ګۍ له پلوه خپله ځانګړتیا ولري.

ډاکټر صیب د کتاب په ځینو پاڼو کې د ماشومانو د ښوونې او روزنې په اړه ډېر ګټور وارنديزونه کړي دي. که په رښتینې بڼه یې دغه وړاندیزونه په ټولنه کې پلي شي، زه باور لرم، چې ټولنه به مو له ډېرو کړکېچونو څخه راوباسي. دغه اثر نه یوازې، چې ځوانانو ته، بلکې یوه زیاته برخه یې په میندو او پلرونو پورې هم اړه لري. زما په عقیده د دې کتاب په لیکلو کې د ملت مل صیب اصلي مطلب هم د ځوانانو د شخصیت د جوړونې تر څنګ، ملي، انساني او وطني مسوولیتونو ته د ځوانانو د پاملرنې اړول دي، چې ملت مل صیب واقعا د یوه با احساسه افغان په توګه خپله ملت پالنه په ډېر ښه توګه ثابته کړې ده.

د خواشینۍ ځای دادی، په داسې حال کې چې زموږ هېواد دغه ډول د ملي احساس روزنې ته نن تر بل هر وخت لا زیات ضرورت لري، ولې زموږ د تعلیم او تربیې مسوولین په دې برخه کې د اړتیا وړ پاملرنه نه کوي.

زه د دې تر څنګ، چې د یو ځوان په توګه د ملت مل صیب ددغه د قدروړ خدمت ستاینه کوم، د هېواد له نورو پیاوړو مسلکې پوهانو او عالمانو څخه هم غوښتنه کوم، چې په دې نېکه لار کې د ښاغلي ملت مل پر پل، پل کېږدي، تر څو له دې لارې د هېواد راتلونکی نسل په مسوولانه توګه وروزي. د یو ځوان په توګه لومړی له ډاکتر ملت مل صیب نه غوښتنه کوم، چې ژر تر ژره دې دغه اثر په دري ژبه هم ولیکي، تر څو زموږ دري ژبې لوستونکې ځوانان هم له دې ګټور اثر څخه ګټه واخلي. له بلې خوا زه د هېواد پر ټولو ځوانانو غږ کوم، چې دغه ګټور اثر دې یو ځل نه؛ بلکې څو څو ځلې په پوره غور ولولي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کتاب کې لیکل شوې لارښوونې دې په پوره غور د ژوند په ځینو برخو کې پلې کړي. له یوې خوا به د کتاب لوستنه ددوی شخصیت جوړونې او ساتنې ته ګټه ورسوي او له بلې خوا به د دې لارښوونو په عملي کولو سره به دوي هم د هېواد او خپلو خلکو له پاره ډېر ګټور تمام شي. د دې تر څنګ، زه د افغانستان ښوونې او روزنې وزارت مقاماتو نه په کلکه غوښتنه کوم، چې دغه اثر دې د هېواد ټولو ښونځیو او کتابتونونو ته په پراخه پیمانه ورسوي، او حتا که ممکن وي چې دغه کتاب په درسي نصاب کې هم شامل کړای شي. په پای کې همدومره باید ووایم، چې لوستونکي کولای شي له دې اثر څخه د ژوندپه کړکېچن چاپیریال کې د یو ښه لارښود په توګه زیاته ګټه واخلي.))

- ښاغلی زرغونشاه شینواری صیب، چې د هېواد یو غښتلی ملي، سیاسي شخصیت دی، پر کتاب خپله ژوره سیاسي تبصره داسې راټولوي:

((لیکوال نه یوازې دافغانستان د محرومې ټولنې،کونډو، یتیمانو، غازیانو، سپین ږیرو او ځوانانو د خوړو خوړو ارمانونو د وژلو ترخې کیسې کړې دي، بلکې دی په خپله هم د هغو ډېرو ځوانیمرګو هیلو په جنازو کې شامل و، چې هدف یې په یو خپلواک افغانستان کې د افغان ولس حاکمیت و. هر با شعوره انسان، چې په کومه خاوره کې خاپوړې وکړې، د هغې مینه د هغه په وینه کې د ساه په شان ژوندۍ وي. سیاسې، هوښیار، متفکر او پر وطن مین بنیادمان ځانونه د ټول عمر له پاره د همدغې بې مثاله او بې سیاله مینې پوروړي ګڼي. هر چېرې چې ژوند کوي، هر چېرې چې خبرې کوي، او د هر چا سره چې راشه درشه کوي، هدف یې د دغې مینې درنښت او پاېښت وي. ددې کتاب لیکوال دا ویاړلي خصلت د مبارزې په اوږدو کې تر ګوتو کړی او پر مبارزه باندې د باور پر اساس یې په خورا ښه توګه ژوندی ساتلی دی.

زه نه یوازې دا چې ددې کتاب لوستنه ځوانانو ته په کلکه توګه توصیه کوم، بلکې د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



توجه د لیکوال اساسي هدف ته چې هغه د یو با وقاره افغانستان جوړول دي را اړوم. خدای جل جلاله دې وکړي چې دا کتاب (ځوانان او شخصیت جوړېدنه) د افغانستان ځوان نسل، د خپل ورک او لوټ شوي ماضي اساسي سوال ته ځیر کړي او هره پاڼه یې د وطن د ازادۍ، نېکمرغۍ او سرلوړۍ له پاره داسې سرتېره شي، چې د دې ټپې وطن په ټوټې، ټوټې ټټر کې، یو روغ، متحد، مستقل او سرلوړي افغانستان، چې د لیکوالۍ ارزو ده، خپلو راتلونکو نسلونو ته په میراث پرېږدي.

- عبدالباري جهاني صیب، چې د هېواد یو نامتو او ملي شاعر او لیکوال دی، پر کتاب د خپلې علمي او ادبي ارزونې په منځ کې داسې لیکي: زه ګومان کوم دا داسې یو اثر دی، چې زموږ ځوانان یې لوستلو ته ضرورت لري. په ډېره ساده ژبه د ځوانانو ورځنیو مشکلاتو او مسولیتونو ته اشارې پکې شوې دي، او لیکوال تقریبا هر ځای د خپل استدلال د ښه تر تقویه کولو له پاره ذهن ته ډېر نږدې مثالونه راوړي دي. د مور او پلار او مشرانو له درناوي څخه نیولې حتی د ځوانانو د واده تر سن او امکاناتو پورې د هر څه په باب یې لیکنه کړې ده .

د کتاب یو ښه خصوصیت د هغه د ژبې ساده والی دی. نه له ډېرو پېچلو او مغلقو عباراتو څخه کار پکې اخیستل شوی دی، چې لوستونکې ته یې فهم ګران شي او نه له نویو رواج شویو لغاتو څخه، چې اکثر یې دومره نامانوس دي، چې سړی دډیکشنرۍ له استعمالولو څخه پرته وربانديې پوهېدلای نه شي، چندانې کار پکې اخیستل شوی دی.
لیکوال د شخصیت د ودې د مراحلو د تشریح کولو په موضوع کې له خپل علمي صلاحیت څخه ډېره ښه استفاده کړې ده او دلته یې هم په ډېرو ساده کلماتو، چې تقریبا د هر باسواده سړي له پاره د پوهېدلو وړ دي، ډېر ژورعلمي مفاهیم تشریح کړي دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بلاخره، د هېواد توانمندې سیاست پوهې، او د ولسي جرګې غړې، اغلې صفیه صدیقي صیبې هم د یوې پراخې مقالې په لړ کې له یو شمېر ډېرو غوره سپارښتونو سره خپل نظر داسې رانغاړلي دی: ((که دغه کتاب تر څېړنو او مطالعو لاندې ونیسو؛ نو د کتاب ټول څپرکې د خورا زیات ارزښت وړ دي؛ خو په ځانګړې توګه د ځوان پېژندنې، د ځوان صلاحیتونه او مسولیتونه، سالمه ښوونه او روزنه، شخصیت پېژندنه، د شخصیت وژنې مخنیوی، د شخصیت جوړونه او ساتنه او د ځوانانو د ژوند نور مهم اړخونه په دې کتاب کې په داسې ښکلو او څرګندو ټکو او مثالونو بیان شوي دي، چې د کتاب لوستل هر څوك خصوصا ځوانان د ژوند ایندې ته هڅوي. زما په اند ښاغلي ملت مل د خپلې ټولنې یوې ډېرې مهمې برخې (ځوانانو) ته توجه کړې او زموږ د ټولنې نیمګړتیاوو ته یې په پام لرلو سره دغې نیمګړې روزنې او پالنې ته خپلو خلکو او د ځوان نسل توجه را اړولې ده.  ده د ټولنې دغه کړکېچن موضوعات په ښه توګه او روانه ژبه څېړلي دي. زه د خپلې ټولنې ځوانان په کلکه توګه ددې ګټور اثر لوستلو ته هڅووم؛ ځکه دا کتاب ډېر زیات روزنیز ارزښتونه لري، خاصتا د کتاب دویم او درېیم څپرکې یې ماته ډېر په زړه پورې ښکاره شول. ددې ترڅنګ، چې دا کتاب په ډېره ساده او روانه ژبه لیکل شوی، ولې هغه څه چې زما په نظر تر ټولو ارزښتناك دي، هغه دا دي، چې لیکوال د یو ریښتني افغان په توګه هڅه کړې، چې زموږ ځوان نسل ته، چې ددې تېرو درې لسیزو په اوږدو کې د خپلې ټولنې له کولتوري، فرهنګي، سیاسي او اجتماعي ارزښتونو او مسوولیتونو نه کاملا ناخبره او بې برخې پاتې شوی دی، په دې کتاب کې د دغو ژورو ملي ارزښتونو او یادونې او سپارښتنې کړي دي. هو! ښاغلي ملت مل دغه ملي دنده په خورا ښه توګه سرته رسولې ده، هیله ده لوستونکې به د لیکوال دغه ژور پیغام ته ځانګړې توجه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا هم که ځوانان دغو لاربښوونو ته توجه وکړي؛ نو دوی به د خورا باثباته او اوسپنیز دریځ لرونکې شي. ده نه یوازې چې ځوانان خپلو دندو ته متوجه کړي؛ بلکې ددې تر څنګ یې هڅه کړې، چې میندې او پلرونه، د ښوونې او روزنې مسوولین، او د حکومتي چارو مسوولین هم په دې برخه کې خپلو دندو او مسولیتونو ته متوجه کړي.))

دویم د کتاب له خپرولو نه وروسته د لوستونکېو غبرګونونه:

دغه کتاب زما د محدودو مالي امکاناتو په چوکاټ کې په ۱۳۸۶ل کال کې په محدوده پیمانه چاپ او هېوادوالو ته د لوستنې په خاطر وړاندې کړای شو. د لوستونکېو له ډلې یو شمېر زیاتو راسره د کتاب په اړه خپلې ارزونې شریکې کړې دي، چې په هغوی کې ځینې داسې کېسې هم شته چې باوري نه دي. ځینو ځوانانو دا هم راته ویلي، چې له خپل ژوندانه نه دومره ناهیلي او په تنګ وو، چې د ځان وژلو په درشل کې وو، چې زما دغه کتاب ورته په لاس ورغی، او د کتاب په لوستلو سره نه یوازې دا چې د ځان وژنې له تصمیمونو څخه تېر شول، بلکې په کمه موده کې یې ډېرې زیاتې مثبتې لاسته راوړنې ترلاسه کړې. راځئ چې ددغسې پېښو څو ژوندۍ بېلګې ولولو.

- د لویانو خبرې:

((له ډېر وړوکوالي څخه مې د لویانو خبرې او مجلسونه خوښېدل، تر ډېره به مې هڅه کوله، چې له نېکو او هوښیارو خلکو سره ناسته ولاړه ولرم، تر څو ترې ښې او ګټورې خبرې زده کړم. تر دولسم ټولګي پورې مې د شخصیت جوړېدنې دوه دورې، چې د (انتقالي) او(مشکلې) په نومونو یادېږي، تېرې کړې وې او د درېیمې، چې ډېره حساسه، باریکه او له تېروتنو ډکه دوره وي، دا دی ترنیمایي رارسېدلی یم. په لومړیو کې دا بحراني دوره ماته ډېره حیرانوونکې ځکه وه، چې زما اندونه، انګېرنې او پام په ډېر نازک حالت کې وو، خو له نېکه مرغه، چې د ډاکتر صیب تاج الدین ملت مل کتاب (ځوانان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیت جوړېدنه) مې پوره لاس نیوی وکړ. د ټولنېز ژوند له پاره مې د شخصیت جوړېدنې په برخه کې ډېر څه ترې زده کړل، په دې هم پوی شوم چې ښه او بد شخصیتونه په کومو ځانګړنو سره بېلولای شو. شاید زموږ په دې لار ورکې ټولنه کې ما غوندې ډېری ځوانانو دغه کتاب لوستې وي او هغه ګټورې لارښوونې، چې په دې کتاب کې ښودل شوي، د ژوندانه په برخه کې یې ترې ډېر څه زده کړي وي. په پای کې له ښاغلي ملت مل صیب څخه یوه هیله لرم، چې دا کتاب (ځوانان او شخصیت جوړېدنه) یې له هېواده بهر لیکلی. اوس چې خپل هېواد ته راغلی دی، شاید له نږدې څخه یې د خپلې ټولنې ځوانان لیدلي او څارلي وي، بایده دي، چې د نویو ځوانانو له پاره دې بل دې ته ورته ګټور کتاب هم ولیکې او کنه؛ نو په همدې کتاب کې دې زیاتونې وکړي او د بیا ځل له پاره دې په نوې بڼه چاپ کړي.))

(محب الله یار)

- (د ډاکتر صیب ملت مل (ځوانان او شخصیت جوړېدنه) کتاب مې ولوست، ځینې لوستونه او پیغامونه مې یې تر خپلې کورنۍ هم ورسول او ځینې تجربې مې یې پر خپل ځان هم عملي کړې، اوس چې زه خپل ځان او خپلې کورنۍ ته ګورم، نو له پخوا وخت سره راته ډېر زیات بدلون په کې ښکاري.

ددې کتاب په یو ځای کې یې لیکلي، چې له مېلمنو سره د ماشومانو د ناستې مخه باید ونه نیول شي، ما پر دې لارښوونې عمل وکړ، اوس زما یو کوچني زوی دا زده کړي، چې مېلمنو سره څنګه کېني، څنګه خوراک وکړي او څنګه خبرې وکړي؟)

(عبداللطیف احساس)

د شمشاد تلویزیون خبریال

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما له انده:

د ارواپوهنې او د ژوند په بېلابېلو کړلېچونو کې د سم تګ په اړه مې تر ډېره د امریکایي لیکوال ډیل کارنیګي کتابونه خوښېږي، لوستي مې دي او لولم یې؛ خو زما په اند ښاغلی ډاکتر صاحب ملت مل هم له هغه کم نه دی. ډاکتر صاحب په خپل کتاب (ځوانان او شخصیت جوړېدنه) کې په ډېره جامع توګه د انسان د ټول ژوند لپاره ځینې داسې فرمولونه وړاندې کړي دي، چې پر عملي کولو یې انسان نېکمرغه کېدای شي. ددې کتاب ښه والی په دې کې هم دی، چې ښاغلي ملت مل د خپلې افغاني ټولنې له روحیې سره برابر داسې لیکلای دی، چې د مثالونو او بېلګو په لوستو یې هر سړی فکرکوي، چې والله زه خو هم دغسې یم، باید په دې ډول ځان ښه کړم.

زه په دې هیله یم، چې د ښاغلي ډاکتر صاحب دغه کتاب په هر کور کې شتون ولري او هر ځوان، پېغله، پلار، مور، ورور، خور او ... یې یو ځل خامخا ولولي. دا چې ددې کتاب لوستل د ژوند زده کول دي؛ نو ځکه یې ټولو افغانانو ته لوستل اړین بولم.

زه په ځاني ډول دې کتاب ته د ښاغلي کارنیګي د (ژوند لار) او (دوستۍ لار) کتابونو هومره ارزښت ورکوم او له ښاغلي ملت مل صاحب څخه غوښتنه کوم، چې په دې برخه کې نورې لیکنې هم وکړي.

هجرت الله اختیار

- د ځوانانو رښتینی مل:

د تخلصونو ایښودل خو یو اسان کار او په دې کلونو کې زموږ په هېواد کې یو مود ګرځېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. هر څوک کوښښ کوي چې داسې يو تخلص غوره کړي، چې تر بل هر چا غښ په نظر راشي او لوی مفهوم په کې پروت وي. خو د تخلص ساتنه او په رښتينې مانا د هغې ملتيا يو ډېر نادر او بې مثاله کار دی. ملت مل صېب که څه هم له ځوانانو څخه زيات د ټول ملت د ملګرتوب ادعا کوي او ما ترې په مجلسونو کې دا هم اورېدلي دي، چې دی د تخلص د غوره کولو له شروع نه تر دې دمه دغه تخلص ته وفادار پاتې شوی دی او په دې اوږده موده کې يې د ژوند په هره لحظه او هر ځای کې له خپل ملت او ملي ګټو نه پلوي او دفاع کړې او کوي يې. دی وايي چې په دې لار کې حاضر دی هر وخت خپلو خلکو ته حساب ورکړي. هو، ملت مل صېب زموږ په هېواد کې هماغو يو څو د ګوتو په شمار کسانو کې راځي، چې په غوڅه توګه يې وکولای شول داسې بامسووليته تخلصونو ته خپله رښتينولي او وفاداري، خاصتاً د هېواد په دې ګرمو حالاتو کې چې ډېرې سړې اوسپنې يې هم ويلې کړې، ثابته او خپله دغه وفاداري په عمل کې په دوامداره توګه وساتي.

ملت مل صېب که په امريکې کې هم و، په سينه کې يې د خپل دردېدلي او ځورېدلي ملت مينه او خاصتاً د ځوانانو په اړه تشويشونه په غورځنګ ول. همدې مينې دی راوپاراوه، چې خپل قلم راواخلي او ځوانانو ته داسې څه وليکي چې نه يوازې زموږ د ټولنې يو شمېر ننني ځوانان خوشبخت کړي، خو که يې نور ځوانان په رښتينې توګه عملي کړي، زموږ راتلونکي نسلونه او ټولنه به ډېره خوشبخته کړي. کله چې ملت مل صيب دوه کاله دمخه بېرته هېواد ته راستون شو؛ نو بيا يې خپل دغه زوړ تعهد په عملي توګه ځوانانو ته په يو لړ خدمتونو د بوختېدو له لارې تازه کړ. ده د نوي سيد جمال الدين افغان انستيتيوت په پرانېستلو سره د ځوانانو په سالمه ملي اسلامي روزنه، او د دوی د ښوونې د لوړتيا لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې پيل کړې. ده په ننګرهار او کابل کې له ځوانانو سره مخامخ ناستې، ولاړې درلودې، دوی ته يې په داوطلبانه توګه د شخصيت جوړېدنې سيمينارونه، ورکشاپونه او د تلويزيون له لارې روزنيز پروګرامونو ته ملا وتړله. د دې تر خوا زه د ملت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مل صیب د یو لړ زیاتو هغو سیاسي نه ستړوکېدونکو هلو ځلو شاهد یم چې په هېواد کې دننه او د هېواد نه بهر یې د افغانانو تر منځ د یوه پراخه ملي سیاسي وحدت او په هېواد کې د یو سالم ملي اسلامي نظام د لاس ته راوړلو په لاره کې په دوامداره او جدي توګه په ډېر علمیت او حوصله مندۍ پرمخ بیولی او وړي یې. زه د دې شاهد یم چې ده په دې لار کې خپل د لاس په تېاکو ګټلي په زرهاو ډالر د خپلو خلکو په خدمت کې او د یتیمانو د اوښکو د وچولو په لار کې مصرف کړي دي چې دا په رښتینې توګه هم د ده د ملت مل توب یو ښکاره او عملي ثبوت دی.

ما د ملت مل صیب دغه لیکلی اثر څو څو ځل ولوست، له خپلې مېرمن او ملګرو سره مې هم وخت په وخت شریک کړ. په خپل ورځني ژوند کې مې د ده لارښوونې تر ډېره حده عملي کړې هم دي. د ده علمي لارښوونو نه یوازې دا چې زموږ په ورځني ژوند کې یو لړ مثبت بدلونونه راوستل او له برکته یې زما د کورنۍ چاپېریال لا خوږ او زموږ تر منځ یې د مینې او محبت فضاء لا نوره هم صمیمي شوه؛ بلکې د همدې لارښوونو په رڼا کې زموږ کوچنیان هم تر نورو همزولو زیات غښتلي او په ځانونو لا زیات باوري کړل. ما د ملت مل دغه ولسي مرغلرې د احمدشاه بابا د ادبي او فرهنګي ټولنې ځوانانو سره شریکې او وخت په وخت مو هغه باب په باب ولوستې، چې د دې ټولنې د ټولو غړو خاصتاً ځوانانو د ډېرې ستاینې وړ وګرځېدې.

زه په داسې حال کې چې د ملت مل صیب د دې لوړ ملي خدمت قدرداني کوم، ټولو پلرونو، میندو او خاصتاً ځوانانو ته په کلکه سپارښتنه کوم چې د ملت مل صیب سپارښتنې چې د ځوانانو، کورنیو، دین او وطن په اړه کړي دي، په غور ولولي، ځانونه دې پرې پوه کړي او د هغو په درست عملي کولو سره دې د ملت مل صیب هیلو ته د عمل جامه ورواغوندي. ما دا کار عملي کړی، پایلې یې خوږې دي، تاسې ته یې هم د لوستلو او عملي کولو سپارښتنه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ _ دا کتاب د چا له پاره دی؟

سره له دې، چې ددې کتاب سرلیک (ځوانان او شخصیت جوړېدنه) ځوانانو ته په ګوته شوی دی، ولې د کتاب په منځپانګه کې ډېر داسې مهم، ګټور، او مؤثر معلومات او لاربښوونې وجود لري، چې د هغو لوستل او ځانونه پرې پوهول، نه یوازې دا چې هر پلار، مور و خور او ورور، ښوونکېو، د تعلیم او تربیې مسوولینو او دولتي چارواکېو ته ګټور، بلکې فوق العاده ضروري دي. د کتاب په اوږدو کې په خوره وره توګه ډېرو داسې ضروري موضوعاتو ته اشارې شوي دي، چې هغه نېغ په نېغه د زیږوالو (والدینو)، ښوونکېو او د ټولنې په نورو مسوولینو پورې اړه لري؛ نو پر ځای به وي چې ووایو، د یو نوي هېواد جوړولو په امید راځئ چې ټول په ګډه له هرې منبع نه په ګټې اخستنې، د خپل هېواد د راتلونکې نسل د سالمتیا او سلامتیا په خاطر د دې اثر په لوستلو او عملي کولو سره خپل انساني، پلرني، مورني، ښوونیز او ټولنېز مسوولیتونه درک او په سمه توګه یې پرځای کړو.

په تېرو شلو کلونو کې چې زه په امریکا کې اوسېدم، هېواد ته د راتلو په وخت کې خپلې ټولنې ته ځیر شوم. دا راته جوته شوه، چې د تېر څه لپاسه (۳۰) کلن جنګ او مهاجرت له کبله زموږ ټولنه په هر اړخیزه توګه له صدمو سره مخ شوې ده، چې ددې صدمو له جملې څخه یوه جدي صدمه د ځوان نسل د تربیې خرابوالی و، چې لا تر اوسه ورته هم هېچا پاملرنه ونه کړه او نه یې په عملي برخه کې هېڅ کوم اقدام شوې دی.

خو زموږ دټولنې د ځانګړې تحلیل له مخې دا ستونزه په زغرده رامنځ ته شوه، چې ډېر ځله زموږ په ټولنه کې پلار، مور،د کورنۍ نور غړي او ترځنګ یې ښوونکي هم د خپلو بچیانو او زده کوونکیو شخصیت په ناارادي توګه وژني.

سره له دې، چې د شخصیت جوړونه او پالنه ډېر ضروري اصل دی؛ خو تر دې هم لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات دا مهمه ده، چې په لومړي سر کې د شخصيت وژنې مخنيوی، په بيړه او ځيرتيا سره وشي. نو له همدې کبله د کتاب محتوا داسې جوړه شوې ده، چې د دې تر څنګ چې ځوانانو ته لازمې لارښوونې باید وشي؛ نو مور، پلار او د کورني غړو او همدا راز د ښوونځي ښوونکېو ته هم په کې ډېرې لارښوونې شوې دي، چې له يوې خوا د بچېانو او ځوانانو د شخصيت وژنې په اړه دوی له خپل دغه نا ارادي کړو وړو څخه خبر کړو او له بلې خوا د ځوانانو د شخصيت جوړونې په اړه دوی ته داسې لارښوونې وکړو، چې دوی په ښه توګه وکولای شي د ځوانانو په شخصيت جوړېدنه کې اغېزمنه ونډه واخلي. دغه لارښوونې د ددې کتاب په ټولو پاڼو کې ځای پر ځای ځوانانو، کورنيو او ښوونکېو ته په ګوته کړای شوي دي.

۳ - له ځوان نه مطلب څه دی او ځوانان ولې مهم دي؟

د ځوان تعريف:

لومړی غواړم دا روښانه کړم چې د (ځوان) له کلمې څخه زموږ مطلب دلته نارينه او ښځينه دواړه ځوانان دي. که څه هم زموږ په ولسي فرهنګ کې د ځوانانو کلمه يوازې د هلکانو له پاره کارېږي؛ خو په حقيقت کې دا يوه عامه کلمه ده، چې دواړه يعنې هلکان او نجونې را اخلي. د دې کتاب په اوږدو کې چې کله د (ځوان) کلمه يادېږي، له هغې څخه مطلب نارينه او ښځينه دواړه ځوانان دي.

ځوانان ولې مهم دي؟

د لاندې دلايلو په وجه ځوانان په ټولنه کې ځانګړی او ټاکونکی رول لري:

۱. ځوانان د ځان پر وړاندې يو اوږد راتلونکی لري. هيله لرم چې دا کتاب به له دوی سره د دوی د شخصيت په روزلو او د هر يو په ژوند کې د يوې روښانه راتلونکې په لار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغېزمن ثابت شي.

۲. ځوانان ژوند ته سترګې پر لار او د خپلو کړو وړو په تړاکنې کې لارښوونو ته اړتیا لري، هیله ده دا کتاب به دوی سره د ښه شخصیت ګټنې ترڅنګ د یو مسؤل افغان په توګه د دوی په روزنه کې مرسته وکړي.

۳. په ټولیزه توګه ځوانان د پاکو احساساتو لرونکي وي، خپل هېواد او هېوادوالو ته د چوپړ په برخه کې قربانیو او هلو ځلو ته چمتو وي.

٤. ځوانان د ډېرې انرژۍ لرونکې دي، که چېرې له دوی سره لږه مرسته او لارښونه ورته وشي، دوی کولای شي، چې خپل ځان او وطن له پاره دغه انرژي په یوه ډېره ګټوره لاره وکاروي او که دوی ته مناسبې لارښوونې ونشي؛ نو ددې خطرات شته، چې دوی به د منفي احساساتو او ناسمو فکرونو او کړنو ښکار شي؛ نو په دې وجه به د دوی شخصي ژوند او ملت دواړه زیانمن شي. یعنې د دې ګټورې پانګې د بایلنې په وجه به هم ځوانان او هم زموږ هېواد زیانمن شي.

۵. کله چې زه ځوان وم، زما په ژوند کې د یو څو مشرانو نېکو لارښوونو دومره ګټور اغېز وکړ، چې زما ژوند یې سم لوري ته واړاوه او پایلو یې زه ښو او پرځای هیلو ته ورسولم؛ په همدې وسیله غواړم، چې د هغوی د ګټورو خدمتونو لړۍ لاپسې وغځوم، او هیله لرم چې زما دغه پېرزوینې به ستاسې په ژوند کې هم یو لږ مثبت بدلونونه راولي. زما امید له لوستونکو څخه دا دی، چې تاسې به هم دغه اخلاقي مکلفیت لاپسې وغځوئ او د خپل راتلونکې ځوان نسل په چوپړ به ځانونه مصروف کړئ.

٦. له بده مرغه دردوونکی واقعیت دا دی، چې زموږ هېوادوال د تېرو څو لسیزوجنګونو او جګړو له کبله نه یوازې ډېر ځوربېدلي او ځپل شوي دی؛ بلکې د دې تر څنګ زموږ د وطن عالم (؟) او په اصطلاح وطنپال (؟) مشران چې هېوادوالو پرې تل حساب کړی او د دوی د لارښوونو په انتظار پاتې شوي دي، افسوس، چې دهغوي ډېر یې ً د مایوسی، په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځونو کې د نا باورۍ او پر بهرنيو مرستو د اتکا ښکار شوي دي او په دې توګه دغه مشران له هيڅ نوعه نوښت، خلاقيت او مسووليت سره چمتوالی نه ښيي.

د تېرو لسو کلونو په اوږدو کې مو د يو شمېر نورو فداکارو وطنپالو ملګرو په ملاتړ کوښښ وکړ، چې يو شمېر دغه غښتلي (؟) مشران د يو سالم ملي سياسي پروګرام جوړولو له پاره را وبلو؛ خو افسوس پر دې، چې لاسته راوړنې يې دومره د ډاډ وړ نه وې، نو له دې کبله مو هوډ وکړ ، چې تر دې زيات بايد ددغو تش په نامه مشرانو په تمه پاتې نشو؛ بلکې د يو بل متبادل دريځ په لټه کې شو، نو دا مو غوره وګڼله، چې خپله انرژي له ځوانانو سره د ګډ کار په موخه ولګوو. دا بايد ووايو، چې نن که تاسې ځوانان د خپل ملت او هېواد د راتلونکي په ټاکنه کې د لارښود ډندې اخلئ، دا ددې تش په نامه مشرانو پر وړاندې ستاسې سپين سترګي او سرغړاوی نه دی؛ بلکې ستاسې دا ډول کړنه دوی خپلو هغو بې مسووليتيو ته متوجه کوي، چې تاسې ته يې د خپلې ټولنې له پاره د لارښود مکلفيتونه در په غاړه کړي دي. هيله من يم چې تاسې ځوانان به خپل ولس او دې مشرانو ته څرګنده کړئ، چې تاسې د دې وړتيا لرئ چې د تاريخ په دې ډېرو سختو شېبو کې هم خپل ملت او هېواد د يووېشتمې پېړۍ له غوښتنو سره سم د برياليتوب پړاو ته ورسوئ.

د تېرو څو لسيزو په اوږدو کې ما زندانونو او د مرګ له تهديدونو نه نيولې تر تبعيد، لوږې او د غربت شپو او ورځو ته د هغو امکاناتو په نسبت ترجيح ورکړې، چې د هېواد او هېوادوالو پر وړاندې له نامشروع لارو څخه تر لاسه کېدل. پر دې سربېره، ما په خپل ژوند کې خپل ټول مادي او معنوي شتمني د تاريخ په هر حساس پړاو کې تر خپل وس پورې له خپلو هېوادوالو زار کړي؛ خو سره له دې زه خپل ځان د هېواد او هېوادوالو او په ځانګړې توګه ستاسې ځوانانو پر وړاندې لا نور هم پوروړی بولم؛ نو د همدې مسووليت تر درک وروسته غواړم، چې د خپلو مسووليتونو يوه برخه له تاسې سره د دې کتاب په ليکلو شريکه کړم.

د مشرانو صادقانه لارښوونې د ځوانانو پر ژوند ژور اغېز کولای شي. د ساري په توګه، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کله اته کلن او په دویم ټولګي کې وم؛ نو مرحوم جرار صیب زموږ په ښوونځي کې د یوه کانفرانس په ترڅ کې د روسیې له پاره د (خرسچوف) د خدمتونو په اړه وویل چې: ((په روسیه کې ټول جوړ شوي موټرونه اوس هم د خروسچوف په ویاړ کله چې بریک ونیسي نو (چوف) اواز کوي)).

زه نه غواړم چې ددې خبرې پر حقیقت باندې خبرې وکړم، خو په دې باور لرم چې د دې کیسې په کولو مرحوم جرار صیب غوښتل، چې ځوانان د خپل وطن خدمت کولو ته وګوماري. د هغه مرحوم دغه خبره داده اوس نږدې پنځوس کاله وروسته هم زما په یاد ده.

٤ - ځوانان ولې باید دا کتاب ولولي؟

دا هغه پوښتنه ده، چې هر څوک یې دمخه تر دې چې دا کتاب واخلي، له ځان څخه دې وپوښتي، چې ایا د دې کتاب لوستل ماته څه ګټه رسوي؟ ایا دا کتاب د وخت او پیسو په لګښت ارزي؟

دا د ټولو انسانانو یوه طبیعي ځانګړنه ده، چې د هر کار په برخه کې باید دا پوښتـنه تر هر څه لومړی له خپل ځانه وکړي، چې د دې کار په کولو کې زما ګټه او زیان څه دی؟ ایا ګټه یې تر زیان زیاته ده او که نه؟

زه ددې کتاب د لیکوال په توګه، نه یوازې ستاسې دا پوښتنه د خپګان وړ نه بولم؛ بلکې زه په کلکه تاسې ته توصیه کوم، چې د خپل ژوند په ټولو چارو کې دا پوښتنه هر وخت له ځانه وکړئ او د یو رښتیني ځواب په رڼا کې پرېکړې وکړئ. زموږ د ټولنې یو تریخ واقعیت دا دی، چې د خلکو اکثره کارونه له دې کبله نیمګړي پاتې کېږي، چې داسې کارونو ته لاس اچوي چې سرته رسول یې ورته ناشوني وي؛ نو د یو وخت په تېرېدو او د یو مقدار انرژۍ او امکاناتو تر لګولو وروسته ورته پته لګېږي، چې هغه کار یې باید هېڅ پیل کړی نه وای او یا هم له دې کبله چې د یوه کار ګټه او زیان یې په غور نه وي ارزولې؛ نو د یو کوچني

(c) ketabton.com: The Digital Library



خنډ د پیدا کېدا له کبله بیا هغه ډېر پر مخ تللی کار په نیمايي کې پرېږدي؛ نو دا به ډېره ګټوره او د یوه کلک هوډ د نیولو له پاره ښـه او غوره لار وي، چې د یو کار له پیله لومړی د هغې ګټې او زیانونه په ژوره توګه وارزول شي.

سره له دې چې له دې کتاب څخه ګټه اخیستل به یوازې په تاسې پورې اړه ولري، ولې هغه څه چې زه یې په جرئت ویلای شم دا دی، چې د دې کتاب په لیکلو کې موږ هېڅ ډول ځاني ګټې په پام کې نه وې نیولې. پر دې سربېره چې نوموړی کتاب مو په خپلو امکاناتو چاپ او له دې کتاب څخه تر لاسه کړې ګټه به هم ستاسې ځوانانو د خدمت له پاره پر یو بل کتاب او یا کوم بل علمي کار لګېږي؛ نو زه د خپلې پاکې ارادې له مخې تاسې ته په ډاډ ویلای شم، چې که مو دا کتاب په پوره غور ولوست او پوره عمل مو پرې وکړ؛ نو تاسې به نه یوازې د خپلو خلکو او هېواد له پاره ګټور شئ؛ بلکې ددې ترڅنګ به مو د خپل شخصیت په لوړتیا او بشپړتیا کې کارنده ونډه اخیستي وي، او هم به مو د خپلې کورنۍ او بچیانو راتلونکې سره ډېره مرسته کړې وي.

دا کتاب په درېیوو دلیلونو ځوانانو ته ځانګړی شوی دی:

لومړی: زه د یو افغان په توګه د دې مسوولیت احساسوم، چې د خپل هېواد ځوان نسل ته لازمې لارښـوونې وکړم، چې په دې وسیله به مې د لوی خدای جل جلاله، خپل وجدان او هېوادوالو پر وړاندې خپل وجداني مسوولیتونه تر یو بریده تر سره کړي وي.

دویم: پر دې عقیده لرم، چې ځوانان تل د ډېرو پاکو احساساتو خاوندان، د کافي انرژۍ لرونکې او په رښتینې توګه له هر ډول ځان خوښوونې او شخصي ګټو پرته د هېواد او هېوادوالو خدمت ته لېوال وي او په دې برخه کې د مشرانو لار ښوونو ته سترګې پر لار وي.

درېیم: په دې برخه کې یو بل ټکي ته ستاسې پام راواړوم او هغه دا چې سره له دې، چې زه به ډېر پراخه ملي او نړۍ واله مشهورتیا نه لرم، ولې زه په دې ویاړم چې کله زه ستاسې په عمر وم؛ نو ما ځانته "ملت مل" تخلص غوره کړ او تر ننه پورې خپلې دغې عقیدې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې ته په هر اړخیزه توګه رښتینې او ژمن یم.

دا کتاب یوازې په همدې نیت لیکل شوی، چې ځوانانو سره د روښانې راتلونکې په برخه کې مرسته وکړي؛ تر څو په دې وسیله تاسې غښتلي او سپېڅلي تربیه شئ او دا کتاب په دې لاره کې ستاسې یو ښه لارښود او مرستندوی وګرځي.

۵ - له دې کتاب څخه زما هیلې:

د دې کتاب له لیکلو څخه زما هیلې په دې توګه دي:

۱. زه غواړم چې زموږ د هېواد د ځوان نسل هر غړی د خپل ژوند له پاره یو هدف، یوه ټاکلې لار او روښانه مرام ولري، چې دغه ټاکلي مرام ته د رسېدو په لاره کې خپل پرمختګ په اسانه توګه ارزیابي کړای شي. هیله ده چې دا کتاب به زموږ په ټولنه کې له ځوانانو سره د خپل ځان، هېواد او نړۍ په پېژندنه کې مرسته وکړي او دوی به دې ته وهڅوي، چې په خپل ژوند کې د یوه پاك او سپېڅلي ارمان خاوندان اوسي، او د هغې ارمان د لاسته راوړلو له پاره پرله پسې مبارزه وکړي.

۲: غواړم چې د خپلې ټولنې ځوان نسل دې ته ځیر کړم، چې دوی هر یو د یو شخصیت لرونکې دي. دوی هر یو باید خپل شخصیت وپېژني او د هغې په دفاع سره د خپل شخصیت د ودې او بشپړېدو په برخه کې په غور قدمونه پورته کړي.

له دې کبله، چې ډېر خلك د ژوند په هغه مهم وخت کې چې شخصیت جوړېږی او پراختیا مومي، د شخصیت په اړه معلومات نه لري؛ نو په دې توګه د ناخبرۍ په وجه په ناارادي او ناغورۍ خپلو شخصیتونو ته زیان رسوي. زه غواړم، چې په وقایوي توګه دوی دغه مهم اصل ته په پام کې کړم، تر څو له خپلو شخصیتونو څخه په پالنه او دفاع کې ځانونه چمتوکړي.

۳: زه غواړم د هېواد میندو او پلرونو ته هم د دوی د اولادونو د شخصیت پېژندنې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالمې روزنې په برخه کې یو څه ضروري لارښوونې وړاندې کړم. زموږ د ټولنې یوه غټه بدبختي دا ده، چې پلرونه، میندې او ان ښوونکي او روزونکي هم په غور د خپلو بچېانو او زده کوونکیو شخصیتونو ته پاملرنه نه کوي او ډېر یې د ماشومانو شخصیتونه په ناغورۍ او په بې رحمۍ سره وژني. د ساري په توګه دوی ډېر وخت یو لړ منفي جملې لکه (چپ شه!، سپیه!، بې عقله!، کم عقله!، ته کشر یې!، خبرې مه کوه، خره!، لېونیه! او ...) کلمې کاروي. دوی ته د داسې کلمو کارول یوه عامه او دودیزه مسئله برېښي، ولې له بده مرغه د داسې منفي کلموکارول زموږ د بچېانو د روحیې او شخصیت وژنې لامل ګرځي؛ نو غواړم په دې وسیله د کورنیو او زده کړې د مسوولینو پام له دې منفي کولتور سره مجادلې او د یو سالم او مثبت کولتور دودولو ته، چې هغه به د ځوانانو په وده کې ګټور وي را واړوم.

٤: ځوانان خپل لومړني مسوولیتونه تر سالمې روزنې وروسته پېژني، چې همدغه ددوی د شخصیت جوړېدنې لامل کېدلای شي. هیله ده چې دا کتاب به له تاسې ځوانانو سره په دې برخه کې تر وسه مرسته وکړي.

٥: زه غواړم چې زموږ د هېواد ځوانان باید د خپل هېواد او هېوادوالو ګټې او پرمختګ د خپل یو اساسي مسوولیت په توګه وپیژني او د دې لوړو موخو د لاسته راوړلو په برخه کې له یو روښانه پلان او پروګرام سره پر مخ ولاړ شي. ځوان نسل کولای شي چې د یو سالم لوري په غوره کولو سره خپله ټولنه هم په یوه سالم مسیر کې په حرکت راولي او په نتیجه کې یې د یوې روښانه او نېکمرغه راتلونکې پر لور رهبري کړي. هیله مې داده چې دا کتاب به تاسې ته ستاسې مسوولیتونه د خپلې ټولنې او خلکو پر وړاندې لا ښه څرګند او روښانه کړي. له لوی خدای جل جلاله څخه هیله من یم، چې ستاسې د هڅو او هلوځلو په نتیجه کې به زموږ دغه ځورېدلي او کړېدلي ملت د یو روښانه راتلونکې پر لور چټک ګامونه پورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٦ - تعليم مهم دي،خو تربيه ترې مهمتره ده !**

د ځوانانو پر ژوند او اجتماعي سلوك د جنگونو او مهاجرتونو اثرات:

انسانان په مجموعي توگه، خو ځوانان او کوچنيان په ځانګړې توگه، له محيط څخه زيات متاثره کېږي. ټول ماشومان او ځوانان يو لړ معلومات، خوی، اخلاق، رويه او سلوك په يو نارمل محيط کې په منظمه او ښه توگه زده کوي. هره ټولنه په مجموعي توگه ځان ته اصول، پرنيسپونه او ځانګړي اخلاق لري، چې دغه خصوصيات د هغې ټولنې انسانان، خصوصا ځوان نسل د خپل ژوند په اوږدو کې په تدريجي توگه د ليدو، اورېدو او په مکرره توگه ونډه اخيستلو سره هغه زده کوي. د مثال په توگه، په ماشومتوب کې د ډوډۍ خوړلو اداب، د سلام اچولو اداب، د مشرانو او خپلوانو د قدر او احترام کولو اداب، د مېلمه احترام او درناوی زده کېږي. بيا وروسته په زلميتوب کې د مجلس اداب، د مړي او ژوندي په مراسمو کې گډون، د ودونو دستورونو او رواجونو پالل او نورې اجتماعي اړيکې زده کېږي.

بالاخره، بيا انسانان په پاخه عمر کې د مرکو، جرگو او روغې جوړې اصول او پرنسيپونه زده کوي. دغه ټول معيارونه، په ټولنه کې دننه او د يو نورمال حالت په جريان کې له مور و پلار او کورنۍ څخه شروع او بيا له کور، کلي او ولس څخه په کارنده او ناکارنده توگه زده کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم څپرکی

## د شخصيت په اړه

۷ - د شخصيت تعريف:

(شخصيت هغه مقام، ارزښت او احترام دی، چې د ټولنې خلك يې يو چا ته په ټولنه او خپل زړه کې په خپله خوښه، بې له کومې تمې او تمنا ورکوي). يا په بل عبارت شخصيت (د يو شمېر هغه ارزښتونو ټولګه ده، چې په يوه مشخصه ټولنه کې د ټولنې غړيو ته خاص اهميت لري). شخصيت د خپل ځان درناوی او ځان ته د يو شمېر معيارونو ټاکنه هم ده.

يعنې شخصيت څوك ځانته په خپله نه ورکوي؛ بلکې د ټولنې خلك يې يو چا ته په ټولنه کې ورکوي؛ خو د لاسته راوړلو له پاره يې د شخص هلې ځلې لازمي او ضروري دي. د شخصيت په لاسته راوړلو کې لاندې موضوعات دخيل دي:

۱ – تاسې (هغه شخص) پرې مستقيما کومه ولګه نه لرئ.

۲ – شخصيت د يو شخص د ژوند په اوږدو کې يوه مجموعي لاسته راوړنه ده، نه دا چې د يوې ورځې، يوې مياشتې يا يوه کال محصول.

۳- شخصيت هغه څه نه دی، چې يو څوك يې د ځان په اړه فکر کوی يا يې ارزوي؛ بلکې دا د هغه څه محصول دی، چې نور خلك يې د دې شخص په اړه په کتلوي توګه ارزوي.

٤- شخصيت يو دايمي مقام نه دی؛ بلکې د هرې ورځې له ارزونې سره هغه بدليدای شي.

٥- په ټولنه کې د ټولنې ټول انسانان هره ورځ، هره ګړۍ يو بل ارزوي.

٦- د شخصيت ساتنې له پاره پرله پسې دفاع او وقايه دواړه جدي ضرورت دی.

۸ - شخصيت څوك او څرنګ ټاکې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هره ټولنه کې خلک شخصيتونه ارزوي، چې دا ارزونه په دوامداره توګه او په ټولنه کې د مختلفو خلکو له خوا صورت نيسي. دا ارزونه د معمول پر خلاف په داوطلبانه توګه تر سره کېږي او په داسې حال کې چې خلک پر ځان خبر هم نه وي، دغه ارزونې په ناارادي توګه او په داوطلبانه ډول يو له بل سره شريکوي او بالاخره دغه نظريات د ټولنې د خلکو په منځ کې نه يوازي دا چې سره شريکېږي، بلکې ددې ارزونو د شريکولو په نتيجه کې يوه عمومي ارزونه ترې منځته راځي او هغه ارزونه بيا د خلکو په منځ کې خپرېږي او په دې توګه د هغه شخص په اړه خلک يوې ټوليزې پايلې ته رسېږي، چې دغې ټوليزې ارزونې ته د هغه سړي شخصيت ويل کېږي. مثلاً کله چې يو څوک زموږ له مخې څخه تېرېږي او حتا که په يو مجلس کې د يوه کس په اړه بحث کېږي؛ نو په دې دواړو صورتونو کې کتونکي او د مجلس اورېدونکي د هغه شخص په اړه ښه او يا بد ځانته انځوروي. بيا انسانان په خپلو کې دغه نظريات يو له بل سره بې له دې چې ورته متوجه شي، شريکوي او دغه نظريات په يوه مرموزه، نااردي او پرله پسې توګه له نورو سره په مختلفو لارو چارو شريکېږي او د دې په پايله کې خلک د هغه شخص په اړه يو ډول قضاوت کوي او دغه قضاوت له نورو سره شريکېږي او په پايله کې يې خلک هغه شخص ته په خپلو زړونو کې يو شخصيت قايل کېږي او د همدې ارزښت له مخې هغه ته په ټولنه کې احترام، قدر او ارزښت ورکوي. چې دغه ارزونه هره ورځ، هر ساعت د هر چا په اړه په ټولنه کې مطرح ده او بې له دې چې څوک خلکو ته په دې اړه کومه لارښوونه وکړي. خلک دا کار په اتوماتيکه توګه ترسره کوي نو ويلای شو، چې د يو چا د شخصيت په اړه پرېکړه، داسې يوه پرېکړه ده، چې هغه د يو شخص نه، بلکې د ټولنې يو ټوليزه ارزيابي ده، هغه د يوې ورځې ارزيابي نه، بلکې د هغه سړي د ژوند د اوږدو، پرله پسې ارزونه ده او بل دا چې په دې ارزونه کې دغه شخص په خپله کوم مستقيم اغېز نه لري ولې په نامستقيم ډول ددې د هرې ورځې کړه وه او راشه درشه ددغې ارزيابۍ يوه برخه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا هم ویلای شو چې شخصیت کوم همېشنی مقام نه، بلکې له بدلون او تحول سره ملګری دی. یو شخص کولای شي چې په یوه اوږده موده کې دډېرو قربانیو او هلوځلو په پایله کې په ټولنه کې یو شخصیت تر لاسه کړي؛ خو بیا د یوه ډېر وړوکي منفي عمل په پایله کې خپل دغه موقعیت او مقام د خلکو په زړونو کې له لاسه ورکړي؛ نو ویلای شو، چې که له یوې خوا د شخصیت لاسته راوړل خورا مشکل کار دی، خو له بلې خوا د شخصیت ساتنه لاتر هغه سخت او مشکل کاردی

۹ - ولې او کله باید په شخصیت وغږېږو ؟

ـله دې کبله چې شخصیت له ډېر وړکوالي څخه پیلیږي او له همدې وخته انسان له رنګارنګ خطرونو او چېلنجونو سره مخ کېږي؛ نو ضرور ده، چې د شخصیت په اړه هر څومره ژر چې کېدای شي خبرې پیل کړو.

البته له اووه کلنۍ نه کوچنیو ماشومانو ته به مشکله وي، چې د شخصیت په اړه د موضوعاتو په توضیح پوره پوه شي؛ خو له اووه کلنۍ نه وروسته تر ۳۰ کلنۍ پورې ځوانان د دې وړ دي، چې په پرله پسې توګه د شخصیت د اهمیت په اړه او همدا راز د شخصیت پر وړاندې د چېلنجونو او وقایوي تدابیرو په اړه ورسره خبرې وشي؛ خو د هغو ماشومانو د شخصیت ساتنې له پاره چې عمرونه یې تر اووه کلنۍ کم دي دا ډېره مهمه ده، چې د هغوی له مور، پلار، خویندو او وروڼو سره ددې ماشومانو د شخصیت جوړونې، ساتنې او پالنې په اړه خبرې وشي. البته د کورنۍ ټول غړي د یو بل په شخصیت جوړونه او پالنه کې لاس لري، چې حتا دغه رول د غټو بچېانو او د کور د لویانو په اړه هم مهم ګڼل کېږي.

کورنۍ لکه چې د بچېانو د خوراك، جامو او نور ضروریتونو مسوولیت پر غاړه لری، همداراز مسوولیت لري، چې د اولادونو د شخصیت د رشد او تکامل په اړه، د دوی د تعلیم او تربیې په اړه، د دوی د ملګرو د انتخاب په اړه، د دوی د تحصیل او واده په اړه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر وکړي او پلان ولري. نو د شخصيت په اړه خبرې يا له ځوانانو او يا د دوی د کورنۍ له غړيو سره خبرې چې هر څومره ژر تر ژره شروع شي ګټوره ده؛ خو د خبرې کولو اساسي هدف بايد دا وي، چې ځوان او د کورنۍ غړي يې په خپله ونډه اخيستلو ته وهڅول شي.

۱۰ - د شخصيت پړاوونه:

د شخصيت په جوړونه کې دغه لاندې پړاونه شامل دي.

الف: د شخصيت پېژندنه

ب : د شخصيت وژنې مخنيوی

ج: د شخصيت جوړېدنه او تکامل

د: شخصيت تثبيتونه

ه: د شخصيت ساتنه

و: د شخصيت د خپرولو لارې چارې

الف: د شخصيت پېژندنه:

څو کاله د مخه مې د شخصيت پېژندنې موضوع په اړه د يو کنفرانس له پاره تياری نيوه، د موضوع تر څېړنې دمخه له ما سره نظريات يو شان وو؛ خو په دې برخه کې تر ژورې علمي څېړنې وروسته زما په نظرياتو کې د توقع خلاف ستر بدلون راغی، لکه چې نور خلك هم فکر کوي، چې شخصيت تر ځوانۍ وروسته جوړېږي، خو زما په عقيده، شخصيت له درې کلنۍ څخه پيلېږي. د دې اصلي لامل دا دی، چې په دې عمر کې ډېر ماشومان پر خپلو ډکو او تشو ميتيازو کنټرول پيدا کوي، چې تر دې دمخه له دې کبله چې دی پر خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان کنټرول نه لري؛ نو د شخصیت په برخه کې هم ادعا نه کوي. ولې کله چې د دوی د ژوند دغه نیمګړې برخه پوره شي؛ نو بیا دوی هر یو د یو ځانګړي شخصیت د لرلو ادعا کوي. دا هغه نظر و، چې له ما سره درې کاله دمخه راپیدا شو؛ خو د ۱۳۸۸ لمریزکال په جدي کې له یوې نوې پېښې سره مخ شوم، چې هغې زما نظر نور هم بدل کړ. زما یوه کوچنۍ لور ده چې (هڅانده) نومېږي. (هڅانده) په هغه وخت کې پینځه لس میاشتنۍ وه، زه جلال اباد ته د څو شپو له پاره تللای وم. کله چې بېرته په کابل کی کور ته راغلم، هڅانده زما د هرکلي له پاره په لارو (دهلېز) کې منتظره وه او په ډېرۍ خوشحالۍ یې زما خواته راوځغاستل. د هغې هیله هم دا وه او لازم هم دا و، چې زه باید هغه په غېږ کې راپورته کړم؛ خو له دې کبله چې زه تشناب تللو ته په بېړه وم، ما هغه راوانخیسته او د تشناب په لور مې وځغاستل، هڅانده په دې کار ډېره خفه شوه او وې ژړل. له تشناب نه وروسته چې ما او مور یې هرڅه خواري وکړه، هغه پخلا نه شوه، تر څو چې په ژړا کې ویده شوه او بیا سبا سهار چې له خوبه راپاڅېده؛ نو راسره پخلا شوه. دې پېښې ماته دا نظر راکړ چې، ماشومان حتا په یو کلنۍ کې هم ځانته یو شخصیت لري، او چې کله د هغو شخصیت ته پاملرنه ونه شي؛ نو هغوی بیا مرور او مایوسه کېږي؛ نو پکار ده چې د ماشومانو شخصیت ته ډېر پام وکړو.

ځینې ماشومان له وړکتوبه ډېر حساس وي او هر ډول کړه وړه د هغه د کورنیو او یا نورو خلکو له خوا چې دده شخصیت ته زیان رسوي، دوي نا ارامړي. دغه ډول ماشومان ډېر حساس وي او دا ډېره مهمه ده چې مور و پلار او د کورنۍ نور غړي دغه ډول ماشومان تشخیص کړي او له دوی سره د دوی له له غوښتونو سره سم چلند وکړي، او که نه دغه ماشومان به ناهیلي شي او په پرله پسې توګه به خپل شخصیت له لاسه ورکړي. په دې برخه کې غواړم یو مثال راوړم:

زه په امریکې کې د خپل یو دوست زرغون شاه (شینواري) صیب په کور کې مېلمه وم؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمه نه بلکې د کور د يو غړي په شان وم، ځکه زموږ په منځ کې د ورورۍ نه هم ښې اړيکې دي. د ماښام ډوډۍ تياره شوه او د اصيل افغاني کولتور سره سم د شينواري صيب په (سالون) کې دسترخوان اوار او د کورنۍ ټول غړي، نر او ښځې سره يو ځای ډوډۍ ته کېناستو. د شينواري صيب د کور دغه ځانګړنه زما ډېره خوښېده.

ډوډۍ ته ناست وو، چې د شينواري صيب يوې څلور کلنې لور ملالۍ جانې غلي پلار ته څه وويل. پلار يې پرې غوسه شو او څه ناخواله يې ورته وويله؛ خو ما وانه ورېده. ملالۍ سمدلاسه ډوډۍ بس کړه او غلې پر خپل ځای کېناسته، نور يې هېڅ ونه ويل. څه شېبه وروسته چې زموږ ورته پام شو، هغې ډوډۍ نه خوړه او غلې ناسته وه. زه د يو ډاکټر په صفت دې پېښې ته لا زيات ځير شوم. له هر اړخيزې ارزونې وروسته دې پايلې ته ورسېدم، چې ملالۍ خپل ځان ته په شخصيت قايله ده. رښتيا هم چې د ملالۍ ټول کړه وړه ځانګړي دي او په کوچنيوالي کې دومره پوهه، درنده او مينه ناکه ده، چې د يوه غټ انسان ځای نيولای شي. ملالۍ په خپل دې عمل خپل پلار ته دوه شيان څرګند کړل.

لومړی يې خپل پلار ته وښوده چې زه يوه شخصيت لرونکې نجلۍ يم. تا ولې زه تهديد کړم، زه بايد تا د دې کاکا مخکې نه وای رټلې. او ورته يې وښوده چې ستا دې کړو زما شخصيت ته زيان ورسوه.  زما شخصيت مه زيانمنوه.  دويم دا چې ملالۍ د دود خلاف د نورو ماشومانو په څېر نه وژړل او نه له دسترخوان نه پاڅېده،  او نه هم بيا د چا په پخلا کېدو پخلا شوه. په دې کې هم هغې خپل شخصيت تثبيت کړ. هغې دا وښودل چې زه دومره عادي نجلۍ نه يم چې يا وژاړم او يا د دسترخوان نه پاځېږم. زه کولای شم چې دا خپګان او غوسه په ښه او سالمه توګه وزغمم او د خپلې مرورتيا په وجه يې دا هم وښوده، چې زما خپګان ددې سطحې څخه چې په څو خوږو خبرو له هغې نه تېره شم، ډېر او لوړ دی.

زه د ملالۍ جانې دې ژورې ارزيابۍ، مودبانه غبرګون او باثباته دريځ ته هک حيران شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته بیا ما دا موضوع له شینواري صیب سره شریکه کړه او ورته مې وویل چې: شنواري صیب! ستا دا لور ځانګړی کرکتر او شخصیت لري. ته باید د هغې سره دهغې له غوښتنو سره سم چلند وکړې، او نور یې باید شخصیت ته زیان ونه رسوې.

د ملالۍ په څېر زیات ماشومان زموږ او ستاسې په کور کلي او ماحول کې شته، چې د هغوي د ځانګړي شخصیت پېژندنه، ورته احترام او ور سره مناسب سلوک کول به نه یوازې د دوی د شخصیت له پرمختګ سره لا مرسته وکړي؛ بلکې دوی به ډېر ژر د کورنۍ له پاره د سترو ویاړونو سبب شي. غواړم په دې اړه د مور، پلار، وروڼو او خویندو ځانګړې پاملرنه دې ټکې ته راواړوم، چې د خپلو ماشومانو د شخصیت په پېژندنه او له دوی سره په مناسبې رویې کې له پوره پاملرنې او احتیاطه کار واخلې. کله چې مو درک کړه، چې ستاسې ماشوم ځانګړی شخصیت لري، هغه ته ناز ورکړئ او د نورو ملګرو، دوستانو او کورنۍ د غړیو په منځ کې د هغه د شخصیت په اړه مثبتې او ښې خبرې وکړئ. دغه ډول چلند دا ماشومان تر بلې هرې رویې زیات د لاښه شخصیت څخه برخمن کوي او که ستاسې ځینې ماشومان د کمزوري شخصیت او کرکتر لرونکې هم وي؛ نو دوی تر بل هر چا لا زیاتې پاملرنې ته اړتیا لري؛ تر څو دوی په پرله پسې توګه ځانونه با ارزښته او مهم وګڼي.

ب: د شخصیت وژنې مخنیوی:

زموږ په کور، کلي او ښوونځي کې دا دود دی، چې ماشومان د بېلابېلو معاذیرو له کبله چې کله کومه نیمګړتیا ولري؛ نو بیا د هغې کورنۍ، ملګري او ټولګیوال ترې د هغه ماشوم د تهدید او ځورونې له پاره کار اخلي، ځینې داسې ناروغۍ، معیوبیتونه او نیمګړتیاوې شته، چې لري کول او یا یې له منځه وړل د هغه ماشوم او کله کله د نورو انسانانو له قدرت څخه هم لوړ وي؛ نو په کار ده چې دا ډول نیمګړتیاوې د هغه ماشوم کمزوري او یا بې کفایتي ونه ګڼل شي. د بېلګې په توګه ځینې ماشومان چې کاڼه یا ړانده وي، یا یې لاس شوټ وي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښه‌گوډ وي او يا هم له ذهني پلوه وروسته پاتې وي. لومړی خو خپل پلار، مور، خويندې، ورونه، ملگري او ټولگيوال ورته د هغې پيغور ورکوي، ډېر يې په هماغه بد نوم لکه گونگی، شوټی، گوډی، غبي، لېونی، گرنگن اوپه نورو ناوړه نومونو يادوي، چې د زيات تکرار له کبله يي هغه ماشوم هم ځان بې عقله، ناپوهه او د خدای په قهر اخته محسوسوي او نور د هېڅ ډول شخصيت ادعا هم نه کوي. کله کله دغه موضوعات د دې سبب هم شي، چې بيا دغه ماشوم ځينې غير نورمال او خرابو کارونو ته لاس اچوي او په دې توگه خپل شخصيت نور هم تخريب، تحقير او توهين کړي. په دې برخه کې دوه بېلگې د ذکر وړ بولم:

زه يو وخت په کوچنيوالي کې لويدلی وم او د پوزې هډوکی مې مات شوی و؛ نو د پوزې پرله پسې ميکروب مې پيدا کړ. په دې وجه زه په کورنۍ کې همېشه له تهديد او تحقير سره مخ وم. ټولو به راته گرنگن، خيرن او بې عقل وايه. دا توهين دومره زيات شو، چې نور يې پر ما د توهين کوم اغېز هم نه کاوه او د دې پرله پسې توهين له وجې مې ځان په خپلو همزولو کې عاجز او نيمگړی محسوساوه؛ نو اکثره به په لوبو کې هم له هلکانو سره نه شامېلېدم، زه دې کار لا نور هم ځورولم.

دا چې ما دا ډول ناروغي درلوده او زه نه پوهېدم، چې دا يوه طبي ناروغي ده او درملنه لري، او زما کورنی په دې نه پوهېده، چې ډاکټر ته مې يوسي. سره له دې، چې زه به څو څو ځلې د نورو ناروغيو له پاره د کورنۍ له خوا ډاکټر ته وړل کېدم، خو د هغه وخت ډاکټران هم دومره پوه نه وو، چې زما دغه ستونزه يې تشخيص کړې وای؛ نو ايا دا زما گناه وه که زما د کورنۍ او که زما د ډاکټر؟ خو په هرحال په ۳۵ کلنۍ کې چې کله زه امريکا ته لاړم، زما دا تکليف بيا هلته تشخيص او د عمليات له لارې يې درملنه وشوه؛ نو اوس چې زه گورم، ماته هغه ورځې را يادېږي، چې همېشه به د کورنۍ د غړيو، همزولو، ملگرو او ټولگيوالو په منځ کې د داسې يوې ناروغۍ له کبله چې تشخيص او تداوي يې نه زما په قدرت کې وه، نه زما د کورنۍ او حتا چې زما ډاکټران هم په دې برخه کې نيمگړي وو، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهديدېدم؛ نو ولې زه بايد د هغه څه په وجه توهين او تحقير شوی وای، چې کنټرول يې زما په اختيار کې نه و؟

زه د خپلې دغې ترخې تجربې شريکول ددې له پاره اړين ګڼم، ښايي همدا اوس ستاسې شاوخوا يو شمېر داسې کسان وي، چې د بېلابېلو عواملو له کبله داسې نيمګړتياوې ولري؛ نو له تاسې نه په کلکه غوښتنه کوم، چې نه يوازې دغه راز ماشومانو ته په سپکه سترګه مه ګورئ، بلکې نورو ته هم سپارښتنه وکړئ، چې له دغه راز تحقير او توهين څخه لاس واخلي. له بلې خوا دا به ستاسې د شخصيت لوړوالی وښيي، چې کله ناکله دغه ډول ماشومانو ته ځانګړې مينه ورکړئ او ورې پوهوئ، چې د دوی دغه جسمي يا ذهني تکليف د دوی جرم نه؛ بلکې دا د الله جل جلاله له خوا ټاکل شوې ورکړه ده او که علاج ولري؛ نو لطفا هغه او يا د هغه کورنۍ ته د هغې د درملنې په برخه کې لارښوونه او مرسته وکړئ. او هم ورته ته توصيه وکړئ چې دوی بايد د دې په وجه خپل ځان په روحي توګه نارام نه کړي. که ستاسې پر وړاندې چا له داسې ماشومانو سره ناوړه چلند وکړ په نرمۍ سره هغوی ته توصيه وکړئ چې له دا ډول چلند څخه لاس واخلي.

يوه بله حادثه، چې ويل يې هم راته ښه نه ښکاري؛ ځکه چې دا زما د يوه ښه ملګري يو راز دی، غواړم له تاسې سره شريک کړم. خو زه د خپل دغه ملګري فرضي نوم (احمد) يادوم. دا کيسه ځکه له تاسې سره شريکوم، چې دغه ناروغي د احمد په څېر په نورو افغانانو کې هم خورا زياته ده او په زرګونو نور کسان هم له همدې تکليف څخه په جسمي او روحي توګه دردېدلي او دردېږي. زما هيله داده، چې په دې وسيله او ستاسې په مرسته د خپلې ټولنې دغه يو بل منفي اړخ هم سم کړو او ددې ناوړه دود د سمون له لارې د خپلې ټولنې په منورتيا او سلامتيا کې اغېزمنه ونډه واخلو.

انسانان د بېلابېلو خوراکي موادو د هضم لپاره ځانګړې انزايمونه لري. انزايمونه له ډېرو نورو دندو سره سره، د خوړو په هضمولو کې هم مرسته کوي. د هر انسان په معده کې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انزایم وي، چې د لکتیز **Lactase** په نوم یادېږي. د دې انزایم دنده دا ده چې شیدې هضم او پر نورو ګټورو موادو یې بدلوي. یو شمېر داسې انسانان شته، چې د هغوی په معده کې بیا دغه لکتیز انزایم نه وي، چې دې حالت ته د لکتیزنشتوالی یا **(Lactase deficiency)** وايي.

ددې انزایم نشتوالی ددې سبب کېږي، چې شیدې په ناهضمه توګه له معدې نه کولمو ته داخلېږي او بیا هلته د یو شمېر مکروبونو له پاره د یو ښې غذا په توګه کار ورکوي. په نتیجه کې یې د کولمو ځینې بکتریاګانې بیا دغه شیدې په یو څه نورو داسې موادو بدلوي، چې هغې سره د سړي په کولمو کې زیات باد جمع کېږي. دغه ناروغي په افغانانو کې ډېر معمول او همداراز په یو زیات شمېر اسیایانو (د اسیا لوېې وچې اوسېدونکو) کې وجود لري. هغه انسانان، چې د دې انزایم له کمښت سره مخ وي؛ نو هغوی چې کله شیدې، مستې او نور د شیدو محصولات لکه پنیر او نور وخوري، نو لږ ساعت وروسته یې بیا په ګېډه کې باد جمع شي او دا کسان نه شي کولای چې د خپلو ګېډو باد ښه کنټرول کړای شي او اکثرا د دوی له ګېډو څخه باد په ناارادي توګه خارجېږي او د دې کسانو د ګېډې باد هم ډېر بد بویه وي، چې نږدې کسان خورا زیات په تکلیفوي. دا حالت اکثرا د دوی د شرم او بدنامۍ سبب کېږي. د دې ناروغۍ تشخیص تر اوسه هم په افغانستان کې نه کېږي او له دې کبله یو زیات شمېر کسان، چې دا ناروغي لري په ټولنه کې د (تیزن) او یا (پسکن) په نوم یادېږي او له دې کبله له ډېر شرم او خجالت سره مخ وي. ځینې کسان داسې هم شته، چې د همدې پېښې له کبله د ورکړل شویو پیغورونو له لاسه یې وطن پرېیښی او ځینې یې لا ځانوژنې ته هم اړ شوي دي.

زه چې پوهنتون کې وم زما یو ټولګیوال چې (احمد) نومېده، هم دا ناروغي درلوده. دې ته ورته زما یو شمېر خپلوانو او زموږ په کلي کې څو نورو کسانو هم دا ستونزه درلوده؛ خو هېچا ته پته نه وه، چې د دې اصلي لامل د هغه انزایم نشتوالی دی. احمد به اکثره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرو په منځ کې له دې امله له تهديد او تحقير سره مخ و؛ خو کله چې احمد هم امريکې ته راغی، دلته يې ددې ناروغۍ تشخيص وشو او دا څرګنده شوه چې احمد د لکتيز انزايم نه لري او په دې وجه شيدې او د شيدو محصولات نه شي هضمولای. دې تشخيص د احمد په ژوند کې ډېر مثبت بدلونونه راوستل. احمد نن په امريکا کې يو لوی ډاکټر او د يو خوشحاله ژوند خاوند دی.

د لکتيز د انزايم د کمښت د ناروغۍ تداوي درې شيان دي:

۱. په امريکا کې يو ډول شيدې جوړوي، چې دغه انزايم په کې ورزياتوي، نو دغه کسان کولای شي چې له هغو شيدو نه ګټه واخلي. دې شيدو ته لکتيز لرونکې شيدې وايي.

۲. د لکتيز انزايم د ګوليو په توګه هم خرڅېږي، چې د شيدو او د هغې د محصولاتو د کارولو پر مهال ترې د ګېډې د بادو د مخنيوي په برخه کې ګټه اخيستل کېږي. يعنې هغه کسان، چې د لکتيز انزايم ونه لري، د شېدو او مستو د خوړولو په صورت کې له دې ګوليو نه يوه - دوه ګولۍ خوري؛ نو بيا دوی کولای شي چې عادي شيدې او مستې هم وخوري او بله کوم تکليفه هغه هظم کړي.

۳. دا کسان بايد د شيدو او د هغې له محصولاتو لکه (مستې، پنير، کوچ او شومړو) د استعمال څخه ډډه کوړي. چې دا طريقه په افغانستان او نورو وروسته پاتې هېوادونو کې چې دغه ډول درملنه او يا دغه ډول ځانګړې شيدې نه شته ، ددې مشکل د حل يوازينۍ لار ده.

که تاسې په ټولنه کې داسې څوک پېژنئ، چې ددې ناروغۍ له کبله نه شي کولای چې د خپلې ګيډې باد کنټرول کړي، لطفا هغه ته توصيه وکړئ، چې د خپلې درملنې له پاره له کوم تکړه ډاکټر سره خبرې وکړي.  يا دې دشيدو او د هغې د محصولاتو نه پرهيز وکړي او يا دې ځان ته دغه ګولۍ له خارج نه راوغواړي. دا به د هغوی د دغه شرمېدونکې ناروغۍ مخنيوی وکړي او بيا به هغوی په ټولنه کې له تهديد او تحقير سره نه مخ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې دوو بېلګو څخه دا جوتېږي، چې يو شمېر زيات داسې حالات شته، چې د هغې تشخيص او کنټرول څه اسان کار نه وي، نو نه بايد چې دغه ډول ناروغي او ستونزې د يو شخص د کرکټر د کمزورۍ او يا د هغې د نيمګړتيا نښه وګڼل شي.

باور وکړئ، چې زه د پوزې د ناروغۍ په وجه او احمد د لکتيز انزايم د کمښت له کبله دومره له ټولنيز تحقير او سپکاوي سره مخ وو، چې زموږ پر شخصيتونو او کرکټرونو يې ډېر منفي اغېز اچولای و. په ټولنه کې داسې زياتې پېښې شته، چې درملنه يې د يو سړي او يا د هغه د کورنۍ له توانه بهر کار وي، نو دغه ډول ماشومانو او ځوانانو ته بايد د حقارت په نظر ونه کتل شي؛ بلکې دا زموږ د ټولنې نيمګړتياوې دي، چې د دا ډول ناروغيو تشخيص او تداوي نه شو کولای، چې د هغه شخص د تهديد او تحقير سبب نه کېږي. که موږ نه شو کولای، چې ټولې طبي نيمګړتياوې حل کړو؛ نو دا خو کولای شو، چې خلک په دې وپوهوو، چې د دا ډول ناروغيو په وجه ماشومان تهديد او توهين نه کړي. زما هيله له ځوانانو نه داده، چې له دې منفي عادت سره مجادله پيل او هغه په خپلو ورځنيو کړو وړو کې شامله کړي.

د بېلګې په توګه که ستاسې کوم ملګری د ګېډې نفخ او باد ولري او هغه نشي کنترولولای، لطفا په ډېرې خواخوږۍ (غير قضاوتي لاره) هغه ته ددې کتاب د توصيې له مخې مشوره ورکړئ، چې يو څو ورځې شيدې او د شيدو محصولات بند کړي، چې تکليف يې ښه کېږي او که نه؟ که ښه شو، نو تشخيص يې واضح دی چې هغه شخص دغه انزايم (لکتيز) نه لري، نو بايد همېش له شيدو او د هغې له محصولاتو نه پرهيز وکړي. ددي د ويلو يوه ښه طريقه به داوي چې کله هغه کس په مجلس کې حاظر وي، نو تاسې په دی کتاب د تبصرې په ترڅ کی دا خبره را ياده کړې، او مثال ورکړې، چې زما يو ملګرې (سيداجان) داسي يو تکليف درلوده، او ددي کتاب د لارښوونې په نتيجه کې هغه خپل دا مشکل تشخيص او حل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج: د شخصيت جوړېدنه او تکامل:

د ځوانانو په ژوند کې تر ټولو مهم او اساسي اصل دا دی، چې یو ځل یو ځوان خپل ځان، خپل شخصیت او موقف په ټولنه کې وپېژني او د هغه ځانګړي موقف د ساتلو او لوړولو په لاره کې لازمو کړو وړو باندې پوه شي.

تر ټولو لومړی دا خبره مهمه ده، چې مور باید خپلو بچیو ته د ځانونو په اړه د څه ويلو لپاره داسې یو څه ولرو. یعنې دا چې مور باید په خپل ژوند کې څه لاسته راوړنې ولرو، چې هغه په افتخار خپلو بچیو ته وویلای شو او زمور بچې پرې افتخار وکړای شي. دا د ژوند او د کورنۍ د پرله پسې ترغيب له پاره یو ځانګړی اصل دی.

زه ټولو هغو کسانو ته چې په خپل چاپېریال کې د ځینو داسې ځانګړتیاوو لرونکي وي، چې پرې ویاړ کولای شي، په کلکه ددې توصيه کوم، چې خپل دغه عالي ځانګړتیاوې په ډېر ویاړ سره له خپلو بچیو او ځوانانو سره شریکې کړي. د بېلګې په توګه که تاسې یو ديني، علمي، کورنۍ یئ! او یا مو د خپل وطن او خلکو له پاره ځانګړي خدمتونه کړي وي، په ډېر ویاړ او مناسبه توګه دغه د خپلو بچیو پر وړاندې داسې ور وپېژنئ.

زه پر خپلې کورنۍ ویاړم، زمومږ مشران داسې پاک، پوه او د ټولني خدمتګاران وو. زما پلار، نیکه همېشه د خپلو خلکو درناوی کړی، خلک مور ته په درنه سترګه ګوري. بچیانو! مور ته دا ټولنه په خاص نظر ګوري، حتا ځیني کارونه چې د نورو خلکو بچیان یې کوي، تاسي سره ښه نه ښکاري. تاسې باید ډېر احتیاط وکړئ. زمور کورنۍ داسې ده لکه (سپینې جامې) پر سپینو جامو داغ له ورایه ښکاري.

ستونزه دا ده، چې اکثره خلک فکر کوي، چې د دوی د کورنۍ ځوانان په ټولو شیانو پوهېږي، ولې دا اکثرا واقعیت نه لري. زه غواړم دلته تاسې ته یوه بېلګه راوړم. د (۲۰۰۱) ز کال په منځ کې د سپتمبر د پیښې نه څو میاشتې دمخه زه د جناب حامد کرزي صیب د ورور ښاغلي قیوم کرزي په کور کې مېلمه وم، د مازیګر په وخت کې راته څه داسې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابر شو، چې د ښاغلي قیوم کرزي له یوې ځوانې لور سره، چې یوه ډېره مؤدبه او هوښیاره جلۍ وه، او زما یې ډېر قرر او عزت وکړ، څو دقیقې په مجلس او خبرو اخته شوم. ما هغې ته وویل چې (ته په یوې مهمې کورنۍ پورې اړه لرې، ستاسې نیکه په افغانستان کې غټ او مهم سړی و). دا نجلۍ حیرانه شوه او دا ځکه چې هغه په امریکې کې پیدا شوې وه، مور یې سره له دې چې ډېره شریفه ښځه ده، اما بیا هم یوه امریکایي ښځه وه، چې پلار یې (قیوم کرزي) به هم ښاي چې یا ددې وخت نه درلود او یا یې دغه موضوع خودستایي ګڼله او نه یې غوښتل چې خپلې لور ته خودستایي وکړي، نو ورته یې څه نه و ویلي.

خو کله چې ما دې نجلۍ ته ددې موضوعاتو په اړه خبرې وکړې؛ دې خبرو په هغې خاص اثر کړی و، نو څو ورځې وروسته یې مور راته وویل، چې (ډاکټره! ستا د خبرو په وجه خو زما د لور په رویه او روش کې ډېر مثبت بدلون راغلی دی. ستا خبرو پرې ډېر ښه اثر کړی دی، هغه اوس ځان ډېر باغروره او باشخصیته او مهمه ګڼي. زه له تاسې څخه مننه کوم، چې له دې سره مو دا خبرې شریکې کړې دي.)

تصادف داسې وشو، چې څو میاشتې وروسته د سپتمبر پېښه وشوه او بیا ددې تره (حامد کرزي) رئیس جمهور شو. دې خبرې لا زیات زما د خبرې پخلی وکړ او هغې نجلۍ باندې یې ډېر زیات اثر کړی و. نو له دې مثال څخه داسې ښکاري چې دا یو ضرورت دی، چې پلرونه او میندې باید خپلو بچیو ته د خپل ځان، خپل ټولنیز موقف او خپلو خدمتونو او لاسته راوړنو په اړه خبرې وکړي. پدې اړه، دوستان او نور خپلوان په ښه توګه کولاې شي چې دا موضوع د یوه او بل ملګری بچوته ووایي. نو پدې اړوند هر څوک د خپل ملګرې او خپلوانو د بچو په اړه ځانګړې مسؤلیتونه لرې، چې هغه باید په ښه او درسته توګه ترسره کړې.

خپلو بچیانو ته په زغرده ووایئ، چې کوم شیان دي، چې د دوی د شخصیت .او ددوی له کورنۍ سره ښه ښایي، او کوم شیان دي، چې هغه له دوی سره ښه نه ښایي او دا هم ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووايئ، چې خلك ولې كورنيو ته ارزښت وركوي. يعنې ښي كورنۍ په ټولنه كې د چېنار مثال لري، چې له لرې ښكاري او هرڅوك يې ګوري، ډېر هغه عادي كارونه چې نور خلك او د هغوی بچې يې كوي، ولې خلك ورته دومره بد نه واي، خو د ښو او نوم لرونكيو كورنيو ځوانانو ته خلك  ډېر متوجه وي او د هغوی ډېرو وړو غلطيو ته هم بيا خلك بد وايي، ځكه چې عوام خلك د ښو كورنيو ځوانانو نه نسبت نورخلكو ته اوچت او ښه توقعات لري.

په دې كې شك نشته چې په شرقي كولتور كې د خپل ځان او خپلې كورنۍ صفت كول معمول نه دي، ليكن دا زموږ د كولتور هغه برخه ده چې بايد بدله شي، خصوصا، چې د بدلون څخه يې مطلب ځانښودنه نه؛ بلكې د بچېو سالمه روزنه وي، نو دا بالكل يو ښه او پر ځای كار دی، چې موږ خپلو بچېو ته د خپلې كورنۍ، د شخصيت، اهليت او نورو ښو ټكو په اړه خبرې وكړو. يو ځل چې يو ځوان خپل ځان وپېژانده او خپل ټولنيز موقف يې په ټولنه كې وپېژانده؛ نو بيا هغوی د ټول عمر له پاره خپل ټول تصميمونه او كړه وړه د همدې پېژندنې له لارې برابرولاي شي، او دا كار بيا ددوي په شخصيت كې ډېر مؤثر ثابتيږي.

د. د شخصيت تثبيتول:

ځان پېژندنه د انسان په ژوند كې تر ټولو مهمه اوارزښناكه مسئله ده.

لكه چې په اسلام كې هم لومړی ځان پيژندل دي، بيا خدای جل جلاله او وريسې نورموجودات، كه يوڅوك ځان ونه پېژني هغه حتی خدای جل جلاله هم نه شي پېژندی.

هو، همدا وجه ده چې لېونيان او معذور خلك د خدايي احكامو له سرته رسولو څخه هم معاف دي. ددې خبرې اصلي مطلب دادی چې هرانسان مكلفيت لري، چې د خپل ځان او چاپيريال په برخه كې بشپړ معلومات ولري. خپل ځان، ځای او خپل موقف د نورو مخلوقاتو او انسانانو په منځ كی تشخيص او تثبيت كړي. هرانسان په خپلې كورنۍ، ټولنه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرۍ کې ځانګړی ځای لري او د همدې ځانګړي موقعیت پېژندنه او درك انسان د نورو په وړاندې د مسوولیتونو په تشخیص او د دندو په سرته رسولومکلفوي. د بېلګې په ډول که تاسې ځان د یوه ماشوم په موقف کې وینئ نو بیا تاسې ته د ماشوم په توګه ځانګړي مسوولیتونه او دندې در په غاړه کېږي، او د جلا حقوقو لرونکې کېږي. که تاسې خپل ځان د متعلم په موقف کې انګېرئ، نو بیا تاسې ځانګړي مسوولیتونه، دندې او حقوق لرئ. اوکه تاسې په خپله کورنۍ کې د پلار، مور او یا ورور په موقف کې اوسئ، نو دا موقف بیا تاسې ته ځانګړي مسوولیتونه او دندې درېه برخه کوي. همدا راز په ټولنه کې د یوه عادي وګړي موقف، دندې او مسوولیتونه تر یوه مشر او یوه چارواکې توپیر لري. د بېلګې په ډول د ټولنې د یو عادي غړي له پاره به دا بس وي، چې په خپله ربښتینی او خدمتګار وي. ولې یوازې د همدې ځانګړنو لرل بیا د یوه ولسمشر له پاره بسنه نه کوي. ځکه د ولسمشر ټولنیز دریځ، او ټولنیز مسوولیتونه دا غوښتنه کوي، چې دې باید دده تر لاس لاندو ټولو مامورینو او وګړو د پاکنفسۍ او صادقانه خدمت کولو د څارنې مسوولیت هم تر سره کړی. دا د هر وګړي لومړنی او تر ټولو مهم مسوولیت دی، چې خپل موقف په خپله کورنۍ او ټولنه کې وپېژني.

ددې تر څنګ بله مهمه مسئله د هرځانګړي مو قف دندې، مسوولیتونه او صلاحیتونه دي، چې په هغوی پوهېدل هر چاته اړین او لازمي دي. ددې دندو اومسوولیتونو څرګند تشخیص، د هغوی مسئوولانه سرته رسول او ددغه هر موقف له ځانګړیو وړتیاوو سالمه ګټه اخیستنه، سرې د کورنۍ او ټولنې په وړاندې د یو څرګند، اغېزمن او مسوول غړي په توګه مکلفوي. که پام وکړئ د ډېرو کورنیو او په ټولنه کې د ډېرو ستونزو اساسي عوامل له همدې برخې څخه سرچېنه اخلي. د بېلګې په ډول که یو پلار په خپله کورنۍ کې خپل موقف نه پېژني او په ده پورې اړوند مسوولیتونه او دندې نه تر سره کوي، هغه د خپلې کورنۍ له پاره یو اغېزمن پلار نه شي ګرځېدای. دا ددې سبب کېږي چې د هغه دکورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړي هم بې بندوباره تربیه شي، او بلاخره ددوئ د نامسوولیتی په پایله کې د هغې کورنۍ او حتی ټولنه له ستونزو سره مخ کېږي.

د پام وړخبره داده، چې د انسان موقف په کورنۍ او ټولنه کې په پرله پسې توګه د بدلون په حال کې دی، او باید هرڅوک د خپل موقف د پېژندنې په برخه کې په پرله پسې او څرګنده توګه پاملرنه وکړي. د خپل هر موقف له مسوولیتونو، دندو او وړتیاوو نه په بشپړه توګه خبر او د هغې په عملي کولوکې له پوره پاملرنې څخه کار واخلي.

دا هم د یادولو وړ ده، چې یو انسان ښایي یو وخت په ټولنه کې بېلابېل څو موقفونه ولري. د بېلګې په ډول تاسې په یو وخت کې چې متعلم او یا محصل یئ د یو چا زوی، لور، د بل چا ورور، خوراو د خپلې ټولنې یوځوان غړی هم یئ! چې په همدغه مهال په کورنۍ او ټولنه کې ددې بېلابېلو موقفونو درلودل د خلکو له پاره یوه کړکېچنه مسئله ګرځي. او دوئ ددې مختلفو موقفونو له پاره لازمي بېلابېل نقشونو اداکولو په برخه کې توازن ساتل او یا ددې بېلابېلو نقشونو په منځ کې د عمده نقش تشخیصول له ستونزو سره مخ کوي. دا مسئله ددې باعث کېږي، چې دغه کس خپل اساسي نقش په اغېزمنه توګه ترسره نه کړای شي، او دا بیا دهغه په ژوند کې ځانګړې ستونزې رامنځ ته کوي.

د بېلګې په ډول د یو متعلم او محصل په توګه به ستاسې تر ټولو مهم او ارزښتناکه نقش دا وي، چې خپلې دندې دیو زده کوونکي او محصل په تو ګه په کلکه پام کې ونیسئ او پرېنږدئ، چې ځینې نورې غوښتنې مو د اصلي دندو مخه ونیسي. په داسې حال کې چې په زده کړه بوخت یئ، اوس ځوانان شوي یئ، چې دا بیا تاسې یو لړ نورو خواوو ته هڅوي، چې همدا مسایل د ډېرو ځوانانو له پاره ددوئ د ټولنیز دریځ درک کول او ددوئ د ژوند د لومړنیو مسولیتوونو په ټاکنه کې ستونزې رامنځ ته کوي.

کله چې زه د یوولسم او دولسم ټولګي زده کوونکی وم، زما ډېر ټولګیوال او همزولی وو، چې د ژوند ددې مرحلې په یو شمېر فرعي مسایلو، لکه ساعت تېریو، د شپې مجلسونو، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلکانو او جنکېانو سره په يارانه او ساعت تېريو کې لګيا شول او دا د دې لامل شو، چې ډېرو حتی تردولسم ټولګي پورې زده کړې هم بشپړې نه کړې. يا داچې په علمي برخه کې ورسره دا ځواک نه و، چې د پوهنتون په ازموينو کې بريالي او له لوړو زده کړو څخه برخمن شي او يا دا چې تعليم نور د دوئ له پاره لومړيتوب نه درلود. متاسفانه نن ورځ د هغوی زيات په پرله پسې توګه ستونزمن ژوند لري او که همدا اوس هغوی تاسې زما تر خوا ودروئ نو هغوی به زما د پلار په شان زاړه ښکاره شي. يعنې دا چې دوئ نه يوازې د علم څخه محروم پاتې شول، بلکې د همدې نا علمۍ په وجه ددوی اقتصادي، او ټولنيز حالات هم خراب شول، او دا ددې سبب شو، چې ددوی روغتيايي حالت او سلامتيا هم صدمې وومومي، او له دې کبله دوی ډېر زاړه ښکاري.

برعکس ما چې د خپلې کورنۍ په ملاتړ او د خپلې ځانګړې مينې له برکته خپل مسووليتونه درک کړي وو او ددې مسووليتونو په ترڅ کې مې تعليم د جدي مسووليت په توګه غوره کړی و، نو زه په دې وتوانېدم، چې خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړم، يوه تکړه ډاکټر او د يو ښاېسته او هوسا ژوند خاوند شم، خو کله چې امريکا ته ولاړم، زه په دې ونه توانيدم، چې د خپل ژوند لومړيتوبونه ښه تشخيص او خپل وظايف په سمه توګه ترسره کړم. ددې پر ځای چې ما خپلومسلکې زده کړو ته جدي پاملرنه کړې وای، د سياسي موضوعاتو او په افغانسان کې د ملي سياسي مبارزې ضرورت مې جدي وباله او دا ددې لامل شو چې له خپل مسلک څخه لرې شوم ، چې په پايله کې له يو لړ ښو امکاناتو څخه بې برخې شوم. دې محرومتيا بيا زما سياسي فعاليتونو ته هم زيات زيان ور واړاوه اوهم يې زما په شخصي او کورني ژوندکې ډېرې ستونزې راولاړې کړې.

د خپل ژوند ددغې ترخې تجربې له مخې غواړم، چې تاسې ځوانانو ته جدي توصيه وکړم، چې ځان پېژندنه، خپل ټولنيز موقعيت او موقف درک کول او د ژوند د هر ځانګړي موقف له مهمو او لومړنيو غوښتنو څخه ځان خبرول او هغې ته په جدي توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاملرنه د ژوند یو مهم او اړین اصل دی. سره له دې چې زموږ په ټولنه کې ددغه ډول ټولنیزو ستونزو په برخه کې کومې موثرې همکارۍ اوتوصیه کوونکې مرجع شتون نه لري، خو بیاهم تاسې کولای شئ چې په دې برخه کې د نوروملګرو، دوستانو په تېره بیا د هغوخلکوله مشوروڅخه ګټه واخلئ، چې په خپل ژوندکې د یوه کامیاب او سرلوړي موقف لرونکې دي. داسې کسان کولای شي، چې تاسې ته د یو ښه لارښود حیثیت ولري.

له بلې خوا د ځان پېژندنې موخه داده، چې د ټولنې هرغړی خپل ځان ته دیوځانګړي کرکټر غوښتونکی وي او یا دی د یو ځانګړي کرکټر لرونکې کورنۍ پورې اړه لري. دا ددې غوښتنه کوي، چې دغه شخص باید لومړی خپل ځان درک کړي او د خپل ځانګړي ټولنیز شخصیت او موقف له مخې په ورځنیو چارو کې ځانګړې ونډه واخلي او په دې برخه کې ځانګړی نقش پرځای کړي، چې د دوئ دغه رول او شخصیت په ټولنه کې یو لږځانګړتیاوې او محدویتونه ولري، یعنې هرڅومره چې یو څوک خپل ټولنیز موقف او شخصیت په ټولنه کې په روښانه توګه څرګند کړای شي، په هماغه کچه کولای شي، چې د ژوند په ورځنیو چارو کې هم ځینې کارونه یا د ځان له پاره مناسب او یا نامناسب وبولي.

او پدې توګه په څرګند ډول د هغو چارو او چلند مخه ونیسي چې د هغه له شخصیت سره په ټکرکې وي. که تاسې غواړئ چې په خپله ټولنه کې د یوسالم او وړ شخصیت په توګه تبارز وکړئ، نو ستاسې دغه هوډ تاسې ته ځانګړی شخصیت در په برخه کوي، چې د هغې ساتل بیا یو لږ قرباني غواړي.

د بېلګې په توګه، تاسې باید درواغ ونه وایئ، غلا ونه کړئ او له یو لږ نورو منفي کړنو څخه ځانونه هر وخت لرې وساتئ، او په وړاندې یې باید د نورو خدمت اوملاتړ ته متې را بډوهئ. د مثال په ډول زه د ښوونځي او پوهنځي له دورې څخه یو سیاسي او ټولنه کې پېژندل شوي سړي وم، نو په همدې وجه یو شمېر هغه کارونه چې زما نورو ملګرو او ټولګیوالو کول ما نشو کولای، ځکه زه ډېرو خلکو پېژندلم او له بلې لورې بیا ما یو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات ښه کارونه کولای شول، چې هغوی نشوکولای.

زموږ د ټولنې د غږو لومړنۍ ستونزې دا دي چې دوی نه پوهېږي، چې څه ډول شخصيت لري، او بيا ورته دا هم روښانه نه وي، چې ددغه ټاکلي شخصيت غوښتنې څه دي او بايد له کومو شيانوڅخه ډډه وکړي. د همدې ټکو نشتوالی او ناروښانتيا ددې لامل شي، چې ځينې خلك په خپلو کړو وړو کې ناڅرگندې او متضادې کړنې ترسره کوي او په ارادي او نا ارادې توگه خپل شخصيت زيانمنوي دا د پام وړ خبره ده که چېرې تاسې د يو ځوان په صفت د هر ډول شخصيت جوړېدل غواړئ بايد په دې پوه شئ او دا ومنئ چې شخصيت جوړېدل او ساتل يوې پرله پسې مبارزې ته اړتيا لري. دا مبارزه بايد په ارادي، څرگنده او پرله پسې توگه اجرا کړای شئ. ځينې خلك فکر کوي چې ښايي په پټه داسې کارونه وکړي، چې که هغه ددوئ له شخصيت سره په ټکر کې هم وي، خو دوی فکر کوي چې څوك به پرې خبر نه شي، خو په دې کار دوی خپل شخصيت زيانمنوي. ځکه چې ډېرې موضوعگانې له يوې خوا پټې نه پاتې کېږي او له بلې خوا که څوك پرې خبرهم نه شي دا ډول موضوعات په خپله ددغه شخص وجدان محکوموي او پدې توگه په هغه کې د شخصيت ساتنې روحيه وژني.

په دې برخه کې د خپل يو ملگري د ځوانۍ يوه کيسه درسره شريکووم. زما يو ملگری (اسدالله) په يوې مذهبي کورنۍ پورې تړاو درلود، خو هغه خپلواك او خپل سری ژوند خوښاوه، د نجونو شوقي و، البته هر ځوان ښايي دغه شان احساسات ولري، خو هغه په دې برخه کې يو څه افراط کاوه او يا د زياتو نورو ځوانانو په څېر يې خپلې کړنې نه پټولې، له بدو چارو سره سره يې دروغ ويل نه خوښول، نو دده يو لړ اړيکې له ځينو ځانگړو ښځينه ملگرو سره، ملگرو او ټولنې ته څرگندې شوې، د ټولنې د نظرياتي محدوديتونو له کبله دی د خلکو په وړاندې د يو نامؤدب او نا موزون ځوان په توگه څرگند شو. زه هغه وخت دده يوازيني ملگری وم، چې کوم ضديت مې وسره نه ښوده. هغه هم خپل هېڅ راز له ما نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټاوه.  دی هغه وخت ددې مسلې پايلې ته دومره ځير نه و، خو چې کله يې په ضررونو پوه شو، پرې ډېر ناوخته شوی و. غوښتل يې، چې هغه يو لړ مهم کارونه ترسره کړي، د هغه د شخصيت په برخه کې ددې تېروتنو له امله راپيدا شوو نيمگړتياوو په ټولنه کې هغه ته زياتې ستونزې راولاړې کړې وې او دده جرات يې تر ډېره حده را محدود کړی و.  سره له دې چې د حقوقو له پلوه دا پر ځای ده، چې هر ځوان دې د خپل ژوند د ملگري په ټاکنه کې ازادي ولري او دا هم پر ځای ده، چې هر ځوان او پېغله بايد د يو لړ اخلاقي محدوديتونو او معيارونو په ساتنه د خپل ژوند له ملگري سره ناسته ولاړه ولري، چې د هغې په ټولو ځانگړنو باندې پوه شي او ددې ځانگړنو په پوهېدو سره په خپلو کې واده وکړي.

خو له يوې خوا زموږ د ټولني ټولنيز شرايط او محدوديتونه دا ډول شرايط نه چمتو کوي او له بلې خوا پر ښځو باندې د نارينوو لوړاوی، حاکميت او د ځوانۍ احساسات او عواطف، ددې لامل شوي، چې ډېرې دغه ډول اړيکې د عواطفو او جنسي غرايزو ښکارشي.  زه بيا په جدي توگه له دې سره جوړ نه يم، خو که يو ځوان او يا يوه پېغله په خپل ځان کې دا ځواک او متره ووينې، چې له يو بل سره له ناستې ولاړې سره سره خپل جنسي غرايز او عواطف کابو کړای شي، نو حق لري چې يو له بل سره د پوره او ښې پيژندنې له پاره ناسته ولاړه ولري.

ځوانانو ته ددوی د شخصيت پيژندنې او پر هغو يې پوهونه هغه اساسي کار دی، چې دوی بيا د هر وخت له پاره نظارت او څارنې ته اړتيا نه لري. په دې اړه يوه غوره بېلگه شته، چې له تاسې سره يې شريکووم.  ناهيد شنوارې زما د يوه دوست لور ده، چې د خپلې کورنې تربيت له مخې يې ځانگړی شخصيت غوره کړی او هغه اوس هر څه د خپل دغه شخصيت په چوکاټ کې ارزوي او هر هغه څه چې له دې چوکاټ سره سمون نه خوري، ترې ډډه کوي.

ناهيد يوه ورځ ماته خپله کېسه داسې وکړه: (کاکا جانه! زه يوه ورځ له کار څخه ناوخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رخصت شوم، کور ته ناوخته راغلم، مشر ورور مې راته په غوسه شو او ویې ویل، چې ته بي ځایه ګرځې او ناوخته کور ته راځي، نو یو اوږد لکچر یې راکړ. ناهید وایي ما ورته وویل، چې: ((ته ناسم فکر کوې، زه هېڅکله داسې کارونه چې ته یي فکر کوي، نه کوم، او دا چې زه دا کار نه کوم، دا نه ستا له پاره دي او نه د مور و پلار له پاره، بلکې زه داسې کارونه ددې له پاره نه کوم، چې دغه ډول کارونه زما له شخصیت نه ډېر ټيټ دي.))

زما د ناهید دا خبره ډېره زیاته خوښه شوه او هغې ته مې شاباش ووایه، ځکه چې کله یو څوک یوه مسئله له خپل ځان سره ومني او د خپل شخصیت په رڼاکې یې وارزوي، نو هغه کولای شي، چې هر وخت خپله لار په ډېروکړکېچنو حالاتو کې هم پیدا کړي. دغه راز ځوانان بیا د مشرانو څارنې ته هم اړتیا نه لري. زه د ناهید ددې ډول پر ځان اتکا درناوی کوم او له ټولو ځوانانو څخه غوښتنه کوم، چې د ناهید په څېر ځان ته خپل شخصیت تثبیت او تل هغه په نظر کې ولرئ.

د یوه ماډل پېژندنه، غوره کول، او پیروي:

د شخصیت او لارښود غوره کول:

دا هغه مهمه او اساسي مرحله ده، چې ډېر خلك ورڅخه ناخبره وي، نو د شخصیت په غوره کولو نه پوهېږي، مثلا هر ځوان باید په دې فکر وکړي چې دی څه غواړي؟ د کوم ډول شخصیت لرونکې واوسي؟ ددې خبرې له پاره ښه لار داده، چې ځوانان لومړی یو مسلك یا ځانګړې ټولنیزه لاره لکه سیاست، شاعري، ادبیات، انځورګري، سپورټ، سیاحت، کېمیا، بیالوژی، طبیعت، وترنري، معدنیات، ژورنالېزم، ښوونه روزنه، عکاسي فلمبرداري او یا کومه بله ځانګړې څانګه خوښه کړي او بیا دې په اړوندې څانګې کې د نړۍ نوموتي او شخصیت لرونکي شخصیتونه وپېژني او د هغوی له ډلې څخه د ځان له پاره یو ځانګړی شخص د ماډل په توګه غوره کړي، مثلا یو څوك غواړي، چې په سیاست کې یوه پېژندل شوې څېره وي، نو د نړۍ د سیاستوالو په منځ کې دې، د ځان له پاره ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سياستوالان غوره کړي، د هغوی په هکله دې لوستنه وکړي، تر لوستنې وروسته دې د يو ځانګړي تن ځانګړنې او سبك غوره کړي. په دې برخه کې ځوانانو ته دارنګه لارښوونه پر ځان لازمه ګڼم: لومړی وګورئ، چې تاسې له کومې ځانګې لکه، سياست، شاعري، ادبيات، انځورګري، تاريخ، سپورټ، سياحت، نجوم، کېميا، بيالوژی، طبيعت، وترنري، معدنيات، ژورناليزم، معلمی او يا بلې کومې رشتې سره لېوالتيا ښيئ. بيا د هغې ځانګې په اړه ژور معلومات پيدا او د هغې ځانګې په برخه کې پېژندل شوې څېرې وپيژنئ. ښه لاره به دا وي، چې په هغه برخه کې ځان ته يو تن سميه ايز،يو تن په ملي کچه او يا يو تن په نړۍ واله کچه پېژندل شوې څېري غوره کړئ.

د غوره کولو ښه لاره يې دا ده، چې له سيمه ايزو وګړو څخه يو خوښ کړئ او هغه سره د شخصيت له مخې خپله اړيکه ټينګه کړئ او هغه ته خپل ځان ور وپېژنئ او ورته ووائئ، تاسې غواړئ، چې له هغه سره مسلکې اړيکې ولرئ؟ او هم ورته ووائئ چې زه ستاسې لارښوونې او مرستې ته اړتيا لرم. خپل سيمه ايز لارښود سره څه وخت تېر کړئ. د يو څه وخت په تېرېدو سره بيا د خپل سيمه ايز او د سيمه ايز لارښود په مشوره د هېواد په کچه يو پېژندل شوې څېره په اړونده رشته کې غوره کړئ او ورسره د خپل سميه ايز لارښود په لارښوونه او مرسته اړيکې پيداکړئ. په همدې توګه هغه ته هم خپل ځان او اړيکه پوره ور وپېژنئ او ورته ووايئ، چې تاسې د چا له خوا او ولې ده ته ور پېژندل شوي يئ او ورڅخه د لارښوونو او مرستو غوښتنه وکړئ.

په ياد مو وي چې دغه اړيکه بايد په پرله پسې توګه وپالل شي. په پيل کې هېڅکله هم لارښود ته دا مه وايئ چې تاسې له خپل ځان څخه لوړ لارښود ته وروپېژني، ځکه دا د انسانانو يو طبيعی ځانګړنه ده، نه غواړي، چې له ځان نه پورته خلکو سره د نورو پېژندګلوي وکړي. ولې د هرې سطحې له لارښود سره د پېژندګلوۍ او له هغه سره د يو څه ګډ کار کولو په پايله کې داسې شرايط او امکانات رامنځ ته کېږي، چې تاسې بيا د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه د لوړې کچې له لاربنود سره پیژندګلوي پیداکړئ. یوه ښه لاره به یې دا وي، چې تر یو څه وخت د تېرېدو وروسته له خپل سیمه ایز لاربنود څخه پوښتنه وکړئ، چې ایا په دې ځانګه کې د کومو خلکو د شخصیت او کرکټر تر اغېز لاندې دی او لامل یې ترې وپوښتئ، په پرله پسې توګه ورته وړاندیز وکړئ، که ښايي، تاسې هم هغوی خپل لاربنود ته وروپېژني او یا دا چې د خپل سیمه ایز لاربنود څخه د ځینو غونډو او ناستو چې هغه په سیمه ایزه کچه وي وپوښتئ او ورنه غوښتنه وکړئ، چې دوی تاسې له ځان سره دغه ډول غونډو ته بوځي او هلته مو نورو ته ورو‌پېژني، په همدې توګه دا لړۍ تر سیمه ایز، ملي او نړۍ والې کچې پورې وځارئ!.

دوېمه مهمه خبره دا ده، چې که هر ځوك مو دلاربنود په توګه غوره کړ له هغه سره یو څه وخت یو ځای تېر کړئ او د هغه په ځانګړنو ځان پوه کړئ په مناسب وخت کې ترې نېغ په نېغه وپوښتئ، چې دوی څرنګه یوې داسې مرحلې ته رسېدلي دي.

هـ: د شخصیت ساتنه:

د شخصیت په برخه کې تر ټولو مهم او ستونزمن کار د شخصیت ساتنه ده، چې تر ډېره د شخص په کړو وړو پورې اړه لري. سره له دې، چې ځینې نور خللك به و غواړي، چې ستاسې شخصیت ته زیان ورسوي، خو دغه خارجي عوامل یوازې هلته پر تاسې بریالی کېدلای شي، چې په خپلو کړو وړو کې مو د شخصیت وژنې عوامل وي. که شخصیت یوه ونه وګڼو؛ نو خارجي عوامل هغه باد ته ورته دي، چې له یوې او بلې خوا په ونې لګېږي او ونه خوځوي راخوزوي، خو ونه بېرته خپل ځای ته راځي. اما د شخص منفي کړنې داسې مثال لري لکه، چې د ونې په تنه کې دننه یو چینجی وي، که څه هم دغه چینجی که ډېر وړوکی هم وي؛ خو په پرله پسې توګه ونه زیانمنوي، که څه هم دغه ونه به له باندې نه روغه ښکاري؛ خو که پرې یو نرم غوندې شمال هم راشي، دغه ونه راماتوي. یعنې د یو شخص خپل منفي کړه وړه د ځان له پاره د نورو د زیان په وړاندې لاره جوړوي. له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبله چې تاسې د نورو خلکو په کړو وړو کومه ولګه نلرئ، هغوی چې ستاسې پر ضد هر څه غواړي وکړي، هغه کولای شي؛ خو کوم شی چې تاسې پرې ولکه لرئ، هغه ستاسې خپل کړه وړه دي.؛ نو په دې توګه ویلای شو چې د هر چا د شخصیت ساتنه، تر زیاتې اندازې د هغه په خپل ځان پورې اړه لري.

و: د شخصیت د خپرولو لارې:

اړینه خبره ده چې تاسې باید نور په دې پوه کړئ، چې تاسې یو ټاکلی شخصیت او کرکټر لرئ. سره له دې چې دا څه اسان کار هم نه دی، ولې دومره ستونزمن هم نه دی؛ خو ځانته ځانګړې لارې غواړي. د دې له پاره، چې تاسې نور په دې پوه کړئ، چې تاسې څه ډول کرکټر او شخصیت لرئ، نو له لاندې لارو څخه ګټه واخلئ.

- دا چې تاسې دا ارزښتناك تصمیم نیولای، چې باید د یو ځانګړي شخصیت لرونکې اووسئ او د شخصیت د ساتنې له پاره مو ډېرې قربانۍ هم ورکړي دي، نو دا ستاسې حق دی، چې باید نور ستاسې له دې تمزارۍ (قربانۍ) څخه خبر شي. ددی له پاره، چې ستاسې شخصیت په ټولنه کې خپور او خلك پرې خبر شي، نو په ډېر جرئت سره سیمه ایز او ملي خبري رسنیو ته مراجعه وکړئ او هغوی ته ووایئ، چې له تاسې سره مرکې وکړي او ستاسې شخصیت نورو ته وروپېژني. تاسې هغوی ته د دې کار ټولنېزې ګټې ور په ګوته کړئ.

هغوی ته ووایئ، چې زه غواړم ددې مرکې په خپرېدو سره نور ځوانان همداسې نیکو کړنو ته وهڅوم. دا کار به له یوې خوا په ټولنه کې ستاسې د شخصیت او پېژندنې له پاره ډېره ګټه وکړي او له بلې خوا به یو شمېر نور ځوانان هم دې ته وهڅول شي، چې ستاسې پل واخلي.

- په خپلو مرکو کې نورو ځوانانو ته هڅوونکې خبرې وکړئ. ځوانانو ته ووایئ، چې تاسې چمتو یئ، چې له دوی سره مرستې وکړئ. ولې کوښښ وکړئ، چې په مرکو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتني واوسئ. په دې کار کې د جوړجاړي د لاسته راوړلو په لاره کې ستونزې هم دوی ته ووایئ. د شخصیت جوړول، ټاکل، ساتل او ښوول ټول مراحل دوی ته تشریح کړئ. ورسره بیا د شخصیت د ساتلو ستونزې ورته بیان او هم د شخصیت د خپرولو ښېگڼې له دوی سره شریکې کړئ.

- کوښښ وکړئ ، چې د ځان په اړه ډېر رښتینی بحث ولرئ. کله کله پر تشو او منفي اړخونو باندې اعترافونه کول کوم بد کار نه؛ بلکې دا د یوه ښه شخصیت نښه ده.
- خپل لیکلي اثار او ستاسې په اړه په کې خپاره شوي مطالب ټول له ځان سره وساتئ. په دې برخه کې زما توصیه دا ده، چې یوه لویه دوسیه، چې په هغې کې د کاغذ ساتنې پلاستیکونه وي د خپلو اثارو د خوندیتوب له پاره تهیه کړئ او سملاسي په کې د هر خپاره شوي مضمون، مقالې، کتاب او یا په اخبار کې ستاسې په هکله خپرو شویو موادو نقلونه په کې وساتئ. که تاسې راډیویي او یا ټلویزوني مرکې کړې وي، لطفا د هغې کاپي ترلاسه کړئ، لړلیك (فهرست) یې کړئ او په خپل ارشیف کې یې وساتئ. او همدا راز د یادښتونو په کتابچې کې مو د دارنگه مرکو نېټه، منبع او موضوع ولیکئ. کېدای شي، چې یو وخت مو دې موادو ته اړتیا پیدا شي؛ نو بیا به د داسې یادښتونو له مخې هغه په اسانۍ سره تر لاسه کړای شئ او یا هغه د اخستنې (ریفرنس) په توگه وکاروئ. د هر ډول موادو د پاسه د هغه نوم، نېټه او موضوع په ځرگند ډول ولیکئ. لطفا دا کار سمدستي وکړئ، دغه خبره په د ملت مل په یوه متل کې ښه روښانه ده: (هر کار چې سبا ته وسپارل شو، هغه پیریان وړي.)

۱۱ - د عمر له مخې د شخصیت مرحلې:

د شخصیت ساتنې او د هغې د خطراتو وختونه په درې مرحلو وېشل کېږي:

الف: د تنکۍ ځوانۍ دوره (۹ - ۱۵) کلنۍ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تنکۍ ځوانۍ دوره  د ځان ساتنې دوره ده. په دې وخت کې کوښښ وکړئ، چې د یو شمېر منفي اشخاصو له تېري او تجاوزونو څخه خوندي پاتې شئ. دا هغه وخت دی، چې ډېر هلکان او نجونې د نورو د جنسي تجاوزونو ښکار کېږي.  په دې مرحله کې باید په خپل تګ راتګ او ناسته ولاړه کې ډېر زیات احتیاط وکړئ.  میندې او پلرونه د خپلو اولادونو په برخه کې په دغه مرحله کې ژور مسوولیتونه لري، چې د خپلو ماشومانو راشه درشه او ناسته ولاړه له نږدې څخه تر څارنې او کنټرول لاندې راولي او خپل ماشومان له هغو ځایونو څخه، چې په احتمالي توګه دوی ته ضرر رسولای شي، په کلکه منع کړي. دا همدا دوره ده، چې په ماشومانو کې د مثبتې سیالۍ احساس غښتلی کول ډېر ګټور تمامېدای شي. ددې موخې له پاره کوښښ وکړئ، چې د خپلو ماشومانو بریاوي وستایئ. د دوی بریا لیکونه په خپل کور، حجره او دېره کې راوځړوئ او د هغوی ځانګړو موقف ګټلو ته لکه په ټولګي کې لومړی کېدل او نورو ته یې وهڅوئ.

د خپلو بچیانو نومونه په درنښت واخلئ. زما یو ډېر نږدې دوست دی، چې قوماندان صیب محمد ګل خان نومېږي، دی د ظاهرشاه د وخت د پولیسو د پوهنځي استاد او یو پاک او توانمند صیب منصب و. دی تل خپلو بچیو ته په درنښت نومونه اخلي، چې د هغه دغه عادت زما ډېر خوښ شوی او نور خلك هم زما په شمول دده بچیانو ته په ډېر درنښت نومونه اخلي.

ب. د ځوانۍ دوره له (١٦ - ٢٥) کلنۍ پورې:

دا دوره د یو ځوان له پاره په خپله د ښوېدنو او تیندکونو او پر غلطو کارونو باندې لکه غلا- زنکه بازي، سګرت څکول، نصوار اچول، پوډر څکول، بچه بازي او په داسې نورو کړنو مبتلا کېدلو دوره ده. ددې دورې غلطي اکثره ځوانان په داسې خرابو لارو روانوي، چې بیا یې ترې خلاصېدل ګران وي. دا هغه دوره ده، چې ځوانان به په کې داسې فکر کوي، چې دوی اوس لویان دي. پر هر څه پوهېږي او باید، چې د مور و پلار له بندیزونو څخه خلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، مګر واقعيت دا دی، چې ډېر ځوانان په دې پړاو کې هم د ښو او بدو تميز سم نه شي کولای او ډېر د نورو غلطو ملګرو د بېځايه هڅونو ښکار کېږي.

نو د ملګرو ټاکل په دې پړاو کې يو له هغو مسايلو څخه دی، چې د ځوانانو ژوند ښه يا بد لوري ته اړوي؛ نو له دې کبله توصيه دا ده چې پدی مرحله کې:

۱- کوښښ وکړئ، چې له ډېرو کمو ملګرو سره ناسته ولاړه ولرئ.

۲- خپل هر ملګری تر بشپړې څارنې لاندې ونيسئ، چې له چا او چا سره اړيکې او ناسته ولاړه لري او هغه کسان څرنګه خلک دي؟

۳- کله چې مو يو ملګري درته د يوه منفی او غلط کار بلنه درکړه، ورته ووايئ، چې لومړی خو مې له تا څخه غوښتنه دا ده چې ته هم له دې کاره تېر شه او که ته له دې کار څخه نه تېرېږې، زما غوښتنه دا ده چې نور به له ما څخه د ناستې ولاړې او ملګرتوب تمه نه کوې او د الله جل جلاله په امان. دا پرېکړه مو بايد غوڅه وي.

٤. خپل ټول ملګري خپل پلار، ورور او د کورنۍ نورو مشرانو ته ور وپېژنئ، چې هغوی درته له دوی سره په ملګرتوب کې ښه نظر درکړای شي.

٥. د ملګرو ازمويل: هغه ملګری، چې تاسې فکر کوئ چې دغه ستاسې ښه او صادق ملګری دی وخت په وخت هغه د يوې مرستې کولو، پيسو پور او ناوړه کارونو ته د هڅونې له پاره و ازمويئ که يې پايلې مثبتې وې؛ نو خپل ملګرتوب ورسره لا زيات کلک وساتئ او که پايلې يې منفی وې؛ نو په غوڅه توګه ترې ځانونه وژغورئ.

پر دې باور وکړئ چې د ملګرو ټاکل ستاسې د ژوند يوه داسې بنسټيزه برخه ده، چې ستاسې ژوند يوې مثبتې خوا ته او که نه نو يوې منفي خوا ته راکشولای شي. د هر انسان ژوند پورې اړوندې يو شمېر ستونزې له ناسالمو دوستانو څخه را پيدا کېږي. په دې برخه کې د سګرټو په باره کې دغه لاندې خبره د تطبيق وړ ده: سګرټ د انسان په ژوند کې تر بل هر څه بد ترينه ډالۍ ده، چې يوازې د يوه ډېر خوږ دوست او ملګري له خوا يو چاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول کېږي.

د ځوانۍ په مرحله کې د خپلو جنسي غرایزو او شیطاني غوښتنو کنټرول خورا ستونزمن کار دی. له همدې کبله ده، چې اکثره ځوانان خپل شخصیت دلته خرابوي، چې د بیا جوړولو امکانات یې ښېخي ناشوني وي. په ځوانۍ کې جرئت، ربښتینولي، صداقت، رښتیا ویل، له خرابو اعمالو نه ځان ساتل دا هغه ځانګړنې دي، چې په جدي توګه د نورو د اعتماد او احترام لاره تاسې ته برابروي.

که تاسې په دې پوه اوسئ، چې کوم عمر او څوک دی، چې ستاسې د شخصیت له پاره حساس او خطرناك دی، زه په دې باوري یم، چې دا به له تاسې سره ډېره مرسته وکړي، چې خپل شخصیت د هغوی له زیانونو څخه وژغورئ.

۱۲- په ځوانۍ کې غلط احساس او له څارونکو والدینو سره د ټکر مرحله :

کله چې ځوانان (په ځانګړې توګه) په خپل عمر کې یوې ځانګړې مرحلې ته، چې د ۱۴ – ۱۸ کلنۍ مرحله ده ورسېږي، دوی فکر کوي، چې اوس خو زلمي شوي دي، په هرڅه پوهېږي، د ښو او بدو توپیرکولای شي، او ښه ملګري هم لري؛ نو دکورنۍ مشران په ځانګړي ډول پلار او مشر ورور باید دوی ته ازادي ورکړي، او دوی پرېږدئ، چې د خپل قضاوت له مخې خپلو ملګرو سره ازادې ناستې ولاړې ولري او له دې کبله، چې پلار او ورور،او یا دکورنۍ نور غړي بیا دوی دغه ډول خپلسریو ته نه پرېږدي؛ نو دوی د خپلې کورنۍ سره په کراره شخړې او ټکر ته ځان جوړوي.

ګرانو ځوانانو! زه پوهېږم دا پرما تېر شوي دي. او همدا اوس هم هغه احساس چې په هغه وخت کې مې کاوه، زما په یاد دي. ما به له ځانه سره ویل، چې ایا ولې زما پلار، مور او ورور پر ما باور نه لري؟ ایا زه دوی ته نجلۍ ښکارم؟ او یا زه دوی ته بې عقل ښکارم؟ زه اوس زلمی یم. زه په هر څه پوهېږم، زه دکوم غلط او خراب سړي سره ناسته او ولاړه نه لرم، زما ملګري، خو هر یو ډېر ښه خلك دي. دا ټولې هغه خبرې دي، چې زما په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې به گرځېدې، چې کله به شيطان دا وسوسې هم را اچولې، چې راځه دکور نه وتښته، کوم بل ځای ته ولاړشه ايا تاسې هم کله کله دداسې حالاتو سره مخامخ کېږی؟ که داسې وي؛ نو دا برخه په جدي توگه ولولئ.

که داسې وي، نو تاسې يوازې نه يئ! اکثره هغه ځوانان چې دغه عمر ته رسېږي او د يوې منظمې کورنۍ په چوکاټ کې ژوند کوي، ددغسې ستونزو سره مخ وي، خو باور وکړئ، چې دغه ټول شيان غلط احساسات دي. ځوانان په همدغه پړاو کې د غوښتنې خلاف له ډېرو زياتو خطرونو سره مخامخ کېږي.

سمه ده چې ځوانان په خپلو زړونو کې پاک دي. دوی فکر کوي، چې د سيمې ټول خلك به هم همداشان پاك وي؛ خو متاسفانه زموږ په ټولنو کې ډېر داسې غلط او تېري کوونکې اشخاص شته، چې د همدې ډول ښه باور نه ناسمې گټې اخلي او د ځوانانو اخلاق خرابوي. . سره له دې چې ځوانان پدې عمر کې په خپل ځان ډېر اعتماد لري، خو دوی ته د ټولنې ټولې هغه حيلې او غولونکې لارې چارې او دوه مخي انسانان لا نه دي معلوم شوي، چې په خولو او ژبو کې په ښکاره ډېر نرم، خواږه او مهربان معلومېږي؛ ولې په عمل کې بيا هاغه شان نه دي، بلکې د ځوانانو د بې لارې کولو، پر دوی د جنسي تېري او د دوی د بداخلاقه کولو له پاره لارې برابروي، له ټولو ځوانانو نه داغوښتنه کوم، چې لطفا ددغې مرحلې احساسات په ولکه کې راولي او د خپلو مشرانو په ښوونو او لارښوونو باور وکړي. ځکه چې هر مور او پلار ، ورور او نور خپلوان دغه ډول خارنې ستاسې د ابرو، عزت او ښه شخصيت د ساتنې په غرض تر سره کوي. د بلې خوا زه پلرونو او ورونو ته هم دا سپارښتنه کوم، چې ځوانانو ته ددغه ډول پابنديو عوامل په روښانه توگه ووايي، او تر وسه دې پدې برخه کې ځينې منفي مثالونه له ځوانانو سره شريك کړي، ترڅو ځوانان ددې موضوع په علت پوه شي؛ نو بيا به هغوی دومره نه ځورېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېيم څپرکی

# د شخصيت اړيکې له نورو څيزونو سره

۱۲ - د شخصيت اړيکې له نورو څيزونو سره:

لکه د نورو ډېرو کسانو په څېر لومړی ما هم دا فکر کاوه، چې شخصيت به ګونديې د زياتو پيسو، غتې کورنۍ، ډېر تعليم او تحصيل په ښار او عصري کورونو کې په اوسېدو پورې اړه ولري؛ خو کله چې ما د دې موضوع په اړه خپلې څېړنې په ژوره توګه بشپړې کړې؛ نو دې پايلې ته ورسېدم، چې ياد شوي فکتورونه (پيسې، د غتې کورنۍ غړيتوب، زيات تعليم او تحصيل او په ښاري او عصري کورونو کې استوګنه او د ژوند د لومړنيو ضرورتونو لرل) دې ته ښه لاره برابرولای شي، چې يو څوک داسې کارونه وکولای شي، چې د هغه د شخصيت په جوړونه او خپرونه کې به مرسته وکړي؛ خو دا يو هم کوم لازمي او ضروري شرط نه دی، چې د شخصيت په جوړونه کې دې مستقيما اثر ولری. موږ او تاسې په خپل شاوخوا کې ګورو، چې د ډېرو داسې کورنيو غړي، چې د پورته يادو شويو شرايطو نه د يو يا څو شرايطو لرونکي دي، ولې بچيان يې بيا د داسې کوم شخصيت خاوندان نه وي؛ خو داسې هم ډېر پېښېږي، چې د يوې غريبې کورنۍ سړی د خپل سالم دريځ په وجه په ټولنه او د خلکو تر منځ د يو ډېر ښه شخصيت مقام ته رسېدلای وي.

په دې اړه زه کولای شم د (نوي سيد جمال الدين افغان انسټيټيوټ) د يو استاد ذبيح الله عادل مثال ورکړم. عادل صيب يو شل کلن هلك، د دولسم ټولګي متعلم او يو يتيم ځوان دی. دی ددې تر څنګ چې خپل ښوونځی لولي او په خپل ټولګي کې يو ممتاز زده کوونکی دی، ځان يې دومره په انګليسي کې رسولای، چې اوس له موږ سره د انګليسي ژبې د ښوونکي په توګه کار کوي. ددې ترڅنګ عادل صيب يو عادي ښوونکی نه؛ بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی د خپل ښه شخصيت، اهليت او ښه سلوك په وجه زموږ د انسټيټيوټ (تر ټولو ښه ښوونکي) لقب هم ګټلای دی. زه پر دې باور لرم، چې ښايي و دې ښوونکي ته د نورو ځايونو له خوا ډېرو پيسو وړانديزونه هم شوي وي، ولې هغه په دې خاطر نه وي منلي، چې دی په دې پوهيږي چې د (نوي سيدجمال الدين افغان انسټيټيوټ) کې نه يوازې، چې د دې او نورو استادانو ښه پالنه کېږي، بلکې په دې انسټيټيوټ کې د دې سيمې د بچېانو د ښې تربيې او روزنې دنده تر بل هر ځايه جدي ده. نو ده او دده نورو ملګرو ته په دې انسټيټيوټ کې کار کول يو وياړ او د هېواد راتلونکي له پاره يو ښه خدمت ښکاري.
که پورتنۍ بېلګې ته ځير شو، د عادل صيب سره هغه پورتني شرايط يو هم نه و، ولې دی خپل ځان او خپل ژوند ته په پام کولو سره ځانته داسې يو شخصيت ترلاسه کړی، چې له يوی خوا په خپل ژوند کې ښه کامياب او له بلی خوا په انسټيټيوټ او ټولنه کې د پوره اعتماد، احترام وړ شخصيت دی.

۱۳ - په شخصيت جوړونه او خرابونه کې د کورنۍ رول:
ښوونه او روزنه د ژوند له لومړنۍ مرحلې نه پيلېږي. د وګړپوهنې (انسان څېړنې) ځينې پوهان وايي چې ماشومان د مور په ګېډه کې هم له بهرني ماحول او محيط څخه اغېزمن کېږي. که د يو ماشوم مور ارامه او خوشحاله وي، نو ماشوم يې هم په ګېډه کې ښه وده کوي. برعکس که مور د حمل پر مهال له ډېرو کړاوونو، ستونزو او بدو سلوکونو سره مخ شي، نو دا حالت د ماشوم پر وده هم منفي اغېز اچوي او ماشوم کمزوری او ډارن رالوېيږي.

د انسانانو او پديدو ترمنځ اړيکې او يو پر بل يې اغېز
د هر څيز په هکله درې ډوله اړيکې شتون لري، چې ددې اړيکو تشخيص او بيا د دوی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ انډول ساتل ډېر مهم دي.

الف: ځانګړي یا انفرادي خصوصیات یا

**Individual or Basic Charachterestics**

دا هغه خصوصیات دي، چې د یوې پدیدې هره برخه یې باید د خپلو دندو د سرته رسولو له پاره ولري.

د بېلګې په ډول د یو انسان زړه، وینه، او رګونه باید ددې وړ وي، چې په هغو پورې اړوندې دندې تر سره کړای شي او که هره برخه، یا غړی خپل اړوند کارونه ونه کړای شي، هغه نشي کولای، چې له نورو سره په سوله، تعادل او خوښۍ کې وخت تېر کړي، چې دا بیا له نورو غړو سره په ټکر او جګړه کې اچوي، چې پایله یې عموماً ګډوډي او ناروغي وي. که دغه اړیکې د لیندې په یوه ساده مثال کې وڅېړو، هغه د لیندې د هرې برخې یعنې، ربړونو، کاڅۍ، او د دوښاخې خصوصیات دي. ددې له پاره، چې یوه لینده په سمه توګه د ویشتلو کار ورکړي؛ نو باید ربړونه یې مناسب نرمښت، کاڅۍ یې هم مناسبه اندازه او دوښاخه یې هم مناسب توان، اندازه، او موزون شکل ولري که له دې اجزاوو څخه یو یې هم هغه لازمي خصوصیات ونه لري؛ نو هغه د لیندې کار نشي ورکولای او یا هم نه شي کولای، چې ښه سمه وولي.

ب: د یوې پدیدې د اجزاوو تشخیص او د هغې د اجزاو په منځ کې انډول، سالمې اړیکې او همغږي:

په دنیا کې ټولې پدیدې له اجزاو څخه جوړې شوي او د هرې پدیدې اجزاوې په یو بل پورې تړلي او د دوی ژوند او پایښت له یو بل سره تړل شوی او د یو بل په ملاتړ او نظم باندې ولاړ دي. دغه اړیکې د داخلي اړیکو یا **Internal Relations** په نوم يادېږي.

د هرې پدیدې د اجزاو ترمنځ انډول، ګډ ژوند او مسالحه ضروري او مهمه ده.

د بېلګې په ډول دانسان په بدن کې زړه، سږي، اعصاب او غړي باید چې په ټاکلي وخت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يو ځانګړي نظم کې سره ګډ کار وکړي، چې د بدن له پاره ګټور تمام شي، يو انسان بايد په هره دقيقه کې د ۱۲- ۱۵ځلې ساه واخلي او د دې اخيستل شوې هوا د نقل ورکولو له پاره بايد چې د هغه زړه په يوه د قيقه کې د ٦٠- ۸۰ ځلې کېکاږل شي، چې هغه هوا د بدن بېلابېلو برخو ته ورسوي. او اعصاب بايد په پرله پسې توګه تر همداسې يوه نظم لاندې، سږي او زړه تنبه کړي، چې خپلې دندې په سمه توګه تر سره کړي. کله چې دغه اړيکې وشلېږي، نو بيا د بي نظمۍ او ناروغۍ سبب ګرځي. البته له نظم نه ور اخوا، ددې اعضاوو و تر منځ د يوه نسبي انډول لرل هم خورا مهم او اړين دي. د دې يو ساده مثال په لينده کې کتلای شو. د يوې ليندۍ اجزا، دو ښاخه، رېږونه او کاځې دي. د هرې ليندۍ دغه اجزا بايد يو له بل سره معادل وي. که له دې اجزاوو څخه هر يو يا ډېر غټ يا ډېر وړوکې وي او يا يې رېږونه ډېر سخت او يا ډېر نرم وي، نو نه شي کولای چې په سمه توګه خپلې دندې ادا کړي.

ج: دريېم ډول اړيکې بيا د هرې پديدې او له هغې سره د تړلي چاپيريال تر منځ اړيکې دي. دغه اړيکې د خپلمنځي اړيکو يا **Intra Relations** په نامه يادېږي. هره پديده بايد، چې د خپل ځانګړي محيط او چاپيريال له شرايطو سره برابره وئ او که دغه موزون والی ويجاړشي؛ نو بيا هغه پديده له محيط څخه په تجريد کېدو او لرې کېدو مجبورېږي. د بېلګې په ډول هر انسان بايد د هغه له محيط سره په يوه نسبي تعادل کې ژوند وکړي او که نه، نو هغه به د محيط په تجريد کېدو مجبور شي، چې د ليندۍ په برخه کې دا موضوع داسې تشريح کولای شو، چې د ليندۍ مجموعي حالت (د دوښاخې غټوالی، د رېږونو سختوالی، او د کاځې اندازه) د هغې د کاڼي اندازه د هغې د کاروونکي له عمر او ځواک سره بايد چې معادل وي او که دغه تعادل شتون ونه لري؛ نو هغه پديده هم په درد نه خوري.

د دې ټولې موضوع اصلي ټکې دادي، چې سره له دې موږ هر يو د دې اجازه او حق لرو، چې څه وکړو او څه ونه کړو، ولې بايد په دې هم پوه اووسو، چې زموږ د هر يوه انتخاب له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو خلکو سره تړلای دی او زموږ د هر یو کړه وړه د نورو په کارونو او د هغوی په پایلو مثبت او یا منفي اغېز کوي، چې هغه باید هېڅکله هم له یاده و نه باسو. یعنې موږ سره له دې، چې د خپل هر انتخاب په برخه کې ازادي لرو، ولې ددې ازادیو تر څنګ موږ د نورو خلکو او ټولنې پر وړاندې په یو لړ اخلاقي ارونو (اصولونو) تړلي یو او پر وړاندې یې هم دراندہ مسوولیتونه لرو، څرنګه چې د انسانانو ژوند ټولنیز دی او زموږ د هر یوه کړه وړه پر نورو اغېز لري، نو له اخلاقي پلوه موږ نشو کولای، چې هر هغه څه چې مو زړه وغواړي وکړو او باید چې دا اخلاقي مسوولیتونه سرسري او کم ارزښته ونه بولو.

۱٤ - د شخصیت جوړونې له پاره اساسي کارونه:

لکه څرنګه مو، چې دمخه وویل، شخصیت جوړېدنه د یو واحد کار په عمل او یا د یوې ورځې یا یوې میاشتې محصول نه؛ بلکې د ژوند په اوږدو کې د رنګا رنګ کړو وړو د مجموعې هغه کره ارزیابي ده، چې نور یې زموږ په اړه کوي. نو د دې له پاره چې تاسې خپل شخصیت په ټولنه کې تثبیت کړئ، لطفا دغه لاندې توصیې په نظر کې ولرئ:

۱. په ځانګړو بحثونو کې د ځینو داسې خلکو چې منفي خویونه لري؛ خو ولې په ټولنه کې مشهور شخصیتونه دي. خپله موضع ګیري د هغوی په وړاندې په پرېکنده توګه ووایئ، اما د منفي بحث نه په غیاب کې ډډه وکړي، اوپه عوض یې هغه بحث  په لاندې ډول قطع کړي:

د بېلګې په ډول که بحث په رشید دوستم وي، تاسې باید په غوڅ ډول سره ووایئ: ښه به دا وي چې د داسې کسانو نومونه د دغو ښو کسانو په مجلس کې یاد نه کړو، یا ښه به دا وي، چې پر داسې انسانانو د بحث پر ځای یوه بله ګټوره موضوع وځېړو. یا دا چې زه فکر کوم دا به زموږ او ستاسې د وخت ضیاع وي، چې په دې سړي بحث کوو.

۲_ دا چې تاسې د خپلو خلکو له پاره څه کړي په جرئت د هغو یادونه وکړئ او له هغو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاع وکړئ. مثلاً زه پر خپلو تېرو کړنو ویاړم، ما خپل ټول امکانات د خپلو خلکو چوپړ ته ببنلي، زه د خپل ولس او ملت پر وړاندې خپلې دندې او مسوولیتونه پېژنم. کله ناکله موږ افغانان دا ځان غوښتنه بولو او له دې کبله ترې ډډه کوو، چې و وایو ما دا کار کړی دی، یا ما دا ویلي دي، یا ما..... کتابونه لیکلي دي. ولې دا اوس منل شوی اصل دی او دا ځان ښودنه نه، بلکې د ځان تثبیتول دي.. نو زه ځوانانو ته سپارښتنه کوم چې په ډېر جرئت تاسې ووایې چې ما دا..... کارونه کړي، ما ----- کتابونه ویلي او یا مې هم-------- اثار لیکلي دي.

۳-منفي اعمال په کلکه وغندئ. د مثال په توګه که تاسې غواړئ خلکو ته دا وښیئ چې تاسې دروغ نه وایئ؛ نو ویلای شئ، چې زما له نظره درواغ ویل د انسان شخصیت وژني. ددې خبرې اړخیزه معنا دا ده، چې واورئ خلکو زه درواغ نه وایم. او که کله هم د یو ناوړه سړي په اړه خبرې پیل شي، تاسې خپله دریز داسې غوره کړئ، چې د هغه سړي په بد ویلو کې ونډه وانخلئ، ځکه په غیاب کې بد ویل څه ښه کار نه دی، اما خپل مخالفت دهغه د کړو وړو په اړه په غوڅ ډول څرګند کړي.

٤- کوښښ وکړئ، چې په خپلو خبرو کې ډېر لنډ او ژور پیغام ځای کړئ. مثلاً خپلې جملې په پرېکنده توګه ووایئ: (راځئ چې دا فرعي خبرې پرېږدو او پر دې غور وکړو، چې څه کول په کار دي.) او یا هم داسې جملې لکه: (موږ ته په کار دي، چې هر یو په خپله برخه کې ژمنه وکړو چې.....)

٥- کله چې د یوې موضوع او یا یو چا په برخه کې خبرې کوئ کوښښ وکړئ چې په خپلو خبرو دهغه شخص نوم ولو که په نیمګړتیاو یې هم تبصره کوي، په دروند ډول واخلې، او همدا راز په خپلو خبرو کې واقیعتونه ووایئ، د مثال په ډول: د جناب کرزي صیب د دولت دا... کارونه کړي دي، چې د ستاینې وړدي، لکن دا ... کارونه یې د نیوکو او سمونې وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦ - کوښښ وکړئ، چې د نورو عادي خلکو پر خلاف يوازې د شکاياتو مرجع ونه اوسئ، بلکې د يوه رښتيني انسان په صفت ښو ته ښه او بدو ته بد ووايئ او بله مهمه خبره دا ده چې د خپل انتقاد په اړخ کې عوضي وړانديز ولرئ. د مثال په ډول، دولت ته په کار دي چې د سړکونو د ساتنې او څارنې يونټونه ولري، چې درنې لارۍ پر هغو سړکونو پرې نږدي چې د هغې د بار توان نه لري. نيوکه د ژوند يو مهم او ښه اصل دی. اما هغې نيوکې ته سالمه نيوکه ويل کېدای شي، چې په اصل موضوع ولاړه وي، نه په فرعي مسايلو او شخصي موضوعاتو. د انتقاد کولو يو بل ډېر مهم اصل هم دا دی چې انتقاد بايد هميش له وړانديز سره ملګری وي.

څوک چې له نيوکې سره وړانديز ونه لري، اصلا هغه د نيوکې حق هم نه لري.

بې دليله، او بې وړانديزه انتقاد شرارت دی (ملتمل)

٧. کوښښ وکړئ چې د خپل ځان له پاره پېژندکارتونه چاپ کړئ ، ولوکه تاسې څه عمده شغل او يا کومه مهمه دنده هم ونلرئ. که تاسې متعلم هم اوسئ د کارت جوړول چې په هغې کې ستاسې نوم، او د ټيليفون شمېره ليکلې وي، او دا چې تاسې له څه شي سره مينه لرئ. دا خپله ستاسې د شخصيت ثبوت دی او نور خلك به تاسې ته د يوه پلان لرونکي سړي په سترګه ګوري.

٨. غونډو او بلنو ته همېشه ډېر پاك منظم او ښه لباس واغوندئ کوښښ وکړئ چې د امکان په صورت کې لږ تر لږه دوه درې جوړې مناسب، موزون او ښايسته لباسونه ولرئ او هر مجلس ته له حالاتو سره سم لباسونه واغوندئ که تاسې په دې کې شك لرئ چې دريشي واغوندئ يا جامې، نو په دې مه شرمېږئ چې له خپل لارښود يا بلونکې نه وپوښتئ چې د دوی له نظره به په دې مجلس کې کوم لباس موزون وي؟ د ښه او پاك لباس او پاکو جرابو په خوا کې د فردي پاکوالي ساتنه هم خورا مهمه ده، کوښښ وکړئ چې داسې مجلسونو ته له تللو څخه دمخه ولامبئ او همداراز د تخرګونو د خولو د مخنيوي شيان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته نرم عطراو د غاښونو برس او کريم وکاروئ.

۹ . کوښښ وکړئ چې د هرې غونډې په اوږدو کې لږ تر لږه څو تنه په نظر کې ونیسئ، چې تاسې باید له هغوی سره پېژندګلوي پیدا کړي، ښه لار به دا وي چې له خپل لاربښود نه غوښتنه وکړئ چې تاسې و هغو اشخاصو ته وروپېژني. خو که له هغې سره وخت نه وي، په خپله دا نوښت په لاس کې واخلئ، او په یوه مناسب وخت کې هغه سړي ته ځان وروپېژنئ. هغه ته ووایئ چې تاسې د هغه په اړه معلومات لرئ او غواړئ، چې له نږدې ورسره وپیژنئ او په راتلونکې کې ورسره خپلې اړیکې وساتئ. ښه خبره به دا وي، چې د پېژندنې په وخت کې لومړی ورته خپل کارت وړاندې کړئ او په لنډ ډول د خپلو ټولو مثبتو کارونو لنډېز ورته ووایئ، چې تاسې څوک یئ؟ څه مو کړي او څه غواړئ چې تر لاسه یې کړئ؟ له مشرانو او لویانو سره د پېژندګلوۍ په وخت باید داسې فکر وکړئ، چې تاسې یوازې یوه دقیقه وخت لرئ او په دې یوه دقیقه کې باید تاسې هغه ته د خپل ځان په اړه هغه څه ووایئ چې هغه ستاسې په اړه دې ته وهڅېږي، چې تاسې ته په راتلونکې کې د یوې بلې مفصلې لیدنې کتنې وخت درکړي. د بېلګې په ډول:

رفیع صیب! سلام علیکم. زما نوم عبدالبصیر (سباوون) دی، زه د ولسي هېنداری مسئوول مدیر یم.) خپل کارت ورکړئ. (ما ستاسې په اړه له ... او نورو دوستانو څخه اورېدلي او ستاسې اثار مې لکه کتابونه دریابونه او... هم لوستي دي. زه ډېر خوښ شوم، چې له تاسې سره می د مخامخ پېژندګلو ی هېله پوره شوه.

بیا لږ ځنډ وکړئ او هغه ته د خبرو وخت ورکړئ، خو چې کله د هغه خبرې ختمېږي سمدلاسه خبرې داسې لنډې کړئ.

رفیع صیب! زه پوهېږم چې اوس تاسې ډېر مصروف یئ! زیات وخت مو نه نیسم، په لیدو مو خورا خوشحاله شوم، زما اراده ده، چې له تاسې سره په تفصیل وګورم. که مهربانئ وکړئ خپل کارټ او یا د ټیلیفون شمېره مو راکړئ، زه به بیا تاسې سره اړیکې ونیسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰. تل چې دغه ډول مجلسونو ته ځئ له ځان سره يوه وړه جيبي کتابچه او قلم بايد ولرئ. که هغه سړی کارت ونه لري ورته خپله کتابچه او قلم ور وړاندې کړئ چې تاسې ته خپل نوم او د ټيليفون شمېره وليکئ. او چې کله له مجلس نه راوګرځېدئ بايد په دې غونډه کې له ټولو کسانو نه لاس ته راوړل شوې پتې او د ټيليفون شمېرې په خپلې ځانګړې کتابچې کې چې د همېشنيو پتو له پاره مو ببله کړې ده ورسوئ. ورسره دا يادښت هم وليکئ چې دا شخص مو چېرته ليدلی و او د راتلونکې له پاره مو ورسره څه پلان نيولای و. مثلا (حبيب الله رفيع صيب، د علومو اکاډمۍ غړی، چې د اروابښاد ملنګ جان په ياد جوړه شوې غونډه کې مې وليد، زه به ورته خپله تاريخچه وراستوم او هغه به ماته خپل ... اثر رااستوي.)

ددې له پاره چې مو د دې سړي څېره په ياد پاتې شي، نو د هغه د بدن يوه نښه به هم ورسره وليکئ. مثلا لنډې، عينکو والا سړی.

۱۱. بله مسئله چې په دې ډول مجلسونو کې د موفقيت له پاره ډېر ارزښت لري، هغه دا ده چې تاسې بايد په ورځنيو مسايلو د نړۍ او هېواد پر خبرونو او تازه پېښو، سپورټي لوبو او نورو ټولنيزو موضوعاتو پوره لاس بری ولرئ. ځکه په دې صورت کې کولای شئ، چې تاسې له خلکو سره په خبرو کې ځان اسانه ورګډ کړئ، او په مجلس کې د يو ناخبره او ورك انسان په توګه ونه پېژندل شئ. کوښښ وکړئ چې يو څو ټوکې، لنډۍ، بيتونه او لنډې کيسې زده کړئ، چې د مجلس د خوږولو له پاره په خپل وار مناسب ځای کې ترې ګټه واخلئ. دا تاسې ته په ځانګړو مجلسونو کې د خبرو کولو او له خلکو سره د ګډون لار برابروي.

۱۲. د يو څو مشرانو او مهمو خلکو نومـونه يادول او د هغوی څو خبرې او له هغوی سره ستاسې د ليدنو کتنو په اړه يو څو خبرې اکثرا ډېرې اغېزمنې وي. ددې لپاره کوښښ وکړئ چې د يو شمير مهمو او مشهورو خلکو سره ليدنې کتنې وکړئ أو د هغو سره د يو لړ مهمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځينې موضوعاتو په اړه خپل نظر شريک کړئ، او د هغو نظرونه هم په مؤثقه توګه په ياد وساتئ، او په درسته توګه يې ياد کړئ. اما دا ډېره مهمه ده چې د يو چا نظر ذکرول بايد رښتينې او مکمل وي.

۱۳. يو بل اصل چې هغه هم ډېر ارزښت لري هغه دا دی: کله چې تاسې له يو چا سره پېژنئ، کوښښ وکړئ چې د هغه نوم او د هغه تخلص په ياد وساتئ. د نومونو د ياد ساتلو له پاره ښه لار دا ده چې د هغه سړي په بدن کې (نه په لباس کې) يو ځانګړې نښه خوښه کړئ او د هغه د نوم اړيکه د هغه نښې سره پيدا کړئ. او په ډله کې هغه سړی يو څو ځله په خپل نامه ياد کړئ. دا کار به ستاسو سره د هغه د نوم په ياد ساتلو کې ډېره مرسته وکړي. او چې کله هم بيا د هغه سره مخ شوئ، نو هغه په خپل نوم سره ياد کړئ. د دنيا هر انسان د خپل نوم په اورېدلو خورا خوښېږي او چې کله تاسې د هغه د توقع پر خلاف د هغه نوم واخلئ هغه فکر کوي، چې تاسې له هغه سره ځانګړې مينه او لېوالتيا لرئ، نو ځکه مو د هغه نوم په ياد ساتلای دی. نو دا په هغه پوره اغېز کوي او بيا هغوی تاسې ته په درنه سترګه ګوري او قدر مو کوي.

۱٤. له هر چا سره په خبرو کې ځينې ځانګړنې راټولې کړئ مثلا تاسې په يوه ګروپ کې د غونډې پر وياند خبرې کوئ، تاسې بايد ووايئ چې زما خو د صفيې صديقي خبرې ډېرې خوښې شوې، هغه ځومره فصيحه او بليغه وغږېده. کله چې تاسې د کوم بل چا صفت کوئ دا ستاسې د صفت معنا لري. کوښښ وکړئ چې د هر چا په برخه کې مثبت ټکې پيدا او هغه له نورو سره شريک کړئ. دا ستاسې د ښه شخصيت ثبوت ښيي. د افغانانو خوی دی، چې پر خلکو تل منفي تبصرې کوي، زما هيله له تاسې ځوانانو نه دا ده، چې دغه منفي دستور ورک کړئ. نو که په يو کس کې د منفي شيانو تر څنګ يو څو مثبت ټکې هم و، نو تاسې د نورو پر خلاف د هغه پر هغو مثبتو ټکو هم تبصرې وکړئ. تاسې پر دې باور وکړئ، چې ستاسې دغه مثبتې تبصرې به ستاسې شخصيت او ستاسې او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص په منځ کې ښو اړيکو ته ډېره ګټه ورسوي. بيا کولای شئ، چې د همدې نېکو اړيکو پر بنسټ هغه سرې ته په پټه د هغه منفي اړخونه وربه ګوته کړئ، خو په دې برخه کې بايد، چې د ډېر احتياط نه کار واخلئ، ځکه چې زموږ د ټولنې ډېر خلک نيوکې منلو ته تيار نه دي.

۱۵. کوښښ وکړئ چې په دغه رنګ مجلسونو کې يوه يا دوه ښې سنجولې پوښتنې تهيه کړئ او په مناسب وخت کې يې مطرح کړئ. د پوښتنې بڼه مو بايد عمومي وي مثلا د دې مسئلې عوامل څه دي؟ او د هغې اثرات پر ځوانانو باندې ستاسې له نظره څه دي؟. ځوانان څرنګه کولای شي، چې په دې برخه کې موثر نقش ولري؟ ستاسې مشورې به د نن ځوانانو ته په دې برخه کې څه وي؟ موږ څرنګه کولای شو، چې خپل ځوانان دې مسايلو ته وهڅوو.

۱۵ - په ټولنه کې د انسانانو تر منځ ناليکل شوي او ناويل شوي ټولنيز قراردادونه:

د هرې ټولنې انسانان په خپلو منځونو کې په يو لړ داسې ټولنيز قراردادونو تړل شوي وي، چې هغه د انسانانو کړه وړه کنټرولوي. سره له دې چې دغه قراردادونه، نه کومه ليکلې بڼه لري او نه چېرته هم په لفظي توګه د دغو انسانانو په منځ کې ياد شوي وي، اما د هغې ټولنې هر غړی ځان ددې قراردادونو په عملي کولو ملکف بولي. يعنې سره له دې چې انسانان په يوه ټولنه کې ازاد ژوند لري؛ خو بيا هم په ټوله معنا ازاد نه؛ بلکې د هغې ټولنې د يو لړ پرنسيپونو منونکې وي. نو ويلای شو چې د هرې ټولنې د انسانانو ژوند په ټوله معنا ازاد نه؛ بلکې د هغوی د ټولنو د يو لړ اجتماعي پرنسيپونو تابع وي.

په نورمال حالت کې افراد، کورنۍ او ټولنې ځانته يو شمېر معيارونه او سټنډرډونه لري، چې د هغو په رڼا کې د هغې ټولنې هر وګړی، هره کورنۍ او هر کلی ځان د دغو نارسمي او ناليکل شويو سټنډرډونو تابع بولي. بالاخره بيا دوی هر يو له بل سره د مقابلې او سيالۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرض ډېر داسي کارونه کوي، چې که د دغو سياليو وجه نه وي، نو ښايي هغه به هيڅکله هم هغه کارونه ونه کړي . او يا هم برعکس خلک ځينې کارونه د همدي سياليو په وجه کوي، او که د دغه ډول سياليو وجه نه وي، نو ښايي، چې دوی به هغه کارونه پيلکل کړاي نه واى. د مثال په توګه، په ټولنو کې له يو لړ منفي اعمالو لکه زنا، غلا، بچه بازي، رشوت او نورو څخه يو شمير خلک د همدې سياليو په وجه ، او يا هم له يو بل نه د شرم و حيا په وجه مخنيوی شوی دی؛. او ياهم ځني ښه کارونه لکه ميلمه پالنه، غيرت، او نور هم په خلکو کې د همدي سياليو په وجه جدې دي. دغه پورتنی حالت يوازې په هغو ټولنو کې پاتې کېدای شي چې د ژوند عادي او نورمال شرايط ولري.

تېر پينځه دېرش کلن جنګ زموږ په هېواد کې د ټولنو، کليو، قريو او حتا د کورنيو طبيعی، نورمال او د ژوند منظم شوي شرايط له منځه يوړل. لومړی د کمونستانو په دوران کې تر هر څه زيات زموږ د ټولنې اجتماعي جوړښتونه ونړول شول. کمونستانو په کليو او بانډو کې د قدر وړ او شرافتمند مشران وځپل، اود دوی په مقابل کې يې بې کرکټره، بې هويته او بې شخصيته، ناپوه او مغرور خلک چې نه ورته خپلې ابرو او عزت څه ارزښت درلود او نه هم د نورو عزت او ابرو ورته څه قدر درلود، منځ ته راوستل، مسلح يې کړل، غټې څوکۍ او اقتدار يې ورکړ، حتا دوی ماشومان هم په جاسوسۍ وګومارل. دا هغه لومړنی ګوزار و، چې زموږ په ټولنه يې انديښمنه کړه او ځوانان يې په بې باورۍ او بدو لارو سر کړل.

بيا د دوی د پرله پسې بمباريو، بنديانولو، وژلو په وجه وحشت او ترور پر ټولنه حاکم شو، چې دې حالت په ټولنه کې د عمر په اوږدو کې حاصل شوی اعتماد هم ختم کړ، هر څوک يو پر بل بې باوره شول او بالاخره بيا د دوی د جناياتو په وجه په زرګونو خلک شهيدان، ميندې کونډې او بچې مو يتيمان شول. د کمونستانو د دې جناياتو بهير په ګرمه روان و، چې ورسره بيا د جهاد په نوم يو شمېر نورو نااهله خلکو د ولسونو پر وړاندې يو بل ډول جنايات پيل کړل. ولس او خلک د دې دوو نااهلو په منځ کې راګير و. کمونستانو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



له يوې خوا او په يو ډول زورول او د جهادپه نامه د پردو ګوډاګيانو به بيا له بلې خوا پرې بل ډول زور زياتي لکه نااخلاقي، نااسلامي او ناانساني فشارونه واردول. که له يوې خوا کمونستانو د خلکو پر مال، ناموس او عزت هېڅ ډول دريغ ونه کړ؛ نو له بلې خوا د اسلام په نوم راغلي پتنګان هم له هغوی څخه کم نه وو، چې بالاخره بيا دې وحشتونو او دهشتونو خلك له خپلو کورونو، کليو او بانډو څخه په تښتېدلو مجبور کړل، چې د ولسونو يو زيات شمېر يي د ښارونو په لور وکوچېدل او يو شمېر نور يې بيا له هېواد څخه په تېښته ګاونډيو هېوادونو لکه پاکستان، ايران، شوروي، او نورو ملکونو ته تيښتې ته اړ ابېستل. په زرګونو پلرونه شهيدان او ميندې يې کونډې شوې. خپلوان سره جدا شول او ماشومان مو يتيمان شول. کونډې ميندې مجبوره شوې، چې د خپلو يتيمو بچېانو د سرونو د سلامتيا په پار يې سره لپه بچې ځوك په اوږو او ځوك په لوڅو پښو له ځان سره روان کړل.

کورونه، ځمکې، باغونه، فصلونه او حتا د بدن جامې يې هم قضا و قدر ته وسپارلې. تر دې، چې په لاروکې د غلو له وېرې يې حتا پيسې هم له ځان سره ونه شوې وړلای. دوی د خپلو خپلوانو، قوم او کلي نه وشلېدل، لاړل او د بې سرنويشتی په حالت کې يا په ښارونو کې ورك او بې وسيلې د يوې مړۍ ډوډۍ او سر پناه په خاطر له هر ډول ستونزو، بې عزتيو او شرمونو سره مخ شول، او يا خو د وطن په پرېښودلو مجبور، او په پرديو ملکونو کې له پرديو خلکو سره په سرو دښتو او رغونو کې له يو داسې بې حرمته او بې عزته ژوند سره مخ شول، چې د دنيا پر مخ هر ډول بې عزتی او بې حرمتی په کې شاملې وې. چې د دې بې عزتی او بې حرمتی دغه سلسه تر ننه هم روانه ده.

هو، زموږ د ټولنې ننني لوی قشر (ځوانان) د همدې ناورين محصول دی، دوی د ټوپکو، بارودو، انسانوژنې، سوال، ګدايګری، غلا، تجاوزنو، ظلم، زياتيو او تېريو نه پرته نور څه ونه ليدل. له دوی څخه خدای جل جلاله او د دونيا انسانانو، نورمال او د انسانيت ژوند واخيست، دوی نه روغ کور وليد او نه روغه کورنی، چېرته به چې پلار او مور دواړو په مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بچېو د نفقې او تربيې مسئوليت درلود، او کولای به يې شول، چې هغه په درنه توګه ترسره کړي. نه يې خپل کلی ولید، چېرته به چې مشر، ملک، خان او کليوالو په ګډه يو د بل عزت کاوه او د غيرت له پاره به يې ځانونه يو پر بل قربانول او نه دغو بچېانو هغه دېره، حجره او جومات ته د تللو هغه شرايط درلودل، چېرته به چې د کلي ماشومانو اخلاق، تربيه، عزت داري، ناموس داری او ټولنيز اخلاق زده کول. دوی نه ښوونځي ته د تللو شرايط لرل چې اقلا د علم او پوهې خاوندان شي او د علم او پوهې په رڼا کې د ښو او بدو قضاوت وکړای شي او نه يې د نارمل ژوند شرايط لرل چې سالم قضاوت په کې وده وکړای شي. تر ټولو خواشينونکې خو لا دا وه چې ددوي په زرګونو تنکې بچيان د اسلامې زدهکړو تر جال لاندې وداسي مرکزونو ته ويوړل شول، چيرته چې به دوي د وطن پلورنې او انسان وژنې لپاره برينواش( سوچبدلون) کيدل. دوي دغه ماشومان د ټولو نورمال انسانې اړيکو نه قطع، او د خپل انسان وژونکې طلسم کې د راګيرولو په غرض پداسي لارو سر کړل، چې اوس هغو ته هره اصلاح کوونکې نظريه هم کفر او ددښمن توطهً ښکارئ. يعنې په دغه ۳۵ کلن ژوند کې نه يوازې دا چې د دنيا ټولې مثبتې هستۍ له دوی نه واخيستل شوې؛ بلکې د دنيا ټول منفي او تباه کونکې خصوصيات او عوامل هم د دوی پر سرونو مسلط کړای شول.

د اولادونو د نفقې په خاطر زموږ باغيرته ميندې په پردې ملکونو، او ښارونو کی ورکې، او په سوال کولو مجبورې شوې، زياتره خو بيا دغه کونډې ميندې د دغو جنايت کارو (کمونستي او ټوپکې) قوماندانانو د نفسياتي خواهشتاتو په خاطر خپل غرور او عزت هم له لاسه ورکړ. زموږ په ځوان نسل د پرديو د کولتورونو بهير واکمن شو او په بېګانه ملکونو کې يې د انسانيت په خلاف هر ډول توطيې او دسيسې دوی ته ور وښودل شوې. د دوی پر ذهنونو (چې د سپينې تښتې په څير د هر څه ليکلو ته تيار وو) د انسانيت، افغانيت، شرافت او نېکو اخلاقو په عوض پرې د انسانوژنې، وطنپلورنې، غولونې، درواغو، جنايت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هر ډول نااخلاقي سلوکونه ور وتپل شول.

نو زموږ ټولنه چې یو وخت یې حتا غلو هم انساني اخلاق او شرافت درلود، نن په داسې یوه ټولنه بدله شوې چې د هغې اکثریت له انساني، اسلامي او افغاني اخلاقو څخه محروم را لوی شوي دي. همدا وجه ده چې نن افغاني ټولنه د فزیکې جوړښت (یعنې سړک، پُل، تعمیر او روغتونونو جوړولو) نه هم د دې ټولنې د خلکو ذهنې رغونې ته تر هر څه زیات او جدي ضرورت لري.

دا د دولت او بین المللی ټولنې تر هر څه جدي او لومړنی مسوولیت دی چې د دې ټولنې د انسانانو د ذهني رغونې له پاره مناسب او لازم تربیوي پرګرامونه په کار واچوي او د ددی انسانانو دذهنونو د بیارغونې چارو ته تر هر څه جدي توجه وکړي.

دلته د یوې خبرې ذکر کول ضروري او لازمي بولم او هغه دا چې نړۍ وال کولای شي چې له موږ سره یوازې د دې هېواد په فزیکې رغونه کې مرسته وکړي اما د معنوي او ذهني رغونې اساسي مسوولیت د افغانانو پر غاړه دی او د دې مسوولیت په سر ته رسولو کې د افغانستان دولت او خلک، خصوصا عالمان، پوهان، مذهبي مشران پلرونه او میندې تر بل هر چا جدې مسوولیت لري.

د دې مسوولیتونو درک، تشخیص او سرته رسونه هم ځانته ځانګړې پوهه، مینه او علاقه غواړي او تر بل هر څه مهمه داده چې یوازې هغه څوک کولای شي دا کار په بریاوو سرته ورسوي څوک چې په دې لار کې یو عملي مثال جوړېدای شي؛ نو ددې خدمت سرته رسول تر هر څه لومړی یو جدي عزم، ارادې ، پاکې تاریخچې او پراخې قربانۍ ته اړتیا لري.

زه د یو افغان په توګه دغه مسوولیت پر خپلو غوښو او هډوکو محسوسوم او په همدې غرض چې د دې ټولنې د یو عالم، بااحساسه او با مسوولیته انسان په حیث مې تر خپل وسه ستاسې ځوان نسل پر وړاندې خپلې دندې ادا کړې وي؛ نو مې دا کتاب تهیه او په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لار کې مې د علمي سیمینارونو، ورکشاپونو راډیو او تلویزیون له لارې خپلې هلې ځلې پیل کړي دي؛ خو دا مشکل ډېر لوی، پراخه او ژوردی. هیله مې ده، چې د هېواد نور توانمند عالمان او ملي شخصیتونه او دولتي چارواکي به هم پدي اړوند خپل انساني او اخلاقي مسوولیتونه درک او د هغې په اداکولو کې به جدي ونډې واخلي.

۱٦ - د منفي اشخاصو پېژندنه او له هغوی نه لرېوالی:

په هره ټولنه کې یو زیات شمېر داسې کسان وي چې هغوی د هر راز نوي پروګرام پر وړاندې ولو که ډېر ګټور هم وي، له ګډون څخه وېره لري. ډېری انسانان په خپل ژوند کې یو ټاکلي پرمختګ ته د رسېدو نه وروسته خپل ځان په هماغه ځای کې ارام محسوسوي، او تر هغه زیات نور خپل ځان ته تکلیف نه ورکوي، چې دغې مقطع ته د راحت کړي یا **Comfortable Zone** وایي. او دغه کسان د هر هغه بدلون پر وړاندې چې د دوی په دغه هوسا حالت کې د بدلون راوستو سبب کېږي، ولو که هغه دده په ګټه هم وي، مقاومت کوي. له بلې خوا څخه یو شمېر نور کسان بیا په طبیعي توګه دا خاصیت لري، چې د بل هر چا له خوا وړاندې شوي وړاندیز پر وړاندې، ولو که ډېر معقول هم وي، مقاومت کوي. چې دغه ډول اشخاصو ته په مجموعي توګه منفي اشخاص ویل کېږي. منفي اشخاص نه یوازې په خپله په یوه پروګرام کې ګډون نه کوي، بلکې کوښښ کوي چې نور هم د یوه نوي پروګرام پر وړاندې په شک او تردید کې واچوي. ځوانانو ته لازم او اړین دي چې نه یوازې دغه ډول منفي اشخاص وپیژني؛ بلکې باید په هر ډول د دوی له اغېزو څخه خپل ځان او د ټولنې نور وګړي وژغوري. منفي اشخاص درې ډوله دي:

۱- وچ منفي اشخاص: دا هغه اشخاص دي چې بې له دې چې د یوې مسئلې ارزښت ته پاملرنه وکړي، د هغې پر وړاندې مخالف دریځ نیسي. که له دې اشخاصو نه د دلایلو پوښتنه وشي، نو دلایل یې هم ډېر کمزوري، او بې اره وي. ددې اشخاصو پېژندنه د دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرو کې د منفي کلماتو لکه (خو، اما، ولې، زه نه پوهېږم، دا به نو څنګه شي) له کارنې څخه کيداې شي. دا کسان نه کوم منطقي استدلال کوي او نه کوم روښانه وړانديز ورسره وي. دا خلک دغه منفي کلمات يوازې له مسوولیتونو څخه د تېښتې د وسیلې په توګه کاروي. مثلا دوی وايي چې: ستا خبره سمه ده خو .... که ددې اشخاصو دغو انتقاداتو ته چې همېشه تر منفي الفاظو وروسته ذکر کېږي، ځير شو، نو يو يې هم واقعا نه انتقاد او نه اعتراض وي، بلکې هغوی دا د مسوليتونو نه د تېښتې په لاره کې کاروي. سالم او معقول انتقاد دا وي چې يو څوک د يو پروګرام پر محتویٰ او يا مکانيزم باندې څرګند او روښانه اعتراض کوي او له دغه اعتراض سره بيا خپل وړانديز هم لري.

۲. نا مستقيم متجاوز کسان **Passive Agreesives**: دا هغه کسان دي چې په ښکاره له چا سره مخالفت نه کوي او اکثره هم مخامخ له تاسې سره د ټولو پرېکړو په اړه سر خوځوي، خو هېڅکله هم په خپلو ژمنو کې جدي نه وي. دا کسان له ډېرې بېوزلۍ او مجبوريت سره سره يو يا دوه ځلې هغه ورسپارل شوی کار تر سره کوي، ولې بيا ادامه نه ورکوي. دا ډول اشخاص خطرناک او له ناوړه پايلو سره تړلي دي، ځکه خلک د دوی د ژمنو پر بنسټ پلانونه جوړوي، ولې بيا د اړتيا پر مهال نه دوی وي او نه يې ژمنې. دا ډول کسان په مجلسونو کې په ډېر ښه باور ستاسې وړانديزونه مني؛ خو دا ډول خلک ډېر خطرناک وي او بايد دوی تشخيص کړي، د دوی ژمنې په ډېر احتياط سره ومنئ او په جدي توګه بايد د دې کسانو په سمونه کې له دوی سره مرسته وشي.

۳. کينه کښي او بدنيتي: په هره ټولنه کې يو شمېر داسې کسان وي، چې د دوی هېڅ پيرزو نه وي، چې بل څوک دې، کوم برياليتوب تر لاسه کړي؛ نو دوی د بل چا برياليتوب او پرمختګ نشي زغملای، حتا که د دوی ډېر نږدې ملګری يا خپلوان هم وي. دا ډول کسان د دې له پاره، چې د يو کار مخنيوي وکړي، نو د نورو منفي کسانو پرعکس، دوی په هغه کار کې په ډېر جديت ونډه اخلي او په دې توګه د هغه کار واګې په خپل لاس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلي، او بیا هغه کار په نیمايي کې پرېږدي. دا ډول اشخاص د ګروپونو او ډلو په منځونو کې زیات وي؛ خو د دوی پېژندل او د دوی د لاسونو لنډول هم خورا ګران وي. دا ځکه چې له یوې خوا دوی ډېر هوښیار او هم په اکثره کارونو کې ښه موفق وي، نو د نورو کسانو له پاره دا ډېره ستونزمنه وي چې په اسانۍ سره دوی وپېژني؛ نو تاسې ځوانانو ته جدي توصیه کوو چې دغه راز منفي کسانو ته په کلکه پاملرنه ولرئ. کله مو چې د دوی په برخه کې د دوی د منفي بافۍ تشخیص وکړ، له یوې خوا ترې ځان وساتئ او له بلې خوا هغوی دغه ټکې ته متوجه کړئ او د اړتیا پر مهال خپل نور ملګري او مرستندویان د دوی له دغه خطرناکه عادت څخه هم خبر کړئ، تر څو هغوي ددوي د توطیو ښکار نه شي.

۱۷ - په ټولنه کې د ستونزمنو خلکو پېژندل او له هغوی سره د سلوك غوره کول:

انسانان په هرمشکل کې، یا د مشکل د تولید برخه او یا د هغې د حل یوه برخه کېدای شي. که یو انسان ددی دواړو نه بې برخې وي، نو هغه اصلا انساني دندې نه ترسره کوي. زه تاسې ځوانانو ته کلکه مشوره درکوم، چې باید د هر مشکل په لیدو سره کوښښ وکړئ چې د هغه مشکل د حل په برخه کې ونډه واخلي.

داد ډېر تاسف وړ خبره ده چې زموږ ټولنه په دې وروستیو دېرشو کلونو کې داسې خرابه شوې ده چې دټولنې یو زیات شمېر خلك یاخو دستونزو د ایجاد په برخه کې عاملین ګرځیدلي دي، او یا خو هم ددوی لوی اکثریت په بې تفاوته انسانانو بدل شوي دي. دوي د مشکل د پیدا کېدو په صورت کې لاس تر زنې ناست وي، او هرڅه قضاءاوقدرته، او یا هم خداي(جل جلاله) ته او یاهم نورو ته پرېږدي..

د مثال په ډول زه چې اکثرا دکابل نه جلال اباد ته سفرونه کوم، په لاره کې ګورم چې یو شمېر زیات ډریوران په ډېر بې مسئولیته توګه خپلي موټري ځغلوي، او د ترافیکې اصولو نه خلاف ډریوري کوي چې دا ډول ډریورې د ډېرو ټکرونو او دلارو د بندېدو لامل ګرځي. نو که دیوې خوا دغه بې مسئولیته ډرېوران د مشکل او ستونزو عامل کېږي، نو د بلې خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ډرېورانو سره سپره سوارلۍ هم ددې مسئولیت احساس نه کوي، چې ددې حالت په وړاندې خپل انساني او اخلاقي دندې اداء کړي. لومړي ډریور خپلو غلطیو ته پام کې کړي او د خلاف ورزۍ په صورت کې بیا هغې ته سزا ورکړي. او اقلا دغه ډول بې مسئولیته ډرېور ته دومره قدر خو ووایې چې : (ستا دا ډول ډرېوري زما او دنورو انسانانو ژوند ته صدمه رسوي. یا باید اصلاح شي او که نه نو زه همدا اوس درڅخه کوزېږم، او کرایه هم نه درکوم) تاسې باور وکړئ، چې د یو څو تنو سوارلیو دغه ډول جدي کړنه به د ډېرو داسې ټکرونو مخه ونېسي. د بلې خوا، چې کله د کومې حادثې له کبله (اکثرا خو حادثه نه وي، بلکې د همد اشان ډرېورانو دغلط او څو کتار جوړولو ډرېوري او د نورو د لارو د بندولو له کبله) لارې په ساعتونو، ساعتونو بندې وي. بیا زمونږ خلک (ددوي سره ناستي سپارلي) هم اکثره یي لاس ترزنې ناست وي، او ددې مشکل په حل کې کومه ونډه نه اخلې. حتی باور وکړئ چې ما څو ځله پولیس لیدلي او رټلي مې دي، چې هغوی هم د نورو عوامو په څېر لاس تر زنې ناست وي، او انساني دندې خو لا پرېږده چې خپل مسلکې دندې هم نه ادا کوي.

ما څو څو ځلې د داسي حالتو په لیدو سره فورا پخپله اقدام کړی، او دغه موټرې مې یوې خوا او بله خوا کړي، او بلاخره مې په څو ساعتو کې لاره خلاصه کړې ده. دغې ته دحل په لاره کې ونډه اخیستل وایې، چې ددې اقدامونو په نتیجه کې نه یوازې ماته، بلکه په زرهاوو نورو خلکو ته هم ګټه رسیدلې ده. د مثال په توګه، دا یوه کیسه درسره شریکوم: یوه ورځ د خپل ډریور (محمد شفیق جان) سره جلال اباد ته تللم، د نغلو په سر کې په یوه موړ کې ټکر شوی و، چې دوه موټرونه پکې ټکر شوي او څو تنه پکې زخمیان او مړه و. چې اغلبا علت به یې د موټرو تیز چلوونه، او د ډرېورانو بې غوري او غلطي وه. سره لدې چې پولیس د حادثې ځای ته راغلي و، مړي او زخمیان یې روغتون ته وړي و، خو د بلې حادثې د مخنیوي له پاره یې هېڅ اقدام نه وه کړی. څرنګه چې دا موټرې په یوه موړ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکر شوي وه، نو هره لحظه ددې احتمال وه چې یو بل موټر هم ددې ټکرشوو ګاډو سره ټکر وکړي. هماغه و چې ددې بې غورۍ په وجه یو دریم موټر هم راغلي و، او دهغه دوو موټرو سره یې سخت ټکر کړي و، چې ځو تنه نور هم پکې زخمیان او مړه شوي و. پولیس بیا ساحې ته راغلي و، او مړي او زخمیان یې وړي و. دا ځل دوی یو تن عسکر هم په ساحه کې د کنټرول له پاره پرېښی و. اما د وقایې هغه ډېره عامیانه او اسانه طریقه، چې هغه د موټر نه مخکې د یو څو ډبرو اېښودل و، نه وه کړي. دا هغه طریقه ده چې په ډېري اسانۍ سره نور ډرېوران ددې نه خبروي چې په موټر کې کومه حادثه شته. موږ چې دا حالت ولیده، ودریدو، او د عسکر نه مو غوښتنه وکړه چې د موټر نه مخکې څو ډبرې کېږدي. هغه ومنله او مونږ هم تري حرکت وکړ. په هېواد کې د بې اعتمادۍ د زیاتوالي په وجه، د لږ منزل نه وروسته راسره دا سودا شوه چې ایا دغه عسکر به زمونږ خبره منلي وي که نه؟ نو بېرته راوګرځیدو، چې پخپله دا کار وکړو. کله چې بېرته راغلو، ښه و هغه عسکر یو څو ډبرې اېښودلې وې، سره له دې چې کافي نه وې، خو بیا هم هغه یو څه کړي و. لومړی مو د عسکر نه مننه وکړه، او یو عکس مو ورواخست، او بیا مو نورې ډبرې پخپله کېښودې.

نو وګورۍ چې په دې ملک کې څومره بې غورۍ او بې مسؤلیتي ده. نه پولیس، او نه هم خلک د بل چا په فکر کې دي. دا د پولیسو اساسي وظیفه ده چې د هرې حادثې په صورت کې د نورو اضافي تلفاتو او خسارو مخه ونېسي. اما پدې پېښه کې نه پولیسو او نه هم خلکو او نه هم دې عسکر دغه شان یو اسانه کار چې هغه کولای شوو ددې دوهمې حادثې، او د نورو راتلونکو حادثو مخه نیولای وای، تر سره کړي. دا د همدې بې غورۍ نتیجه وه چې دوهم ټکر وشو، او که مونږ دغه اقدام نه وای کړی، ممکن نور ټکرونه به هم شوي وایي.

تاسې ځوانانو نه زما جدي هیله داده چې: تل او په هر حالت کښې کوښښ وکړئ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې ټولنې په ستونزو کې دحل کونکې ونډه واخلي. دا له یوې خوا ستاسې خپل مشکل حلوي، او له بلې خوا په خلکو کې تاسې ته ښه شهرت درکوي، او نور خلک هم پدې لاره کې ونډې اخیستلو ته چمتو کوي. دخپلو دغه نوعه کارونو په اړه نورو ته ووائي، څو هغوی هم پوه او دغه ډول نیکو کارونو ته وهڅول شي.

خدای (جل جلا له) همداسې چې انسانان دڅېرو له مخې بېلابېل پیداکړي، همدا راز یې دکړو، وړو، خوي او خصلت په لحاظ هم دوی بېلابېل پیداکړي دي. چې ددې خصلت له مخې انسانان په درې برخو ویشل شوي دي:

لومړۍ ډله کې هغه خلک شامل دي، چې دوی د ډېر نرم، ښه او د تېرونکې خوي او اخلاقو لرونکې وي، چې عموما دخپل ځان په نسبت نور لمړی او مهم ګڼي. ددغه ډول خلکو پېژندل عموماً اسانه او ورسره راکړه ورکړه او ګډ ژوند تېرول هم اسان وي. عموما دا ډول خلک په سلو کې ترشلو زیات نه وي.

دوهمه ډله خلک هغه دي، چې دوی بیا منځنۍ موقف لري. دوی ته تر یوه حده خپل ځان مهم ، خو دیو معقولیت سره سم نور خلک هم ورته خاص ارزښت لري. چې دغه ډول خلک بیا دټولنې ترشپېتو په سلو کې تشکېلوي. ددې خلکو سره هم ګډ کار کول ممکن ښایې خو ځینې ځانګړې مهارتونه غواړي.

درېیمه ډله هغه خلک دي چې دوی ته تل خپل ځانونه او خپلې ګټې تر هر څه مهمې او ځان ورته تر بل هر چا اوچت ښکاري. دوي دخپلو ګټو له پاره دې ته هم حاضر وي چې دنورو په حقوقو او امتیازاتو یرغل وکړي. دغه ډول خلک عموما ځانګړی او سخت دریځ لري. چې هغه هېڅ ډول جوړ جاړي ته تیارنه وي. داخلک هم په ټولنه کې په سلو کې تر شلو پورې وي. ددې ډول خلکو په اړه لاندې مشورې ضروري او ګټورې بولم.

۱ . ددې له پاره چې دخپل چاپېریال او اړونده خلکو په منځ کې دغه ډول خلک وپېژنی، دهغوی کړو، وړو او غبرګونونو ته په جدي توګه پام وکړئ او له ځان سره یې یاداښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلئ، او کله کله دنور خلکو څخه هم دهغوی په اړه پوښتنې وکړئ.

۲ . ددې خلکو په وړاندې دځان سره مخ کې له مخ کې تصاميم ولري، او کوښښ وکړی چې ددوی سره په معامله کولو مجبور نه شئ. که بل هر چانس لری، نو ددوی په نسبت هغه بل چانس ته ترجيح ورکړئ. خو که مجبور شوئ چې ددوې سره معامله وکړئ، او په يو کار کې دخيل شئ، نوخپل دريځ او موقف ورته په جدي توګه، په روښانه الفاظو او ښه په ډاګه ووايي. ښه به دا وي چې ورته دا موضوع ګېري ديوه يادوو نورو کسانو په وړاندې ووايي. يعنی دموضوعاتو په اړه دخپل قضا وت نه کار واخلي او هغه ورته غوڅ او روښانه ووايي، نه داچې موضوع دې ته پرېږدي چې څه دې هم انسان دی، ممکن سالم او انساني قضاوت به وکړي، ځکه دوی هېڅکله هم سالم انساني قضاوت نه کوي.

۳. کوښښ وکړی چې دوئ ته ووايئ چې خپله موضوع ګېري تاسې ته اول ووائي. هغه واورئ، که در ته دمنلو وړه وه، ورسره موافقه وکړئ، او که نه وه، نو بيا ورته خپل نظريات په ليکلي توګه وړاندې کړئ، او د موافقې په صورت کې ترې لاسليک هم واخلئ او يا يې هم دشاهدانو په محضر کې ورته په واضحه توګه بيان کړې.

٤. د دوی سره څو معاملې او موضوع ګانې مه شريکوئ، ځکه دوی بيا يوه په بله کې ورګډوي او ګډوډي منځ ته راولي.

٥. دداسې خلکو سره د خپلو راکړو ورکړو تجربې له نورو دوستانو سره هم شريکې کړئ، او تر وسه هغوی ته هم دخپلو برياوو او ناکامو تجربولاملونه روښانه کړئ.

# شلورم څپرکی

# پر شخصيت اغېزمن فکتورونه

۱۸ - پر شخصيت اغېزمن فکتورونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره له دې چې شخصيت جوړول يو مغلق کار او يوه اوږده موده غواړي. خو د لاندې خصوصياتو لرل او د هغوي په دوامداره او جدي توگه تعقيبول د سړي له شخصيت سره مرسته کوي.

۱. د يوثابت دريځ لرل:

کوښښ وکړئ چې د يوې موضوع په اړه ښه او نېک دريځ غوره کړئ او تر ممکن حد پورې پر خپل دريځ ودرېږئ. که مو درک کړه چې ستاسې دريځ په غلطه دی، په رښتني ډول نورو ته پرې اعتراف وکړئ او خپل دريځ بدل کړئ.

۲. رښتيا ويل:

کوښښ وکړئ چې په ټولو موضوعاتو کې رښتيا وواييئ. کله ناکله کېدای شي دا کار ستاسې په تاوان هم پرېوځي، خو په اوږده موده کې دا بيا ستاسې په گټه دی. که پوهيږئ چې ستاسې رښتيا ويل بل چاته ضرر رسوي هلته له نظر ورکولو نه ښښنه وغواړئ او که په خپلو کړو وړو کې مو تېروتنې کړې وي، سمدلاسه د هغې ښښنه وغواړئ. په خپلو تېروتنو اعتراف کول او د هغو په برخه کې ښښنه غوښتل تر بل هر څه سخت کار دی خو ډېر اوچت کار هم دی.

۳. په پرېکړو کې جديت:

په خپلو خبرو کې د غوڅ دريځ خاوندان اوسئ. ښو ته ښه او بدو ته بد وواييئ، ولو که څوک پرې خپه هم شي. ليکن په خپلو تبصرو کې د ډېر احترامانه چلند خاوندان واوسئ او په خپلو تبصرو کې موضوع ته پاملرنه وکړئ نه دا چې ستاسې مقابل لوري کس ته.

افغانانو يو منفي خوی دا دی چې که ويونکې د دوي نه خوښيږي نو بيا دا ورته هېڅ معنا نه لري، چې هغه څه وايي. نو په دې وجه په داسې حال کې چې ويونکې خپله خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاتکميله کړي نه وي، نو دی بيا د هغې په مقابل کې د ځواب په تهيه کولو چرت او فکر کوي. ښه به دا وي چې تاسې ځوانان له دې منفي عمل سره مجادله وکړئ او خپل قضاوت اصل خبرې يا موضوع ته مربوط کړئ نه د هغې ويونکې ته.

٤. ژمن پاتې کېدل:

پخوا تر دې چې له چا سره ژمنه وکړئ پرې ژور فکر وکړئ که مو د ټاکلي کار په برخه کې لږ شک هم وي، له ژمنې څخه ډډه وکړئ. خو چې کله مو ژمنه وکړه بيا په هر قيمت چې وي کوښښ وکړئ چې تر سره يې کړئ. که د ځينو ځانګړيو دلايلو له امله يې نه شئ تر سره کولای، نو څومره ژر چې کولای شئ مقابل لوري ته خبر ورکړئ ، او د خپل معذرت د وړاندې کولو تر څنګ خپل تاثر او نيمګړتيا ورته څرګنده کړئ.

٥. په وخت ټينګښت:

د اسلام مقدس دين په رښتيا ويلو، د ژمنې پالنه او د وخت پر ارزښت ډېر ټينګار کوي. ولې د اسلام د اصولو پر خلاف، بيا ډېر مسلمانان د ژمنې او وخت پر ټينګار عمل نه کوي. د دې له پاره چې دغه منفي عمل له مسلمانانو او افغانانو څخه لرې کړای شو، موږ هر يو بايد د وخت په پابندۍ ډېر ټينګار وکړو. که د يو مشکل په صورت کې د يوې ژمنې ټاکلی وخت او يا ځای ته نه شئ رسېدای، لطفا هغه بل لوري ته ژر تر ژره خبر ورکړئ.

د تاسف وړ خبره دا ده چې ډېر مسلمانان هغه کارونه چې اسلام ورته امر کوي، نه کوي، اما برعکس هغه کارونه چې اسلام يې ترې منعه کوي، کوي يې. لکه چې علامه سيد جمال الدين (افغان) اروپا ته د خپل سفر په پای کې ويلي وو: (د حيرانتيا خبره دا وه چې زه ډېرو اسلامي هېوادونو ته لاړم خو مسلمانان مې په کې ونه ليدل، خو چې نا اسلامي هېوادونو ته لاړم، نو هلته مې نامسلمانان ونه ليدل)

په دې اړه راته د امين صيب يوه خبره را ياده شوه. پېښور کې په يوه مجلس کې (پروفيسر رسول امين صيب، ډاکټر صيب پښتونيار، شينواری صيب، اروابناد تنيوال صيب او څو تنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور پوهان او عالمان ناست وو، چا د یو پرنګي نوم واخیست او ویې ویل چې هغه مسلمان شو. امین صیب وخندل او ویې ویل: (دا خبره به سمه وي، ځکه چې ما له ډېره وخته په هغه کې د مسلمانانو نښې لیدلې وې. هغه له ډېرې مودې راهیسې په درواغو راغلی و او مجلسونو ته به هم ناوخته راته.)

٦. د نورو احترام:

د یو سړي د شخصیت لویه نښه دا ده چې هغه نورو خلکو ته لکه هغه څوک چې له ده څخه مشران، پوهان او عالمان دي د قدر او لوړ شخصیت په نظر ګوري. که ستاسې وظیفوي مقام هر څومره لوړ وي د سپین ږیرو، عالمانو او مشرانو ځانګړی احترام کول ستاسې د شخصیت یو اساسي رکن تشکېلوي. ددی تر خوا، کشرانو ته دروند نوم اخستل، او د هغوي درناوی، او پر هغو شفقت کول هم خورا ضروري، او ګټور دي.

٧. په ژوند کې انډول او تعادل ساتل:

هر چا ته په کار دي چې د کار، کورنۍ او ټولنېزو خدمتونو په منځ کې یو تعادل وساتي او هغه تعادل په پرله پسې توګه عملي کړي. د تعادل په برخه کې غواړم لاندې مهمې مسئلې ته ستاسې پام راواړوم:

د کورنۍ حقوق:

هغه څوک چې په تاسې پورې تړلي دي او ستاسې مینې اوشفقت ته اړتیا لري، هغوی باید له خپلې مینې او شفقت څخه محروم نه کړئ. که مو واده کړی وي، نو کوښښ وکړئ چې د ماښام ډوډۍ حتما له خپلو بچیانو او ښځې سره یو ځای وخورئ. خپلې ښځې او ماشومانو سره لوبې ټوکې او ټکالې وکړئ. دوی د تفریح ځایونو ته بوځئ. ورسره لوبې او ساعت تیري وکړئ. پرېږدئ چې دوی لوبې وګټي. له دې سره مینه وکړئ، غېږ ورکړئ، لاس پرې راکش کړئ، ورته ډالۍ، بخششونه ورکړئ. په نړۍ کې بل هېڅ شی ستاسې د کورنۍ ځای نه شي نیولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسوس دی چې!! زموږ ډېر خلك په رسمي کارونو، مبارزه، سیاست ، ساعت تېریو او یا هم ټولنېزو خدمتونو کې دومره مصروف پاتې شي چې بیا خپل کور او کورنۍ ترې له یاده ووځي. چې کله کور ته راشي نو دومره ستومانه وي، چې له خپلې ښځې او بچو سره د خبرو کولو متره هم نه لري. دا هغه ستره ګناه ده چې نه یې الله جل جلاله بښي او نه بیا کومه چاره لري. کله چې یو ځل له تاسې څخه ستاسې د کورنۍ او ماشومانو مینه غوڅه شوه، د هغې رغول نا ممکن دي. ځینې خلك دا استدلال کوي چې زه زیات کار کوم تر څو کورنۍ ته ډېرې پیسې وګټم، چې دوی ارام وي. ولې دا باید په غوڅ ډول ووایم چې یوازې پیسې یوه کورنۍ نه شي خوشحالولای او ډېر ځله دا ډول کسان په خپل کور کې له ډېرو پیسو سره سره هم د کورنۍ له مینې نه بې برخې وي.

۸. په کار کې رښتنولي:

هر کار چې تاسې قبول کړ، دا ستاسې ایماني او وجداني مسوولیت دی، چې د هغه کار د پوره کولو له پاره په پوره صداقت او ځواکمنۍ کار وکړئ. که تاسې خپل یو کار په صداقت تر سره کړئ ډېر ژر به د هغه د ثمرې په وجه ډېر نور اوچت او ښه کارونه در وسپارل شي. هېڅکله هم د دې احساس مه کوئ چې که ستاسې امر او یا بادار تاسې ګوري، نو کار وکړئ او که هغه نه وي، نو بیا کار ته شا کړئ. دا د یو کارګر یا مامور ډېر لنډ نظری وي چې فکر کوي د هغه امر په دې نه پوهېږي چې دی کار کوي که نه؟ تاسې باور وکړئ چې هر امر پر دې پوهېږي چې د هغه په غیاب کې څوك کار کوي او څوك یې نه کوي. په کار کې ټګې نه یوازې دا چې د لوی الله جل جلاله پر وړاندې ستر جرم دی؛ بلکې له همدې ځای څخه تاسې په خپل کار کې اعتبار او اعتماد له لاسه ورکوئ.

د رسمي کار تفریح او شخصي کار وختونه سره بېل او هغه په ټوله معنا په جدي توګه عملي کړئ. لطفا خپلو نورو خپلوانو او ملګرو ته هم دا ووایئ چې تاسې غواړئ په پوره صداقت خپل کارونه وکړئ او له هغوی څخه نېغ په نېغه غوښتنه وکړئ چې په رسمي کار کی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسمي کار په وخت کې ستاسې د مزاحمت سبب نه شي. که څه هم په لومړي ځل ممکن دوی له دې وضعې څخه خوښ او خوشحاله نه وي، خو په پرله پسې توګه به دوی له دې سره بلد شي او ستاسې د صداقت قدر به کوي.

۹. اسرار او راز ساتنه:

د هر چا د رازونو ساتل څه اسان کار نه دی. د اسلام مقدس دین د اسرارو په ساتنه ډېره کلکه سپارښتنه کوي. دا د یوه سړي اعتماد او اعتبار په خلکو او ټولنه کې زیاتوي. کوښښ وکړئ چې د هر چا راز له خپل ځان سره پټ وساتئ. د یو چا راز د خپل ډېر نږدې او اعتباري ملګري او ان له خپلې ښځې او یا خاوند سره هم مه شریکوئ.

۱۰. امانت ساتنه:

دا د شخصیت ساتنې یو بل ارزښتناك اړخ دی. تاسې باید په خپل ژوندکې تل کوښښ وکړئ چې د خلکو اعتماد ولوکه ډېر لږ هم وي. په جدي توګه وساتئ. په وړو کارونو کې امانت ساتنې او د خلکو د اعتماد ساتل او له هغې څخه منفي ګټه نه اخیستل د دې باعث کېږي چې خلك او ټولنه بیا دریاندې ډېر لوړ اعتماد وکړي. بناً د امانت ساتنې په برخه کې نه یوازې باید امانت ساتونکي واووسئ، بلکې د خپلو اجراتو صورت حساب خلکو ته په ډېر څرګند او ښکاره توګه ورکړئ. په یاد ولرئ چې د دېرش کلونو جنګونو او لاسوهنو له امله زموږ په ټولنه کې اعتماد په عمده ډول له منځه تللای؛ نو اوس یو ځل بیا د هغه اعتماد لاس ته راوستل، د پوهو خلکو سترو قربانیو او ملاتړ ته اړتیا لري؛ نو دا ستاسې په څېر د پاکو او سپیڅلو ځوانانو مکلفیت دی چې دغه له لاسه تللای اعتماد بیا را پیدا او ورځ په ورځ هغه لا غښتلای او قوي کړئ.

۱۱. روښانه او عامیانه خبرې کول:

کله چې له نورو خلکو سره پر کومه موضوع خبرې کوئ، کوښښ وکړئ چې خپلې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اورېدونکو سطحې ته راټیټې کړئ. د خپلو خبرو لنډېز ورسره تکرار کړئ. د خپل مطلب ټکې د یو– دوه– درې په شمارو روښانه ووایئ او حتا د امکان په صورت کې یې هغوی ته ولیکئ. کله چې تاسې له بل چا نه لارښوونې اخلئ او یا چاته لارښوونه کوئ کوښښ وکړئ چې تکرار یې کړئ. دغه تکرار ډېر ځل د سترو غلطیو او ډېرو زیاتو بې اړه سرګردانیو مخه نیسي. د تکرار ښه بڼه داده چې هغه چا ته چې هدایت ورکړل شوی وي، نو هغه یې باید چې تکرار کړي، نه هغه څوک چې هدایت یې ورکړي وي. ځکه چې په هدایاتو کې اورېدل تل له ویلو سره یو شان نه وي. ساینسپوهان وايي چې که دوه کسان یو له بل سره مخامخ هم خبرې کوي، نو ۵ ۲ فیصده د دوی خبرې بدلې اورېدل کېږي.

۱۲: د نورو خبرو ته ځانګړې پاملرنه:

کله چې بل څوک تاسې ته خبري کوي، هغه ته ځانکړې توجه او کلکه پاملرنه وکړئ. ځان پرې ښه پوه کړئ، چې هغه څه وايي. کوښښ وکړئ چې څوک پر دې مجبور نه کړئ چې هغه موضوع (راز) چې هغه یي نه غواړي تاسې سره شریک کړي، تاسې ترې هغه بیا بیا مه پوښتئ. د مثال په توګه که تاسې ته یو څوک ووايي چې (زه سبا چېرته ځم) او یا (زه له چا سره ګورم؟) نو تاسې تري پوښتنه مه کوئ چې (چېرته ځې؟) او یا هم (له چا سره ګورې؟) دا ځکه چې که هغه غوښتل چې تاسې ته ووايي نو ممکن ویلي یې واي چې (زه سبا کابل ته ځم) یا (زه له احمد جان سره ګورم) خو دا چې هغې ددغه ځای یا د هغه کس نوم ونه وایه، البته هغه نه غواړي چې دغه برخه تاسې سره شریکه کړي. نو تاسو د خپلو پوښتنو په ذریعه هغه مه مجبوروئ چې هغه راز تاسې ته ووايي، ځکه بیا شاید هغه په درواغو ویلو مجبورشي.

۱۳- د دندو ګذارش او څارنه:

کله چې چا ته دنده ورسپارئ نو وخت په وخت د هغې څارنه وکړئ. مقابل لوري ته خپلې غوښتنې روښانه او د دوی مکلفیتونه د ۱، ۲، ۳، په ترتیب روښانه کړئ. او کله چې تاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کوم کار در وسپارل شي، په مناسبو وختونو کې خپل ګذارش او راپور بېرته هغې مرجع ته ورکړئ. د خپل کار د اجرا کولو له پاره پلان او د ګذارشونو او راپور ورکولو له پاره ځانته ټاکلی مهالوېش جوړ کړئ او که تاسې هم کوم کار چا ته ورسپارئ؛ نو د هغې څارل هم په مسلسل ډول وکړئ او هغه شخص ته هم دا روښانه کړئ چې تاسې کله او څرنګه ګذارش غواړئ.

۱٤- نرموالي اوتېرېدنه:

سره له دې چې موږ په قاطعیت او جدیت خبرې وکړې، خو د دې تر څنګ زغم او نرموالی او په راکړه ورکړه کې له نورو سره جوړښت هم په خپل ځای کې ارزښتناک او اړین دی. یو متل دی چې وایي:

((د غشي منزل د لیندۍ ربړ ټاکي)) ملت مل

یعنې هر څومره چې د لیندۍ ربړ نرم وي او له کشولو سره لا زیات مخ په شا لاړ شي، هماغومره یې غشي وړاندې رسېږي. یعنې که تاسې هر څومره په خپلو راکړو ورکړو او معاملو کې نرم او حلیم اووسئ، هماغومره به تاسې د نورو د اعتماد وړ وګرځي او ګټه به مو زیاته وي.

۱٥. زړه ورتیا او خطر قبلول:

د دنیا ټول کارونه داسې دي چې لومړی به تاوان کوې، تر څو ګټه وکړې. هر څومره چې تاسې له خطر سره مخامخېږئ، هماغومره به ستاسې د ګټې چانس زیات وي. په هر کار کې باید لومړی پر ځان تاوان او خطر قبول کړئ، چې بیا ګټه تر لاسه کړئ، یو متل دی چې وایي:

(د هرې ماڼۍ لوړوالی د هغې د بنسټ ژوروالي ټاکي) ملت مل

یعنې هر څومره چې د یوې ماڼۍ بنسټ ژور وي، هماغومره هغه ماڼۍ زیاته لوړېدای شي. نو هر څوک چې کوم کار کوي، د هغه کار پرمختګ او پایښت له دې سره مستقیمه اړیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، چې ځومره هغه سړی په دې برخه کې شاتګ، يا خطر اخيستلو ته چمتو دی، چې ځوک لرې ټوپ وهل غواړي، هغه لا زيات شا ته ځي او بيا منډه وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پینځم څپرکی

## د ژوند د عمومي اړخونو په اړه

۱۹- د زده کړو ډولونه:

ماشومان تر پیداېښت وروسته له دوه ډوله زده کړو سره مخ کېږي. یعنې زده کړه په عمومي توګه په دوه برخو وېشل کېږي، چې یوې ته یې ناارادي یا نافعاله زده کړه او بلې ته یې ارادي یا فعاله زده کړه وایي.

لومړی: نافعاله زده کړې (***Passive Learning***):

دا هغه زده کړې دي چې یو ماشوم یې په نااردي ډول د خپل چاپېریال په لیدو کتو او اورېدلو سره تر لاسه کوي.

که مو پاملرنه کړې وي چرګوړي هم تر پیداېښت وروسته ډېر ژر دا زده کوي چې څه باید وخوري او څه ونه خوري.  له کوم ځای او کوم حیوان څخه ووېرېږي او له کوم ځای او کوم حیوان څخه ونه وېرېږي. دوی خو کوم ښوونځي ته نه دي تللي چې هلته یې دا زده کړي وي. دوی هغه ټولې ځانګړنې د نافعالې زده کړې یا ***passive learning*** په بڼه زده کوي او یا هم که د نورو حیواناتو لکه مرغانو، حشراتو او نور بچې وګورو؛ نو دوی هم ټول د خپل ژوند د بقا لومړنۍ ځانګړنې د خپل ماحول په لیدنې او کتنې سره  زده کوي. څرنګه چې ماشومان هم تر ډېره وخته د فعالې زده کړې یا ***Active learning*** ته چمتو نه وي نو تر دې وخته دوی ټولې زده کړې په نا فعاله توګه ترسره کوي.

د مور، پلار اوکورنۍ هر ډول کړه وړه د هغې کورنۍ پر ماشومانو او ځوانانو ډېر ژور اغېز لري. د ماشومانو د ودې او بشپړتیا یو نړۍ وال څېړونکی ***Freud*** لیکې چې د ماشومتوب د دورې ځانګړنې بیا د ځوانۍ او حتا د ټول ژوند په اوږدو کې ټاکنده نقش لري.  د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالم له انده که یو ماشوم په وړوکتوب کې خوښ او ازاد وساتل شي، بیا دغه ډول ماشوم د ټول عمر له پاره په خپل ځان متکي، باادبه او د ښه شخصیت خاوند روزل کېږي. خو بر عکس که د ماشومتوب لومړنۍ دوره له پامه وغورځول شي؛ نو دغه ماشومان ټول عمر په گوښي توب، نااعتمادي او له شخصیته کمزوري پاتې کېږي.

په لنډه توگه ویلای شوو، چې د ماشومتوب د لومړیو مرحلو ځانگړنې او له ماشومانو سره په دې دوره کې سالم چلن او هغوی ته ځانگړې پاملرنه ارزښتمنه ده.

یوه بنسټیزه خبره چې موږ ټول ورته باید ځیر شو، دا ده چې د ژوند لومړنۍ زده کړې د یوکس پر کړو وړو، شخصیت او خوی کې تر بل هرڅه زیات اغېزمنې وي؛ نو مور پلار او خپلوان باید دې ټکي ته پوره توجه وکړي.

هغه اغېزې چې مور او پلار او د کورنۍ نور نږدې غړي یې د یو ماشوم په ژوند او خوی خصلت کې اچوي د همېشنیو اغېزو ***(Foot Prints)*** په نامه یادېږي. ساینس دا څرگنده کړې ده چې دغه زده کړې د ماشوم په ژوند کې ټاکنده او همېشنۍ اغېزې لري. د بېلگې په ډول د کنجوسو او شومو کورنیو ماشومان هم اکثره کنجوس او شوم وي.

په دې وسیله د مور و پلار او کورنۍ د ټولو غړیو پاملرنه دې ارزښتناکې مسئلې ته را اړول غواړو، چې دوی باید په دې حساسو شېبو او پړاوونو کې خپل نقش، د هغې ارزښت او اغېزې اړینې وبولي. دوی باید خپل ټول کړه وړه د خپلو ماشومانو سمې ودې ته داسې را وگرځوي چې د هغې په سم پرمختگ او روزنه کې اغېز ولري او د ټولو هغو خبرو، کړو وړو په کلکه مخنیوی وکړي، چې د یو ماشوم د سپکاوي او ناسمې لارښوونې لامل گرځي. د دې تر څنگ غواړم تاسې ځوانانو ته چې په نږدې راتلونکې کې به د بچیانو خاوندان شئ، د دې سپارښتنه وکړم چې تاسې هم په دې برخه کې خپلې دندې او مسوولیتونه د یو مهربان پلار او مور په توگه وپېژنئ او هغه اړینې وگڼئ او په درسته توگه یې تر سره کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه دندې دي چې ډېر ماشومان يې له کوچنيوالي څخه تر پاخه عمره (۳۰ کلنۍ پورې) له خپل چاپېريال څخه ترلاسه کوي. زموږ هيله داده چې ځوانان او د دوی کورنۍ بايد د ژوند په دې بنسټيزه موده کې د خپلو دندو په جديت او د هغو په اغېزو چې يې د يو ماشوم په راتلونکې ژوند کې په هر اړخيزه توګه لري، خبر او د هغې تولو باريکيو ته ځير وي. هر څومره چې مور و پلار او د کورنۍ غړي په يو ماشوم کې د پوهې، ځواک، جرات، ملاتړ، اعتماد او باورکولو روحيه په کلکه توګه وهڅوي، هماغومره به ماشوم پر خپل ځان متکي، هوښيار، زړه ور او باتربيه وي.

که د يو ځوان په توګه تاسې په دې برخه کې د خپلې کورنۍ، ښوونځي، خپلوانو او د کور کلي د خلکو نيمګړتياوې ګورئ؛ نو دا به ډېره ښه خبره وي چې په يو اخلاقي جرئت سره د هغې په وړاندې ګامونه واخلئ. د بېلګې په ډول که ستاسې پلار، مور او يا د کورنۍ کوم بل غړی، تاسې ته سپکه خوله وخوځوي؛ نو په ډېر درناوي ورته ووايئ چې (پلارجانه! مورجانې! کاکا يا لالا! دغه ډول خبرې زما پر شخصيت منفي اغېز اچوي او ستا له شخصيت سره هم ښې نه برېښي. که مهرباني وکړئ له داسې سپکو الفاظو څخه ډډه وکړئ دا به ښه وي.) داسې مودبانه چلند به نه يوازې هغوی پر خپل دغه منفي عمل پښېمانه کړي؛ بلکې تر دې وروسته به هغوی ستاسې شخصيت ته په ځانګړې ارزښت قايل وي. په دې برخه کې مور او پلار او د کورنۍ نورو غړيو ته هم توصيه داده کله چې وګوري چې د دوی ماشوم کوم وران کار کوي؛ نو د دې پر ځای چې ور ته غوسه شي او بدې خبرې ورته وکړي، په کار دي چې ورته ووايي: (ګلالۍ جانه! دغه کار ستا له شخصيت سره ښه نه ښکاري. دا مه کوه). نو له دې لارې تاسې هغه ته وايئ چې ته د يو شخصيت لرونکې يې؛ نو بيا به هغه همېشه کوښښ کوي چې خپل دغه شخصيت وساتي.

دويم: فعاله او بشپړه زده کړې يا ***(Active Learning)*** :

دا هغه زده کړې دي چې ماشوم يې له خپلې مور، پلار د کورنۍ نورو غړيو او ښوونځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه په ارادي ډول زده کوي.

د انسان عمر زيات او د عمر هره مرحله ځانته ځانګړي وجايب او دندې لري چې د هرې مرحلې وجايب بايد په خپل وخت کې د پام وړ وګڼل شي.  که دغه وجايب په خپل وخت او په رښتينې توګه تر سره نه شي؛ نو بيا د هغې معاوضه ګرانه او حتا ناممکنه وي.

کوچنيوالی او ځواني د زده کړې او ښه شخصيت د جوړېدو ځانګړې مودې دي.  زده کړې ته پوره پاملرنه په ماشومتوب او ځوانۍ کې دوه بنسټيز عوامل لري:

لومړي: د کوچنيوالي او ځوانۍ دوره د نړۍ او چاپيريال په اړه د زده کړې ښه مرحله ده. دا هغه حساس وخت دی چې يو انسان په خپل ژوند پورې د اړوندو څېړونو ځانګړی ځواك لري؛ نو په همدې وخت کې کولای شئ چې د بېلابېلو څيزونو، وسايلو او سامان الاتو په تخنيکي او وظيفوي اړخونو ځان پوه کړي؛ نو د ټولو اړوندو شيانو په اړه ځانګړي او ژور معلومات زده کوي.  علمي تحقيقاتو دا ښودلې ده، چې ماشومان تر ۷ کلنۍ پورې ګومره شيان زده کولای شي په پاتې ۷۰ کلونو کې بيا هاغومره نشي زده کولای؛ نو بايد دا وخت بلکل ضايع نشي او ورځخه جدي ګټه واخيستل شي.

ځرنګه چې په دې مرحله کې د ماشوم ماغزه د تجسس، تفکر او ارزيابۍ په حال کې وي؛ نو له همدې کبله دوی له ځان ځخه عجيبې غريبې پوښتنې کوي، مثلا لمر ولې له ختيز لوري راخيژي؟ او ولې په لويديځ کې لوېږي؟ اوبه ولې ټول عمر روانې وي؟ برېښنا ځرنګه توليدېږي اوځنګه رڼا او انرژي ورکوي؟

هر ماشوم په خپل ذهن کې دغه ډول په زرګونو پوښتې.  دوي غواړي چې ځانونه په هر ځه پوه کړي.  کله چې يې د پلار بايسکل، موټر او يا ماشين ويجاړ شي او هغه يې جوړوي؛ نو ماشوم ورته ډېر ځير وي چې ځان په هغې پوه کړي؛ نو که له يوې خوا ماشوم په دې عمر کې زيات شيان زده کوي له بلې خوا په همدې عمر کې ماشوم د هغې زده کړې له پاره ښه ماغزه، فکر او ارامه حافظه هم لري، ځکه چې په دې وخت کې دی له يوې خوا د جنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرایزو تر اغېز لاندې نه وي راغلی، چې هغه يې بې لارې کړي، سترګې او فکر يې هغې خوا او دې خوا ته مصروف کړي. له بلې خوا د کور کورنۍ، ښځې او بچېانو د مسولیتونو، د کور له نفقې پیدا کولو او داسې نور مسوولیتونو څخه هم فارغ وي، چې په دې توګه ددې له پاره هم په دماغي توګه او هم د وخت له پلوه د دې کافي فرصت او شرایط وي چې هرڅومره کولای شي هغومره زده کړه وکړي او څومره چې دې د ژوند په بېلابېلو اړخونو ښه پوه شي، نو بیا د ژوند په بېلابېلو برخو کې ښه تصمیمونه هم نیولای شي.
خبره مو د زده کړې، تعلیم او تربیې کوله. غواړم ستاسې پاملرنه د تعلیم تر څنګ تربیې ته هم راوګرځوم. موږ افغانان باید په دې وویاړو چې پخوا به زموږ په ېېوزلي هېواد کې د پوهنې وزارت د تعلیم او تربیې د وزارت په نامه یادېده. که څه هم د امریکایانو د راتللو نه وروسته افغاني حکمرانانو هم په کورکورانه ډول د غربیانو د برنامو کاپي ګانې په افغانستان کې پیل کړې. حتا چې زموږ د تعلیم او تربیې د وزارت نوم يې هم د تعلیم وزارت په نوم بدل کړ؛ خو هیله من يم چې زموږ مشران به دې تېروتنې ته ژر په پام کې شي او د تعلیم د وزارت نوم به بېرته د تعلیم او تربیې په وزارت بدل کړي. زموږ د تعلیم او تربیې د وزارت ځانګړنې دا وې چې زموږ په ښوونځیو کې به زده کوونکو ته د ساینسي او مدني علومو تر څنګ د تربیې، اخلاقو، ښه کرکټر او شخصیت زده کړې هم ورکول کېدې. که له یوې خوا زموږ مور او پلار موږ ته د معلم او استاذ د ادب او حقوقو سپارښتنه کوله؛ نو له بلې خوا بیا زموږ استادانو او معلمینو هم په ښوونځي کې موږ ته د مور او پلار د ادب او حقوقو او د مشرانو او کشرانو د احترام او مینې زده کړې راکولې. د دې دواړو خواوو همکارانه لاربښوونو زموږ له ماشومانو څخه با شخصیته، اخلاقي اوګټورځوانان جوړول.
متاسفانه په غربي نړۍ او په تېره بیا په امریکا کې په ټولو ښوونځیو کې یوازې د ساینسي او مدني علومو تدریس کېږي او په دې هېوادونو کې د اخلاقي زده کړې برخې نشته. د اخلاقي زده کړو نشتوالی د دې باعث شوی دی، چې په دې ټولنو کې ډېر شمېر ځوانان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ضعيف كركټر او اخلاقي معيارونو لرونكې دي. په نتيجه كې دوى د تل له پاره له يو لړ زياتو اخلاقي او اجتماعي ستونزو سره مخ دي. زه د يوه پوه او وطنپال افغان په صفت د خپل هېواد ددغه لوړ او عالي خصوصيت قدرداني كوم او له تاسې ځوانانو نه دا غوښتنه كوم چې د خپلو ساينسي او مدني زده كړو تر خوا د تربيوي زده كړو اړخونو ته هم كلكه پاملرنه وكړئ، چې د خپل شخصيت او كركټر د سالمې روزنې له لارې په خپله ټولنه كې د يوه سالم او د قدر وړ شخصيت په توگه تبارز وكړئ، او خپل يو ځانگړى هدف غوره كړئ.
زه د هېواد د تعليم او تربيې له مسوولينو څخه هم په كلكه دا غوښتنه كوم چې له يوې خوا دې دوى د تعليم وزارت نوم بېرته د تعليم او تربيې په وزارت بدل كړي او له بلې خوا دې د ځوانانو د سالمې تربيې په برخه كې د ټولو درسي موادو په هر اړخ كې دې د تربيې او د سالم پرمختگ او نمو معيارونه په اساسي توگه په پام كې ونيسي. تر هغه ځايه چې زه خبر يم، په دې وروستيو وختو كې د امريكا د نبراسكا پوهنتون يو شمېر كاركوونكو په ډېره بېرحمانه او بې مسوولانه توگه زموږ د هېواد تعليمي نصاب د پردو د خوشحالولو په غرض تبديل او خراب كړى دى. د نبراسكا پوهنتون دغو غوړه مارانو سره له دې چې دا منله چې د يونسيف له خوا جوړ شوي تعليمي نصاب د نبراسكا د پوهنتون د نصاب په پرتله ډېر ښه او منظم و؛ خو له دې سره هم دوى د نبراسكا نصاب برتر وگاڼه او د هېواد د تعليم او تربيې له پاره يې هغه رسمي كړ.
دا د ډېر تاسُف خبره ده چې زموږ د بچيانو تعليمي نصاب د سياسي ملحوظاتو ښكار كېږي. دا د پوهنې د وزارت مسووليت دى چې د داسې تباه كوونكو مداخلو مخه ونيسي.
د تعليم او تربيې په برخه كې يوه ډېره په زړه پورې كيسه راياده شوه، غواړم له تاسې سره يې شريكه كړم.
د طب پوهنځي د څلورم ټولگي په ازموينه كې يو استاذ د پينځو پوښتنو په لړ كې يوه پوښتنه داسې كړې وه: ستاسې د ليليې د اشپز نوم څه دي؟ او استاذ دې پوښتني ته ۲۵ نومرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړې وې. البته د دې په وجه یو ډېر شمېر محصلین ناکام شول، او محصلینو شکایت وکړ. چې دا پوښتنه خو په طب پورې هېڅ اړه نه لري. استاذ ورته وویل: طب د انسانانو خدمت کول دي. دغه سړی چې د پینځو کالو راهیسې یې ستاسې خدمتونه کړي دي او تاسې د دې په قدر او ارزښت نه پوهېږئ، تاسې د طبابت کولو حق هم نه لرئ.

دا د هغو افغانانو مسوولیت دی چې په بهر کې یې وخت تېر کړی وي او د لویدیزو ټولنو په منځ کې یې ځینې مثبت ټکې موندلي وي؛ نو دوی باید دا مسئله له خپلو هېواد والو سره شریکه کړي. د دې خبرې معنا به دا نه وي چې ګوندې د لویدیزې نړۍ ټول شیان تر موږ ښه او بهتر دي. که له یو پلوه زموږ هېواد د ښوونې او روزنې په ډګر کې له ډېرو نیمګړتیاوو سره مخ دی؛ خو له اخلاقي پلوه بیا زموږ ښوونځیو زموږ د ماشومانو په سالمه روزنه کې ډېره مرسته کړې ده. دا چې زموږ د روزنې ځیني اړخونه نیمګړي دي دا د پوهو او هېوادپالو افغانانو مسوولیت دی، چې د خپل کلتور دغه منفي اړخو نه هېوادوالو ته په ګوته کړي او د نورو نیمګړتیاوو د سمونې له پاره یې اړینې لارښوونې وړاندې کړي. ما له یو شمېر هغو افغاني ځوانانو سره چې اوس په اروپا او امریکا کې اوسېږي، د دوی د ژوند د بېلابېلو پړاوونو په برخه کې مرکې وکړې، چې د خپلې ټولنې نیمګړتیاوې درک او د هغې د سمون په لټه کې اړین وړاندیزونه وړاندې کړم. دا راته جوته شوې ده چې لویدیز ته تر تللو وروسته د دغو ځوانانو ډېري (اکثریت) د خپل کولتور له نیمګړتیاوو ښخه خبر شوي دي. د بېلګې په ډول: په پخوانیو کلونو کې به زموږ د استادانو دا عادت و چې یو زده کوونکي به درس نشو زده کولای او یا به ښوونځي ته ناوخته ورته، نو هغه به یې په لښتو واهه او کله نا کله به ځینو ناپوهو استادانو ور ته داسې دردوونکې سزاوې هم ورکولې چې ورسره به د ماشوم شخصیت ویجاړېده. د بېلګې په ډول ځینې معلمینو به متعلم ته بوټ په خوله کې ورکاوه. دا هغه منفي بېلګې دي چې باید ویې غندو او د له منځه وړلو له پاره یې مبارزه وکړو؛ ځکه دغه رنګه سزاوې د ماشومانو روحیه او شخصیت وژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰ - اسلامې زده کړې، د هغې اهميت او اثرات يې:

لومړی شی چې د دين په اړه بايد ووايو دا دی چې دين د ټولنې د نظم او نسق له پاره د لوی خدای جل جلاله له خوا هغه رالېږل شوي اصول دي چې د خلکو په منځ کې د مينې، محبت، اعتماد او همکارۍ او يو د بل له ضرر نه د ساتلو په خاطر رالېږل شوی دی. او د اديانو په منځ کې بيا د اسلام مقدس دين په ډېره روښانه توگه تر ټولو نورو اديانو په فوق العاده کامل، اجتماعي عدالتي او د گټو نه ډک دين دی.

باور وکړئ چې د اسلام پر مقدس دين زما عقيده هلته لا غښتلې شوه چې زه امريکا ته ولاړم. په امريکا کې ماته د دې لار هواره شوه چې د اسلام مقدس دين له نورو اديانو سره پرتله کړای شم. زه هلته د بېلابېلو اديانو عبادت ځايونو ته لاړم، او د دوی له عالمانو او مشرانو سره مې ازادې خبرې وکړې. نو له نورو اديانو سره په پرتلې ما ته دا لا ښه جوته شوه چې سره له دې چې هر دين ځانته ځانگړي اصول لري او ټول اديان په بنسټيز ډول يو له بل سره يو شان دي؛ خو په يو څه ځانگړنو کې سره توپيرونه لري. د ټولو دينونو اساسي پيغام دا دی چې هر انسان بايد په ټولنيز ډول نورو ته گټور وي. خو د اسلام مقدس دين، تر نورو دينونو په ټولنيزه برخه کې لا زيات غني دين دي. له ما سره ددې هيله ده چې د اسلام د مقدس دين په ټولنيز اړخ يو ځانگړی کتاب وليکم. په لنډه توگه دا ويلای شم چې د اسلام د مقدس دين ټول بنسټونه، احکام او مناهي هر يو پر خپل ځای ځانگړي ټولنيز ارزښتونه لري.

که موږ د اسلام د مقدس دين پينځو بنسټونو او يا ستنو ته پام وکړو، دا بنسټونه له اسان نه پيلېږي او تدريجا سختيږي، او په همدې توگه د هغې گټې هم له فردي گټو نه پيل او پر پراخو ټولنيزو گټو بدلېږي. د بېلگې په ډول د کلمې مبارکې ويل او قبلول يو اسان او فردي عمل دي او د هغې گټې هم په زياته کچه شخصي دي؛ خو لمونځ بيا تر هغې يو څه گران

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار، او په هغې کې پر عقيدې سربېره د فزيکې کړاو او زحمت اړتيا هم وي، نو د هغې گټې هم لا زياتې ټولنيزې دي. او بيا روژه ده، چې دا بيا پر فزيکې کړاو سربېره پر نفس، گېډه او خواهشاتو هم د يو ډول لاسبرى دى. نو په دې توگه د هغې گټې هم له ځاني گټو نه ور اخوا او په ټولنه کې په بېوزليو خلکو پورې اړه لري. او بيا خو زکات ورکول تردې هم اوچت او په مادي ډول ستره قرباني ده، په دې توگه د هغې گټې نورې هم لا زياتې او په ټولنه کې په لا زياتو او ډېرو بېوزلو خلکو پورې رسيږي او بالاخره، د کعبې شريفې زيارت له مادي او فزيکې قربانيو سره تړلى او له ټولنيز پلوه دا د ټولې نړۍ د مسلمانانو تر منځ د يو نړۍ وال کانفرانس ارزښت لري. تر ټولو په زړه پورې خو لا داده چې د حج په مراسمو کې د نړۍ له گوټ گوټ نه ټول خلك په يو ډول لباس (احرام) کې حج ته راځي. او ددې بنسټيزه موخه داده، تر څو خلکو ته ددې درس ورکړي چې د نړۍ بډايان پر خوارانو کوم تفوق نه لري.

د اسلام د مقدس دين د ډېرو نورو ښېگڼو تر څنگ يو هم د اسلام د مقدس دين د لمانځه گټې دي. ما ډېر وخت له بېلابېلو ملايانو نه د لمانخه د رکعتونو په باره کې پوښتنې کولې، خو هېڅ راته د قناعت وړ ځواب رانه کړای شو. ما د خپلې څېړنې په لاسته راوړلو کې دا ومونده چې د لمانځه رکعتونه او وختونه ټول په ډېر ساينټيفيک ډول برابر شوي دي. د بېلگې په ډول، سهار کې لمونځ ددې له پاره دى چې له خوب نه د راپاځېدو وروسته بايد چې سړی ځان پاك کړي او د اودس په کولو سره يوازې څلور رکعته لمونځ وکړي چې پرې د کار ناوخته نه شي. بيا د سهار له لمانځه نه تر غرمې پورې لمونځ نه وي، ځکه چې خلك بايد کار وکړي؛ خو له دې کبله چې ٤- ٦ ساعته کار وکړي، نو بيا ورته د ډوډۍ خوړلو او څه دمې اړتيا شي؛ نو د دې له پاره چې د کار مکروبونه يې لرې کړي وي؛ نو بيا اودس وکړي، او له دې کبله چې د غرمې يې ډېره ډوډۍ خوړلې وي، نو بايد دې چې لس رکعته لمونځ وکړي. او بيا د غرمې تر ډوډۍ وروسته د ٤- ٦ ساعتونو له پاره کار کوي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بیا له کاره رخصت شي، نو ددې له پاره چې د کار مکروبونه له ځان سره کور ته یونسي، باید چې اودس او لمونځ وکړي. او ددې له پاره چې د کور پرې ناوخته نه شي نو یوازې ٤ رکعته لمونځ باید وکړي. او چې کله کورته ورشي باید چې له خپلي کورنۍ او بچېانو سره لوبې وکړي او چې کله له لوبو څخه وزګار شي، نو باید چې د لوبو مکروبونه هم لرې کړي، او ژر ژر پینځه رکعته لمونځ وکړي او بیا چې د شپې ډېره ډوډۍ وخوري، نو باید ۹ رکعته لمونځ وکړي او بیا ددې له پاره چې پوره ارام او خوب وکړي، نو د ۹ نورو ساعتونو له پاره بیا لمونځ نشته. زه ځوانانو ته په کلکه سپارښتنه کوم چې باید تل لمونځونه وکړي ځکه په ښه او سمه بڼه د لمونځ کول د بدن له پاره بشپړ ګټور او تر ټولو تمرینونو ښه تمرین دی. نو زه وړاندیز لرم چې لومړي باید پلرونه، میندي او نور خپلوان د اسلام د مقدس دین په ټولو مثبتو او ټولنېزو اړخونو خپل ځانونه ښه پوه کړي او په عملي توګه هغه پر خپل ځان عملي کړي او بیا د اسلام د مقدس دین دغه مثبت اړخونه خپلو بچېانو ته تدریس کړي، چې په دې توګه د خپلو ماشومانو له پاره د یو مثبت لارښود نقش ترسره کړای شي.

٢١ - د تعلیم او تربیې په اړه مشورې:

یو بل ټکی چې د زده کړې په برخه کې یې یادول او پر هغې ټینګار کول ډېر اړین بولم، هغه دادی چې هر څه زده کول د ژوند له پاره ځانګړې ارزښت لري.

بهترینه زده کړه هغه ده چې یو ماشوم یې د دې له پاره وکړي چې دا به زما په درد وخوري، نه دا چې زه یې باید زده کړم چې په ازموینه کې بریالی شم. هر هغه څه چې تاسې یې ددې له پاره زده کوئ چې په ژوند کې به مو په درد وخوري، هغه به مو بیا هېڅکله له یاده ونه وځي، هغه څه چې تاسې یې یوازې د ازموینې له پاره زده کوئ، د ازموینې تر مهاله به مو هم په یاد پاتې نشي.

په دې برخه کې زه د محترمو معلمینو او استاذانو پاملرنه یو ټکي ته را اړوم او هغه دا چې کو ښښ وکړي د هر درس له ورکولو نه دمخه هغه موضوع ته د ځوانانو له ژونده سره اړیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي، يعنې د دې موضوع زده کول ولې مهم او څرنګه به هغه د ده په ژوند کې په کار راشي. پر موضوعاتو د پوهېدو د ښه اغېز په اړه دوه بېلګې له تاسو سره شريکوم:

لومړۍ: زه لا په ښوونځي کې نه وم شامل شوی چې مور يو کورنی معلم درلود، چې عبدالروف خان نومېده او هغه زما مشر ورور او زمور په کورنۍ کې له ما نه مشرانو هلکانو ته له وخت نه وروسته سبق وايه. زه به پينځه کلن وم يوه ورځ نوموړي استاد ووېل چې: (شمېر زده کول تاسې هوښياروي او بيا به تاسې څوک نشي غولولای.) دې خبرې له شمېر زده کولو سره زما مينه پيدا کړه، چې په يوه اوونۍ کې مې تر ۱۲ پورې شمېر ليکل او لوستل زده کړل. نو چې کله په ښوونځي کې داخل شوم که څه هم زه ډېر ورکوټی وم او زما نور ټول ټولګيوال تر ما غټان ول؛ خو زه له هماغې لومړۍ ورځې راهيسې په حساب کې تر ټولو دمخه وم، او د خپل ښوونځي غښتلی او تکړه زده کوونکی او بيا د لېسې په دوره کې هم د نورو مضمونو تر خوا د حساب او الجبر په مضمونونو کې تکړه ز ده کوونکی وم. د همدې ښه بنسټ په برکت ما په حساب کې څلور اختراعات هم تر لاسه کړل، چې په نړۍ کې منل شوي دي او د امريکې د کانګرس په کتابتون کې هم دغه اختراعات زما په نامه ثبت دي.

دويمه بېلګه يې د اتم ټولګي د فزيک په مضمون کې د محدبو او مقعرو هېندارو مسئاله وه، استاذ مور ته ويلي وو چې (دا همدا قوانين دي چې د سترګو د عينکو د جوړېدو سبب شوي او ړانده خلک کولای شي د همدې علم په مرسته ليک ولولي.) زه دې مسئالې د فزيک دغې برخې ته دومره وهڅولم چې زما همدا اوس (٤٠کاله وروسته) هم په ياد دي چې ما هغه مهال د خپلو څمکو په يوه برخه کې تر يوې ونې لاندې په يوه چوتره کې دغه هېندارې رسمولې او له هغې څخه د وړانګو په تېرېدو سره مې د عکس د توليد فورمولونه زده کول او هغه فرمولونه مې نن هم په ياد پاتې دي.

نو دا يوه خورا ارزښتناکه موضوع ده چې هر ښوونکی بايد د خپل ورځني درس اړيکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کوونکيو په ژوند پورې ونښلوي او زده کوونکي پر دې وپوهوي چې د دې موضوع زده کول به څرنګه د هغوی په ژوند کې په کار راشي. کله چې زده کوونکي پر دې اصل پوه شول او د هغې درس زده کولو ته ځير شول؛ نو بيا يې هغه درس تر عمره پورې زده او د هغې تحليل، ارزيابي او کارول به يې ور ته ډېر اسان وي. نو په دې برخه کې زما توصيه داده چې د ځوانانو د ژوند لومړنی مسووليت د دوی زده کړې او په ټولو درسي توکو د ځانونو ښه پوهول دي. باور وکړئ که تاسې د لومړي ټولګي درس په ژوره توګه ولولئ، نو دويم ټولګی به درته ډېر اسان وي او ټول عمر به د ښوونځي له لوست او زده کړې نه خوند اخلئ او ازموېنو ته به درته چمتوالی اسان او بې اندېښنې وي.

ددې يو ښه مثال هم دادي چې د محمد اسماعيل په نوم يو استاد يو وخت زما ميرمنې ته د انګليسې ژبې درس ورکاوه. دغه استاد ځني داسي ښه او اړوند مثالونه استعمالول، چې هغي سره به شاګرد هغه موضوع ډېره ښه زده کولای شوه. د مثال په توګه، دي استاد، ددې له پاره چې شاګرد ته د څلورخواو يو ښه مثال ورکړي، نو ده د **NEWS** د کلمې نه ګټه اخستله. او هغه يي داسي تشريح کوله. **N** د **North**له پاره ، او **E** د **East**له پاره ، **W** د **West** له پاره ، او**S** د **South**له پاره غوره شوي، چې بايد د هري خوا نه خبرونه پکې شامل وي. دا يو ډېر ښه مثال دي.

بل مثال يي دادي چې ما يو وخت د پښتو ژبي درس ورکاوه. ددې له پاره چې خپل شاګردان په دي پوه کړم چې د پښتو کوم توري دي چې هغه په اخر کې د بل توري سره نښي يوځاي کېداي. څدنګه چې دا توري د (ا، ر،د،و) توري، او ددوي پوري مربوط توري لکه(ا، د، ذ،ډ، ر، ز، ژ، ړ، ږ،او و دي) نو ما داسي يو مثال ورته راوويست چې. اردو، عسکرو ته وايي، او عسکر نه غواړي چې د شا له خوا دي ورپوري څوك ونخلي، نو دا توري هم د شا له خوا د بل توري پوري نه نښلي. چې دي طريقي زما شاګردانو سره ددې موضوع په زده کړه کې ډېره ښه مرسته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درس د زده کړې په برخه کې یو بل مهم اصل له تاسې سره شریکول غواړم او هغه دادی. کو ښښ وکړئ چې درس هاغه وخت ولولئ چې ماغزه مو ارام او استراحت موکړی وي. په ځانګړي ډول د سهار له خوا وختي د سبق ویل ډېر ګټور دي. ځکه چې په دې وخت کې دماغ تازه او په یوې موضوع پوهېدل اسان وي او په دې وخت کې د هرې موضوع لوستل هم تر زیات وخت پورې په حافظه کې پاتې کېږي. غواړم په دې برخه کې خپله یوه کېسه در سره شریکه کړم:

زما په یاد شي چې ما به د خپل ټول تعلیم او تحصیل په موده کې تل سهاري سبق لوسته. زما ډېر ملګري او ټولګیوال به د شپې تر ناوخته ناست وو او درسونه به یې لوستل او زه به ویده کېدم، خو زه به سهار وختي پاځېدم، دوی به ویده وو ما به یوساعت یا یو نیم ساعت درس ولوست. خو کله چې به د ازموینو نومرې راووتې، نو ما به له خپلو ملګرو ښخه ښې نومري وړلې، دوی به هک پک وو . ولې اصلي لامل یې دوه شیان وو: لومړی دا چې ما به د شپې پوره ارام او خوب کاوه او سهار وختي به راپاڅېدم، بهر به لاړم هوا به تازه وه او شا او خوا به هم چپه او چوپتیا وه، زما فکر او ماغزه به سبق ته ښه چمتو وو؛ نو که به ما لږ وخت سبق ولوست نو هغه به مې په ښه توګه په مغزو کې پاتې کېده.

دویم لامل یې دا و چې ما به هره ورځ نه یواځې د تېرې ورځې درس پر هماغه ورځ تکراراوه؛ بلکې په لنډ ډول به مې د سبا ورځې درس هم یو ځل کوت. چې دې لنډې کتنې به له ما سره مرسته کوله او کله چې به معلم د هغې موضوع تشریح کوله؛ نو زه پرې په ټولګي کې پوهېدای شوم. کله چې به بیا له ټولګي راغلم، نو اړونده موضوع به مې تکراروله، هغه موضوع به مې د تل له پاره په ژوره توګه حافظې ته سپارله؛ نو زه له هر ځوان ښخه غوښتنه کوم چې:

۱. خپل درسونه د سهار له خوا وختي ولولي.

۲. د هرې ورځې درس له ټولګي نه د فراغت پر مهال تکرار کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د سبا ورځې درسي موضوع یو ځل مخکې له مخکې ولولي.

٤. هرڅه چې لولئ پر دې فکر وکړئ چې دا موضوع به څرنګه زما په ژوند کې مرسته وکړي. زده کوونکي دې سبق د ژوند د اړتیا له پاره ولولي نه دا چې په ازمونه کې د بریالیتوب له پاره .

۵: کله چې ستړیا درک کوئ، سبق بس کړئ. یا استراحت وکړئ او یا هم د لوبو او ساعت تېریو په سرته رسولو، خپل دماغ تازه، ځان غښتلی او چمتو کړئ.

۶: ژوند یواځې سبق ویل نه دي، د سبق تر څنګ په سپورټي لوبو او تمریناتو ځانونه روږدي کړئ. دا ستاسې له روغتیا، پیاوړتیا جرئت او حافظې سره ډېره مرسته کوي. د دې تر څنګ کېدای شي چې یو کامیاب او وتلی لوبغاړې شې، په سپورټي لوبو کې مشغولېدل، تاسې له یو لړ منفي او بدو کارونو څخه هم ژغورلای شي.

۷. د سبق او سپورټ تر څنګ کوښښ وکړئ چې په یوه هنري برخه کې هم تشبث، لاسبری او لېوالتیا ولرئ. د موسیقۍ یوه اله زده کول، د سندرو ویل، او اورېدل، اتڼ زده کول، انځور ګري، نقاشي، لیکګري او داسې نور نه یوازې د فکر له ښه والي سره مرسته کوي؛ بلکې ستاسې صحت، شخصیت او په ټولنه کې ستاسې د پېژندګلوۍ ښــه وسیله کېدای شي.

۸. د درس تر څنګ یو څه وخت په خپل چاپیریال کې ثوابي، ټولنیزو او داوطلبانه کارونو ته هم ورکړئ. کوښښ وکړئ چې د جومات، روغتون، ښوونځي او کور کلي په پاکوالي او نورو خدمتونو کې د مخکښ او خدمتګار په څېر واوسئ. کوښښ وکړئ چې په اوونۍ کې له ۵ نه تر ۱۰ ساعتو پورې رضاکارانه کارونه تر سره کړئ.

۹. د تعلیم پر مهال تر ټولو ښه کار به دا وي چې په لاندینو ټولګیو کې داوطلبانه درس ورکړئ او یا هم له یو یا څو ماشومانو سره تر وخت وروسته په کورونو کې درس ووایئ. نورو ته ورښوول د زده کړې بهترینه لار ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰. دنورو په کاغذونو او کتابونو کې بې اجازې لاس مه وهئ:

ټولو پلرونو، ورونو، خویندو او ځوانانو ته په کلکه سپارښتنه کېږي چې حتی دخپلو بچېانو کتابونه او شخصي شیان ونه ګوري. داځکه چې د هرچا شخصي شیان ځانته یو محرمیت لري که تاسې دهغو په شیانو کې ې لاس ووهئ نو ممکن چې هغوی هم ستاسې په شیانو کې لاس ووهي.

۱۱. دچا کاغذ او خط او یا نور شیان بې اجازې مه لولئ. که مو دکوم شي دلوستلو ځانګړې مینه او علاقه درلوده، نو لومړی دهغه شخص نه اجازه واخلئ او بیا یې ولولئ.

۱۲. که ستاسې ملګرې او دوست یا خپلوان کوم ښایسته ځیز اخیستی وي، هغه دې ته مه هڅوئ چې هغه ځیز تاسو ته درکړي. مثلاً ځنې کسان چې یو ښه شی وګوري نو بیا وایې چې (واوا، دغه شی خو زما ډېر خوښ شو) چې دا ښه خبره نه ده ځکه چې هغه شخص دې ته اړ کوي چې هغه ځیز تاسې ته درکړي. ښه به دا وي چې ددې په عوض داسې وویل شي چې (واوا، دا ډېر ښایسته قلم دی، او یا داچې دا قلم له تاسو سره ښه ښکاري) نه داچه داسې ووایو چې (داقلم زما ډېر خوښ شو) ځکه چې ددوهمې جملې استعمال هغه سړی دې ته هڅوې روي چې باید تاسې ته یې درکړي.

۱۳. دخپل ژوند ټولو شیانو ته لکه سفرونه، مجلسونه، واده او نورو ته مخ کې له مخ کې تیاری ونیسی. پدې تیاری کې ټول هغه کارونه چې تاسی ئی باید دهغه کار دشروع نه مخ کې وکړي هغه ټول ولیکې، او بیا هغه کارو نه چې دهغه کار په اوږدو کې یې باید وکړي هغه بیل ولیکې، او هغه ځیزونه چې یې باید دهغه کار نه ئی ورسته وکړي، هغه بیل ولیکې

.

دمثال په ډول: که تاسې یو سفر ته روان یئ نو ټول هغه شیان چې دسفر نه مخ کې باید تکمیل کړي، هغه بیل ولیکې او دسفر نه مخ کې دهغې په کولو او عملی کولو لاس پوري کړی. بیا هغه کارونه چې تاسې یې باید ددی سفر په اوږدو کې وکړې هغه بیل ولیکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداراز هغه کارونه چې دسفر نه وروسته يي بايد وکړې هغه بيل وليکې . خو دالست له ځان سره ولري چې دضرورت په وخت کې نوی مواد په کی ور اضافه کړای شي.

ددی لستونو مخکې له مخکې تهيه کول داګټه لری چې پداسی وختو کې اکثره سړی په ذهنی لحاظ تر فشار لاندی وی، او که دلست له مخی کارونه اجرا نه کړی، نو ممکن چې ځني کارونه او حتی ځنی مهم کارونه يی له يا ده ووځی. نو دغه لست سړی سره ددی کومک کوی چې سفر ته دتللو په وخت کې، دسفر په اوږدو کې او همدا راز دسفر نه د بيرته راتللو په صورت کې بيا هغه کارونه په داسی يوه منظمه توګه تنظيم کړي چې دهر کار له پاره به مناسب او ټاکلې وخت ولری او ترممکن حده به خپل کارونه تر سره کړې.

۲۲- د کتاب د لوستلو او ساتلو په اړه مشورې:

ـموږ او تاسې کله نا کله يو څه لولو او يا په ځينو ځانګړو مجلسونو، غونډو او مېلمستياوو کې د ځينو پوهانو، علماوو او اغېزمنو خلکو خبرې اورو. خو کله کله په هغې کې يوازې يو څو خبرې داسې وي چې د هغې زده کول او په سمه لاره د هغې کارول نه يوازې زموږ علميت زياتوي، بلکې په محفلونو او غونډو کې د هغې سم ويل په ټولنه کې د سړي د شخصيت د تثبيت او پېژندنې ښه شرايط برابروي.

ددې له پاره چې مو له دې اصل څخه په ښه توګه د تل له پاره ګټه تر لاسه کړي وي ښه به دا وي چې د هر کتاب، ورځپاڼې او مجلې تر لوستلو وروسته او يا هم د هر مجلس له خلاصيدو وروسته دغه ډول ځانګړې خبرې په خپلې ټاکلې کتابچې کې په ټاکلې برخه کې وليکئ. د يادښتونو دغه غټه کتابچه بايد پټه وساتئ او دننه يې پر څو څپرکو او برخو وويشئ. د کتابچې په پيل کې د څپرکو يو ليکلړ وليکئ. د کتابچې پر ټولو مخونو باندې ګڼه ووهئ او تر هر څپرکي لاندې خپلې ټاکلې څرګندونې، معقولې او کيسې وليکئ.

بېلګې، کيسې او متلونه ځانګړي ارزښتونه لري. د دوی راټولول، ساتل او مناسب کارول

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې ته په هر مجلس کې د خبرو کولو له پاره ټاکونکي، جرئت او ښه شخصیت درکوي. لطفا دې اصل ته ځانګړې او جدي پاملرنه وکړئ. په دې برخه کې زما سپارښتنه داده چې د معلوماتو له پاره ځانګړې کتابچه او د لنډو کیسو او نورو ارزښتناکو خبرو له پاره ځانګړې کتابچه ولرئ.

د ماخذونو پر ځای کارول:

یو له هغه شیانو څخه چې ستاسې شخصیت په مجلسونو کې تر نورو لوړوي هغه د حوالو ورکول دي. حوالې په دوه ډوله دي:

الف: لیکلې حوالې:

په دې برخه کې تاسې د ځینو عالمانو، پوهانو د نظریاتو لنډېز د یوې ځانګړې موضوع په اړه ذکر کوئ. دا ډېره مهمه خبره ده چې لومړی تاسې د هغه عالم او لیکوال نوم پوره وپېژنئ او بل دا چې د هغې اصل خبره هماغسې چې ویلې یې ده ذکر یې کړئ. د نورو علماوو او شخصیتونو لیکلې حوالې ډېرې مهمې دي او دا ستاسې د لوستنې او معلوماتو کچه تثبیتوي. ددې له پاره چې دا کار مو په موفقیت تر سره کړی وي لاندې مشورې ارزښتناکې دي:

۱. کوښښ وکړئ چې په خپله ټاکل شوې رشته کې د عالمانو او لیکوالانو اثار ولولئ.

۲. د هر اثر د لوستلو پر وخت مهمې جملې په نښه کړئ، ښه به دا وي چې د یو کتاب تر لوستنې وروسته د هغه کتاب په اړه یوه لنډه، یوه یا دوه پاڼې لیکنه ولیکئ چې دا کتاب مو کله لوستی و، اصلي موضوع یې څه وه. پر تاسې یې څرنګه اغېز کړی او د دې کتاب د حوالې وړ معلومات او مقولې څه دي.

۳. د دې لنډېز له پاره یوه ځانګړې د یادښت کتابچه واخلئ او د هر کتاب تر لوستلو وروسته د هغه کتاب په برخه کې دغه لنډ معلومات په خپله ځانګړې کتابچه کې ولیکئ. همدا راز کولای شئ چې خپله د ماخذونو کتابچه پر څو بېلابېلو موضوعاتو ووېشئ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې موضوع په اړه حوالې په هماغه برخه کې ولیکئ. دا به د اړتیا پر وخت ستاسې کار ډېر اسانه کړي.

٤. زما به ځوانانو ته دا مشوره وي چې ځان ته یو داسې لیکلړ جوړ کړئ چې په کې خپل ټول لوستل شوي کتابونه، د لوستلو له نیټې او موضوع سره ثبت کړئ د بېلګې په ډول ستاسې لیکلړ به دا رنګه وي.

ګڼه: د کتاب نوم، د لیکوال نوم، د کتاب موضوع، د کتاب اثر، د کتاب یادښت د لوستنې نېټه، او نور

د بېلګې په ډول، زه په ۱۷ کلنۍ کې د پوهنتون محصل وم چې ما د اجمل خټک یو کتاب"دا زه پاګل وم" ولوست دې کتاب په ما کې د ثبات، مقاومت او مبارزې احساس دومره پیاوړی کړ چې همدا اوس هم په هماغې انرژۍ روان یم.

نو کله چې تاسې داسې یو لیکلړ ولرئ چې په کې مو د لوستل شویو کتابو نومونه او د هغو کتابونو مهم معلوماتونه او مقولې په لنډ ډول لیکلي وي؛ نو کولای شئ چې په ډېره اسانۍ هغه بیا وګورئ او د اړتیا پر وخت هغه ژر پیداکړای شئ.

٥. د هر کتاب په پیل یا پای کې د هغه لیکوال د نورو کتابونو لست هم وي. کوښښ وکړئ چې د خپلې خوښې د لیکوال له هغو لستونو څخه نور کتابونه غوره کړئ او ویې لولئ.

٦. کتاب مو چې واخیست ، بیا یې له لاسه مه ورکوئ او خپل ځان ته یوکتابتون ترې جوړ کړئ.

٧. د کتاب ډېر غله او دښمنان هغه ملګري وي، چې کتاب امانت وړي نه یې لولي او نه یې بېرته ورکوي. هیچاته کتاب د هغې د بېې له امانت ایښودلو پرته مه ورکوئ. که څوک غواړي چې ستاسې کتاب وړیا ولولي، دا ښه خبره ده، خو حتماً ترې د کتاب بیه، حتا یو څو روپۍ زیاتې ترې امانت واخلئ او چې کله یې کتاب بېرته راوړ بیا پیسې ورکړئ، یا ورته بل معادل کتاب ورکړئ. په دې برخه کې د هیچا مخ هم ونه کړئ. که نه نو ډېر ژر به

(c) ketabton.com: The Digital Library



موکتابتون له منځه ولاړ شي، او بیا به مو د کتاب اخیستلو مینه هم مخ پرکمېدو شي.

۸. کله چې موکتاب تر لاسه کړ، سمدلاسه پرې خپل نوم ولیکئ او یا پرې ټاپه ووهئ. پر کتاب د نوم لیکلو ښه ځای د کتاب اړخ دی، چې په اسانۍ سره کتل کېږي، او دا د کتاب له ورکېدو څخه تر یوه حده مخنیوی کولای شي. خو زما یو دریور محمد شفیق چې ډېر هوښیار ولې متاسفانه زده کړې ترې نیمگړې پاتې شوي دي ولې بیا یې داسې یو ابتکار اختراع کړی چې د کتاب په غاړه خپل نوم په یو ځانگړي مهارت لیکې چې ښکاري هم نه ولې کله یې چې په خاص شکل ونیسئ بیا نوم پرې لوستل کېږي.

۹. چې کله هم ممکنه شوه او د دې وخت مو ترلاسه کړ چې دې کتاب د لیکوال سره وگورئ نو دا کتاب ورته وړاندې کړئ او ترې غوښتنه وکړئ چې تاسې ته یې ډالۍ کړي.

۱۰- بله لار چې تاسې کولای شئ د هغه له مخې موزونې ټوکې، مقولې او حوالې راټولې کړئ، هغه په مجلسونو کې د نورو خلکو له خوا د هغې ویل دي. لطفاکوښښ وکړئ چې د هر مجلس له پاره یوه ځانگړې کتابچه ولرئ او په کې په مجلس پورې تړلي ټول معلومات یو ځای درج کړئ. مثلاً که ځینې ویاندویان ځینې حوالې کاروي، نو هغه یادښت کړئ چې بیا یې د خپلو حوالو کتابچې ته ورسوئ او هلته یې ثبت کړئ.

۱۱. دا به ښه لاره وي چې داسې غونډو ته تر تللو دمخه خپله دغه د حوالو کتابچه ولولئ او ځینې اړونده حوالې له ځان سره یادښت کړئ او د اړتیا پر مهال یې وکاروئ. د عالمانو او مهمو شخصیتونو حوالې او د هغوی اغېزمن کارونه په مجلسونو کې ستاسې اغېز زیاتوي.

ب: ژوندۍ حوالې:

کوښښ وکړئ چې له ځینې پېژندل شویو، سمیه یېزو ، ملي او نړۍ والو شخصیتونو سره د ځانگړو موضوعاتو په اړه خبرې اترې وکړئ او د دوی د خبرو ځینې ځانگړي ټکې ولیکئ او بیا هغه له نورو سره په خبرو او مجلسونو کې د حوالو په توگه وکاروئ.

د بېلگې په ډول: ما په __________نېټه له __________ سره لیدلي وو او هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې برخه کې وویل. ـــــــــــــــــــــ.

د داسې حوالو ورکول درې شیان تثبیتوي:

۱ـ دا چې تاسې یو متشبث شخص یئ او له داسې اوچتو خلکو سره مو لیدنې کتنې کړې دي.

۲- تاسې چې په کومه موضوع خبرې کوئ. په دې اړ مو ډېرکارکړی.

۳- د دې موضوع په اړه تاسې د یو پېژندل شوي سړي د خبرو او موضوع حواله ورکوئ دا ډول حوالې د مجلس ډېری غړي تر ډېره ستاسې د شخصیت، پوهې او ځواکمنۍ تر اغېز لاندې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

## د ځوانانو د شخصیت په اړه دده کورنۍ او ښوونکو ته لارښوونې

۲۳ - کورنۍ ته لارښوونې:

په دې کې هېڅ شک نشته چې هر څوک غواړي چې د هغوی اولادونه په ټولنه کې د ښه شخصیت خاوندان وي. اجتماعي څېړنو دا ثابته کړېده چې حتا غله او نور ټولنیز مجرمین هم نه غواړي چې د هغوی اولادونه دې په ټولنه کې بې هویته او بې شخصیته وي. خو مشکل په دې کې دی چې زیاتره وخت د ناپوهۍ په وجه ځینې پلرونه او میندې بې له دې چې د خپلو خبرو او کړو وړو عواقبو ته متوجه شي، د خپلو ماشومانو شخصیتونه وژني او کله کله خو سره له دې چې دوی کولای شي د خپلو بچیانو د شخصیت په جوړونه کې لازمي او موثره ونډه واخلي، ولې دوی بیا له دې کبله چې یا د دې موضوع په ارزښت نه پوهېږي او یا هم ورته د شخصیت ورکوونې او شخصیت پالنې لارې چارې معلومې نه وي؛ نو دوی ډېر کله بیا په ناارادي توگه او یا هم د خپلو ناتوانیو په وجه دغه کار په درست ډول نه ترسره کوي، او په نتیجه کې یا د خپلو بچیانو شخصیت وژني او یا هم د دوی د شخصیت په جوړونه کې لازمي ونډه نه اخلي. نو د دې له پاره چې ددغه ډول پلرونو، میندو او وروڼو خویندو سره مو ښه مرسته کړي وي، دا کتاب مو ولیکه تر څو د دې کتاب د لوستلو له لارې یو شمېر وطنوال هغو مسوولیتونو ته چې دوی یې د خپلو بچیانو پر وړاندې لري په جدي توگه متوجه کړو. تر څو دوی خپل دغه مسؤلیتونه په درسته توگه ادا کړي.

په دې اړه والدینو ته زموږ لارښوونې دا دي:

۱- والدین باید پر دې پوه وي چې د دوی کړه وړه او خبرې هر څه د ماشومانو پر شخصیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثر لري نو:

الف: ماشومانو ته بدې خبرې چې د دوی شخصیت ته صدمه رسوي (لکه چپ شه، خره، سپیه، او داسې نورې بدې خبرې) مه کوئ.

ب: د ماشومانو پر وړاندې یو بل ته او حتا د خپلو مخالفینو په اړه هم بدې خبرې مه کوئ.

ج: د ماشوم پر وړاندې درواغ مه وایئ او یا هم ماشومان پر درواغو ویلو مه روږدوئ. د مثال په توگه کله چې یو څوک راشي او ستاسې پوښتنه کوي، ماشومانو ته مه وایئ چې (ورته ووایه، چې نشته).

د. هېڅکله هم خپل ماشومان د دوی د ملگرو او نورو ماشومانو پر وړاندې مه تهدیدوئ. حتا که دوی ډېر غلط کار هم کړی وي، صبر وکړئ او بیا ورسته ورته ځانته سزا ورکړئ.

ه. له ماشوم سره په خپلو وعدو کې احتیاط وکړي. هېڅکله هم داسې وعده مه ورسره کوئ چې هغه نشئ تر سره کولای.

و. د ماشومانو پر وړاندې جنگ مه کوئ، او حتا چې په لوړ اواز خبرې هم یو له بل سره مه کوئ.

ز: د ماشومانو پر وړاندې یو بل ته مه په غوسه کېږئ، دا ستاسې ماشومان په روحي ناروغیو او بې جرئتۍ اخته کوي.

ح. ماشومانو ته هر وخت مه په غوسه کېږئ. اما دا په دې معنا نه ده چې ماشوم ته باید د سره غوسه و نشي. په ځانگړیو وختونو کې ماشومان جدي دسپلین او غوسې ته ضرورت لري. خصوصا چې کله دوی کوم داسې کار کوي چې هغه د دوی صحت او سلامتیا ته صدمه رسوي؛ نو بیا ورته په کلکه غوسه کول پکار دي. خو دا غوسه باید نه وهل وي او نه ښکنځلې کول، او یا کومه بده خبره کول. بلکې باید ورته په جدي او لوړ اواز ووایئ، (چې مه کوه) او بیا ورته د دې علت توضیح کړئ، مثلا (خطرناک دی) یا (دا به دې مړ کړي). خو که تاسې ماشوم ته هر وخت غوسه کوئ، دا ستاسې د غوسې او قهر ارزښت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثر راکموي.

ط. د بچېانو پر وړاندې له خپلې مېرمنې او نورو بچېانو سره ځانګړې مينه وکړئ، دا کار ستاسې او ستاسې د بچېانو تر منځ د مينې، اعتماد او نېک باورۍ سبب کېږي.

د مور و پلار له مهمو وظايفو څخه يو هم له ماشومانو سره د مکتب د سبق ويل او تکرارول دي. دا خبره ستاسې او د ماشومانو ترمنځ مينه او علاقه ډېره زياتوي. حتا هغه پلار او مور چې ليک او لوست يې هم نه وي زده، که خپل ماشومان کېنوي او ورته ووايي چې زما په مخکې خپل سبق ولوله، دا د هغه ماشومانو سره ډېره مرسته کولای شي. له بلې خوا تاسې کولای شئ چې په خپلې موجودګۍ کې غټو ماشومانو ته لارښوون وکړئ چې له وړو ماشومانو سره سبق ولولي.

انعامونه:

خپل ماشومانو ته شاباس، افرين، او ښه هڅوونکي کلمات وکاروئ. هغوی ته ډالۍ او بخششونه په داسې وختونو او ترتيب سره ورکوئ چې د دوی له پاره حيرانوونکې او له توقع نه لرې وي. که ماشوم مخکې له مخکې پوه وي چې دوی ته ډالۍ ورکول کېږي، نو بيا هغه ډالۍ دومره اغېز نه لري. نو کوښښ وکړئ چې د هغوی ډالۍ دوی ته ناڅاپي او حيرانوونکې وي.

ستاينه:

مور او پلار بايد د بچېانو پر وړاندې ګډه پاليسي ولري. يعنې يو د بل خبره تقويه کړي. خو برعکس دا ډېر خطرناک عمل دی چې مور د پلار په مقابل کې او يا پلار د مور په مقابل کې د ماشوم پلوي کوي. بايد هر يو کوښښ وکړي چې د بل د تعليم او خبرې پلوی وکړي، ولوکه هغه په غلطه هم وي، خو وروسته دې بيا په دې اړه خبرې ورسره وکړي. او تر دې ښه طريقه به دا وي چې: که پلار په غوسه و او مور پوه شوه چې پلار په غلطه په غوسه شوی دی؛ نو په ډېر احتياط سره دې پلار را جدا او پوه کړي اما د ماشوم پر وړاندې دې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مخالفت نه کوي. دا موضوع ډېر ژور اثرات لري چې په ګټه او تاوان یې بیا وروسته موراو پلار پوهېدای شي. خو متأ سفانه هغه وخت بیا ډېر ناوخته شوي وي. د دې موضوع ښه شکل دا دی چې مور ماشومان له پلار نه یو څه وډاروي او ورته ووایي چې (دا کار مه کوه چې پلار دې خفه کېږي یا په غوسه کېږي) او پلار هم باید همدغه شان لاره په کار واچوي.

مینه، خندا او لوبې :

- له کوچنیانو سره مینه او محبت کول او له نورو خلکو سره په ورین تندي او خندا غړېدل په تاسې کې د مینې تخمونه کري.
- کوچنیانو ته په درنه سترګه وګورئ او مینه ورسره وکړئ. کله چې مو لږ وخت هم پیداکاوه، د خپلې کورنۍ او د کلي له ماشومانو سره لوبې وکړئ. پرېږدئ چې دوی لوبې وګټي، یعنې تاسې دوی ته لوبې بایلئ. ماشومان په درنو نومونو یادوئ.
- خپل ماشومان هېڅکله هم د هغوی د ملګرو او نورو خلکو پر وړاندې مه توهینوئ او تحقیروئ. ځکه دا کار د هغوی شخصیت او غرور وژني او بیا دوی د نورو خلکو د تحقیر وړ ګرځي او دوی ته هم بیا توهین او تحقیر خپل هغه ارزښت له لاسه ورکوي.
- برعکس توصیه داده، چې د خپلو ماشومانو ډېر واړه بریالیتوبونه او ښه کارونه هم په ډېر درنښت او ویاړ سره د دوی د ملګرو او نورو خلکو پر وړاندې یاد کړئ. ساینس دا څرګنده کړې ده، چې نمانځل او هڅول د یو انسان په سمونې کې تر بل هر څه ډېر اغېزمن دي.
- هېڅکله هم د خپلو ماشومانو پر وړاندې چا ته سپکې او سپورې خبرې مه کوئ.
- د دوی پر وړاندې درواغ مه وایئ. ځکه دا په نا مستقیم ډول دوی ته ویل دي چې درواغ ویل کوم بد کار نه دی.
- له ماشومانو سره د منفي جملو له کارولو څخه په کلکه ډډه وکړئ. هېڅکله هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو ته دا لاندې جملې او يا هم ددې په څېر نورې بدې جملې مه کاروئ:

چپ شه! غلې کېنه! ته نه پوهېږې! کم عقله! خره! سپيه! چارپايه! ګيدړه! چټل خوره! تنبله! نر ښځيه! او داسې نور.

کوښښ وکړئ چې له لاندې مثبتو او هڅوونکو خبرو نه ډېر کار واخلئ، لکه:

ته هوښيار يې، زه پر تا وياړم، ته پر ما ګران يې، ته ډېر ښه هلك يا نجلۍ يې، زما ستا خوی خوښېږي، ته نام خدا ډېر پاك او ستره ګرځې، خلك ماته هر وخت ستا صفت كوي.

او چې کله يو وړوکی شان بری هم تر لاسه کړي، نو هغه وستايئ. په تېره د دوی د کاميابيو ستاينه او صفت يې د ملګرو پر وړاندې وکړئ. ورته داسې کلمې وکاروئ لکه: شاباش، زه نن ډېر خوشحاله يم، تا زما سترګې اوچتې کړې.

او که هغوی په کوم ټولګي کې او يا په کوم کار کې پاتې راغلل؛ نو هېڅکله يې هم مه تهديدوئ، بلکې بيا هم ور سره له لاندې هڅوونکو جملو نه کار واخلئ:

زه ستا د کوښښونو درناوی کوم. په ژوند کې برياليتوب او ناکامي سره تړلي دي. خير دی مه خپه کېږه، يو ځل بيا کوښښ وکړه.

ستا په نظر ددې وجه څه وه؟ ددې د حل له پاره بايد موږ څه وکړو؟

زه ستا نظر غواړم. زه له تا سره څه ډول مرسته کولای شم؟

ته کولای شې چې په دې اړه له ما سره غوڅې خبرې وکړې.

خپلو ماشومانو ته لاندې ګټورې جملې ورزده کړئ او کوښښ وکړئ چې د دارنګه جملو کارول د دوی د ورځنيو خبرو يوه همېشنۍ او مهمه برخه وګرځي: مثلاً:

مننه، لطفا يا مهرباني وکړئ، په سترګو، بلې، زه مننونکی يم

دا زما وياړ دی، تاسې ماته ډېر محترم يئ، زه ستاسې کشر او تابعدار يم

د ساعت تېرۍ او لوبو غوره لارې چارې:

دمخه مو وويل چې ځوانان له يو اړخه ډېره زياته انرژي لري او له بلې خوا د طبيعت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل چاپېريال په برخه کې ډېر ژور فکر کوي. د دې له پاره چې د ځوانانو دغه انرژي په ښه لاره ولګول شي نو هر ځوان ته په کار دي چې:

لومړی: په سپورټي لوبو کې برخمن وي او لږ تر لږه يوه ځانګړې لوبه د خپلې ځانګړې لېوالتيا، عادت او د ساعت تېرۍ وسيله وګرځوي. سپورټ له يوې خوا ستاسې د ډېر ښه صحت تضمين کوي او له بلې خوا په جسماني توګه تاسو ځواکمنوي چې د خپلو ملګرو او همزولو په منځ کې پر خپل ځان متکي اوسئ او له هيچا څخه ونه ډار شئ. همدا راز کېدای شي چې د يوې سپورتي لوبې په برخه کې تاسې د يوه ځانګړي مهارت په لاس ته راوړلو سره په محلي، سيمه ييز او نړۍ واله کچه يو پېژندل شوی شخصيت وګرځئ. د بېلګې په ډول محمد علي کيلي چې د سوك وهنې د لوبې يو اوچت لوبغاړی و، د اسلام او مسلمانانو له پاره ډېر اوچت خدمت يوازې د دې لوبې له لارې وکړای شو.

دويم: د لوبو په برخه کې زما مشوره داده چې لومړی بايد مور و پلار خپل بچيان له ماشومتوبه سيمه ييزو مناسبو لوبو ته وهڅوي او مور و پلار، خويندو او وروڼو ته توصيه ده چې خپل واړه دغو لوبو ته بوځئ، د هغوی د لوبو سيل وکړئ او هغوی دې لوبو ته وهڅوئ.

درېيم: د نورو لوبو په خوا کې ځغاسته او کتماندو او د يوګا لوبه د هر ماشوم، هلك او نجلۍ له پاره په ځانګړې توګه توصيه کوم.

ځغاسته ستاسې د ښه صحت تامين او کتماندو ستاسې د تحفظ او د تجاوز او جنګ په صورت کې خپلې موثرې دفاع ضمانت کوي. لامبو کېدای شي چې په يوه ځانګړي وخت او ځای کې تاسې ته حياتي ارزښت ولري. او د يوګا لوبه تاسو ته ښه دماغې تفريح ورکوي. هغه څوك چې له ماشومتوبه په لوبو عادي وي د دوی پر خپل ځان باور او زړورتيا تر نورو زياته او د ښه صحت خاوندان وي. دا د هر ماشوم له پاره له ډېرو مهمو اړتياو څخه ده چې په يو ډول سپورتي لوبه کې حتما د خيل او تر څنګ يې ځغاستې، کتماندو او يوګا زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې یې هم ترسره کړې وي.

له موسیقۍ او سندرو سره مینه او لېوالتیا:

د موسیقۍ د الاتو غږول یا هم سندرې ویل او اتڼ کول هغه هنرونه دي چې نه یوازې انسانان بلکې حیوانات او نباتات هم خوشحالوي. د ساینس د تجربو له مخې هغه ګلان چې ورته موزیک اورول کېږي، بوټي یې ډېر تازه او ګلان یې غټ غټ راځي. په حېواناتو کې د موزیک د اغېزو یوه ښه بېلګه هم بیم شپیلۍ ته د مارانو راټولېدل او ارام ویده کېدل دي. هغه ځوانان چې د دوی کوم ډول موسیقي زده وي او په ټاکلي وختونو کې تر لوستنې وروسته موسیقي الات غږوي د دوی دماغ ښه ارام، او بیا د درس ویلو په وخت کې ښه دماغي تمرکز کولای شي. د موسیقۍ د سامان الاتو زده کول هر ځوان ته یوه جلا ځواکمني وربښي او دی کولای شي چې د همدې موسیقۍ له لارې یو زیات شمېر ملګري پیدا او د ډېرو نورو ځوانانو په زړونو کې ځای ونیسي. بلاخره د دې امکان شته چې د همدي هنري ځواکمنۍ له مخې په ملي او نړۍ واله کچه ښه شهرت پیداکړي او د خپل ملت د سرلوړۍ سبب وګرځي.

موسیقي د یو ملت د پېژندنې او سالمې ساعت تېرۍ له پاره یوه بهترینه وسیله ده. که په عادي ژوند کې هم د موسیقۍ اغېزو ته پام وکړو نو په همدغه ټاکلې موده کې چې خلک موزیک اوري او یا د موسیقۍ سامان الات غږوي اصلا دوی له غیبت او نورو ناراوا کارونو څخه ژغورل کیږي.

دا د ډېر تاسف خبره ده چې په افغاني ټولنه کې موسیقي او موزیک له ډمتوب او بدفعلۍ سره تړل شوی دی. دا په واقعیت کې زموږ د خلکو ذهني نیمګړتیا ده. په نوره نړۍ کې موسیقي پوهان او سندرغاړي دومره هڅول کېږي چې د هغوی نقش په ټولنه کې د جمهور رئیس او نورو لویانو کچې ته هم رسېږي.

په لنډه توګه سندرغاړي تل د نورو د خوشحاله ساتلو له پاره خپل لاسونه او خوله ستومانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. دا هم بايد ووايم چې اکثره سندرغاړي د خپل هنر د ثبت او خرڅون له لارې او يا هم په مجالسو کې دهنر ښوونې له لارې ډېر ښه اقتصادي امکانات ترلاسه کولای شي.

په لنډه توګه ځوانانو ته په کلکه سپارښتنه کوو چې د موسيقی د الاتو څخه د يوې الې زده کول، د غزلو ويل، اتڼ او نورو هنري لوبو لکه ډرامې، تمثيلي پارچې او نور ستاسې په ژوند کې ګټور کارونه دي. د خپلې ځوانی او حتا ماشومتوب له وخت څخه د هنر په برخه کې خپل ځواک غښتلی کړئ. البته د موسيقي او هنر تر څنګ ادبيات، شعر او شاعري، رسامي، ليکګري (خطاطي) او نقاشي هغه نور هنرونه دي چې دا هم له يوې خوا د ښه ذهنې پرمختګ او له بلې خوا د ځانګړې ځواکمنی سبب کېږي.

يوه بله مسئاله چې زموږ ټولنه ورڅخه تل محرومه پاتې شوې ده، هغه د يو خوشحاله ژوند لرل دي. زموږ ډېر مشران خندا کول حتا جرم او ګناه بولي. له ماشوم سره مينه کول او د هغه اخيستل او ورسره د هغه په ژبه خبرې کول خو د اکثره ميندو او په ځانګړې ډول د پلرونو له پاره شرم ښکاري. دا زموږ د کلتور هغه منفي اړخ دی چې ورسره مجادله کول د هر افغان مسوولیت او د ځوانانو دنده ده. له ماشوم سره مينه، خندا کول او ټوکې ټکالې، ددې سبب کېږي چې دوی خپل ځانونه له کورنی څخه جلا او په کور کې ځانونه د مېلمه په څېر ونه ګڼي، بلکې خپل ځانونه د کور غړي او د کور په ټولو کړو وړو کې شريک او مسوول وګڼي. او بر عکس، له ماشومانو سره د مينې لړوالي ددې سبب کېږي چې ماشوم خپل ځان پردی محسوسوي او د مينې له پاره نورې لارې لټوي.

زما هېڅکله هم له ياده نه وځي کله چې زه درې کلن وم، د لومړي ځل له پاره خپل پلار په غېږ کې ونيولم او له ما سره يي وخندل. په داسې حال کې چې زه په يوه منوره، علمي او ديني کورنی کې زېږېدلای يم؛ خو د چاپېريال غلط رسم او رواج زه د ماشومتوب له هغې مينې څخه محروم کړی وم، چې بايد زما پلار، ورور او نورو خپلوانو ماته د ژوند له لومړي وخته راکړې وای. او دا د همدې مينې او خندا کمښت ممکن د دې سبب ګرځېدلای و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زه تر ډېرو کلونو پورې ګوښه ناستی او شرمندوک ځوان وم. البته دې کار کلونه واخيستل چې ما په خپل ژوند کې دغه نيمګړتيا تشخيص او له هغې سره د فعالې مبارزې له لارې تر يو ځايه د هغې پر سمولو بريالی شوم.

يوه بله خبره چې کول يې اړين بولم، هغه د ماشومانو له پاره د ماشومتوب د چاپېريال او ماحول تيارول او دوی ته د ماشومتوب ازادۍ ورکول دي. ماشومان بايد پرېښودل شي چې دنيا او خپل چاپيريال درک او وپېژني؛ خو زموږ په ټولنه کې ډېر پلرونه، ميندې او نور خپلوان چې په دغه رازنه پوهېږي، دوی له ماشومانو څخه د غټانو په څېر غوښتنې او هيلې لري، او غواړي چې د دوی ماشومان دې هم کټ مټ د غټانو پيروي وکړي. حتا چې ځينې پلرونه خو په دې برخه کې دومره افراطي او جدي شي چې ماشومان بيا د ماشومتوب روا او سالمو لوبو ته هم نه پرېږدي، دا خو لا څه کوې چې يو ماشوم دې بيا له نورو ماشومانو سره لوبې وکړي.

د ځينو پلرونو په اند بيا د ماشومتوب يوازنۍ بوختيا بايد په جومات کې سبق ويل او لمونځ کول وي او بس. زه په داسې حال کې چې د اسلام د مقدس دين ژوره زده کړه او منظم جومات ته تګ د يو ماشوم په سالمه روزنه کې بشپړ اغېزناک او ګټور بولم؛ خو په داسې جامده توګه د اسلام فشاري ترزيق کول نه يوازې د هغه ماشوم په ګټه نه، بلکې چې دا به له اسلام سره هم ښه سلوک نه وي. په داسې حال کې چې الله جل جلاله ماشومان له ځينو شرعي احکامو او وجايبو څخه معاف کړي دي، ولې موږ په زور خپل ماشومان مجبوروو چې په ډېره وچې توګه اسلام بې له دې چې پرې پوه شي قبول کړي. په داسې حال کې چې د اسلام مقدس دين دومره يو اوچت او عالي اجتماعي نظام دی که په رښتينې معنا ځوانان پرې په هر اړخيزه توګه وپوهول شي؛ نو د هغې ښېګڼې او ګټې به د دې سبب وګرځي چې ځوانان به په پرله پسې توګه او عملا د اسلام د مقدس دين په منلو او نورو ته د هغه په تدريسولو کې لا ښه فعاله او اغېزمنه ونډه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره مو د لوبو او ساعت تېريو کوله، ساينس دا څرګنده کړې، هغه ماشومان چې په وړوکتوب کې د رنګارنګ لوبو او ساعت تېرو له بېلابېلو سامان الاتوسره روږدي وي، د دوی ذهني پرمختګ تر هغو ماشومانو چې له داسې شيانوڅخه بې برخې وي اوچت او د استدلال کولو ځواک يې زيات وي. همدا دليل دی چې اوس په بهرنيو هېوادونو کې د وړو ماشومانو روزنتونونه د لوبو په خورا زياتو سامان الاتو سمبال دي. هغوی خپل ماشومان له بېلابېلو چلنجونو سره مخامخ کوي، ځکه چې هر چېلنج د ماشوم او حتا د لويانو د ذهني تنبيه ا و پرمختګ له پاره ډېره مرسته کوي. حيف!! که له يوې خوا زموږ د خلکو اقتصادي ستونزې او د ژوند ناموزون شرايط ددې لامل شوي دي چې زموږ کوچنيان د لوبو د بېلابېلو وسايلو او حتا په ماشومتوب کې د زده کړې له اړينو او مناسبو لوازمو څخه هم بې برخې پاتې شي. . په داسې حال کې چې په غربي نړۍ کې يوه منځنی کورنی په کال کې په زرګونو ډالره د خپلو ماشومانو د لوبو پر سامان الاتو لګوي، خو په تاسف سره موږ بيا د خپلو ماشومانو له لاسونو څخه هغه کلي، ډانګي، بيتي او لينده هم په زوره اخلو، چې هغوی په خپل ډېر ساده نوښت سره د خپلې ساعت تېرۍ له پاره تيار کړي وي.

ځينې خلک خو خپل ماشومان له نورو ماشومانو څخه لرې او ګوښې را لويوي، چې دغه ډول مسا يل د يو ماشوم په ژوند کې ډېر منفي اغېزې پرېباسي. ځکه موږ له نورو ماشومانو څخه د خپل ماشوم په جلا کولو سره هغه ته پر نورو باندې د اعتماد نه کولو درس ورکوو. په داسې حال کې چې ممکن د هغې د کورنۍ اصلي موخه دانه وي، ولې دا د دې وضعې يو تر ټولو عمده منفي اغېز دی، چې دا بيا زموږ د ماشومانو تر منځ او بالاخره زموږ په ټولنه کې د انسانانو تر منځ د بې اعتمادۍ لار برابروي. په دې مسئلې پوره پوهېدل هغو هېوادوالو ته چې يواځې په افغانستان کې يې ژوند کړی وي او د بهرنۍ نړۍ او نورو انسانانو چلند يې له خپلو ماشومانو سره نه وي کتلای، يو څه ستونزمنه برېښي چې هغوی چېري هم د داسې يو محيط تصور وکړي چې ماشوم ته په کې د ماشوم په سترګه کتل کېږي او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومتوب نه د خوند اخیستو په موخه هغه ماشوم ته هر ډول د لوبو او ساعت تېرویو او لومړنیو زده کړو شرایط برابرول کېږي. زه په دې برخه کې د خپل ځان مثال راوړم. زه چې کله ماشوم وم، نو دا خو لاپرېږده چې مور او پلار راته د لوبو سامان الات واخلي، حتا ما او زما د کورنۍ نورو ماشومانو ته ددې اجازه هم نه وه چې موږ دې له نورو ماشومانو سره یو ځای لوبې وکړو. خو که کله به مو بیا په خپلو کې هم لوبې کولې، نو هڅه به مو دا وه چې مشر بابا او یا پلار مو ونه ګوري او که نه نو بیا مو خیر نه و. زموږ د مشرانو له نظره د ماشومتوب کلیوالې لوبې هم جرم او ګناه ګڼل کېدې.

۲٤ - ښوونکو ته لارښوونې:

لکه څومره چې د مور او پلار او کورنۍ رول د یو ځوان د شخصیت په جوړېدنه او پرورنه کې ارزښتمند او موثر دی همدا راز د ښوونکو او د مکتب د ادارې رول د زده کوونکو د شخصیت په جوړونه او پرورنه کې موثر او مهم دی. متاسفانه تر اوسه زموږ ډېر ښوونکي او اداره چیان له دې کبله د شخصیت د جوړېدو، پرمختیا او موثریت په اړه او همدا راز په دې برخه کې د ښوونکي د رول په اړه معلومات نه لري؛ نو ډېر ځله داسې شوي او کېږي چې استاد په ناارادي او لاشعوري توګه د شاګرد په اړه داسې کارونه کوي او یا شاګرد په داسې توګه توهینوي چې د هغوی شخصیت او احساس ته جدي صدمه رسوي. د دې له پاره چې ښوونکی لومړی د موضوع په ارزښت پوه او بیا په دې اړه مناسب اجرات وکړي؛ نو په دې اړه لاندې لارښوونې وړاندې کوو:

۱ : ښوونکي باید ځانونه د شخصیت په جوړونه، د هغې په ارزښت، د هغه عوامل چې شخصیت ته ناګټور او یا ضرر رسوونکي دي، ځانونه وپوهوي. چې په دې اړه معلومات ترلاسه او دامکان په صورت کې د دې رشتې د متخصص نه معلومات تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. ښوونکي باید شاګردان د خپلو بچو په څیر وروزي.

۳. ښوونکي باید د پوره حوصلې او ذغم لروني وي.

٤. ښوونکي باید د هر شاګرد ځانګړي ضرورتونه درك او د هغې په برخه کې د شاګرد سره لازمي همکاري وکړي.

٥. ښوونکي باید د هر شاګرد د کورنۍ حالت په اړه پوره او اوړند معلوماتونه ولري، تر څو د هغې په رڼا کې د هر ماشوم ځانګړي ضرورتونه تشخیص او ورته لازمه رسیدګې وکړي.

ښوونکي باید د شاګردانو رازونه په مناسبه توګه وساتي، تر څو پري د شاګردانو اعتماد زیات شي، او د ضرورت په وخت کې شاګرد استاد ته خپل اوړند ستونزي وویلې شي.

٦. ښوونکي باید د شاګردانو د پلرونو او کورني سره دوامداره اویکي ولري، او د کورنیو غوي د شاګردانو په کړو وړو خبر کړي.

۷. ښوونکي باید وخت په وخت د شاګردانو پلرونه راوغواړي او ورته لازم معلوماتونه او لارښووني ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی

## د ژوند پړاوونه، د فعال او اتوماتيک ژوند

۲۵ -د انساني ژوند پړاوونه اود هغوی د غني کېدو اغېزمنې لارې:

د هر انسان ژوند درې پړاوونه وهي. د پيوستون پړاو، د خپلواکۍ پړاو او د اجتماعيت پړاو.

لومړی: د پيوستون پړاو:

د پيوستون پړاو له ماشومتوب څخه پيلېږي او د خپلواکۍ تر پړاو پورې رسيږي. په دې مرحله کې (فردي کاميابۍ) مهمې دي. او دا کاميابۍ ددې سبب کېږي چې هغه فرد ژر او په اغېزمنه توګه د خپلواکۍ پړاو ته انکشاف وکړي. لانديني عوامل ددې پړاوو په کاميابۍ کې اغېزمن دي:

۱. پلان شوی او با تدبيره ژوند کول **(Proactive life style)**

۲. د هر کار له پيل څخه بايد د هغې پايله په پام کې ونيول شي. يعنې هر کار ته چې ننوځئ، بايد په دې ډاډمن اوسې چې هغه به بشپړوئ.

۳. بايد د خپل ژوند په چارو کې لومړيتوبونه او نظم، مراعات او عملي کړئ.

هر څومره چې تاسې دغه اصول په پراخه توګه په پام کې ولرئ، او په منظمه توګه يې رعايت کړئ، همااغومره به تاسې په کاميابه توګه د خپلواکۍمرحلې ته ژر او برياله ارتقا وکړئ.

دويم: د خپلواکۍ پړاو:

دا مرحله د پيوستون پړاو له پای نه پيل او د اجتماعيت تر مرحلې پورې رسېږي. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرحله کې عامه پیروزي د انسان اساسي موخه جوړوي. د ټولنېز بري له پاره د نورو اعتماد او ملاتړ د پوره بریالیتوب بنسټ جوړوي. نو په خپلو ټولو کړو کې د نورو خیال ساتل اړین دي. یعنې ټول کارونه باید داسې ترتیب شي چې په هغې کې یوازې ستاسې ګټې نه، بلکې د نورو ګټې هم په پام کې نیول شوي وي، چې دې ته **Win/Win Situation** هم وایي.

ددې مرحلې ځینې ځانګړتیاوې:

۱. لومړي نورو ته غوږ نیول او هغوی ته ارزښت ورکول، او بیا ورته خپله خبره کول.

( ددوو غوږونو او یوې ژبې خدایي حکمت لږ ویل او ډېر اوریدل دي. م، م)


ښه خبره داده چې هر انسان باید دوه غوږونه او یوه ژبه وکاروي. ددې له پاره چې نور تاسې ته غوږ ونیسي، نو لومړی باید چې تاسې هغوی ته غوږ ونیسئ. د همدې موخې له پاره لوی الله جل جلاله موږ ته دوه غوږونه او یوه ژبه راکړې ده.

۲: د نورو ملتیا راجلبول: باید کوښښ وکړئ چې خپل ټولو کارونه له نورو سره په تفاهم کې تر سره کړئ او د هغوی ملاتړ په خپلو چارو کې تر لاسه کړئ.

ددې پورته موضوعاتو په پام کې نیول او عملي کول به تاسې درېیمې مرحلې ته لا ښه چمتو کړي.

درېیم: د اجتماعیت یا اړیکتوب پړاو:

په دې مرحله کې تاسې د ټولنې له نورو غړیو سره یو ځای د ټولنې د بهبود او پرمختګ له پاره کار کوئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



له ښکته نه پورته، لور ته د ژوند بېلابېلې دورې

## ۲۶-سنجولې که اټوماټيک ژوند **Active or AutomaticLife**

که مو خيال کړی وي، موږ ټول په خپل ژوند کې کارونه ددې پر ځای چې د عقل، سنجش او ارادې او هوډ له مخې تر سره کړو، ډېرکارونه په اتوماتيک ډول تر سره کوو. د بېلګې په ډول دا زموږ عادت ګرځېدلای چې سهار پاڅېږو او خپل ورځني کارونه بې له دې چې پرې فکر وکړو تر سره کوو. په دې برخه کې کله کله دومره افراط ته هم ورسېږو، چې د موټر ډريوري هم چې يو حساس او خطرناک کار دی، هغه هم راڅخه اتوماتيک شي. که مو پام کړې وي، چې کله يوې اشارې ته ډير موټري ولاړي وي، نو که يو يې په سهوه کی حرکت وکړ، نو دا نور ټول هم ورسره بيلدي چې اشاری ته وګوري، ورسره سم حرکت کوي. دا د اتوماتيک ژوند يوه ښه بيلګه ده. دا اتوماتيک ژوند زياتره د ډيرو خطرناکه پايلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ترلې وي. که موږ خپل ژوند په فعاله یا سنجولې توګه پیل کړو ، نو د خپل ژوند ډېرې نیمګړتیاوې به مو را کمې کړې وي.

انسانان په خپل ژوند کې همېش له چلنجونو سره مخ کېدونکې دي. هر چلنج انسان اړباسي چې له دوو حالتونو څخه یو غوره کړي. یا به عمل کوي او یا به پرې عمل کېږي. یعنې یا به فاعل وي او که نه نو نور به پر هغه خپل عملونه تحمیلوي. نو ښه به دا وي چې تاسې د یو عمل کوونکې شئ نه دا چې د بل چا د عمل له پاره د مفعول حیثیت ولرئ. نو اوس دا په افغانانو پورې اړه لري چې د خپل هېواد د خپلواکۍ، ودانولو او پرمختګ له پاره عمل کوئ، او که غواړئ چې د تل له پاره د نورو ګاونډیو هېوادونو د تهاجمونو له پاره د مفعول حیثیت ولرئ!

د افغانستان له ستونزو یوه ستونزه همدا ده چې خلك یې د خپل هېواد له پاره د تدبیر نیولو پر ځای تل د پردیو د تجاوزونو ښکار شوي. دوی همېشه د یرغلګرو پر وړاندې قربانې ورکړې او په ډېرو قربانیو یې خپل هېواد ازاد کړی دی، خو له دې کبله چې بیا یې خپل وطن ته شا کړې ده، نو هېواد یې وروسته پاتې شوی دی او په همدې وجه یو ځل بیا د نورو د تېریو او ښکېلاك هدف ګرځېدلای دی. که مو فکر کړی وي، نو افغانان تل په دې ویاړي چې د دوی ملت یو جنګیالی ملت دی. هو دا یوه ربښتیا خبره ده چې افغانانو همېشه د بهرنیو یرغلګرو پر وړاندې ډېرې قربانۍ ورکړې او همېش یې د خپل هېواد له ازادۍ څخه په نره دفاع کړې ده. اما دا هم باید ومنو چې افغانانو هېڅکله هم دا هوښیاري نه ده کړې، چې له ازادۍ نه وروسته خپله ملا وتړي او خپل هېواد دومره اباد او پیاوړی کړي چې بیا پرې بل څوك د یرغل کولو توان ونه لري. افغانانو ته زما پیغام دادی چې موږ ته دا پکار دي چې اوس نو باید یو هوښیار ملت هم شوو. او په دې فکر وکړو چې څنګه کولای شو دا خپل هېواد په ګډه یو ځل داسې مرحلې ته ورسوو چې څوك پرې نور د یرغل کولو توان ونه لري.


(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷ - د عمل او غبرګون ډولونه:

انسانان همېشه د يو ژوندي موجود په صفت د خپل بقا په خاطر په خپل چاپيريال کې د هر ډول پېښو پر وړاندې غبرګونونه ښيي. چې دغه غبرګونونه په دوه ډوله دي، چې يو ډول يې تدبيري غبرګون دی، چې په هغې کې انسانان لومړی د يوې پېښې پيش بينې کوي او د پېښې د پېښيدو نه مخکې خپل ځان ورته چمتو کوي. چې دې ته سنجولې يا **Proactive** غبرګون وايي. او بل ډول يې هغه غبرګون دی، چې انسان يې د يوې پېښې د پيښيدو پر مهال د هغې په وړاندې يو سملاسي غبرګون ته چمتوالی نيسي چې دې ته **Reactive** غبرګون وايي.

ځوانان بايد پر دې پوه شي چې انسانان د محيطي پېښو يا ګواښنو پر وړاندې تدبيري او يا احساساتي غبرګون ښيي. هغوی چې د احساساتي غبرګون خاوندان دي، دوی د **Reactive** په نامه يادېږي. دا ډول وګړي د ټولنې اکثريت جوړوي. د تنبهاتو پر وړاندې داسې غبرګون ښيي چې په هغه کې نور اړخونه او فکتورونه لکه وجدان، تصور، درک او ناپېيلتوب په پام کې نه نيسي.





له بلې خوا هغوی چې د تنبهاتو په مقابل کې خپل غبرګونونه د وجدان، تصور، درک او ناپېيلتوب په رڼا کې برابروي، دوی د **Proactive** په نامه يادېږي. نو ددې خلکو پرېکړې زياتره پر تدبير ولاړې وي، او پرېکړې يې هم ښايي ګټورې وي. نو په دې وسيله له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانانو نه هیله کوو چې په خپلو پرېکړو کې له**Proactive** رول څخه کار واخلي او د **Reactive** غبرګون څخه ډډه وکړي.




نو ددې له پاره چې مو خپل ځوانان د راتلونکې له پاره په ښه توګه چمتو کړي وي، نو دادی دغه کتاب هم په **Proactive** توګه د ځوانانو د ښې روزنې او ښه شخصیت د لرلو له پاره وړاندې کوو.

یادونه: عکس العمل ته**Responsability** وایي. چې له دوه کلمو **Response** او **Ability** نه جوړ شوی دی. یعنې هر انسان ددې وړتیا **(ability)** او ځواک لري چې خپل عکس العمل (**Response)** کابو او کنترول کړي او هغه د تعقل، وجدان، درک او بېطرفۍ له مخې تنظیم او ترتیب کړي. په افغاني کلچر کې د عکس العمل ښه کنترولول ستایل شوي او هغوی چې د حوداثو پر وړاندې بې حوصلې او غم غوسه زغملای شي د خلکو له خوا تقدیرېږي.

۲۸ - انساني سلوك او پر نورو یې اغېزې:

۱. کو ښښ وکړئ چې دورځې لږ تر لږه یو تن د ناڅاپه ښه چلند او ښه سلوك په کولو سره خوشاله کړئ او وې خندوی. که بل څه مو په وس پوره نه وي پر یوچا مثبته تبصره وکړئ. د بېلګې په توګه: تاسې خو یو پوه، سپېڅلي، رښتیني، مېلمه پال، اغېزمن، خدمت ګار، سړی یا ښځه یئ. دغه ډول تبصرې به دخلکو مینه له تاسې سره زیاته کړي.

۲ دبدو ځواب په خو ږو ورکړئ. که څه هم دا خورا ستونزمن کار دی، خوکه یوځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



موددې خوند ولید، نو بیایې کول اسان او ډېرخوشالو نکې دی. د بېلګې په ډول که یو ځوك تاسې ته په غوسه شي او بدې خبرې کوی، تاسې ورته وخاندئ او ورنه بخښنه وغواړئ، نو بیا وګورئ چې هغه سړی به ځومره ستاسې قدراوعزت کوي. غواړم په دې برخه کې خپله یوه تجربه له تاسې سره شریکه کړم:

زه په (۱۳۸۱) لمریز کال کې له امریکې نه افغانستان ته راغلم له خپل کلي ځخه مې یو تن د محمد اصف په نوم له ځانه سره د ډریور په توګه کابل ته بوت. اصف یو تند خویه هلك و. تاسې ته معلومه ده چې په کابل او جلال اباد کې ډېر ډرېوران اصول او قوانین نه مراعاتوي، یو له بل نه مخکې کېږي. په کابل کې ځوځلي له داسې پیښو سره مخ شوم چې د مقابل ډرایور او اصف جان تر منځ به شور ماشور جوړ شو. له عادت سره سم به اصف موټر ودراوه او له موټر نه به راکوز شو او هغه بل ډریور ته به یې واسکټ وویست او د جنګ بلنه به یې ورکړه. اصف یو دوه جنګونه وکړل. زه حیران پاتې وم چې څه باید وکړم. له یوي خوا د وطن رواج حکم کاوه چې زه باید په جګړه کې برخه واخلم او له اصف سره په جګړو کې مرسته وکړم، او هغه بل کس ته وهل او ټکول ورکړم. که څه هم چې زه به په کې ټکول وخورم، خو باید د اصف پلوي وکړم، ولو که اصف به پړ هم و. که دا کار ونه کړم، نو دا خو د کلي د دود له مخې بې غیرتي ده . له بلي خوا زه یو لوستی شخص وم. جنګ کول بیا په تېره د لوستي وګړي له پاره ډېر شرم دی. نو زه ددې دوو په منځ کې هکك حیران پاتي وم. ما تر ډېر سوچ وروسته اصف ته وویل: که زما منې نو زه درته یو چل ښیم. هغه راته وویل چې وو‌ایه څه چل دی؟ ما ورته وویل (بل ځل چې ستا مقابل ډریور درته په غوسه شو، نو ته ورته وخانده. که هغه ښکنځلې هم کولې ته ورته لاس پورته کړه او سلام ورته ورکړه، او مسکی شه، او بیا وګوره چې څه کېږي.) یو ساعت لا تېرنه و چې په یوه ځلورلارې کې د اصف جان موټر له یو بل موټر سره پوز په پوز شو. ګناه د اصف جان وه، هغه بل ډرایور ډېر په غوسه شو او په کنځلو یې پیل وکړ. ما اصف

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسکونله، هغه پوه شو او هغه بل ډرايور ته يې وخندل او بيا يې ورته سلام وکړ. د اصف په دې عمل هغه ډرايور حيران پاتې شو، نه پوهېده چې اوس څه وکړي. په منله راښکته شو د اصف ږېره يې ونيوله او ښښنه يې ورنه وغوښته. سره له دې چې د اصف جان حق هم نه و، هغې ډرېور نور موټرونه ودرول او اصف ته يې لاره پرانسته چې ولاړشي. څو شېبې وروسته اصف جان راته وويل: «ډاکترصيب! ډېر خير يوسې. زه خو دې له پوره مصبيت نه خلاص کړم. زما خو به په اونۍ کې ضرور يو جوړه جامې په جګړو کې شکېدلې. زه اوس پوه شوم چې څه بايد وکړم.»

د غوسې په مقابل کې نرمي، خندا، او سلام د جنګ جګړې د مخنيوي او د خپل مطلب دلاسته راوړلو او عزت ساتلو يوه اسانترينه لاره ده. زه غواړم چې تاسې هر يو پورتني مطلب په خپل ژوند کې عملي کړئ، او نورو ته يې هم توصيه وکړئ. خندا او ښه خوی چې د الله جل جلاله ستره او غوره ورکړه ده، هر ځای کې په مناسبه توګه وکاروئ. ګټې يې بې حسابه او ډېرې خوندورې دي.

کله چې په ١٣٨٤ لمريز کال کې زه بيا له امريکې څخه افغانستان ته راغلم او دا ځل مې يو بل کليوال سعدالله جان له ځان سره د ډرايور په توګه ګرځاوه، سعدالله جان له ما سره جلال اباد او کابل ته ولاړ. زما د خندا، سلام او موسکا څو بېلګې چې سعدالله جان وکتلې، هغه هم حيران پاتې شو. په لاره او دفترونو کې به عسکر ولاړ وو چې د موټرو تلاشي به يې اخستلې، او يا به يې موټرې دننه نه پرېښودلې. سره له دې چې زموږ موټر تر نورو ډېرو زوړ هم و خو چې کله به موږ دغو تالاشيو او پيره دارنو ته ور ورسېدو، نو زه به ورته له لرې نه موسکی شوم، او لاس به مې ورته د سلام په دود پورته کړ. دا به ډېر ځل ددې سبب شو چې هغه عسکر به هم سلام وکړ، او زموږ موټر ته به يې بې له تالاشی اجازه ورکړه چې لاړشي. که څه هم دا موضوع سعدالله جان ته په زړه پورې او د خندا وړ وه، خو له ما سره يې دوه نظرونه پيداکړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو خو دا چې د افغانستان ټول وګړي دومره ترخه دي چې خندا او موسکا خو د هېڅا پر مخ نه لیدل کېږي. او دغه بېچاره عسکر خو بیا هېڅ ددې تمه هم نه کوي چې دوی ته دې څوك موسکي شي، او یا دې ورته سلام وکړي، ځکه چې ډېر موټر لرونکې خو قوماندانان او جنګسالاران دي، چې عسکر ورته انسانان هم نه ښکاري. او نور پاتې خلك خو هسې وچ په وچه تراخه دي، او خندا او سلام هم ور نه د زمانې څېړو له یاده ویستلي دي. دوی ته زه یو لوستی، په ښه لباس ملبس او شتمن سړی ښکارېدم نو بیا خو زما له خوا دوی ته سلام اچول او موسکا د الله جل جلاله نعمت برېښېده، نو بیا خو دا تالاشي کول چې د دوی یواځینی صلاحیت و، هغه به یې پرېښوده او پر ځای به یې د چایو ست او سلا هم کوله. دا زموږ له پاره یوه ښه وسیله وه چې له بېځایه تالاشیو او سرخوږي نه یې خلاصولو. دا مثال موږ ته دا واقعیت راپه ګوته کوي چې زموږ ټولنه نه یوازې دا چې د موسکا او خندا له نعمت څخه محرومه ده، بلکې سلام اچول چې د اسلام یو رکن دی، افغانان له دې نعمت نه هم بې برخې شوي دي. نو زه تاسې ځوانانو ته توصیه کوم، چې د خپلو خلکو او په ځانګړي ډول د کشرانو او غریبانو سره موسکا او خندا شریکه کړئ او دوی ته په سلام اچولو کې لومړي شئ. دوی به له تاسې څخه خوشاله او ستاسې به لا زیات عزت او قدر وکړي.

# اتم څپرکی

## ځوانان، د دوی وړتیاوې او مسوولیتونه

۲۹ - وړتیاوې او مسـوولیتونه:

لکه څرنګه چې پاك خدای جل جلاله انسان (اشــرف المخلوقات) پیداکړی او هغه ته یې د دنیا پر ټولو موجوداتو تسلط او برتري ور کړې ده؛ نو د دې تر خوا یې انسان په دې هم مکلف کړی چې د ښو او بدو تر منځ توپیر وکړي. ښو ته ښه او بدو ته بد ووایي. د ښو ملګرتوب او د بدو مخالفت وکړي. صلاحیت او مسؤولیت د یوې سیکې دوه مخونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاحیتونه بې له مسوولیت څخه د جنایاتو لامل ګرځي. چې ښه بېلګه یې زموږ په هېواد کې له تېرو دېرشو کلونو راهیسې د جنګسالارانو او د اوسمهال دولت خپل سري ده.

او مسوولیتونه بې له صلاحیتونو نه د ناکامۍ او نا هیلۍ لامل کېږي. لکه په دې وروستیو کلونو کې چې افغانان ورسره مخ شوي دي.

ځوانان او مسوولیتونه یې:

د ځوانانو عمده او لومړني مسوولیتونه څه دي؟

د ځوانانو عمده مسوولیتونه په لاندې ډول خلاصه کېږي:

۱. سالمه تربیه او نا ارادي زده کړې

۲. ځان پېژندنه

۳. سالمه او بشپړه زده کړه

٤. د شخصیت جوړېدل

٥. د ژمنې او با مسوولیته کورنۍ تامین

٦. د هېواد او هېوادوالو د چوپړ او پرمختګ په برخه کې په څرګند ډول له مسوولیته ډکې ونډې اخستلو سره یو ښه، ګټور او ټولنیز شخصیت جوړېدل که څه هم هر ځوان ممکن تر ډېره ځایه له دغو مسولیتونو څخه خبر وي او د هغې د سرته رسولو په برخه کې تر ډېره ځایه هلې ځلې هم تر سره کوي، خو غواړو چې په دې کتاب کې دا مو ضوعات د یوې فعالې زده کړې په توګه د ځوانانو د ښې لارښوونې په موخه په هر اړخیزه توګه و څېړو.

۳۰ = وخت، هر څه پر خپل وخت او د وخت پر ځای کارول:

وخت د انسان په ژوند کې یوه ډېره ارزښتمنه شتمني ده. خو متاسفانه ډېر محدود کسان دي، چې د وخت پر ارزښت پوهېږي او سمه ګټه ترې اخلي. د نړۍ یو زیات شمېر خلك دغه ارزښتمنه شتمني په ډېره بې ارزښته توګه له لاسه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ته د ارزښت نه ورکولو او پر ځای یې د ناسم کارول دوه اساسي لاملونه لري.

لومړی دا چې وخت کوم ټاکلی قیمت او أنې نرخ نه لري. د وخت ارزښت او قیمت هغه مهال خلکو ته معلومېږي چې له لاسه یې وتی وي. د بېلګې په توګه له ما سره څلور داسې چلوونکي (ډرېوران) ول، چې دوی یا بیخي زده کړې نه وې کړې او یا یې هم زده کړې نیمګړې پرېیښې وې. سره له دې چې ما دوی ته د زده کړې کولو او بشپړولو پوره امکانات او شرایط برابر کړل؛ خو دغه مهال له دوی سره نه هغه پخوانۍ حوصله پاتې وه او نه هم حافظه، نو په دغو څلورو کسانو کې یو هم له دغو امکاناتو او شرایطو څخه موثره ګټه ونشوه کړای.

د وخت پر ارزښت د لاندې څو بېلګو تر لوستلو وروسته ښه پوهېدلای شو.

که د یوې الوتکې پیلوټ په هوایي ډګر کې د الوتکې د کښته کېدو پر مهال یوازې یو څو ثانیې بابیزه وګڼي او اهمیت ورنه کړئ؛ نو خامخا به له یوې بلې الوتکې سره ټکر کوي، چې د لویو زیانونو سبب به شي. همدرانګه که د دوو موټرونو له چلوونکیو څخه یو یې له بل څخه د مخکې کېدو په وخت کې یوازې څو ثانې بې غوري او تنبلي وکړي؛ نو شونې ده چې په پایله کې یې د دوو موټرونو ټکر او د څوکسانو مرګ ژوبله رامنځته شي.

له دې بېلګو څخه ښه درک کولای شو، چې وخت څومره قیمتي، او ارزښتناک دی. له وخت څخه مناسبه او موزونه ګټه اخیستل هم ځانګړې هوښیاري غواړي.

د انسان په ژوند کې د بېلابېلو کارونو او چارو ترسره کولو له پاره بېلابېل وختونه ټاکل شوي دي، په دې معنا چې که ځینې کارونه په خپل وخت کې ترسره نه شي؛ نو بیا یې وروسته او بې وخته ترسره کول ستونزمن او زیاتره ناشوني وي.

د ماشومتوب په دوره کې بایده دي چې دیني او ابتدایي زده کړې ترسره شي، همدغه دوره د نېکو او غوره اخلاقو د زده کړې هم ده. په همدې دوره کې باید ماشومانو ته د ښو زده کړو په اړه ډېره پاملرنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تنکۍ ځوانۍ په دوره کې لومړنۍ زده کړې، په جومات کې ديني زده کړې، ښو او نېکو اخلاقو زده کول، له مهمو او ضروري کارونو څخه ګڼل کېږي. ځوانان بايد په دې دوره کې د زده کړو په برخه کې سالم رقابت کولو ته وهڅول شي. مور او پلار، کورنۍ او ښوونکی بايد ځوانان دې ته وهڅوي چې په ښوونځي کې د اول نمره ګۍ له پاره له يو بل سره سيالي وکړي. سربېره پر دې ځوانان بايد په دې وخت کې بدني ورزش او د موسيقۍ الاتو زده کړې ته وهڅول شي.

ممکن موسيقي زموږ په ټولنه کې د يو شمېر خلکو په نظر غوره نه؛ بلکې يو منفي څيز اوسي، خو موسيقي هم د ژوند د نورو څيزونو په څېر کېداې شي چې په منفي توګه او يا هم مثبته توګه استعمال کړاې شي. دا به ښه وي چې زموږ ځوانان پر دې وپوهول شي چې د موسيقۍ زده کړه او په مناسبه توګه يې استعمال نه دا چې شايد ګناه نه وي؛ بلکې يو ښه کار وي.

د لويو ځوانانو له پاره دا ضرور ده، چې له يوې خوا خپلې ورځنۍ زده کړې په منظمه او موثره توګه پر مخ يوسي؛ خو ددې تر څنګ بايد د خپلې ټولنې په اړه نورې اړونده زده کړې، لکه سياسي، اقتصادي او اجتماعي موضوعات هم بايد زده کړي. خپل وطن تاريخ، کولتور او مقدسات بايد وپېژني او خپله ټولنه په سيمه کې وارزوي. د خپل هېواد او ګاونډيو هېوادونو د ګټو په اړه او د هغو د حيله ګرو پاليسيو په اړه ځان پوه کړي. زموږ د ټولنې موجوده غټ مشکل دا دی چې زموږ زيات خلك د ګاونډيانو په حيلو او مکاريو نه پوهېږي، او په احساساتي توګه د هغو د توطيو ښکار کېږي، چې د اسلام، پښتو، دري، شعيه ايزم او نورو توطيو په کارولو سره زموږ خلك په خپلو منځو کې له يو بل سره جنګوي. نو زموږ ځوان نسل ته دا په کلکه په کار ده چې د خپل هېواد ګټې او سياسي ضرورتونه وپېژني او دخپل هېواد په مقابل کې د سيمې د هر هېواد پر توطيو او دسيسو ځان پوه کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۱ - ژوند د یوې موخې له پاره :

ژوند یوه اوږد او ار زښتناك بهیر دی. هر څومره چې له ځوانۍ څخه ځان دې بهیر ته ښه چمتو کړئ، هماغومره به تاسې په خپل راتلونکې اوږد ژوند کې لا ډېر اسوده، کامیاب او د ویاړلي ژوند څښتنان یئ. د دې له پاره چې په ښه توګه د راتلونکې ژوند او ننګونو ته چمتو اوسئ، نو باید خپل ځان ته کلکه پاملرنه وکړئ. او د خپل شخصیت په جوړونه او روزنه کې اړین او لازم فرصتونه له لاسه ورنه کړئ.

غواړم تاسې ته په دې اړه سپارښتنه وکړم، چې د ژوند په ټولو چارو کې ځان ته روښـــانه هدف،با تدبیره پلان او ثابته کړنلار (تکتیکونه) غوره کړئ او په دې برخه کې د پرمختګ د پوهېدو له پاره ځانګړي پړاونه (Mile Stones) وټاکئ چې په دې توګه خپل پرمختګ او شاتګ وارزولی شئ. د هر کار د سالم او په سمه توګه تر سره کولو له پاره یې باید لاندې درې شیان روښانه شوي وي:



(c) ketabton.com: The Digital Library



× × × × × × ×

۱. یوه روښانه او ټاکلې موخه (څه غواړم؟)

۲. ټاکلی وخت (یعنې کله باید دا کار سر ته ورسوم؟)

۳. د موخې له پاره معیارونه یا ځانګړنې چې په انګلیسي ژبه کې ورته ***quality*** او دغې پروسې ته وړ څارنه **quality control** وايي.

دغه ځانګړنې باید چې د هرې موخې په اړه مخکې د مخکې نه تثبیت وي. هر څومره چې دا ځانګړنې تثبیت او روښانه وي نو تاسې په اسانۍ سره کولای شئ چې په هغه کار کې خپل پرمختګ اندازه کړای شي، او د هغې له مخې په خپل سرعت او د هغې موخې په څرنګتیا (***quality***) کې اړین بدلون راولئ.

په تېرو دیرشو کلونو کې زموږ ځوان نسل د علم، تربیې او هېواد ته له چوپړ کولو څخه محروم کړل شوی و، چې دې مسئلې نن زموږ هېواد په نړۍ کې تر ټولو په یوه وروسته پاتې، نالوستې او بې مسوولیته ټولنې بدل کړی دی. غواړم په دې توګه خپل ځوان نسل خپلو هغو مسوولیتونو ته ځیر کړم، چې دوی یې د خپل هېواد، خپلو خلکو او راتلونکېو نسلونو پر وړاندې لري؛ نو راځئ چې په ګډه لومړی د خپل ځوان نسل په سالمه روزنه کې خپل مسوولیتونه ادا، او بیا د همدې ځوانانو په لارښوونه او ملګرتیا د خپل هېواد د یوې روښانه او ځلاندې راتلونکې په پار (خاطر) مخ پر وړاندې لاړ شو.

د دري یو شعر دی چې وايي:

چو شمع از پي علم با يد گداخت

که بي علم نتوان خدا را شناخت

زموږ افغانانو تر ټولو غټ کړاو دا دی چې لا تر اوسه پر دې نه پوهېږو چې موږ څه ډول افغانستان غواړو؟ او داسې افغانستان ته د رسېدو له پاره څه شي ته اړتیا ده؟ موږ څرنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شو چې په دغه کړکېچن چاپېريال کې د يو خپلواک او وياړلي او هوسا هېواد لرونکې شوو؟

دا هغه پوښتنې دي چې هر افغان او هر ځوان يې بايد له خپل ځان څخه وپوښتي او له دې سره سره بايد موږ هر يو له خپل ځان څخه دا هم وپوښتو چې زه د داسې يو افغانستان په جوړولو کې څه کولای شم؟

يوه تکړه ټولنپوه (**Stephen Covey**) وايي چې د نړۍ ټول شيان بايد پر درېوو برخو وويشو:

يو هغه خلک او شيان دي چې تاسې پرې هېڅ ډول لاس برى نه لرئ نو د ژوند کولو له پاره له هغوى سره د گوزارې لارې چارې زده کړئ او په کار يې واچوئ. د بېلگې په ډول، تاسې باران اوربدل نه شئ بندولای، نو د هغې له پاره بايد چترۍ واخلئ.

دويم هغه خلک او شيان دي چې تاسې پرې نا بشپړ لاس برى لرى. چې په دې کې ستاسې خپلوان او نږدې ملگري راځي. نو له دوى سره بايد په پرله پسې توگه په پوره حوصلې کار وکړئ.

درېيم يې هغه څه او څوک دي چې تاسې پرې بشپړ لاس برى لرئ، او هغه يوازې او يوازې ستاسې خپل ځان دى. نو ددې له پاره چې له حالاتو سره د مبارزې په لاره کې تاسې يوازې پر خپل ځان پوره واکمني لري؛ نو بايد چې خپل واک او ځواک هم د خپل ځان په برابرولو او لوړولو کې ولگوئ. نو هېڅ شى هم بايد تاسې ته تر خپل ځان زيات ارزښت ونه لري او دا يوازې تاسې يئ چې کولای شئ خپل ځان ته ښه يا بد موقف ورکړئ. البته د بد موقف گټل اسان، اما د ښه موقف گټل گران دي، او پرله پسې هڅې او مجادلې ته اړتيا لري. چې په دې برخه کې د ژوند له پاره د يوې ځانگړې موخې لرل تر بل هر څه اړين او ټاکنده نقش لري. په ژوند کې د يو هدف لرل دا معنا لري چې يو سړى يو ټاکلي ځاى ته رسيدل غواړي. که هدف نه وې معلوم، نو په دې نه پوهيږې چې چېرته روان دى؟ پر کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لار ولاړ شي؟ او په دې لاره کې يې ستونزې څه دي؟ څه وسايل ورته په کار دي؟ په کوم سرعت ولاړ شي چې په ټاکلي موده کې خپلې موخې ته ورسېږي؟ د انګلسې ژبې يو متل دی چې وايي :

***"Those who don't know, what they want, will fall for any thing"***

يعنې هغوی چې هدف نه لري پر هره لاره چې سرشوهغې خواته به ځي.

د يوه روښانه هدف او ټاکلي جهت د لرلو ارزښت له دغه لاندني مثال څخه ښه څرګندېږي. که تاسې د صفر په موقعيت کې قرار ولرئ او هدف مو ښي خواته لس متره لرې وي، نو که تاسې په هر سرعت هم وکولای شئ خو د خپل هدف په لوري روان اوسئ نو په پای کې به خپل هدف ته ورسيږئ. او که تاسې برعکس کيڼ لور ته حرکت کوئ، نو نه يوازې دا چې تاسې به خپل هدف ته ونه رسيږئ، بلکې د هر قدم په اخستلو سره به د خپل هدف نه لا نور هم لرئ کېږي. نو د هدف د ټاکلو تر خوا د خپل هدف جهت تعينول خورا مهم او ارزښتناک کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهم څپرکی

## اداب

### ۳۲ - اداب یا **(Manners)**:

اداب هغه کليمه ده چې په يوه ټولنه کې د منلای شويو ارزښتونو منل او له يوه نسل څخه بل ته يې په عملي توګه د رسونې معنا لري.

اداب د شرقي ټولني يو ځانګړې خصوصيت دي، چې د غربي ټولنو د ماهيت سره ډېر فرق لري. اداب اکثرا په يوه ټولنه کې ليکل شوي نه وي؛ بلکې يوازې د يو کلتوري محيط په منځ کې هغه په عملي توګه له يوه نسل نه بل نسل ته انتقال مومي. د ادابو زده کول يوازې په يوه عملي محيط کې امکان لري او بس.

لکه چې ومو ويل، اداب يوازې په عملي توګه زده کېږي؛ خو له دې کبله چې زموږ ټولنه په تېرو پينځه دېرشو کلونو کې د جنګ، هجرت او نورو داسې چېلنجونو سره مخ شوه، چې د هغې له کبله اکثره کورنيو د خپل د طبعي ژوند محيط او شرايط له لاسه ورکړل، کورنۍ بېځايه شوې، حجرې، دېرې، دسترخوانونه او ګډ خواړه بې نظمه شول او له منځه لاړل. پلرونه شهيدان، ميندې کونډې، د بچېو سرپناه او يوه مړۍ ډوډۍ پيدا کول ورته اوليه فرض وګرځېدل. نو نه مور ته دا محيط و چې هغه اداب چې په يوه طبعي ماحول او کورنۍ کې بچيانو ته ورښودل کېږي اوس خپلو بچو ته وروښيي او نه بچو ته د زده کړې داسې چاپېريال او ذهني شرايط مساعد و، چې هغه دې ددې وړتيا ولري چې دغه شان ژور مفاهيم دې وپېژني. اداب يو لغت نه بلکه يو محتوي **(Concept)** توضيح کوي، نو ځکه د هغې تشريح کول په يوه جمله کې مشکل او ګران کار دي. نو که زمونږ په تعريفونو کې هم تاسي کومه نيمګړتيا ګوري، ددې اصلي علت ددې موضوعاتو تشريح کول دي.

نو له همدې کبله ددې مجبوريت احساسوم چې يو شمېر دغه باارزښته کلتوري، ديني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنیز ارزښتونه سره راټول او تریو حده یې د کتاب په بڼه خپل ځوان نسل ته وړاندې کړم، تر څو پرې د پوهېدو او پلې کولو له لارې خپل کلتوري پر له پسې والی یو څه ژوندی وساتي.

**۳۳ - د ډوډۍ خوړلو اداب:**

تر ټولو دا مهمه ده، چې ډوډۍ باید په ارامه توګه، په ګډه او پر یو دسترخوان وخوړل شي. په ګډه دسترخوان د ډوډۍ خوړل ډېرې ګټې لري. ماشومان غټانو ته په کتنې کولای شي چې د بېلابېلو غذايي موادو د خوړلو ځانګړې لارې چارې زده کړي. همدراز د ډوډۍ خوړلو نور اړوند اداب چې مشران یې پرځای کوي، کشران هغه زده کوي.
د بېلګې په توګه پخوا په افغانستان کې دا عادت و، چې وريجې به خلکو په یوه لاس خوړلې او وريجې به یې داسې راخیستلې چې په یوه مړۍ کې هغه ټولې را اخستل شوي وريجي په خوله کې واچوي او که به پاتې شوې؛ نو بیا به یې د هماغه لاس په ګوتو سره راټولولې او بیا به یې خولې ته کړې. خو پاکستان ته د هجرت کولو نه وروسته اوس زموږ اکثره ځوانان چې وريجې خوري؛ نو یا خو دویم لاس د وريجو د لاس لاندې نیسي او یا هم په لاس کې پاتې وريجې بېرته په غوري کې څنډ وهي. چې دا یو د کرکې نه ډک عمل دی. هیله کوم چې زموږ ځوان نسل د پخوانیو مشرانو ډوډۍ خوړلو ته ځانګړې پاملرنه وکړي او ددغه منفي کړنې څخه چې د افغاني ادب خلاف ده، په کلکه ځان وژغوري.
د کورنۍ نورو غړو ته به ځوانانو په لاس اوبه اچولې او بیا به ټول دسترخوان ته کېناستل او چې کله به ټول ډوډۍ خوړلو ته چمتو شول؛ نو مشرانو به په بسم الله ویلو ډوډۍ پیل کړه. او چې کله به څوک موړ هم شو؛ نو پر خپل ځای به ناست و تر څو ټول خلک ماړه شي. مشرانو به دسترخوان ته کتل چې ټول ماړه شول نو بیا به مشرانو دوعا وکړه او ټول به یو ځای رخصت شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



متاسفانه، اوس اکثره په یوه دستراخوان ډوډۍ خوړل نشته او که وي هم نو بیا هر څوک چې هر کله راغی راساً ډوډۍ خوړل پیل کوي او چې کله موړ شي، نو سمدلاسه پورته شي او د بل چا انتظار نه کوي. پخوا داسې عادت و چې باید خواړه په یوه ژامه وخوړل شي او پر دواړو ژامو په یو وخت کې خوراک او یا هم په خوراک باندې چړپ چړپ کول ډېر بد ګڼل کېدل. ځوانانو به له مشرانو څخه د خوراک طریقه د دسترخوان پر مخ یادوله، چې په دواړو ژامو خوراک ونه کړي او په خوراک کې چړپ چړپ ونه کړي. ولې اوس دا اداب له منځه تللي دي او اکثره ځوانان هم په دواړه ژامو خوراک کوي او هم په خوراک کې چړپ چړپ کوي. هیله ده، چې ځوان نسل دغه منفي خوي ته پاملرنه وکړي. پخوا به عادت و چې د خوراک په وخت کې به ټلوېزون ګل و، او د کورنۍ ټول غړي به ارام دسترخوان ته کېناستل او خوړو ته به یې ځانګړې پاملرنه کوله، ولې اوس داسې نه ده، له یوې خوا ډوډۍ خوړل کېږي او له بلې خوا په ټلویزیون کې رنګارنګ پروګرامونه ګورې، چې د کورنۍ د غړیو پام له خوراک نه بلې خواته اړوي او له دې سره د دسترخوان پر سر رنګارنګ بحثونه جریان لري. که موږ وتوانېږو، چې خپل ځوان نسل د ډوډۍ خوړلو دغو ادابو ته په پام کې کړو او په هغې پورې اړوند ادابو یې سنبال کړو، نو د دوی خوراک به اصلاح او د هغې صحي ګټې به یې زیاتې وي.

پخوا به ماشومانو ټولو ددې انتظار ایست، چې مشران ډوډۍ خوړل پیل کړي او په اخر کې لومړی مشران ډوډۍ بس کړي او بیا دوعا وکړي، ولي اوس زموږ ځوانان دغه پرله پسې والی نه پرځای کوي او په دې توګه د ډوډۍ خوړلو اداب یې کمزوري شوي دي.

دا مهمه ده چې هر څوک خواړه له خپلې مخې څخه وخوري او خپله مړۍ برابره جوړه کړي، چې هیله ده ځوان نسل دې ته پام وکړي. سره له دې چې په قاشق پنجه خوراک نن سبا یو منل شوی کار دی، ولې د قاشق پنجې خوراک هېڅکله د لاس له خوراک سره برابر نه دی. په لاس خواړه خوړل نسبت قاشق پنجې ته ډېرې فایدې لري، د مثال په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی موږ کولای شو په لاس د خوړو دحرارت، يخوالي، سختوالي او نورو خصوصياتو ډېر ښه معلومات وکړو، چې هغه ښايې موږ سره د هغه په خوړولو او يا نه خوړولو کې خورا مرسته وکړي. چې دغه کار بيا د قاشقې په واسطه شونی نه دی. ښايې موږ ډېر گرم او يا هم يخ ياسخت خواړه خولې ته داخل کړو، چې بيا يې بېرته تويول هم ښه کار نه دی. همدا راز د لاس په واسطه د خوړو رااخيستل، برابرول او خولې ته وړل، دگوتو د عصبي رشتو د **Reflexes** له لارې د غذا د تماس له کبله زموږ په خوله، معده او بدن کې لازمي او ضروري افرازاتو د اطراح سبب کېږي، چې د غذا په نرمولو، هضمولو، جذب او اطراح کې مرسته کوي. نو کله چې موږ خواړه په گوتو تياروو زموږ خوله، مری او معده مخکې له مخکې نه د هغې د خوړلو د اخيستلو، قبلولو او هضمولو له پاره ښه چمتو کېږي، او بناً خوراك ښه هضم او گټور تماميږي. او قاشق پنجه بيا دغه گټې نه لري او خواړه نيمه هضميږي. د خوړو په ادابو کې يو بل مهم ټکی دا و، چې خواړه بايد په ناسته او په ارام ځای کې وخوړل شي، مگر اوس يو شمير خلك حتا خواړه په ولاړه او يا په روانه خوري، چې دغه کړنه هم د خوړو د ادابو خلاف او له صحي نظره يو نا صحي او زيانمنه کړنه ده.

اوس ډېر ځوانان خپل تاوده خواړه په کف او چف سره يخوي او په بيړه بيړه يې خوري چې دا حالت هم بدن ته ډېر ضرر ونه لري.

د خوړولو پرمهال نوروته ست کول يو بل ادب دی، چې که تاسې څه شی خورئ نو ښه به دا وي چې د هغې ست شاوخوا ناستو خلکو ته وکړئ تر څو د هغوی په زړه کې ارمان پاتې نه شي. اما دا اداب بيا په غربې دنيا کې نشته، او کول يې هم د يوې حيرانتيا سبب کيږي.

### ٣٤. - دمجلس اداب:

په افغاني کلتور کې داسې مثبت ټکې شته چې په مجلس کې بايد خلك ځانگړي اداب پرځای کړي. خبرې په نوبت وکړي، مشرانو ته لومړی حق ورکړي، په مجلس کې په زوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه غرېږي او خپل متقابل لوري ته بد کلمات ونه کاروي. پخوا به دا عادت و، چې که یو چا به د مجلس له اصولو خلاف بل څوك په خپلو خبرو یا بدو الفاظو سره توهین کړ، نو بیا به د مجلس یو مشر دغه سړی تهدیداوه او ورته به یې غوسه کوله؛ خو متاسفانه اوس په مجلسونو کې خلك دې ته پرېښودل کېږي چې سره لاس اوګرېوان شي.

په مجلس کې لږې خبرې کول، نورو ته نوبت ورکول، د نورو خبرې اورېدل د مجلس له مهمو ادابو څخه دي.

خو ددې تر خوا په افغاني کلتور کې دا هم یو منفي اړخ دی، چې کشرانو او ځوانانو ته په مجلس کې د خبرو کولو حق نه ورکول کېږي چې دا کړنه د ځوان نسل د سالم پرمختګ مخه نیسي.

د مجلس یوه بله برخه هم په ټیلیفون کې د خبرو کولو اداب دي، چې اوس د ګرځنده ټیلیفونونو په وجه زموږ ملك کې د ټیلیفون پورې اړوند اداب او اخلاق ډېر کمزوري شوي دي. پخوا به په دولتي او شخصي دوایرو کې د مېز د سر ټیلیفونونه و؛ نو هر څوك مکلف و چې د ټیلیفون د ځوابولو سره سم ځان معرفي کړي (خپل نوم او دنده ذکر کړي او له اورېدونکې نه په ډېر احترامانه ډول پوښتنه وکړي چې د هغوی ضرورت څه دی؟) که به کوم مامور دغه اخلاقي اصول نه پرځای کول د ادارې د مشرانو له خوابه په جدي توګه تهدیدېدل. ولي نن په تاسف سره ډېر لوږ پوړي هم د ټیلیفون اخلاق او اداب نه پرځای کوي. دوی فکر کوي چې دا تیلیفون ددوی شخصي ملکیت دی او هر څنګه چې یې وغواړي هغه کارولی شي. حال داچې ددوی د هر یوه لګښت ددولت له خوا ورکول کېږي.

۳۵ - د لارې اداب:

افغانستان یوه عنعنوي ټولنه لري چې په کې د شخص کړه وړه په هر ځای او هر مهال کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو د ارزيابۍ لاندې وي او دغه ارزيابي د يوه شخص په شخصيت ټاکنه کې ژوره اغېزه لري. ستاسې کړه وړه نه يوازې ستاسې له کورنۍ او يا دوستانو سره ارزښت لري، بلکې ستاسې راشه درشه له نورو عامو خلکو سره هم ځانګړی ارزښت لري.

د تلو او راتلو په وخت کې په نورو خلکو سلام اچول نه يوازې اسلامي سنت طريقه ده؛ بلکې دا د خلکو ترمنځ ستاسې د ښه معرفت زمينه او شرايط هم برابروي. کوښښ وکړئ چې په سلام اچولو کې تر نورو ګړندي او لومړي اووسئ. سنت طريقه داده چې هر وخت سپاره خلك پر پيادو، پياده خلك دې پر ناستو خلکو، او کشران دې په مشرانو سلام اچوي. په لاره کې چې ځای تنګ وي نو، نورو ته د لومړيتوب حق ورکړئ. که ښځې راروانې وي؛ نو سړي بايد د لارې نه يوې خواته شي، او لاره ښځو ته پرېږدي، تر څو هغوی په ارامه توګه له لارې څخه تېرې شي. که لاره خټه وي، کوښښ وکړئ چې نور خلك ستاسې له کبله په عذاب نه شي، او هغوی ته خټې او اوبه وروانه لوزوي. د لارې څخه هر ډول مضر او خطرناك شيان لرې کړئ، تر څو د بل کوم کس د لوېدو، او ژوبلېدو سبب نه شي. په لاره کې که درته ډېر ضرورت نه وي، له بل چا، خاصتا د مشرانو څخه مه مخکې کېږئ.

کله چې په لاره کې له چا څخه مخکې کېږئ؛ نو لومړی د غاړې په تازه کولو سره هغه خبر کړئ چې تاسې ترې مخکې کېږئ، او بيا ورنه ښښنه وغواړئ، او ترې مخکې شئ.

په لاره کې ښځو او ماشومانو ته کافي وخت او مسافه ورکړئ، چې تر تاسې دمخه شي او يا که تاسې ترې دمخه شوئ، نو ترې پوره مسافه واخلئ. که پر سړك سپين ږيری او يا کمزوري او ناروغه کسان تېرېږي، له هغوی سره مرسته وکړئ.

که شونې وي او دکوم بوډا، ښځې او ماشوم سره دروند پېټی وي، نو ورسره مرسته وکړئ.

په لاره کې د بدو الفاظو، کاڼي په پښه وهلو او لوبو کولو څخه پرهېز وکړئ. په کوڅو کې منډې رامنډې وهل، کاڼي ويشتل، او يا هم د کرکټ او نورو لوبو کول، يو غلط او بې ځايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار دی، تاسې یې مه کوئ، او نور ځوانان هم ترې منع کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم څپرکی

## د ژوند له پاره یو پلان او د ژوند د لومړیتوبونو ټاکنه او سمونه:

. ۳۶ - ټاکلی او پلان شوی ژوند لرل:

موږ هر يو د خپل ژوندله پاره راز راز هيلې لرو. کله ناکله ددې هيلو شمېر دومره پراخه شي چې بيا زموږ په مغزو کې هم د ځايېدلو نه وي. ولې ډېر کم داسې کېږي چې له هغو هيلو څخه ټولي پوره شي.

د ټولنې ډېر وګړي کله چې په زده کړه بوخت وي، په هره څانګه کې چې دوئ تحصيل کوي، نو بيا له ځان سره په ډېرو اوچتو خيالاتو کې وي چې زه به له پوهنځي نه فارغېږم، بيا به لوی ډاکټر، انجينر، قاضي، څارنوال، مامور، مدير او څه او څه کېږم، ډېر به مشهور شم، ډېرې پيسې به پيداکړم، داسې کور به ځان ته جوړکړم او له داسې چا سره به واده کوم او نور او نور....

خو کله چې له پوهنځي څخه فارغ شي، بيا د کار لټولو په ارمان چې کله د سلګونو دروازو په ټکولو او د بې شمېره دفترونو له لټون سره مخ شي، نو له هماغه ځايه دده شخصيت او غرورو وټکول شي او هيلې يې په ناهيليو بدلې شي، او د چوپړ کولو لېوالتيا يې بيا له کينې او کرکې سره ملګرې شي. د چوپړ کولو احساس يې بيا ډېر ژر په بدې اخستلو او په ورځني سيستم کې د ځای پيداکولوپه هنر بدل شي. دا هغه بدمرغه حالت دی چې زموږ د ټولنې د ډېرو ځوانانو احساسات او هيلې او د چوپړ کولو هوډ وژني او دوئ د ټولنې د خدمتګار په ځای د ټولنې په يوه کرکجن عنصر بدلوي.

ددې له پاره چې په راتلونکې کې تاسې ځوانان د همداسې ناوړه برخليک ښکار نه شي، دغه لاندي څو توصيې درته ګټورې بولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- خپل ځان له ټولنې نه جلا مه ګڼئ . په دې بايد پوه يئ چې تاسې په داسې يوه ټولنه کې ژوند کوئ چې مثبت بدلون په کې کم، ستونزمن او زياته قرباني ګالل غواړي. نو کوښښ وکړئ چې خپل خيالات او هيلې نسبي مطرح کړئ.

۲- د خپل برخليك له پاره مقدماتي پلان او پروګرام ولرئ. مثلا که تاسې په هره ځانګه کې تحصيل کوئ نو کوښښ وکړئ چې په هماغه ځانګه کې له سالمو او باصلاحيتو شخصيتونو سره خپلې اړيکې د همدغه تحصيل په دوره کې تامين او هغې ته پراختيا ورکړئ. په دې برخه کې د خپلو استاذانو او د پوهنتون د مقاماتو او ملاقات کوونکو مشرانو پاملرنه ځان ته راواړوئ.

۳- د زده کړې له دورې څخه دغې اړتيا ته پوره پاملرنه وکړئ او دې له پاره اړين او لومړني کارونه ترسره کړئ. خصوصا ددې کار ښه وخت د عملي کارونو او ستاژ دوره ده. په هغه وخت کې چې تاسې د خپل ملك په اړه له هرې بهرنۍ مؤسسې او يا شخص سره کار کوئ په خپل هغه کار کې د جديت، صداقت، او علمي ځواکمنۍ په ښوولو سره د هغه مقاماتو پاملرنه او ليوالتيا د ځان په لور راواړوئ. چې هغوی دې ته ليوال شي چې ستاسې له فراغت نه مخکې تاسې ته د يوې دندې د درکولو بلنه درکړي.

٤- د خپل تحصيل په دوره کې د ځينو ځانګړو فعاليتونو او پروژو په اداکولو سره د خپلو استاذانو او اداري پرسونل پاملرنه ځانته راواړوئ . په مناسب وخت کې له هغوی څخه د ځانګړو تصديقونو او اسنادو غوښتنه وکړئ. د هغوی سره د جوړ جاړي له مخې دغه ډول مکتوبونه په خپله برابر او ټايپ کړي، او هغوی ته يې يوزاې د لاسليك له پاره وړاندې کړئ. ډېر ښوونکې او اداري پرسونل يا ددې وخت نه لري، او يا کله کله هم ځانګړي موضوع، داسې ښه نشي چوکاټ بندي کولی او پدې وجه له تصديق ورکولو او يا ستاينليکونو له ورکولو څخه ډډه کوي. نو تاسې بايد ددې چمتووالی ولرئ چې په مناسب وخت کې د هغوی له موافقې سره سره سم يو داسې ليکلی سند چمتو کړئ چې په هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د هغې مؤسسې، ډیپارتمنټ او د هغه استاذ/ مدیر نوم او دنده په روښانه توګه لیکل شوي، او د امضا کولو له پاره اماده وي. .
کوښښ وکړئ چې ددې سند دوه یادرې کاپي مخکې له مخکې چمتو کړئ او په هغه استاذ یې له لاسلیک کولو وروسته یوه کاپي له هغه سره یاد هغې په دفتر کې پرېږدئ، او دوه نورې یې له ځان سره وساتئ.

۳۷ - د پلان تعریف:

پلان هغې لیکلې طرحې او طریقې ته وایي، چې د یوه ارمان یا موخې د لاسته راوړلو په اړه ټول اړوند معلومات، طریقې، وختونه، ستونزې، ضرورتونه او مالي سرچینې په ګوته او پداسې یوه سیستماتیکه توګه پیوند او تړل شوي وي، چې موخې ته رسېدل پکې په عملي مرحلو وېشل شوي وي، او د هرې برخې اصلي اهداف څرګند او ارزول یې اسانه او عملي وي.
د یو پلان په جوړولو کې دا ډېره مهمه ده چې پلان جوړونکی باید د هرې مرحلې اهداف، او ددې اهدافو د لاسته راوړلو په اړوند ټولې شونې سرچینې، ستونزې، چلینجونه، مکانیزمونه او ټاکوونکې معیارونه داسې روښانه کړي وي، چې لاسته راوړل یې عملي او ارزول یې اسان او شوني وي.
یو پلان هلته عملي بڼه غوره کولای شي، چې د پرېزنټ کولو وړ (یعنې نورو خلکو ته د وړاندې کولو او روښانه کولو وړ) وي، په لیکلې ډول تهیه کړای شي، او د کتنې او مشاهدې له پاره ورته لاسرسی شونې وي.
ځوانان نه یوازې دا چې باید د خپل ژوند له پاره یو ماستر پلان ولري؛ بلکې ددې ماستر پلان د یوې برخې په توګه د خپل ژوند څو مهمو اړخونو ته لکه تعلیم او تحصیل، مسلک غوره کول،کار، واده، کور اخیستل او تقاعد ته هم یو، یو ځانګړی پلان ولري. پلان باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکلې بڼه ولري او اقلا د مياشتې يو ځل وکتل شي او په اولو وختو کې په هرو شپږو مياشتو کې يو ځل وارزول شي، او هدف ته د رسيدو په نږدېوالې کې بيا هر دري مياشتې، او بلاخره هره مياشت، او هره اونۍ وارزول شې.

ښه عملي اوکامياب پلان هغه دی، چې د هرې مرحلې له پاره پکې ټاکلي موخې او د هرې موخې د لاس ته راوړلو له پاره عملي کړنلاره او د هرې کړنلارې له پاره شونې وسايل، وسايط او ذرايع پکې تشخيص او غوره شوي وي.

ددې له پاره چې تاسې په خپلو پلانونو کې بريالي شئ، د يو پلان په جوړولو کې لاندې ټکو ته بايد ځانګړې پاملرنه وکړې.

- د هر پلان ورستنۍ او مرحلوي موخې بايد مشخص او روښانه کړې .
- د هرې موخې د لاسته راوړلو له پاره يو ټاکلی وخت چې عملي وي، په نظر کې ونيسې.
- د موخو د لاسته راوړلو په لاره کې د برياليتونو له پاره داسي مشخص معيارونه ( **Mile Stones**) وټاکې چې دغه هر يو معيا ر بايد اندازه کېدونکی او ټاکونکی معيار وي. د **Mile Stone** په باره کې بايد دا ووايم، چې دا هغه نښي دي چې د سرکونو په اوږدو کې د مسافو د تعين له پاره ودرول کېږي. څرنګه چې دا نښي د سرك واټن اندازه کوي، نو په همدې خاطر دغه اصطلاح د معيارونو له پاره غوره شوې ده.
- ټول ټاکل شوي موخې بايد، عملي او شونې اووسي.
- د هرې موخې د لاسته راوړنې په اړه اړوندې اړتياوي، وسايل، وسايط، ذرايع او سرچينې روښانه او د هغوی لاسته راوړل شونې ارزول شوي وي.
- د هر پلان له پاره انساني باوري منابع ټاکل شوي وي.
- پلان بايد وخت په وخت مطالعه او په هرو شپږو مياشتو کې وارزول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که يو پلان په سلو کې تر اويا زيات عملي وي، نو د کاميابېدو چانس يې شته او که تر څلوېښتو کم عملي وي نو د هغې بيا ارزول او د سرچېنې تاکل يې ضروري دي.
- هغه پلان چې د (۴۰ - ۷۰) پورې عملي وي، ښـايې چې تر پلان شوي وخت او لګښت څخه زيات وخت او لګښت ته اړتياولري. چې دا بايد ورسره په پام کې ونيول شي.
- د پلان غټ او مهم ټکي بايد په داسې ځا ی کې ليکلي او يا انځور شوي وي چې په پرلپسې توګه او هره ورځ تر سترګو شي، تر څو تاسي ته په پرله پسې توګه ستاسې موخه در په زړه کړي.

د عمومي پلان ځينې ځانګړې برخې:

۳۸ – د تعليم او تحصيل په اړه پلان:

- ښه به دا وي چې هر ځوان په دې پوه وي چې غواړي په کوم ښوونځي، متوسطه او لېسه، کې زده کړې وکړي. دا ځکه چې ځانګړی ښوونځی ښايې د يو ځوان ليوالتيا او د راتلونکې برياووله پاره يوه ښه وسيله وي، او يا هم برخلاف د برياوو مخه مو ونيسي.
- د تعليم په وخت کې بايد د کانکور له پاره چمتوالې له لسم ټولګي څخه پيل، او پوړ په پوړ دغه چمتوالی ګړندی او جدي شي.
- د ښوونځي په دوره کې ښه خبره دا ده، چې يو زده کوونکی په ټولګې کې د لومړيتوب (اول نمره ګې) له پاره سيالي وکړي؛ نو که لومړی نه شي؛ نو دويم نمره خو به شي. د انګليسي يو متل دي چې وايي:

**Shoot for the stars, if you fall short, you will land on the moon.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- يعنې موخه مو ستوري وټاکې، که پاتي راغلي، نو سپوږمۍ خو به موځای وي. هر ځوان ته په کار دي چې د خپل تحصيل په اړه هوښيار اوګړندی وی، او په دې برخه کې خپلي ګړندي دندې له پخوا نه پيل او د کورنۍ او ښوونکو په مشورو په چټکه توګه پر مخ بوزي.
- هر زده کوونکی بايد له (۸- ۱۰) ټولګې په دوران کې بېلا بېل مسلکونه، لکه طبابت، انجينري، زراعت، ساينس، شرعيات، حقوق، ډيپلوماسي،ارت، ښوونه او روزنه او داسې نورې څانګې هره يوه وڅېړي او د هرې رشتې ښه او بد ځان ته روښانه کړي. چې کله يې يو يا دوه مسلکونه خوښ کړل؛ نو بيا دې دهغې مسلکونو له ځينو متخصصينو سره له نږدې نه د هغه مسلك د ښو او بدو، مثبتو او منفي اړخونو په اړه خبرې وکړي، تر څو خپل راتلونکی مسلك او په مسلك پورې اړوند مضمونونه په ښه او دقيقه توګه وټاکې.
- د وخته (۸- ۱۰ ټولګي کې) دغه ټاکنه، زده کوونکې ته ددې چانس ورکوي، چې د لېسې په دوره کې د هغه مسلك پورې اړوند مضامينو په برخه کې زياته پاملرنه وکړي او ښې نومرې په کې تر لاسه کړي.زموږ د ځوانانو خورا غټ مشکل دا دی چې دوی د کانکور ازموينه ورکوي، خو پر دې نه پوهېږي چې څه غواړي ولولي. اکثرا د خپل مسلك ټاکنه هم د کورنيو په خوښه تر سره کوي. دا يوه د هاغه ستونزو نه ده چې ځوانان وروسته ځوروي. نو ددې له پاره چې ځوانان د خپل مسلك او پوهنځي ټاکنه په ښه توګه وکړای شي. زه مشوره ورکوم چې ځوانان بايد د (۸ – ۱۰ ټولګي په وخت کې) که شونې وي د هغه مسلك پورې اړوند پوهنځي د محصلينو، استادانو او کارکوونکو سره تفصيلي خبرې وکړي او د هغوی تجربې، خاطرې او نظريات ددې مسلك په اړه ځان ته په جدي توګه څرګندکړي. د همدې معلوماتو په رڼا کې بيا له خپل ذوق او لېوالتيا سره سم يو ځانګړی مسلك غوره کړي. او دښونځي په درسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دې بیا په هغه مسلك پورې مربوط مضامینو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

د مثال په ډول که تاسې غواړئ چې طب پوهنځی ولولئ؛ نو لومړی د (۸- ۱۰ ټولګیو په موده کې) د طب پوهنځي د محصلینو او استادانو سره اړیکې ټینګې کړي. خپل پلان ورته ووایئ او له دوی څخه د اړوندو مضامینو او همدرا راز ددې مسلك په مثبتو او منفي اړخونو ځان وپوهوي. که مو تصمیم ونیوه چې د طب مسلك ته لاړ شئ؛ نو بیا باید د (۱۰ - ۱۲) ټولګي پورې په طب پورې مربوطو مضامینو لکه کیمیا، بیولوژي، فزیك او الجبر ته ځانګړې پاملرنه وکړئ.

- دا به هم ګټوره وي چې د خپل تعلیم په دوران کې د (۱۰- ۱۲) پورې د هغه ځانګړي مسلك له ځینو مهمو شخصیتونو سره دوستي او ملګرتوب ایجاد کړئ، او خپل نظر او پلان ورسره شریک کړئ، او وخت په وخت له هغوی څخه لازمې مشورې او لارښوونې وغواړئ.
- دا په ځای بولم چې په دی برحه کې ددولت مسولیتونو ته هم اشاره وکړو. دولت ددې مکلفیت لري چې شاګردانو ته د تعلیم په وخت کې دداسې علمې سفرونو او مسلکۍ پوهاویو زمینې او شرایط برابر کړې.
- کله چې بیا د خپلې خوښې مسلکې پوهنځي ته داخل شوئ؛ نو بیا کوښښ وکړئ چې ددې مسلك په اړه خپل معلومات په نړۍ واله کچه تکمیل کړئ. په هماغه مسلك کې د دوه درې سیمه ایزو مطرحو شخصیتونو سره او همدا راز د یوه یا دوه په ملې کچه مطرح شخصیتونو سره او بلاخره د یوه یا دوو بین المللي شخصیتونو سره اړیکې، او دوستي ټینګه کړئ. دا به تاسې ته په هماغه مسلك کې د لابریالیتوب ښه چانسونه په لاس درکړي.
- کوښښ وکړئ چې په خپل مسلك کې یو مطرح او پېژندل شوی شخص واوسئ او له عادي زده کوونکو او محصلینو نه زیات توپیر ولرئ، دا توپیر تاسې په لاندي لارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کولای شئ.

- په دې مسلک کې دوامداره تجربه، جدي مطالعه او منظم او په مینې سره کارکول، د هغه مسلك په اړوند د موثرو او مطرحو سیمه ایزو، ملي او بین المللي شخصیتونو سره اړیکې، په دې اړوند سیمنارونو او غونډو کې ونډې، همکاري او عملي برخه اخیستل، هغه نور عوامل دي چې ستاسې د لابریالیتوبونو زمینې برابرولې شي.
- د هغه مسلك په اړه ځانګړې موضوعاتو ته پاملرنه او د هغې په اړه نمونوي موثر او حیرانوونکې کارونه سرته رسول، لکه علمي تحقیقات، مقالې لیکل او نشرول د سیمې او په ملي کچه د مطبوعاتو سره اړیکې او د هغه مسلك د یوه مطرح ځوان په توګه تبارز کول، د خپل مسلك په اړه خپرونې، ژباړې او تالیف هغه ګټور کارونه دي چې ستاسې له شهرت سره ډېره مرسته کوي.د پوهنځي په وخت کې له ځو تنو استادانو سره ښې اړیکې وساتئ او کوښښ وکړئ چې د هغوی د اثارو د ژباړې، تایپ او لوستلو او اصلاح کولو په برخه کې مرستې وکړئ او ترې وغواړئ چې ستاسې نوم په خپل کتاب کې ذکر کړي.

کله چې زه د طب د پوهنځی د پنځم ټولګی محصل وم، ما د خپل یوه ډېر تکړه او نومیالې استاد مرحوم محمد نسیم لودین صیب د توبرکلوز په نوم د یوه لیکلې اثر په املایي تصحیح کې د هغه سره ډېره مرسته کړي وه. چې په نتیجه کې دا زما حق هم وه چې هغه باید زما نوم په دي کتاب کې ذکرکړي واي. خو دیوي خوا زه ددې موضوع په علمې ارزښت په هغه وخت کې دومره نه پوهیدم، او د بلي خوا ممکن د لودین صیب به هم ودي ته پام نه وه شوي، نو زما نوم یې په کتاب کې نه وه ذکر کړي. نن زه د هغه افتخار نه محروم یم، چې ما زوروي. خو ددې سره سره هم د هغه کتاب تصحیص کولو ما ته دومره زیاته ګټه راورسوله چې د توبرکلوز د ناروغۍ په تشخیص او تداوي کې زه د خپل نورو همصنفیانو په نسبت تکړه وم. بلاخره، د همدي تکړه توب په نتیجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ماته په پيښوور کې د توبرکلوز په څانگه کې د کارکولو زمينه، او په دي برخه کې زما د خپل يوه اثر د ليکلو شرايط را برابر کړل. دا هم زما له پاره يوه سرلوړي ده.

- د يو فعال شخص په توگه تل د خپل مسلك په اړه په ملي او بين المللي کچه نوې خپرونې او اختراعاتو نه ځانونه خبر کړئ ، او وخت په وخت هغه د رفرنس په توگه د راډيو او تلويزيون او اخبار له لارې وړاندي کړي.
- کوښښ وکړئ چې په خپله سيمه کې په رسنيو کې د خپل مسلك د يو پېژندل شوي شخص په توگه په مصاحبو او پروگرامونو کې ونډه واخلئ.
- خپل ځان د داوطلب په توگه وټاکئ او په ښوونځي او نورو ځايونو کې د خپل مسلك په اړوند خلکو ته کنفرانسونه ورکړئ.په مسلکې کار کې جدي او پابند اوسي. او په خپله دنده کې دخپل ټول اخلاص او رښتينولې نه کار واخلې. دا په د لوړو مقاماتو توجه ستاسې په اړه د علمي او عملي کار په نتيجه کې را جلب، او په مسلکې لحاظ په دا تاسي ته ډېره گټه ورسوي.

۳۹ - د کار په اړه پلان:

لکه څرنگه چې تعليم او تحصيل د مسلك په غوره کولو کې رول لري، همدراز مسلك هم د کار په نوعيت او محيط په غوره کولو کې رول لري. د کارځای هغه محيط دې چې موږ او تاسې هره ورځ په کې د ژوند درېيمه برخه (هره ورځ اته ساعته) تېروو. نو دا ډېره مهمه ده چې دکار په اړه لاندي دري شيان (د کار نوعيت، محيط او خلك) د سړي په مزاج برابر وي؛ نو بيا به کار ستاسې په زړه پورې او نه ستومانوونکی وي. که له دغو درې واړو څخه يو يې هم له مزاج سره برابر نه وي؛ نو بيا کار ستومانونکی او ځوروونکی کېږي.

- دکار د انتخاب له پاره اولين شرط د مسلك غوره کول دي. د مسلك غوره کول، يا د لوړو تحصيلاتو د رشتې انتخاب يو خورا مهم کار دي، او بايد چې پوره توجه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشي. چې د رشتي د انتخاب له پاره بیا وختي تیارې لکه پورته چې ذکر شو، ډېر ضروري دی.

- د مناسب او موزون کار او د ښه محیط پیدا کول یو ضروري موضوع ده. متاسفانه زموږ په هېواد کې خلک هر هغه کار کوي، چې ورته پیدا شي او بیا په کار کې هم څه دومره ورته مهمه نه ښکاري چې کار څنگه پر مخ ځي؟ خو زه ځوانانو ته توصیه کوم، چې د کار د غوره کولو او د کار د محیط په اړه خپلې دندې په ښه توگه ادا کړي او د ځان له پاره یو موزون او له خوښې سره برابر کار پیدا کړي.
- هرڅومره چې تاسي په خپل کار او مسلک کې بریالي، او پېژندل شوې شخصیت یئ، په هماغه اندازه به تاسو ته د نوو کارونو وړاندیزونه زیات وي، نو تاسي به د خپل نوي کار په غوره کولو کې لازیات بررسي ولرې. ځکه ډېر خلک او ډېر مؤسسات به ستاسې د جلبولو سره علاقه ولري.
- لکه څومره چې ښه کار او د کار ښه محیط او خلک تاسو ته مهم دي، همداراز د موسسې او نورو کارکوونکې و له پاره هم دا مهمه او گټوره ده چې تاسې له هغوی سره خوښ او خوشاله یئ. نو پخوا له دې چې یو کار ومنئ، دا به ښه وي چې لاندې معلومات مو تر لاسه کړي وي.
- ایا دغه کار ستاسې له مسلک او خوښې سره برابر دی او کنه؟ که برابر نه وي نو کوښښ وکړئ، چې له هغه کار نه تېر شئ.
- د خپل مسلک څخه بهر کارونه، ولوکه ډېرې پیسې هم درکوي، مه غوره کوئ ځکه دا بیا تاسې بې مسلکه کوي او وروسته به بیا پرې پښېمانه یئ. په افغانستان کې د جنگ او غربیانو د راتگ نه وروسته، یو لوی مصیبت هم د افغانانو بي مسلکه کول دي. د ان، جي، او (**NGO**) سیستم چې د افغانستان غوندې وروسته پاتې او قبیلوي ټولنې له پاره د یوه قوي مرکزي سستم پر ځای یو زهرجن سستم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دی ان جي اوګانو له کبله اکثره افغانان د جګو تنخواګانو په وجه دي ته وهڅول شول چې خپل مسلکونه پرېږدي او په نا مسلکې کارونو کې لګيا شي. چې زه هم د همدغو قربانيانو څخه شمېرل کېږم، ددې کبله چې زه ددې ضايعې له لاسه زورېږم، او نه غواړم چې تاسي هم وزورېږي، نو دادې تاسي ته دا موضوع ليکم..
- ايا تاسې د خپل کار محيط، خلك او ساحه کتلې ده کنه؟ که مو نه وي کتلې، کوښښ وکړئ چې د کار د قبلولو نه مخکې دوه درې ورځې هلته داوطلبانه کار وکړئ. تر څو وګورئ چې ددغه کار، محيط او خلك ستاسې د طبعيت سره برابر دي او کنه؟ که لږ شان هم ناراحته وئ د هغه کار له له منلو تير شئ.
- ايا په دې کار کې چې تاسې ورته کانديد يئ، ستاسې د لوړاوي او پورته مقام ته د تللو چانس شته او کنه؟ که نه وي نو ترې تير شئ.
- ايا په دې کار کې تاسې له ځينو چلينجونو او ابتکاراتو سره مخ يئ او کنه؟ که نه وي نو ترې تير شئ. په کار کې علمي چېلنجونه ستاسې د علمي پرمختګ او شخصيت د لوړوالې سره مرسته کوی.
- ايا ددې موسسې د فرهنګ په اړه مو معلومات تر لاسه کړي دي او که نه؟ (هره موسسه ځانته ځانګړی سيستم لري چې هغه د هغې موسسې فرهنګ جوړوي. مثلا ځنې موسسات ډېر فارمل (قيد، منظم او جدي) وي چې د لباس نه نيولې، چې هغه منظمه درويشي، نکتايي وي، تر د مشر سره د کتلو او خبرو کولو پوري ځان ته يو ځانګړي جدې سيستم لري، چې دي ډول موسساتو ته د فارمل فرهنګ لرونکې يا (**formal**) مؤسسات وايي، اما برعکس، بيا يو شمير نور موسسات، نسبتا يو څه نرم، او ازاد سيستم خوښوي، چې په هغوی کې لباس هم نسبتا ازاد، او د امرينو سره ليدنه کتنه هم نسبتا اسانه او ازاده وي، چې دي ډول مؤسساتو ته ازاد يا (**casual**) مؤسسات وايي. ايا ددې موسسې دغه کاري فرهنګ، د موسسې د مشر او ستاسې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوپروایزرانو یا امر رویه اوسلوك ستاسې له پاره د منلو او قبول وړ ده او کنه؟ که نه وي نو ترې تیر شئ.

- ایا ددې کار په محیط کې تشویق، ترغیب او ستاینه شته او کنه؟ که یې نه لري؛ نو بیا له دې ځای څخه تیر شئ.
- ایا تاسې د خپل امر او د موسسې د عمومي امر سره ځان په خبرو کې ارام محسوس کړی او کنه، کنه نو د هغې کار نه تیر شئ

پخوا تر دې چې نوي دنده قبوله کړئ، ددغو لاندینیو پوښتنو کول ضروري او ګټور دي:

- ✓ له انټرویو کونکې څخه وپوښتئ چې ایا دا موسسه کوم تشکېلات لري او که نه، اوایا زه کولای شم چې هغه وګورم؟
- ✓ پدې تشکېل کې زما ځای، پوزیشن، (پوست) چېرته دی؟زه څوکسانو او چا ،چا ته مسولیت لرم، او د څوکسانو او چا، چا د څارنې مسؤلیت لرم؟
- ✓ ایا په دې مؤسسه کې ارزیابي کله صورت نیسي او د ارزیابي سستم څنګه دی؟
- ✓ ایا پدې مؤسسه کې تشویق، ترغیب، ارزونه او لارښوونه شته که نه؟
- ✓ ایا پدې مؤسسه کې زما د پورته تللو چانس څومره دی. زه غواړم چې دلته د ډېرې مودې له پاره پاتې شم، نو ځکه غواړم پوه شم چې زما د پورته تللو حدود او امکانات څه دي؟

- د کار ښه پلان دادی چې سړی له ځان سره داسې یو نقشه ولري چې په کوم عمر کې څه ډول مقام ته ورسېږي. دا مقام کېدای شي چې په کار کې د مقام په لحاظ معنا یي مدیریت، ریاست او وزارت، او یا هم په کار کې علمي او مسلکې لاسته راوړنې لکه علمي رتبې، لیکنې او اختراعات او نور وي.
- هر ځوان ته په کار دي؛ چې په کار کې پرله پسې مثبت بدلون ولري، دا بدلون به ښه وي، چې په عین کاري محیط کې پرمخ لاړ شي؛ خو که ایجاب وکړي د محیط

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلول هم تر محدوده اندازې پورې کوم زيان نه لري.

- وخت په وخت په خپل کار کې د خپلو امرينو (سوپروايزر ، مينجر، او لوي ريس) سره د ځانګړو ملاقاتونو له پاره ، ددوي د رتبو په ترتيب، وختونه واخلې. په دي ملاقاتونو کې د خپل امرينو څخه د خپل کړو و وړو په اړه وپوښتې. ددوي نه په روښانه توګه دا و پوښتي چې (ما اوس له تاسو سره کافي وخت کار وکړ. زه ستاسې د لارښوونو نه راضي او په خپل کار کی خوشحاله يم. خو زه غواړم چې ستاسې څخه د خپل ځان او په کارونوکې زما د اجراتو په اړه واورم. زه غواړم چې په خپلو نيمګړتياو پوه شم، او د هغوی د اصلاح کولو او ښه کولو په اړه ستاسې لارښووني او مشوري واورم) که ددوي نظر مثبت وه، تري غوښتنه وکړي چې که امکان ولري خپل دغه نظر په ليکلې توګه تاسو ته درکړي. دا به بيا وروسته يو وخت ډېر ستاسې په درد وخورې. او که يي نظر منفي هم وي، هغه په پوره غور او مکمله توګه واوري، او که کومه غلط فهمې (نادرستي) پکې موجوده وي، د هغي د روښانتيا له پاره تري په اخر کی په ارامه اجازه وغواړي، او هغه ورته په سړه سينه تشريح کړي، نو ددې ناستي حد اقل ګټه خو به دا وي چې هغه غلط فهمي به له منځه يوسې.
- خپل کارونه ژرژر مه بدلوئ، ځکه دا بيا ستاسې په راتلونکې کار کې ستاسې په بې ثباتې حسابېږي. نو ددې له پاره چې مو ددې مشکل مخنيوي کړي وي، نو د هر کار په قبلولو کې خپله کورنې دنده په ښه توګه ترسره کړي. يواځې هغه کار فبول کړي چې يي تاسو په ښه توګه ترسره کولاي شئ، او هغه ستاسې د ژوند د فلسفې سره برابر وي، او په کولو کې يي تاسي راحت يئ. هېڅکله هم هغه کار مه قبلوئ چې يا ستاسې د ژوند د فلسفي سره برابر نه وي، او يا يي تاسو په کولو کې ځان راحت نه محسوسؤي.

٤٠ - د موټر اخيستلو پلان:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور او موټر هم د انسان په ژوند کې ارزښتمن او مهم انتخابونه دي. د نوبت په لحاظ لومړی موټر او بیا کور اخیستل او وروسته بیا واده کول ښه اصل دی؛ خو دا ضرور نه ده چې په همدې ترتیب دې وي. د موټر اخیستل کوم لکسیت نه، بلکې د یو ښه شخصیت او د یو با پلانه او موفق ژوند یوه نښه ده. د موټر درلودل که ښه وکارول شي اکثرا تاسې ته د لا اجتماعي اړیکو، ښه کارونو او نورو بریالیتوبونو مخه پرانیزي.

په یاد ولري چې د انسانانو په ژوند کې تر ټولو ګرانو کارونو څخه هم یو د پیسو سنبالول دي. ځني پوهان وايي چې د پیسو ګټل ګران، خو ساتل یې تر هغې هم ګران دي. انسانان په مجموعي توګه دې ته میلان لري چې هر څومره پیسي چې پیداکوي، هماغومره مصرفوي. خو که تاسي لږ وخت په ځان یو څه تکلیف ومنې او د یو څه لکسیت نه تیر شي، نو ډېر ژر به د یوه هوسا ژوند خاوندان شي.

هر ځوان باید پلان ولري چې د درې کلو کار کولو په اوږدو کې اقلا خپل لومړنی موټر چې هغه ډېر قیمتي او لکس نه وي واخیستی شي. بیا دې تر پینځه کلن کار پورې هغه په یو متوسط موټر او تر لس کلن کار پورې دې یې په یو ښه او لکس موټر بدل کړای شي. د موټر اخیستلو ښه طریقه به داوي چې:

دمجردۍ په دوران کې له هر معاش څخه تقریبا ۲۵ فیصده موټر ته وقف کړي او که سړ ی متاهل وي نو بیا دې ۱۵ فیصده د موټر له پاره جدا کړي.

او یا دی د موټر اخیستلو په خاطر دې یوه ځانګړې دویمه وظیفه شروع کړي، او د امکان په صورت کې دې ددې وظیفې ټول عاید او که نه تر اویا فیصدو پورې دې د موټر له پاره اختصاص کړي. همېش خو په لومړي سر کې حتما داسې موټر واخلي چې د تېلو مصرف یې کم او ترمیمات یې ارزانه وي.

په دې اړه بله مشوره دا ده چې: تاسې لومړئ یو موټرسایکل واخلئ، او بیا تدریجا یو څه نوري پیسې هم ذخیره کړئ او دهغو پیسو او د موټرسایکل د پیسو نه په ګډه بیا یو ارزانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر واخلئ.

په دي اړه بله مشوره داده چې خپل موټر او کمپوټر هېڅکله هم بل چاته د چلولو او یا خوهم په کمپوټر د کار کولو اجازه مه ورکوي. تجربو دا ثابته کوي ده چې دغه وسایل، یوازي هلته ښه کار کوي چې په یو لاس استعمال شي.

۴۱ - دکور اخیستلو پلان:

د کور اخیستل لږ څه داوږدې مودې پلان او یو څه زیاتو امکاناتو ته ضرورت لري. خو مؤثر او ښه پلان جوړول، کولای شي چې ستاسې له پاره د کور د اخیستلو موده راکمه او د کور اخیستل کم ستونزمن کړي. خپلوان ټول اخلاقي مسوولیت لري، چې په کورنۍ کې د هر ځوان له پاره د تعلیم، تحصیل، موټر یا کور په اخیستلو او واده کولو کې لازمه او مناسبه ونډه واخلي. دغه ونډه باید بلا معاوضې وي. که ستاسې په کورنۍ کې دغه سیستم وجود نه لري، زه له تاسو غوښتنه کوم چې دا سیستم پیل کړئ. د واده او کور اخیستلو له پاره قرض اخیستل جواز لري؛ خو په دې شرط چې تاسې د هغې د بېرته ورکولو له پاره یو مناسب او عملي پلان سنجولای وي.

د کور اخستل هم د موټر په څیر پلان کړي. یعنی اول یو وړوکی او نسبتا ارزان کور او وروسته بیا په مناسب وخت کی ښه او په خپله طبعه برابر کور جوړ کړي. د کور په اخستلو کې د خپلې ونډې له پاره اقلا له (۳ - ۵) کلونو له پاره پلان ونیسئ، او د خپلې تنخوا ۲۵ % د کور د اخیستلو له پاره ذخیره کړئ، چې بیا د کور له اخیستلو وروسته باید همدا (۲۵ %) د دوستانو او نورو لرې خپلوانو د قرضونو خلاصولو ته وقف کړئ. هغه پیسې چې یې تاسې د لرې خپلوانو او دوستانو څخه د قرض په توګه را اخلئ ، هغه هم په دقیقه توګه وسنجوئ، او په مناسب اندازه یې په نږدې او لرې خپلوانو او دوستانو ووېشئ. د هغوی هر یو د مالي توانمندۍ سره سم د هغوی ونډه ورمعلومه او ورته اقلا یو کال دمخه ووایئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تاسې د هغې مرستې ته ضرورت لرئ او ستاسې توقع ددوی څخه څومره ده، او کله باید تاسې ته هغه پیسی تیارې کړي. خپله دغه غوښتنه ورته ٦بیا میاشتې ،او بیا ۳ میاشتې، او بیا یوه میاشت مخکې د وعدي نه،وربه یاد کړئ. دا وریادول دوه ګټې لري: د یوی خوا هغه متوجې کوي چې خپل ځان اماده کړي، او د بلی خوا. که چېرې د هغه په تصمیم او یا توانمندۍ کې کوم تغیر راغلی وی، نو تاسي به پرې په مناسب وخت کی خبر او د هغی په عوض به کوم بل مدرک په کار واچوې، تر څو د ناڅاپي کمبود سره مخ نه شې.

د کور د اخیستلو له پاره د یو شمېر نږدې خپلوانو له خوا یو څه بلاعوضه مرسته ترلاسه کړئ، خصوصا په دې برخه کې د مور وپلار ونډه، د وروڼو او خویندو ونډه لازمي، ضروري او جدي ده. تاسې کوښښ وکړئ چې د خپل کور د اخیستلو له پاره د خپل نقشي او پلان له مخې یې د مخکې پیسې وسنجوي (معمولا د مځکې قیمت د کور د ټول تمام شوي قیمت درېیمه برخه وي). ددې پیسو دریمه برخه د خپلوانو نه وغواړئ. او هغه بیا په خپلوانو په یو مناسب تناسب (چې د دوی د توان او دخپلوي د اړیکو له مخې سنجول شوي وي) اقلا یو کال دمخه حواله کړئ. د مثال په توګه که د کور ځمکه سل زره (۱۰۰۰۰۰) افغانی وي او ستاسې په خپلوانو کې یوازې لس تنه داسې وي چې له تاسې سره مرسته وکړي، نو ددې پیسو درېمه برخه په مور او پلار ، او درېیمه برخه یې په وروڼو او خویندو، او پاتې درېیمه برخه یې په نورو خپلوانو حواله کړئ . خو دوی ته اقلا یو کال دمخه د دوی ټاکلې ونډه وښیئ او ورته ووایئ چې تاسې په کومه ــ نېټه دې پیسو ته اړتیا لرئ.

د کور د ابادۍ پیسې چې معمولا د ځمکې د قیمت دوه چنده وي، نو د هغې نیمایي باید تاسې په خپله اماده کړئ او نیمایي نورې یې له ځینو دوستانو څخه د یوې اوږدې مودې (پینځو کلونو) له پاره د قرض حسنې په توګه ترلاسه کړئ. له هر چا څخه په زغرده غوښتنه وکړئ. ولې غوښتنه مو باید غوڅه او عملي وي، او هغوی ته د بېرته ورکولو پلان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت او طريقه هم په واضحه توګه ورته ووايئ. که وتوانېږئ دغه پيسې له خپل وخت څخه دمخه بېرته وروروسوئ، دا به لا ښه کار وي. او که د پیسو په بیرته ورکولو کی کوم خنډ او ځنډ پيداشو، نو هغه مشکل فوراً هغه کس سره شريک کړي، تر څو هغه هم د خپل ځان لپاره کوم بل پلان وسنجوي.

که تاسې په يوه وخت کې ځمکه اخستل او کور ودانول دواړه نشئ کولای، نو دا پروا نه کوي چې يو ځل ځمکه واخلئ او بيا د درېوو کلو په دننه کې پرې کور جوړ کړئ. خو که د کور جوړل پرې د درېو کلو نه زيات وخت نيسي نو بيا ښه خبره داده چې د مځکې د اخستلو نه تېر شئ، اوهماغه پيسې په کوم کاروبار کې بندې کړئ تر څو ښه ګټه درته راوړي.

د کور په جوړولو کې تل د راتلونکې پلان په نظر کې ولرئ يعنې په دې معنا چې که امکان ولري، حد اقل د يوه يا دوه نسله د کورنۍ د غړيو د ګډ اوسېدوو او د امکان په صورت کې د سره نږدې او جدا اوسېدو شرايط ولري. يعنې ابادې يې داسې جوړه شوي وي، چې که تاسې دوه يا درې زامن ولرئ، نو هغې هر يو ته دوه يا درې کوټې د کور په يوه خوا کې وروروسيږي. تر څو پرته د جنګ او جنجالونو نه په کې جدا اما يو له بل سره نږدې ژوند وکړای شي.

د کور د اخيستلو يوه بله ښه طريقه داده چې لومړی کور داسې يو کور واخلي چې په کې له يوې خوا ستاسې ګوزاره وشي او له بلې خوا يې وکولای شي يوه برخه په کرايه ورکړئ او چې کله مو ځان ته بل کور جوړ کړ، نو بيا دا کور خرڅ نه کړئ، بلکه هغه په کرايه ورکړای شي. تر څو د نوي کوردقرض په خلاصولو کې له تاسې سره مرسته وکړي. او د بلې خوا که ستاسې د بچيانو شمير زيات شي، نو دغه کور به هم د يوه يا دوو تنو له پاره د جدا اوسېدو شرايط برابر کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٤٢ - د واده له پاره پلان:**

واده هم د انسان په ژوند کې تر ټولو یو مهم، جدي او قیمتي کار دی، چې تر بل هر څه ښه پلان کولو ته ضرورت لري. د واده په اړه یو شمېر زیات موضوعات د واده په برخه کې ذکر شوي دي؛ خو هغه څه چې د واده په پلان پورې اړه لري، دلته راوړو:

ښه خبره به دا وي، چې هر ځوان د خپل واده په اړه مشخص او ټاکلې نقطې لکه له څرنګه یو کس سره باید واده وکړم؟ په کوم عمر کې باید واده وکړم؟ او د واده مراسم او ترتیبات مې دې څرنګه وي؟

نن سبا ودونه د ځینو ناضروري رواجونو په وجه ډېر ګران شوي دي. زما توقع او امیددا دی چې تاسې دیوه مبتکرځوان په توګه د واده یو ډېردروندداو خوشاله پروګرام ولرئ، ولې د یو شمیر بېځایه قیمتي کارونو مخه ونیسئ.

که تاسې له خپل ځان سره روښانه او غوڅه فیصله ولرئ چې د څرنګه مشخصاتو لرونکې شخص سره واده کول غواړئ نو بیا یې پیدا کول شونې او اسان دي. خو که تاسې نه پوهېږئ چې څه غواړئ نو پیدا کول به یې هم ګران او نا شوني وي.

پر خپل هدف د روښانه پوهېدو په صورت کې خپله ټوله پاملرنه او امکانات د هغه په لور معطوف کړئ. داچې تاسې څرنګه وکولای شي چې د خپل خوښې د کس کورنیۍ دې ته وهڅوي، چې ستاسې مرکه ومني، ځانته ځانګړې تکتیکونه لري، چې دا تکتیکونه د هر شخص په برخه کې فرق کوي. تاسې کولای شي د لیکوال نه چې په دې برخه کې د کامیابو مشورو په اړه په نړۍ واله سطحه شهرت لري، ځانګړې سلا مشوري واخلې.

کله مو چې له زړه سره برابر نفر پیدا کړ بیا د هغې د لاسته راوړلو له پاره پوره تحقیقات ترسره کړئ. او دهغې د کورنۍ د غوښتنو سره برابر ځان عیار کړئ.

د خپل واده مصارف په لاندې ډول پلان کړئ:

اول : د واده په مراسمو کې ښه او مناسب نوښتونه راوړئ، چې د قیمتي واده په عوض

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې واده درونډ اوخوښوونکی وي.

دويم: د واده مصارف هم په درې برخو ووېشئ. اوله درېيمه برخه يې خپله د درېو کلو کار په اوږدو کې تهيه کړئ، چې بايد د مجردتوب په صورت کې ستاسې له عايداتو څخه ٢٥ % واده ته ګوښه شوي وي يعنې په دې توګه د کار له شروع څخه (٢٥ %) د موټر له پاره ، (٢٥ %) د کور له پاره او (٢٥ %) د واده له پاره جدا کړئ. او پاتې ٢٥ % يي د ورځني لګښتونو له پاره استعمال کړي. کوښښ وکړئ چې اول هدف په درې کالو کې ترسره کړئ، نو بيا د دويم او درېيم هدف له پاره (٣٠) (٣٠) فيصده ذخيره کړئ او د اول هدف نه پاتې (١٥%) يې د اول هدف په قرض کې ورکوئ او يا هم ممکن ستاسې لګښت له (٢٥ %) نه تر (٤٠%) فيصدو ته زيات شوي وي.

درېيم: اول درې کلو کې موټر واخلئ، په دويمو درې کلو کې کور واخلئ او په دريمو درې کلو کې واده وکړئ..

د واده له پاره هم تاسې بايد لومړی دريمه برخه پيسې خپله ولرئ او دويمه درېيمه برخه نورې يي د خپلې کورنۍ څخه په بلاعوضه توګه واخلئ، او وروستي درېمه برخه يې له خپلو دوستانو څخه د اوږدې مودې له پاره په قرض واخلئ. (۵ کلو له پاره). خو د واده نه وروسته بيا ددې قرض اداکول تر ټولو لومړيتوب لري.

که تاسې کور له واده نه وروسته اخلئ، نو کولای شئ چې په دې برخه کې يوه مناسبه بلاعوضه او يا باعوضه ونډه د خپلې خسرګنۍ او اوښو پر غاړه هم کېږدئ. ليکن دا ونډه بايد روښانه او معلومه او شرايط يې عملي وي.

٤٣ - د تقاعد له پاره پلان:

تقاعد هم د ژوند يوه داسې مرحله ده، چې پکې يو انسان د کار توان له لاسه ورکوي، ولې د ژوند لګښتونه دوام پيدا کوي. دا ډېره مهمه ده چې د تقاعد په وخت کې هم سړي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ځان متکې واوسئ او دخپلې کورنۍ له پاره پېټی نه شئ. نو ددې له پاره چې تاسې او ستاسې مېرمن د تقاعد په وخت کې هم یو ابرومند ژوند ولري، لاندې تدابیر نیول فوق العاده ضروري او جدي دي:

۱. کوښښ وکړئ چې د خپل کار په وخت کې حداقل ځان ته داسې یو کور ترلاسه کړئ چې د تقاعد په وخت کې د هغې کرایه نه وي، او یا نور کوم قیمت ورباندې پاتې نه وي. او تاسې په کې مفته واوسېږئ.

۲. د تقاعد نه مخکې ځان ته داسې یو دویم کور پیدا کړئ چې د تقاعد په وخت کې تاسې د هغې حداقل نظارت وکړئ، ولې تاسې د هغې د کراه نه د ورځنیولګښتونو پیسې ترلاسه کړای شئ. یعنې د هغه کور یوه برخه په کرایه ورکړای شي.

۳. د تقاعد له پاره یو څه پیسې د کار د لس کلنۍ نه وروسته د هر کال د عایداتو ۵% فیصده ذخیره کړئ، او په یوه مناسب ګټه کوونکې حساب کې مو بایدایښې وي، او یا مو چاته په مضاربت ورکړې وي. یو بله ښه طریقه داده، چې په همدې پیسو یو دویم کور واخلئ او په کرایه یې ورکړئ او یا هم ځمکه پرې واخلئ چې دوامداره حاصل درته وکړي.

٤. کله چې ستاسې بچیان لوي او واده شول، او تاسي لا کار کوي، نو بیا د خپل عایداتو څخه یوه غټه برخه (۳۰-٤۰ فیصدو پوري) د خپل تقاعد له پاره بیلې کړي.

۵. په خپلو بچیانو هر یوه چې په کار ودرېدلی وي یوه لازمه اندازه پیسې پرې وټاکئ چې هره میاشت یې په منظمه توګه ستاسې حساب ته واستوي، دا پیسې باید ثابتې، دوامداره او عملي وي، چیاندازه یې د (۱۰-۱۵ فیصده د هغوی د تنخوا به ښه ونه‌ه وي).

٦. له خپل مرګ نه وروسته د خپل جایداد پیسو او اموالو د تقسیم له پاره یوه لیکلې وصیتنامه ولرئ، چې په شرعي او قانوني توګه د قبلولو وړ وي. څو ستاسې له مرګ نه وروسته، ستاسې د کورنۍ د غړیو ترمنځ د جنجالونو مخه ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. د تقاعد په وخت کې عمده لګښتونه (د کور کرایه، خوراك او صحي چاري) دي. کوښښ وکړي، چې د صحي چارو له پاره یا بیمه ولري او یا هم یوه مناسبه اندازه پیسې مو منظمې پلان کړي وي.

۸. د تقاعد په وخت کې ګرځېدل او کار کول ډېر ګټور دي کوښښ وکړی چې تر خپل اخري وسه کار وکړي، او په کار کولو کې شامل اوسئ. دا ستاسې تندستیا، روغتیا او خپلواکۍ ته ډېره ګټه رسوي.

۹. د خپل ځان او خپلې ښځې د مرګ، تکفین او تدفین له پاره ټاکلې اندازه پیسې، کفن او یو څه خوراکې مواد مخکې له مخکې نه سپما کړئ؛ تر څو د ناڅاپي مرګ په مهال ستاسې په کورنۍ ډېر زور رانشي

# یوولسم څپرکی

## د ځوانانو د ژوند مهم اړخونه، او د هغوی په اړه اړینې مشورې

٤٤ - د اقتصادي موضوعاتو په هکله:

سره له دې چې پیسې او مادي امکانات د ژوند د مهمو او اساسي اړتیاوو څخه دي، اما یوازې پیسې نه شي کولي چې د انسانانو د نېکمرغۍ او خوښۍ سبب وګرځي. خو ډېر خلك د پیسو د پیداکولو له پاره د ژوند ځینې ډېر خوندونه او چانسونه هم له لاسه ورکوي، چې بیا نه پیسې او نه نورې هلې ځلې کولي شي چې د هغې جبران وکړي.

نو ځوانانو ته په کلکه سپارښتنه کوو چې د پیسو له پاره خپل د ژوند نورمهم او ارزښتناکه اړخونه تر پښو لاندې نه کړي. په دې برخه کې ځوانانو ته لاندې مشورې ګټورې بولم:

١. له ځوانانو څخه هیله کوم چې د پیسو پر ځای زده کړې او تحصیل ته لومړیتوب ورکړي. پیسې هر وخت پیدا کېدای شي، خو زده کړه او تحصیل ځان ته ځانګړي وخت او شرایط لري. نو په هېڅ قیمت د تعلیم وخت ضایع نکړئ، او د پیسو له پاره تعلیم پرېنږدئ. که مو د تعلیم وخت په پیسو پسې تېر کړ او له علم او تحصیل څخه وروسته پاتې شوئ، نو بیا به مو ټول ژوند پریشانه، د لږو پیسو نوکر او د ټول عمر له پاره به په پیسو پسې سرګردانه اوسئ. همدا اوس مو وخت دی چې زده کړې او تحصیل ته پوره پاملرنه وکړئ.

٢ . د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې ځوانان له یوې خوا زده کړې او تحصیل کوي او له بلې خوا هره ورځ څو څو ساعته کار کوي چې د خپل ژوند لګښتونه پوره کړي. ولې زمونږ ډېر ځوانان یا خو د لمر پتاوي کوي او یا خو هم خپل طلایي وخت د نورو په غیبت کولو تیروي.  زه د خپل هېواد ټولو خوانانو نه هیله کوم چې د افغاني ټولنې له دغې منفي کلتور سره پرله پسې عملي مجادله وکړي.  ځان ته هره ورځ ٤ – ٦ ساعته داسې کارونه پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړئ چې له یوې خوا یو څه لاس ته راوړي او له بلې خوا ستاسې په مسلکې پرمختګ او ټولنیزو پیژندګلوۍ کې ګټور وي. که مسلکې کارونه داوطلبانه هم وي دا به ستاسې په ګټه وي.

۳. د پیسو د سنبالولو په برخه کې هم ځینې لارښوونې اړینې بولم. زموږ په ټولنه کې زیات داسې خلک شته چې ډېرې پیسې پیداکوي، خو د پیسو د ساتنې د مهارت د نشتوالي له کبله، هغه پیسې ترې په لږه موده کې تار و مار شي، او د اړتیا پر وخت یې بیا یې لاس تنګ او یو او بل ته اړ وي. ډېر کم داسې خلک به وي چې پیسې په سمه توګه سنبالې کړاي شی. د پیسو سنبالول یو ځانګړی مهارت دي. ددې له پاره چې تاسې ځوانان خپلې پیسې ښې سنبالې کړاي شئ، غواړم د خپل مرحوم پلار (حاجي سراج الدین خان) نصیحت له تاسو سره شریک کړم:

زما مرحوم پلار راته ویلي وو چې: زویه! همېش خپله ټوله ګټه په درې برخو وېشه: لومړۍ برخه یې د پور د خلاصې له پاره ورکړه (یعنې د خپل مور او پلار او نورو خپلوانو هغه قرض اداکوه، چې یې په تا مصرف کړي او ته یې را لوی کړي یې.). دوهمه برخه یې پور ورکوه (یعنې چې دا برخه یې د خپلو بچېانو په تعلیم او روزنه ولګوه، او یا یې د هغوی له پاره سپما کړه)، او درېمه برخه یې په خپله خوره (یعنې له خپلو عایداتو سره برابر خپل ژوند تېروه). مه دومره شوم اوسه چې ژوند دې تریخ وي او مه دومره لګښتي اوبدخرڅه اوسه چې بل چا ته اړ شې.

سره له دې چې زما پلار هېڅ تعلیم نه درلوده، خو زه پر دې پوره عقیده لرم چې د هغه دا خبره د کاڼي کرښه او د دنیا د ډېرو لوړو فیلسوفانو د سطحي خبره ده. د هغه مبارك دا خبره نه یوازې زما په اړه، بلکې د هر انسان په برخه کې د تطبیق وړ او د هر چا له پاره یوه عالیترینه توصیه ده. نو په دې وسیله له تاسې هر یو څخه دا غوښتنه کوم چې د هغه دغې عظیمې توصیې ته نه یوازې په خپل ژوند کې عملي جامه ورکړئ، بلکې د هغه دغه ټولنیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



وصیت خپلو نوروملګرو، دوستانو، او راتلونکو نسلونو ته هم ورزده کړئ. نو هر ځوان ته توصیه داده چې خپله ورځنۍ ګټه پر دریو برخو وویشي: یوه برخه یې د خپل موروپلار له پاره وټاکي، یوه یې د خپلو بچېو له پاره وساتي، او په دریمه برخه یې په خپله مزې چړچې وکړي.

٤٥ - د کار په اړه سلا مشورې:

لکه چې دمخه مو وویل، کار د هر انسان د ژوند او معیشت د برابرولو او په منظمه توګه د مصروف پاتې کېدلو یوه مهمه وسیله ده.

ددې له پاره چې موږ هر یو د ژوند یوه زیاته برخه وخت په کار کې تېروو، او همدا کار دي چې زموږ د ژوند اړتیاوې را پوره کوي. نو له دې کبله داګټور بولو چې په دې برخه کې هم ځوانانو ته اړینې او ضروري لارښوونې وکړو. د کار په برخه کې تر هر څه مهم د کار ټاکل دي. د خپل کار په غوره کولو کې باېد له ډېر غور څخه کار واخلئ. تر هر څه لومړی د ښوونځي په دوره کې د زده کړې د څانګې ټاکنه بشپړ ارزښت لري. په دې برخه کې د لازمو معلوماتونو راټولول او له مسلکې خلکو سره مشورې کول ارزښت لري. د ښوونځي په دوران کې باید تاسې داسې یوه څانګه ولولئ چې د هغې سره ځانګړې مینه او لېوالتیا ولرئ. او بیا د عملي کار په وخت کې باید ځانته د کار ښه یو مطابقت لرونکې ځای وټاکئ او د عملي کار په وخت کې باید چې په خپل کار کې دومره صداقت، هوښیارتیا او لېوالتیا ښکاره کړئ چې له فراغت سره سم هغه ځای تاسې ته په خپله کمپنۍ کې د کار کولو بلنه درکړي. او یا خو هم د ښه عملي تجربود ترلاسه کولو له پاره له هغې څخه ګټه واخستلي شئ. د کار په برخه کې نورې عمومي مشورې په لاندي ډول وړاندې کوو:

- د کار په اړه تر ټولو اول او تر ټولو مهم اصل دادي چې تاسي باید د هماغه اول کار د اول وهت نه ددې تصمیم ولري چې غواړي د ټول عمر له پاره د خپل کار په محیط

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې امر پاتي کېدل غواړي، او که معدون پاتي کېدل. ځما مشوره به داوي چې د هماغه اول وخت نه ددې اراده وکړي چې تاسو غواړي په خپل راتلونکې عمر کې په هر کار کې امر اوسي نه معدون. ددې له پاره چې دا کار تر سره شي، اولين کار دادي چې تاسي بايد پدي پوه اوسي چې په خپل کار کې امر کېدل لاندي څو شيانو ته تړاو لري.

1) په چارو کې پرله پسې لېوالتيا
2) په کار کې صداقت او اخلاص، او د وخت پابندي، او حتا کله چې ضرورت وي اضافه کاري
3) دکار په ټولو اړخونو ځان پوهول
4) په کار کې د نورو سره همکاري
5) د کار د امرينو اطاعت مندي او د هغوی لارښوونو ته توجه کول

که تاسي د يوې لنډې مودې له پاره دغه اساسات تر سره کړل، ډېر ژر به د خپلو امرينو توجه ځان ته راجلب او په خپل کار کې به د امريت په لوري خپل پړاونه شروع کړئ.

- خپل هر کار په پوره صداقت، پاملرنه او امانتدارۍ سره سر ته ورسوئ.
- داسې فکر کوئ چې ستاسې امر هر وخت تاسې ګوري.
- خپل کار ته وختي ځئ او پر خپل وخت له کار ه رخصتيږي.
- د خپل کار ځاي او محيط پاك ساتئ.
- د کارسامان الات په خپلو شخصي کارونو کې مه کاروئ.
- د بل نوي کار تر پيداکېدو د مخه، هېڅ کله هم خپل زوړ کار مه پرېږدئ.
- هر وخت د نوي کار او نوي چانس په لټون کې اوسئ.
- په خپل کار کې د ښو کارونو د سرته رسولو په برخه کې له خپل امر نه لازم تصديقونه تر لاسه کوئ او هغه خوندي وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په خپل کار کې هره ورځ د نوو چلنجونو او زده کړوغوښتنه وکړئ.
- د خپلو ټولو چارو د پیل او پای نېټې په یوه جلا لست کې وساتئ.
- په خپل کار کې له نورو همکارانو سره ملتیا وکړي او د هغوی
- کارونه زده کړي.
- له خپلو ټولو همکارانو ملګرو سره ښې اړیکې وساتئ.
- په خپل ځان پورې اړوند کارونه مو نورو همکارانو ته ورزده کړئ، چې د اړتیا پر مهال هغوی ستاسې کارونه تر سره کړای شي. همدارنګه د نورو همکارانود کارونو په برخه کې ځان ته لازم معلومات تر لاسه کړئ، چې د اړتیا پر مهال تاسې د هغوی ځای په ښه توګه ډک کړایشئ.
- د کار په چاپېریال کې له ځانګړو تعلیمي او تفریحي اسانتیاوو څخه پوره ګټه واخلئ.
- د خپل کار د ښه والي، مؤثریت په اړه تل فکر کوئ، کله مو چې کوم داسې ښه او غوره وړاندیز په نظر راغی چې هغه به ستاسې ادارې سره مرسته وکړي، هغه د خپل پورته امر سره په لیکلي شکل د ایمیل له لارې شریک کړئ او یا هم ور سره مخامخ پرې خبرې وکړئ. به لیکلې توګه ددې موضوعاتو شریکوونه ستاسو لپاره په اینده کی ښه سند کیراې شي.
- په کار کې له هر راز کمپیوټري زده کړو او ورکشاپونو نه سترې ګټې واخلئ، او د هغې برې لیکونه په هماغه وخت کې تر لاسه کړئ او ددې ټولو کورسونو یاداښتونه ولیکئ.
- د کار د ځای رازونه او اسرار تل خوندي وساتئ.
- د خپل کار او مسلک په برخه کې له پېژندل شویو کسانو او خېرو سره ځانونه اشنا او معرفي کړئ.
- د خپل کار او مسلک په برخه کې له نورو معلوماتونو او پرمختګونو نه ځانونه خبر وساتئ. د خپل مسلک پورې اړوند مجلو او نورو خپرونو کې چې په ملکی او نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واله کچه خپرېږي، تر ممکن حده ګډون وکړئ.

- د خپل کار او مسلك په ټولنيزو تشکېلاتو او ټولنو کې ځان داخل او په غونډو کې يې تر ممکنه حده ونډې واخلئ.
- د خپل کار په محيط کې يو لړ داوطلبانه او د خوښې کارونو ته کانديد شئ.
- کوښښ وکړئ چې تل خپل امر ته رښتيا ووايئ، په ځانګړي ډول که کله درڅخه کوم کار خراب شي نو د پټولو په ځای يې نېغ په نېغه خپل امر ته ورشئ، او ورته ووايئ چې له تاسو څخه غلطي شوې، او حاضر يئ چې جبران يې کړئ. په دې صورت کې به ستاسې امر نه يوازې تاسې وبښي، بلکې هغه به ممکن چې د هغې غلطۍ په اړه درسره اړينه مرسته وکړي. خو که تاسې دا خبره ترې پټه کړئ، او هغه بيا د کومې بلې لارې نه خبر شي نو په هغه صورت کې به هغه بيا په تاسې په غوسه شي او نه يوازې دا چې ستاسې مرسته به ونه کړې، بلکې دکلکې سزا سره به مو مخ کړي.
- په خپل کارې محيط کې دخپل شخصيت اوموقف ساتلوته تل اوپه آګاهانه ډول متوجي اوسي. هيڅکله هم دخپل کارپه ماحول کې دجنکواوهلکانوسره دملګرتوب اوجنسي ارتباطاتو په لټه کې نشي، ځکه دغه منفي اړيکې بيادکارپه ساحه کې ستاسې جرئت اوموثريت کموي، او ستاسې شخصيت زيانمنوي.
- په خپل کار کې د**Short Cuts** ( دپولې په ځای په پټې کې تګ) نه مخنيوی وکړئ. ددې مطلب دادي، چې ځينې خلك د تنبلې په وجه ددې پرځای چې يو کار په صحيح طريقه تر سره کړي، هغه کوښښ کوي چې هغه کار ته لنډه اما يوه ناقصه لار پيدا کړي، چې ممکن د هغه کار په کېفيت منفی اثر واچوي. زمونږ په سيمه کې يوه قريه ده چې کنديباغ يي بولې. ددې ځاي خلك په داسي يوه دري ژبه خبري کوي چې نيمايي يي پښتو او نيمايي يي دري ده. ددوي په اړه يو متل دي چې وايي (د پولي په سر لار ده، په منځ د پټي کې چرا ميروي. به ولا که سنګ در بغلت م زنم، بوك به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي راواړوم) دا چې په دي متل کې پښتو او دري ځومره سره ګډه شوي، دا يوه مساله ده، خو د متل اصلي هدف همدا د**Short Cuts** نه مخنيوي دی. يعنې اصلي لار داده چې په پوله ولاړ شې، ولو که هغه لرې هم وي. لکه څنګه، چې په پټي او فصل کې تلل د فصل د خرابوالي سبب کېږي، همدغه شان په کار او دفتر کې شارټ کټونه دکارونو د خرابوالي سبب کېږي.

- له خلکو سره هېڅکله هم دروغ مه وايئ. (ټکی) ، يعنی په دې کې نوره هېڅ خبره نه ځايېږي.

٤٦ - دواده په برخه کې لارښوونې:

سره له دې چې ما د واده په برخه کې يو ځانګړی او تفصيلي کتاب ليکلی دی چې ژر به د ځوانانو لاس ته ورشي. . خو د دې موضوع ارزښت ته په پام سره دا اړين بولم چې دلته پرې مختصر بحث وکړم.

واده د چا په خوښه؟:

د هر انسان په ژوند کې زېږېدل، واده او مرګ دري مهمې مسئلې دي. چې له دې جملې څخه د زېږېدلو او مرګ په انتخاب کې انسان هېڅ کوم ټاکونکی نقش نلري. نو له دې کبله ويلي شو، چې واده د ژوند يوازينۍ او تر ټولو مهمه مسئله ده چې يو انسان په کې کولی شي له خپلې هيلې سره سم يو څه اغېزمنتوب ولري. افسوس چې زموږ د هېواد په رسم و رواج کې بيا دا ازادۍ هم زموږ له ځوانانو نه اخستل شوې او اخېستل کېږي. نو د پورته خبرې په تاييد، د ځوانانو نه په کلکه غوښتنه کوم چې ددې موضوع د اهميت په نظر کې نېولو سره په جرئت دغه ډول بې مورده مداخلو ته خاتمه ورکړي. او د خپل معقوليت، ځواکمني او هوښيارۍ په ښوولو سره په دې برخه کې يو څه اساسي خپلواکې او صلاحيتونه تر لاسه کړي. البته دا په دې معنا نه ده چې ځوانان بايد د مور و پلار مشورې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظره وغورځوي. زما په اند، که له یوې خوا زموږ د سیمې دودونه نا مناسبه او ډېر یو لوري دي، ځکه چې په هغې کې د ځوانانو هیلو او نظریاتو ته پاملرنه نه کېږي، چې د غندنې وړ ده، له بلې خوا، په همدې کچه د غربې نړۍ خپلواکې چې ځوانان په کې خپل ودونه یوازې په خپله خوښه کوي، او په دې برخه کې د مور و پلار مشورې گټورې نه بولي، هم نیمگړې او زیانمنه بولم. د واده په مسله کې باید دواړو خواوو ته مناسب حق ورکړ شي.

پلرونه باید د کورنیو د ټاکلو او ځوانان دې د نجلۍ یا هلك د انتخاب حق ولري. یعنې دا چې یا دې ځوانانو ته د هغو کورنۍ په هکله چې دده کورنۍ به ورسره موافقه ولري، په گوته کړاي شي، او ورته دې وویل شي چې له دغو کورنیو څخه یو څوك خوښ کړي. او یا خو دې ځوانان ازاد پرېښودل شي چې په خپله خوښه څوك خوښ کړي او بیا دي هغه کس د کورنۍ د موافقې د لاس ته راوړلو له پاره دځوان له خوا موراو پلارته معرفي کړا ي شي. معنا دا چې د واده په پرېکړه کې باید ددواړو خواوو نظر او موافقه شتون ولري. خو مهمه خبره داده چې موافقې باید په ډېره پراخ نظرۍ سره تر سره شي، چې د هغه دوو ځوانانو د ژوند نیکمرغۍ ته په کې تر بل هر څه لوړاو زیات ارزښت ورکړل شوي وي.

زما له نظره، د کورنیو ټاکل د مور و پلار حق، او د ژوند د شریکباڼ غوره کول د هر ځوان خداي وربخښلي حق دي.

زه د ټولو افغاني میندو او پلرونو نه هیله کوم چې په دې برخه کې د نوښتونو او سمونونو قیادت او مشري په خپل لاس کې واخلي، او د خپلو بچو سره د سالمو، مخامخ او ازادو خبرو له لارې چې په یوه دیموکراتیکه فضا کې تر سره شي، نېغ په نېغه خبرې وکړي او دوئ ته د خپلو سالمو مشورو او لارښوونو له لارې د خپلو بچېانو اعتماد تر لاسه او په دې برخه کې یې سالم ملاتړ وکړي. ځوانانو ته هم توصیه کوم، چې په دغه ډېره مهمه او برخلیك سازه مسله کې یوازي له احساساتو څخه کار وا نخلي، بلکې له معقولیت او هوښیارۍ سره په دې برخه کې د خپل موراو پلار مشورې مهمې و گڼي اوهغه په نظر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولري. زه په دي اړه د ډېرو داسي غميزه کېسو شاهد يم چې په هغه کې يا خو د ځانانو غوښتنو ته، او يا هم د زيړوالو (پلارومور) غوښتنو او مشورو ته توجه نه ده شوي، او پايلي يي ډېري غمجني او داسي دردونکې وي چې يي ددواړو (هم د زيړوالو او هم د ځوانانو) ژوند ته نه جبرانيدونکې صدمي رسيدلي، او حتا د بيشميره خلکو په ځان وژنو بدلي شوي دي.

د واده مناسب وخت:

د واده د مناسب وخت ټاکنه د هر چا په ځانګړيو شرايطو پورې اړه لري. خو زما په اند، هر هلك او نجلى ته په كار دي چې لومړي خپلې زده کړې او تحصيلات بشپړ کړي، او دوه يا درې كاله دي، كار وكړي تر څو دومره پيسې وګټي چې د يوه ښه واده او له دې نه وراخوا هم د يوه مناسب کور، د يوه اونيز سفرلګښتونه، او لږ تر لږه د شپږ مياشتو پوره لګښت زېرمه ولري. په دې صورت کې به ددوئ واده د پرېشانيو نه خالې واده وي. واده بايد په تمامه معنا له انديښنو نه خالي وي. له انديښنو سره واده کول، دخاوند د کوروالي د نا توانۍ سبب کېږي. کله ناکله دغه مسله د خاوند او ښځې تر منځ د سوءتفاهما تو لارې برابروي. او له دې کبله د هغه ښځه فکر کوي چې ګوندې مېړه يې هغه نه خوښوي ، او دا بيا ددوئ ترمنځ د نا باورۍ او د لا زياتو همېشنيو پرېشانيو سبب کېږي.

د مناسبې جوړې ټاکل:

سره له دې چې د مناسبې جوړې مسله هم يوه ډېره مهمه مسله ده چې د يوه انسان نه بل ته توپير کوي. خو تجربو دا څرګنده کړې ده چې په نسبي توګه په لاندينيو موضوعاتو کې ورته والى او نږديوالى، د ودونو په اوږدوالي او برياليتوبونو کې اغېزمن نقش لوبوي: د اقتصادي حالت ورته والى، د کورنۍ د ټولنيز موقف ورته والى، د دين او مذهب شريکوالى، د ژبې يووالى، او بلاخره د تعليمي سويې ورته والى. خو له دې سره سره، تر ټولو مهم او اغېزمن شى د دوو کسانو تر منځ د خوى او خصلت نږديوالى د برياليتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوعمده عامل ګڼل کېږي. اما دا هم باید په روښانه سره ووایو، چې تر دغو ټولو شیانو مهم او عمده د دوو کسانو تر منځ مینه تر بل هر څه د خوښي او بریالیتوب لوړ بنسټ جوړوي.

**مینه وکړي او واده له خپلې مینې سره وکړي، هېڅکله به هم پرېشان او پښېمان نه شي.**

د هلک او نجلۍ ترمنځ د ژوند په مختلفو اړخونو کې د توافق او اختلاف د پوهېدو له پاره ، ما یو ځانګړي امتحان جوړ کړي دي، چې ددې امتحان د اخستلو په نتیجه کې دواړو هلک او نجلۍ ته تر ډېر حده ددې پته لګیږي، چې ددوي تر منځ د ګډ ژوند په اړه توافقات او اختلافات څومره دي. ددوي واده به تر کوم حده کامیاب وي. خو لکه د نورو ستونزو په څیر ددې امتحان عملي کول هم زمونږ په ټولنه کې یو څه دودنیز چلنجونه لري. یو دا چې په نجونو بندیزونه او داسې اجتماعې خدمتونو ته د هغو د لاسرسې کموالې ددې امتحان عملي کول ستونزمز نوي. اما ښه خبره داده چې دا ضروري نه ده چې هلك او نجلي دي په ګډه دغه امتحان ورکړي. دوي کولاي شي چې جلا جلا د امتحان سوالونو ته ځواب ووایي. حتا دا هم ضرور نه ده چې نجلي دي د امتحان له پاره د امتحان مرکز ته مراجعه وکړي. اما دا مهمه ده چې هلك او نجلي دواړه په یوه وخت کې ټاکلو سوالونو ته په مستقله توګه ځوابونه ووایي، او خپل ځوابونه د یو بل نه پټ وساتې. ځکه چې د ځوابونو شریکول اصلا د دي امتحان اصلي هدف له منځه وړي. په دي امتحان کې اصلا د سوالونو په ځوابونو کې صحیح او غلط وجود نه لري، بلکه د هر سوال په ځواب کې د هلك او نجلي نظر ټاکي، چې د همدي جوابونو د مقایسي له مخي بیا د هلك او نجلي تر منځ توافق او اختلاف سنجول کېداي شي. نو دا هېڅ په ګټه نه ده چې د سوالو جوابونه سره شریک کړاي شي. کله چې دواړو سوالونو ته ځوابونه ورکړل، نو د د مقایسي او تحلیل له پاره دي دواړه د ځوابونو پاڼې د امتحان مرکز ته وسپاري، تر څو ددوي ځوابونه د یوه بل سره مقایسه او د یوه درست ساینسي فارمول له مخي وارزول شي، او مناسبي ارزوني او لاښووني ورته تهیه کړاي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواده په وخت کې د ښځی او میړه دعمر مسئله:

غربیان اکثرا دي ته ترجیح ورکوی چې دواده په وخت کې باید نارینه د ښځی نه دوه کاله مشر وی. سره لدی چې دواده په وخت کې د نر او د ښځی د عمر مسئله ته په افغاني کلتور کې دومره خاص اهمیت نه ورکول کیږی. خو د ژور تحقیق او ارزیابی نه وروسته او زما ددوهم واده په اړه د فکر کولو نه پس زه هم دی نتیجی ته ورسیدم چې دغربیانو دغه موضیعگیري درسته ده. که ځیر شوو نوپه اسلام کې هم دښځی دبلوغ عمر دنارینه په نسبت دوه کاله کم دی یعنی دطبعي نشؤنماله مخی هم په هر عمر کې ښځي ددو کاله مشر نارینه سره ښه تکاملي برابروالی لري.

دنورو جنسي خواهشاتو او د عمر په لحاظ دموضوعاتو سره د دلچسپی نه علاوه، نور اجتماعی مسائل هم شته چې هغی ته باید پدی اړه فکر وشی. د نارینه متوسط او متوقع ژوند په افغانستان کې (٤٢) کاله او دښځی متوسط متوقع ژوند (٤٣) کاله اټکل شوی دی. نو دنارینه او د ښځو متوسط متوقع ژوند سره توپیر لری. یو نارینه چې ددی سنجش له مخی دښځی عمر دنارینه په نسبت په اکثره ملکو کې یو کال زیات دی.

نو دی خبر ته په پام کې نیولو سره ښائي هره کونډه ښځه دمیړه له مرگ نه وروسته هم دوه کاله نور ژوند وکړی.

که ددی تفاوت ترځنگ، دنارینه عمر دښځی په نسبت څو کاله زیات وی نو دددی احتمال شته چې دهر مړ سړي ښځه به ده هغه د طبعي متوقع ژوند له مخې دوه کاله نور هم په کونډتوب کې تېروي. چې داموضوع بیا دکورنۍ له پاره دردونکې وي.

ددی موضوع ارزښت ماته دخپل دوهم واده په اړه ښه روښانه شو. زه د (٥٤) کالو وم چې ما دیوی نسبتا ځواني ښځې سره واده وکړ. اوس چی زه (٥٧) کلن شوی یم او ددې واده نه یوه (دوه) کلنه لور لرم. زه اکثرا ددی کبله زوریږم او تشویش کوم چې زما دمرگ نه وروسته به زما دغه ځوانه ښځه او دغه ماشومه لور ښایي ستومانه او سترې ژوند ولري. سره لدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زمونږ په ټولنه کې کورنی اکثرا سره نږدې وی او پاتی خپلوان کوښښ کوی چې ديتيم بچيانو او دکونډی حال ته پاملرنه وکړی. خو متاسفانه دغه ټول بيا ديو لړ قربانيو په بدل کې وی. اکثرا هغه کونډه او ماشومان بيا خپل استقلال، ازادی اواراده پکې له لاسه ورکوی. حتی چې بد بختانه اکثرا بيا پاتی کونډی دکورنی ديوبل چاسره په واده کولو مجبوريږی داچې زمونږ په ټولنه کې د ميړه د مرگ نه وروسته خپلوان کونډه په خپل کورني کې يو چاته واده کوي، دا ولي کوي، او ايا دا ښه کار دي که نه، ځان ته ځانگړي بحث غواړي، چې دلته يې د وخت په نظر کې نيولو سره تري صرفالنظر کوو. خو دا بيلکل د منلو وړ نه ده چې يوه کونډه دي په زور د بل چا سره په واده کولو مجبوره کړاي شي. نو زه ځوان نسل ته ددی جدی سپارښتنه کوم چې زمونږ داشتبا هاتو څخه ئی زده کړی او دخپل عمر سره مناسب (ددری کالو پوری تفاوت) په نظر کې نيولو سره واده وکړی.

منل، تطابق که بدلونه (**Adoptation VS Adjustment**)تطابق د انسانانو د ژوند يو داسې بهترين تخنيک دی چې له دې لارې انسانان کولی شي چې د دونيا د ډېرو خطرناکو حالاتو او څېزونو سره ځان عادت کړي. خو د انسانانو يو عمده مشکل دادی چې سره له دي چې دوئ کولی شي چې د دونيا له هر ډول خطرناکه څيز يا حالت سره ځان سم کړی، اما دوئ نه شي کولی چې له نورو انسانانو سره تطابق وکړي. هر انسان تل غواړي چې نور انسانان بايد ځانونه بدل کړي او له ده سره دې يوشان شي، اما دي بايد په بدلون کولو مجبور نه شي. موږ ددې پر ځاي چې انسانان له توپيرونو سره سره قبول کړو، موږ غواړو چې هغوی دې:زموږ په شان فکر وکړي، زموږ په شان دې ښکاره شي، زموږ په شان دې کره وړه ولري. او بالاخره که بدلون اړين وي، نو نور بايد بدلون وکړي، نه زه. خو که موږ وکړای شو چې نور انسانان لکه څرنگه چې دي، هماغه شان يې ومنو، نو زموږ ستونزې به ډېرې کمې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانان بايد پدې پوه وي چې واده ددوه متفاوتو اشخاصو يوځاي کېدل دي . ددې له پاره چې يوواده ښه موفق وي نراوښځي ته لازم دي چې مخکې دمخکې نه دي ته اماده وي چې دواده نه وروسته به دهغي په کړو وړو، اړيکواوخويونو کې توپير ونه راځي . واده داسې يوه پروسه ده چې په هغي کې بايد ميړه اوښځه دواړه په سلوکې پنځوس راکړې ورکړي ته تياروي. که يوخوادځپل شريکپال څخه څه نوي شيان ترلاسه کوي نو دبلي خوابايد دي ته هم اماده وي چې په خپل ژوند کې ځيني شيان له لاسه ورکړي.

په واده کې دغه راکړه ورکړه ده چې دمؤفقيت اوکاميابۍ سبب کېږي. برعکس که خاوند اويامېرمن وغواړي چې په يوه اړخيزه توګه يوازې خپلې ارزوګانې په مقابل لورى ورومني، نوددوي واده به دستونزو ښکار شي .

**"The greatest challenge, perhaps, the key to the global peace & prosperity is in how to adopt others inspite of our differences rather asking them to change not ourselves."**
**Tajuddin Millatmal**

**"The world would be much better off, if we learn and try to live and love others as they are inspite of our differences, rather changing them."**
**Tajuddin Millatmal**

په کورنۍ کې دخپلوانو دلاس وهنومخنيوي :

اکثرا دهلك اونجلۍخپل خپلوان دنوي واده شوې ښځې او خاوند په ژوند کې بې ځايه مداخلې کوې. خاوند ته د ښځې په مقابل کې او ښځې ته خاوند په مقابل کې لمسون اوپېغور ورکوي. په دي وجه غواړم ستاسې ځوانانو پام ودغو مداخلو، او د هغوي خرابو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عواقبوته راوګرځوم. .

ددې ډول مداخلو دمخنيوي بهترينه لاره داده چې دشروع څخه دټولو مداخله کوونکو په وړاندې داسې قاطع دريځ غوره کړئ، چې نور بيا د مداخلو جرئت ونه کړي. دمثال په ډول که تاسې ته څوک ووايي چې (ستاسځه ولي ښادرنه په سروي؟)؛نو ورته ووايي چې (ماورته ويلی چې ښادرمه په سرکوه) ولوکه تاسی هغي ته ويلی هم نه وي،اويا ورته ووايئ چې (دازمونږ شخصي مسله ده، هيله کوم دامونږ ته پرېږدي). دا زمونږ په ټولنه کې يو عام رواج ګرځيدلي چې د نجلۍ خپلوان نجلي د هلك په وړاندي او د هلك خپلوان بيا هلك د نجلي په وړاندي تحريکويي. خو دوي دغه ډول تحريك په ډېر مرموز او اکثرا د ډېري مهرباني په لباس کې ترسره کوي، چې د همدي کبله اکثره ځوانان دهغوي دغه لاس وهنيو ته د يوې مداخلې په نظر نه ګوري. دا هغه موضوع ده چې تاسي ځوانان بايد ورته ډېر په دقت متوجه واوسي، او د هغي مخنيوۍ په ډېره هوښياري وکړي.

په واده کې يوه بله موضوع دمسائلو په اړه روښانه اوغوڅ دريځ نيول دي. بايدچې ميره ښځي ته اوښځه ميړه ته دخپل زړه غوښتني اوارزوګاني په واضح اوروښانه توګه ووايي. که ديوه لوري کومه غلطي وشي بايد هماغه موضوع په روښانه ډول سره وڅيړي اودهغه کسانوپه څيرچې ديوی خبري په وجه سره خفه او په قهر وي، ولې بيا نور شيان پهانه کوي، کاسه اويادېګ په لغته وهي، صرف نظر وکړي .

٤٧ - د تقاعد په اړه سلا مشورې:

تقاعد يا (زوړوالي) د هر انسان په ژوند کښېو نه انکارکېدونکې واقعيت دي. اکثره خلك په دي وخت کې خپل عايدات د لاسه ورکوي، ولې لګښتونه يې تر يو حده دوام کوي. اکثره خلك د ځواني او پيسي پيدا کولو په وخت کې تقاعد يا زوړوالي ته څه خاص پاملرنه نه کوي. له همدي کبله د بدايتوب په وخت کې په نورو پيټې او ژوند يې د ستونزو سره مخ وي. سره له دي چې زمونږ په هېواد کې اولادونه (خصوصا زامن) د خپلو پلرونو او ميندو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه خيال ساتي، خو متاسفانه د اکثره زامنو ښځې بيا د خواښې او خسر خدمت کولو ته اماده نه وي.  او کله نا کله بيا ددوي د ضرورتونو پوره کول، اوددوي څخه مراقبت کول ددوي انگورگانو ته په شرعي لحاظ هم جواز نلري. ددې کبله چې د زړو خلکو د خدمتونو هغه اداري چې په خارجي ملکونو کې شته، لا تر اوسه په افغانستان کې د يوې خوا وجود نلري او دبلې خوا په دوديزه توگه هم د منلو وړ نه دي، نوکه تاسې غواړي چې په بډايتوب کې هوسا او ارام ژوند ولري، نو دا لازمي ده چې د ځوانۍ په وخت کې د بوډاتوب د ارامي له پاره لاندې کارونه تر سره کړي:

۱. په بوډاتوب کې د خپلو جلا اوسيدو له پاره د خپل زوی د کور تر خوا د يو ځانگړي وړوکي کور تابيا ونيسئ.

۲. په بوډاتوب کې د خپلو مصارفو له پاره، په ځوانۍ کې يو څه پيسي په بانک کې د گټې کولو په خاطر او يا هم کوم مطمئن دوست ته د کار کولو له پاره په حلاله گټه ورکړئ.

۳. په بوډاتوب کې د خپل انگورگانو د توجو په خاطر هغوی سره ځانگړې روا مينه او اخلاص وکړئ.

٤. په بوډاتوب کې د ښه صحت او فزيکې تکړه توب په خاطر ځان په سپورت کولو، ښه او صحي خوراک خوړلو او مناسبو تفريحي پروگرامونو عادت کړئ.

٥. په بوډاتوب کې کونډو نارينه او ښځو ته په کلکه سپارښتنه کېږي چې د امکان په صورت کې د خپل عمر سره مناسب بله کونډه يا کونډ پيدا کړي او واده ور سره وکړي.  دا ځکه چې ښځه يا مېړه يوازې د جنسي خواهشاتو د پوره کولو له پاره نه، بلکه د ژوند د يو ډېر نږدې همراز په شکل چې شرعا ور سره هر څه شريکولې او ورته ښکاره کولې شي، يو ځانگړې ضرورت دي.

٦. ددې له پاره چې په زړښت کې هم باصحته او په فزيکې لحاظ تکړه او فعال پاتې شي، نو د ځوانۍ د وخت نه په سپورت کولو او په فزيکې کار کولو ځان عادت وساتي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدايتوب کې که کار کولو ته ضرورت هم نه لري، خو د ښه صحت په خاطر داوطلبانه کارونو ته د خپل امکان سره برابر ادامه ورکړي.

٤٨ - د ملګرو د ټاکنې اوله هغوی سره د راشه درشې په اړه مشورې:

ځوانان تل دې سره مينه او علاقه لري، چې د خپل منګ له ملګرو سره زياته ناسته - ولاړه او راشه - درشه ولري. که څه هم له يوې خوا دغه راشه - درشه د ځوان نسل د نمو او اجتماعي وړتيا د رشد له پاره ضروري ده؛ خو له بلې خوا په دې برخه کې لږ غفلت او عدم پاملرنه د ډېرو بدبختيو او خرابو کړو وړو لارې برابروي. له دې کبله پر دې پوهېدل ډېر ضروري دي، چې ستاسې د اولادونو ملګري څوک دي؟ او دوی پر کومو موضوعاتو يو له بل سره شريکې اړيکې جوړوي؟

دا چې د بچيانو، وروڼو او خويندو د ملګرو په ټاکنې او له دوی سره د ورځنيو اړيکو په اړه مور او پلار، وروڼه او خويندې پر څه ډول دخيل اوسي، يوه فوق العاده مهمه موضوع ده.

الف. د ملګرو د غوره کولو په اړه ځوانانو ته مشورې:

باور وکړئ چې د ملګرو ټاکل ستاسې د ژوند يوه داسې بنسټيزه برخه ده چې ستاسې ژوند يوې مثبتې خواته او که نه نو يوې ډېرې منفي خوا ته راکشولی شي. د هر انسان ژوند پورې اړوندې يو شمير ستونزې او مشکلات له ناسالمو دوستانو څخه را پيدا کېږي. په دې برخه کې د سګرټو په باره کې دغه لاندې خبره د تطبيق وړ ده.

- سګرټ د انسان په ژوند کې تر بل هر څه بد ترينه ډالۍ ده چې يوازې د يوه ډېر خوږ دوست او ملګري له خوا يو چاته ورکول کېږي.
- د ځوانۍ په مرحله کې د خپلو جنسي غرايزو کنټرول خورستونزمن کار دی. او دې کارونو ته اکثرا ځوانان د خرابو ملګرو له خوا هڅول کېږي. له همدې کبله دی چې اکثره ځوانان خپل شخصيت دلته خرابوي، چې حتا د بيا جوړولو امکانات يې ببخي ناممکن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي.

- په ځوانی کې جراءت، رښتینولي، صداقت، له خرابو اعمالو نه ځان ساتل دا هغه خصوصیات دي چې په جدی توګه د نورو د اعتماد او احترام لاره تاسی ته برابروي.
- کوښښ وکړئ، چې محدود، ولې حسابي ملګري ولرئ.
- د خپل ملګرو په اړه پراخ او هر اړخېز معلوماتونه تر لاسه کړئ. په دې کې مو د ملګري کورنۍتاریخچه، د هغه اجتماعي، سیاسي او فردي اړیکې، د هغه د لېوالتیا وړ موضوعات، کړه- وړه، راشه- درشه، د یو شمېر هغو کړو-وړو په اړه د هغه درېځ او علاقه، چې د یو ځوان په شخصیت پورې اړه لري، له زده کړې سره یې مینه او بالاخره له اجتماعي کارونو او مسایلو سره یې مینه او لیوالتیا څه ده؟
- د خپل ملګرو، ملګري او دوستان وپېژنئ، او د هغوی په اړوند بشپړ معلومات تر لاسه کړئ.
- خپل هغه ملګری، چې ستاسې له نظره د اوږد مهالې او کلکې دوستۍ وړ دی، خپلې کورنۍ ته وروپېژنئ، او د خپلې کورنۍ له مشرانو څخه غوښتنه وکړئ، تر څو ستاسې دغه ملګري وارزوي او تاسې ته یې په اړه مشورې درکړي. بیا د هغوی مشورې ومنئ. ښایې د هغوی مشورې ستاسې خوښې نه شي؛ خو په راتلونکې کې تاسې ته ډېر ې ګټورې پرېوځي.
- خپل ملګري وخت په وخت و ازموئې، تر څو د هغوی رښتینولي او قرباني درته معلومه شي. کله کله د ملګرو د تحمل، توانمندي او برداشت په اړه معلومات هم اړین او ګټوردي، چې وازمایل شي.
- هېڅکله هم پر خپلو ملګرو سل په سلو حساب مه کوئ. تر ټولو غوره فارمول دا دی، چې پر خپل ملګري مو په سلو کې پنځوس حساب وکړئ او اعتماد پرې ولرئ، ولو که هغه ستاسې ډېر باورې ملګری هم وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خپلو ملګرو ته هېڅکله لافې مه کوئ او مه ورته درواغ وایئ.
- کوښښ وکړئ چې تر ممکن حده له خپلو ملګرو سره مو اقتصادي معامله ونه کړئ. که مجبور شوي، چې د پیسو راکړه- ورکړه او یا هم کومه بله مادي معامله ورسره وکړئ؛ نو د معاملې په اړه ورسره روښانه او جدي خبرې وکړئ. تر دې چې په معاملې پورې تړلي شرایط ورته په لیکلي توګه روښانه کړئ او د یو یا دوو نورو ملګرو پر وړاندې ورسره اړونده خبري وکړي، او که ممکن وي ټول شرایط په لیکلي توګه تهیه، تاسي یي امضا او د هغوی نه هم پرې لاسلیک واخلئ. دا به ستاسې د ملګرتوب په ساتلو کې، نسبت دې ته چې هېڅ شرایط مو نه وي ایښي، ډېره مرسته وکړي.
- له خپلو ملګرو سره په ژمنو کې جدي واوسئ . کوښښ باید دا وي، چې د ملګرو پر وړاندې خپلې ژمنې له لازم وخت نه مخکې په داسې توګه ترسره کړئ، چې د هغوی په تصور کې هم نه وي. ددې بر عکس د خپلو ملګرو ژمنو په اړه پر ځان ومنئ چې هغوی به په سلو کې پنځوس پر خپلو ژمنو وفا وکړي او ښایې د ژمونو پر خلاف خپلې ژمنې په خپل وخت کې ترسره نه کړي. دلته باید تاسې ډېرې حوصلې او زغم ته چمتو اوسئ.
- د خپل ملګرو، ملګري او دوستان وپېژنئ او د هغوی په اړوند بشپړ معلومات تر لاسه کړئ.
- خپل هر ملګری تر بشپړې څارنې لاندې ونیسئ چې له چا چا سره اړیکې اوناسته ولاړه لري او هغه کسان څرنګه خلک دي؟
- کله چې مو یو ملګری درته د یوه منفي او غلط کار بلنه درکړه، ورته ووایئ: چې لومړي خو مې له تا څخه غوښتنه دا ده چې ته هم له دې کاره تېر شه او که ته له دې کار څخه نه تېرېږې ، زما غوښتنه داده چې نور به له ما څخه د ناستې ولاړې او ملګرتوب تمه نه کوې او د الله(جل جلاله) په امان. دا پرېکړه مو باید غوڅه وي.
- د ملګرو ازموېل: هغه ملګری چې تاسې فکر کوئ چې دغه ستاسې ښه او صادق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرې دی وخت په وخت هغه د يوې مرستې کولو، پيسو پور او خراب کارونو ته د تللو له پاره وازمويئ. که يې پايلې مثبت وې، نوخپل ملګرتوب ورسره لا زيات کلک وساتئ، اوکه پايلې يې منفي وې نو په غوښه توګه يې ځانونه د ملګرتوب څخه لرې کړئ.

- ځان په دې پوه کړي چې کوم عمر او څوك دی چې ستاسې د شخصيت له پاره حساس او خطرناك دی. زه په دې متيقن يم چې دا به له تاسې سره ډېره مرسته وکړي چې خپل شخصيت د هغوی له صدمو څخه وژغورئ.
- د ملګرو په ټاکنه کې د هغوی کورنۍ هم ډېر اهميت لري. کوښښ وکړې، چې د خپل ملګروکورنۍ په دقيقه توګه وپيژنې.
- ملګري بايد وڅېړل شي چې په مخدره موادو، شرابو، بچه بازي، زنکه بازي او يا نورو بدو شيانو روږدي نه وي، او يا هم ددارنګه نورو خلکو سره ملګرو توب و نه لري.
- د ملګرو ټاکنه بايد داسې وي، چې د يوې ستونزې پرمهال در سره وي او د هغې د حل په اړه در سره مناسبه مرسته وکړي.

ب. د اولادونو د ملګرو په اړه والدينو ته مشورې:

- خپلو اولادونو ته د ملګرو دلرلو اجازه ورکړئ.، ځکه ځوانان د خپلو ملګرو په منځ کې په ښه توګه وده کولای شي. خو د والدينو دندي په دی اړه خورا مهمي دي، او دوي ته په کار ده چې په دې اړه خپلې اساسي دندې ترسره کړئ.
- له خپلو اولادونو سره د ملګرو په غوره کولو او ساتلو کې مرسته وکړئ.
- د خپلو اولادونو ملګرو ته اجازه ورکړئ، چې له تاسې سره ناسته ولاړه ولري. له هغوی څخه پوښتنې وکړئ او وخت په وخت يې بايد تر نظارت لاندې وساتئ.
- د خپلو اولادونو د ملګرو په اړه د هغوی له شاوخوا خلکو څخه ځينې مهم او ضروري معلومات ترلاسه کړئ، او ځينې مهم ټکې يې له خپلو اولادونو سره شريک کړئ. کله نا کله داسی هم کيږي چې ستاسې د اولادونو ملګري ستاسې د تصور نه هم پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چالاك وي، هغوی ستاسې په وړاندي ځانونه داسي عیاروي چې تاسي به فکر کوي چې دوي ډېر ښه هلکان دي، ولي په حقیقت کې داسي نه وي.

- خپل اولادونه د ملګرو په مخ کې مه تهدیدوئ او مه یې توهینوئ.
- خپل اولادونه پر دې پوه کړئ، چې خپلې غوښتنې دې له تاسې سره د خپلو ملګرو په مخ کې نه مطرحوي. تر څو یې د ردونې په صورت کې هغوی د کمی (کمترۍ) احساس ونه کړي. متاسفانه ځوانان دا د یوه وسیلي په توګه استعمالوي، او ددې له پاره چې د خپل زیږوالو د مجبوریتونو نه ګټه اخلي، او خپلي غوښتني د خپل زیږوالو څخه د کلګرو په وړاندي مطرح کوي، او یا هم چې کله کومه لویه غلطي وکړي، نو بیا د خپل زیږوالو سره د جلا مخکېدو په عوض ددې کوښښ کوي چې دملګرو سره یوځای خپل زیږوال وګوري، ځکه دوي په دې پوهېږي چې دهغه زیږوال به د هغه د ملګرو په موجودیت کې پر هغه هغه شان غوسه ونه کړي.
- خپلو اولادونو ته د مناسبو تفریحي پروګرامونو جوړولو اجازه ورکړئ خو دا پروګرامونه باید یا ستاسې او یا هم ستاسې د اولادونو دملګرو دکوم یوه د کورنیو د یوه مشرتر نظارت لاندې اوسي.
- د خپلو اولادونو ښه ملګري او پالئ او ویې نازوئ،تر څو ستاسې اولادونه پر دې باوري شي، چې تاسې د دوی او د دوی د ملګرو په اړه خپل دندې په اساسي توګه ترسره کړي دي. هغوی باید پر دې پوه شي چې تاسې د ډېرو خېړنو په پایله کې د هغوی ښه ملګري ستایئ، پالئ او نازوئ یې او د هغوی پلوي کوي، چې اولادونه مو له هغوی سره لا زیاته ناسته ولاړه ولري. ددې برعکس، د خپلو اولادونو د ناوړه ملګرو په اړه چې تاسې کومې فیصلې کوئ، هغه ستاسې د اولادونو په ګټه دي، خپلې فیصلې په ښکاره توګه خپلو اولادونو ته ووایئ او په اړه یې هغوی ته قناعت ورکړئ، په دې ډول به هغوی ته ستاسې ټولې فیصلې د منلو وړ وي، نو له دې کبله توصیه دا ده چې: ددې په عوض چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيږوال بچيانو ته واي چې بچېه، ستا دغه يا هغه ملګري زما نه خوښيږي، بايد دوې ته ووايي چې بچېه: ستا دغه ملګرې دا، دا کارونه کوي، چې دا کارونه زمونږ په ټولنه کې بد، منفي او د منلو وړ نه دي. زما له نظره ستا شخصيت لا تر اوسه په ټولنه کې د ډېر قدر وړ دي. خو دداسي خلکو سره ناسته او ولاړه کولاي شي چې ستا په شخصيت هم منفي اثر وکړي. نو زه تاسي ته جدا سپارښتنه کوم چې دداسي خلکو د ملګرتوب څخه لاس واخله. دداسي يوه روښانه او قاطع دريځ په وړاندي ستاسې بچيان په ښه توګه کولاې شي چې غوڅ او قاطع دريز غوره کړي.

- خپلې فيصلې په ښکاره او غوڅه توګه خپلو اولادونو ته ووايئ او په اړه يې هغوی ته قناعت ورکړئ، په دې ډول به هغوی ته ستاسې ټولې فيصلې د منلو وړ وي. نو ددې په عوض چې زيږنوال اولادونو ته په مجهوله توګه وايي، چې زما ستا دا يا هغه ملګری نه خوښيږي، ښه به دا وي چې هغوی ته ووايي چې، ستا دا ملګري دا، دا کارونه کوي، او يا دارنګه رويه او سلوك لري. څرنګه چې د هغه دغه کارونه په ټولنه کې منفي او بد اغيز لري، نو د هغه سره به ستا ناسته ولاړه هم ستا پر شخصيت منفي اثر وغورځوي. نو ځکه زه تا ته په کلکه مشوره او لارښوونه کوم چې ددې سړي د ملګرتوب څخه لاس واخله.
- د خپلو اولادونو د ملګرو په اړه په خپلو فيصلو کلك ودريږي، او په دي اړه هيڅکله هم متزلزل مه اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دولسم څپرکی

## ځوانان او د هغوی ملي مسوولیتونه

۴۹ - د هېواد تاریخ ، او جغرافې ته یوه کتنه

ننني افغانستان څرنګه یو افغانستان دی؟

هېوادوالو ته دا په ډاګه ده، چې نن نه یوزای دا چې خارجی عسکر د ملګرو ملتو تر یوه مصنوعي چتر لاندې زموږ په ملک کې د خپلې خوښې حکمراني په درویشیو، ټانکو او طیارو کې کوی، بلکې ددې ترڅنګ زموږ د ملک یوه زیاته برخه بېا دیو ډول نورو اجیرو نظامی قوتونو او جاسوسې شبکو له خوا هم په یرغمل نېول شوې ده. حتی ددغوخارجي عسکرو په منځ کې هم کومه هم اهنګي او مشترکه ستراتیژي وجود نه لري. دا حتی د هېواد یو ماشوم ته هم تعجب کوونکې ده چې غربي نړۍ ولې دهغو ټولو نظامي وړتیاو سره چې لري یې، نه شي کولای خپل هدف، چې هغه دالقاعدې او طالبانو له منځه وړل وه(؟)، تر لاسه کړي. داسې ښکاري چې دوی نه یوازې ددغه هدف په لورې ارادی پرمختګ کول نه غواړي، بلکه ځنې حوادث او راپورونه ددې ګواهي ورکوي چې حتی دوی خپلو همدغو مخالفینو ته هم وسلې او نوري مرستي وررسوي. ددې ستونزمن حالت په جوړښت او ادامه کې لاندې عوامل دخیل دي:

اول. سره لدې چې په هېواد کې دیوی صادر شوي او وروتپل شوي دیموکراسۍ لاندې یو تش په نوم انتخابي دولت او شورا وجود لري، خو په اصلي ماهیت کې نه په ملک کې دولت شته نه حکومت او نه اداره او نظام. دهېواد مشرۍ او رهبرۍ داهلیت پر ځای په مسلحتونو او تقسیمات ولاړ یوه سستم له خوا پرمخ ځي. افغانانو دوه ملیونه شهیدان ورکړل، او تر یونیم میلیون زیات یي معیوبي او په میلونونو یي یتیمان شول، تر څو یي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکې د نړیوال رقیب نوم ددنیا د خریطې نه پورته او په لسګزنز نوې ملکونه یي د نړۍ په جغرافیه کې راوزیږول. خو دي بی پاسو ددي ټولو قربانیو په بدل کې، زمونږ په ملك د معافیاوو او چورګرو مداریانو یوه داسې اداره د خپلو ټولو امکاناتو په حمایت سره حاکمه کړه، چی په نړۍ کی د جنایاتکارو مبتکرین ورت ویل کیداې شی. د غلو ددي ډلی په راس کی د جناب حامدکرزي صیب اداري ونه شو کولای چې په تیرو لسو کنو کی خپل مشروعیت او حقوقیت خپلو خلکو ته ثابت کړي، بلکه هره ورځ داسې نوې لوبې رسوا کیږي چې هغه ددوی مخ تورنی، بیګانه فروشی، قاچاقبری، او په چور او چپاول کې ددوي ونډې رسوا کوی. دهېواد په ټولو امورو کې ملي ګټې او ملي وحدت په عمدي او قصدي توګه وهل کیږي.

دوهم: په افغانستان کې یو محدود نا اهل اقلیت دهېواد په ټولو سیاسې او اقتصادې امورو مسلت کړل شوي دي. یو شمېر غلو او غدارانو نه یوزاې دا چې دطالبانو ددورې نه مخکې ددې ملت ټولې شتمنی چورکړی وې، ولې دافغانستان د ډېر خوا خو ږي بین المللي ملګري په لورینه او سپارښتنه او د جناب محترم حامد کرزی صیب په بې نهایته پیرزوینه دوی پدې تېرو نهه کلونو کې لا تر پخوا زیات دهېواد ټولې شتمنی چور کړي.

د غربیانو نړۍ واله پالیسي دا ښیې چې دوی اوس د ملتونو پر ځای امارتونه او قبیلې تقویه کوي. همدا راز په هر ملك کې د دیموکراسي د تحقق پر ځای چې په هغې کې حزبونه باید تقویه شي دوی یو څو کسان او کورنی تقویه کوي. په افغانستان کې همدې موضوع د سالمو او توانمدو ملي حزبونو د جوړښت مخه نیولې او پر ځای یي دوي څو وطن پلرونکو وړو وړوحزبونو ته مرستي ور کوي.

پدې کې هېڅ شك نشته چې یو څو محدودې کورنی نن دافغانستان داقتصاد ۹۰% په لاس کې لري، او ددوی دغه اقتصادي ګټې هره میاشت کې دوه چنده کیږي. نو دا څرګنده ده، چې که دوی په راتلونکي نظامونو کې د سیاسي اقتدار څخه وغورزول هم شی، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



به په افغانستان کې په اقتصادي لحاظ همېشه حاکم او مسلط وي.

درېیم: ددې ستونزو ترخوا همدغه جنایتکاران بیا په ډېره هوښیارانه توګه او په پراخه بڼه دهمدې نا سالمې وضعی ددوام له پاره دافغانستان دملیتونو او قومونو ترمنځ د ژبې، سمت، دین اومذهب دمختلفو توطو نه ګټې اخلی، او زموږ خلك په عمدي او قصدي توګه دځینې توطیو په پیاده کولو سره په خپل منځونو کې په دښمنۍ او مخالفتونو اخته کوي. که په واقیعت کې ورته ځیر شو دغه داخلي جنجالونه زموږ دعوامو ترمنځ نه، بلکې زموږ دهمدې جنایتکارانو او د یو شمېر بې مسولیته لوستو پر له پسې هلوځلو محصول دی او بس.

څلورم: اساسي مشکل زموږ په هېواد کې د جنګ سالارانو شتون او تسلط دی. کله چې د شوروي د تجاوز په وړاندې زموږ دهېواد ازادي بښونکې جنګ په خارجي هېوادونو متکې شو، نو ددغو خارجي هېوادنو دنورو توطئوتر خوا یوه طوطه هم داوه چې ددې جنګ واګې او اختیارات یې و دغسې نا اهلو او بې مسئو لیته خلکو ته وسپارلي چې دجنګ جګړې نه بغیر کومه نوره وړتیا یې نه لرله. دي نا اهله واکدارانو د خپل اقتدار او ګټو د ساتلو له پاره زمونږ په هېواد کښې دغه جنګ ته د دوو اهدافو له پاره ادامه ورکوله او ورکوي یې :

لومړی داچې په دې توګه په هېواد کې دسولې او ترقۍ مخه ونیسي، او په همدغه تیاره حالت کې خپل اقتدار او زمونږ د ولس وینې څکلو ته دوام ورکړي.

دویم دا چې په هېواد کې دسولې او ترقۍ دمخنیوي له لارې دخپل بادار هېوادونو شومې هیلې عملي کړي. دا د همدې ګمارل شوو قوماندانانو وطنپلورونکې توطۍ دي چې زمونږ هېواد په بیلابیلو پلمو د اور په لمبو کې سوځوي.

پنځم: زموږ دهېواد یوه بله غټه ستونزه داده چې مونږ پداسې یوه ناوړې او ستونزمنه منطقه کې پراته یو چې زموږ څلورو خواو ته پراته ملکونه همېشه خپلې ګټې زموږ په بدبختۍ او ورسته پاتې والي کې ګوري. چې په لاندې ډول د هر ملك موخې او لاسوهنې ذکر کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۰- د سیمې او نړۍ په حالاتو او د مختلفو ممالکو په پالیسۍ ځان پوهونه:

الف. زموږ د هېواد سیاسي جغرافیه

د هېوادونو خصوصاد ابرقدرتونو او غریبو هېوادونه اړیکې د یو بل سره او همداراز دګاونډي او سیمې د هېوادونو اړیکې د یوه بل سره تل ساده او روښانه نه وي. چې په دې موضوع پوهېدل او دهغې په رڼا کې دخپل هېواد اړیکې دګاونډیو هېوادونو، دسیمې دهېوادونو او نورو ډېرو قدرتونو سره دهغو دګټو او راتلونکي ستراتیژیو په رڼا کې لري، ځان پوهول دهر ځوان له پاره لازمي او ضروري دي. چې دا اړیکې په دوه برخو کې مطالعه کیدای شي.

لومړی: ګاونډي هېوادونه او د دوی ګټې او پالیسی:

۱- پاکستان:

پاکستان د افغانستان د یوه ډېر نږدې او مهم ګاونډي په توګه چې د افغانستان زیاتې تجارتي او اقتصادي تهیه کوني له دې لارې صورت نیسې، تل خپله توجه دي خواته ساتلي ده. همدا راز له دي کبله چې افغانستان د پاکستاني تولیدي موادو له پاره یو بهترین ازمایښتي او مصرفي مارکېټ دي، نو ددې کبله هم پاکستان په افغانستان کې ځانګړې لېوالتیا لري، چې په لاندې ډول څېړل کېږي:

لومړی- پاکستان دیوه نوې تولید شوي مصنوعي هېواد په څېر په (**1947**م) کې منځ ته راغی. دافغانستان دهېواد یوه زیاته برخه دانګریزانو له خوا په جبر (دډیورنډ د تش په نامه لیکې) په ذریعه زموږ د هېواد نه جدا شوه او د هند د یوې برخې سره یو ځای شوه او په دې ډول پاکستان د افغانستان او هند ترمنځ دیونوي ملک په توګه ایجاد شو.

پاکستان پدی ببرېږي چې که په افغانستان کی سوله او امن راشي، نو بیا به ضرور افغانان ددې خاوري ادعا کوي. سره له دي چې د هغې معاهدې دوره په **1372** ل ـ کال کې ختمه شوی وه، خو زموږ په هېواد کې دجنګ جګړو له کبله او بلي خوا د لاس پوڅو حکومتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ضعف او دپردي پرستۍ له کبله افغانان پدې ونه توانیدل چې خپله دغه ادعا ثرګنده کړې. نو ددې له پاره چې پاکستان د ډیورنډ نمونې معاهدې تسلط ته دوام ورکړي وې نو دوي په افغانستان کې د یو لاسپوځي دولت په جوړولو او دجنګ د ادامې دپالیسې له لاري خپل دغه ناوړه اهداف پرمخ وړې.

دویم. پاکستان په خپله شرقي خوا کې دهند سره همېشه په جګړو اخته دې، او دوې په هېڅ قیمت دي ته نه حاضرېږې چې دغرب له خوا دې هم جنګ سره مخ شی. نو ددې له پاره چې دغرب له خوا یې دحملې مخه نیولي وي، نو دوی ترهر ممکنه حده نه پرېږدي چې په افغانستان کې سوله، امنیت او یوه سالمه اداره منځ ته راشي، کومه چې به بیا ددې وړتیا ولري چې دهغوی سره دپښتونستان په مسئله منازعه راپورته کړي. نو پدی لاره کې پاکستان تل ددوه ستراتیژیو نه کار اخیستی او اخلي یې:

لومړی په دی هېواد کښې د داسې مرتجعو او وطن پلورنکو رهبرانو منځ ته راوړل دې چې هغوی تل دپاکستان ګټو ته دافغانستان په نسبت برتري ورکړې. دوهمه ستراتیژی یي داده چې پدی ملك کې په هر شکل چې ممکن وی جنګ جګړو ته ادامه ورکړي. ترڅو ددې اصل مخه ونیسي چې په افغانستان کې سوله او یوه سالمه ملي اداره منځ ته راشي.

درېیم: څرنګه چې افغانستان په وچه کې راګیر او غیرتولیدي هېواد دی، نو تر زیاته اندازه دخپلو ضرورتونو له پاره په پاکستان پورې تړلی دی. پاکستان نه غواړي چې افغانستان دی د یوسالم نظام او سالمې ادارې له لارې په خپلو پښو ودرېږی او دخپلو تولیداتو لرونکی دې شي. ددوی همدا اقتصادي ګټې دوی دې ته وادار کوي چې په افغانستان کی دې د یو سالم نظام، ترقی او پرمختګ مخه ونیسې.

څلورم: افغانستان دتاریخ په اوږدو کی دنړی د بیلا بیلوابرقدرتونو ترمنځ دیوه بفر په توګه پاتی شوی دي، مثلا دعربو تهاجمونو پراختیا ته ئي داروپا خواته، او د شوروی دامپراتورۍ د پراختیا ته یې د جنوبي اسیااوعربې هېوادو خواته، دانګریزانو د استعمار مخه یې منځنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسیا ته او همدارنګه دچنګیز او اسکندر کبیرمخه یې د جنوبي اسیا او منځنۍ ختیځ خوا ته نیولې ده. افغانستان د خپل همدغه حساس جغرافیوي موقیعت او ازادي غوښتونکې او همسایه ساتونکې خصلت په وجه، د تل له پاره ټولو ابرقدرتونو اول هدف ګرځیدلې دې. تر څو ددې له لارې بیا دسیمې نوروهېوادونو ته لاس رسي پیداکړي. د همدې حساس موقیعیت او سپري خصلت په وجه، له یوې خوا روس، دبلې خوا چېین، ایران ، هند، او حتی ترکېې، سعودې عربستان، تاجکستان، ازبکستان، او ترکمنستان هم غواړې چې په دی ملک کې په بیلا بیلو ډولو سره تشبث اوکنترول ولری. چې د نورو همسایه هېوادونو دغه فعالیتونه پاکستان هم دیوې خوا دروس په مقابل کې ، او د بلې خوا د هند په مقابل کې، او همدا راز د ایران په مقابل کې رقابت او په افغانستان کې تسلط لرلو ته هڅوې.

دپورته ذکرشو دلایلو په وجه پاکستان په ټوله معنی کوښښ کوي چې څومره چې توانیږي افغانستان ترخپل کنټرول لاندې په مستقیمه او یا غیرمستقیمه توګه وساتې. او که چېری ددوی کنترول پری ممکن نه وی، نو باید دلته تل جنګ دوام وکړی. په افغانستان کښی دپاکستان له خوا دجنګ ددوام دستراتیژی مثالونه ډېردی خو دغه لاندې دوه مثاله یې څرګند ثبوت ګڼل کیږي.

۱. دروس سره دجګړی په وخت کښی پاکستان په عمده توګه د افغاني مقاومت په منځ کې د سالمی رهبری مخنیوي وکړ. او بیایې په خپله خو ښه او د خپلو تر هر چا لازیات تابعینو نه په ګټه اخستلومختلف جهادي (؟) ګرپونه جوړکړل ترڅو ددوی ترمنځ درقابتونو څخه په ګټه اخستلو سره خپلې ګټی پر مخ بوزی. دو ی دیوی خوا دپښتنو اوو مشرانو ته وسلې ورکولی چې د مسعود او رباني په ضد ئي استعمال کړی، اما دبلی خوا ئي بیا په ښکاره او پټه او حتی داسرائیلو له لاری احمدشاه مسعود او رباني ته امکانات ورکول چې دپښتنو په ضد ئي استعمال کړی.

۲. سره لدي چې طالبانو په ۱۳۷۴-۱۳۷۵ کلونو کی په افغانستان کې پوره حاکمیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيدا کړ، ولې ددې سره سره يې بيا هم په کراتو مراتو دپنجشير دنيولو څخه ډډه کوله. دايوه داسې معمى ده چې پرى پوهېدل ژور تحقيقات غواړى. خو دا واضح ده چې د پاکستان ستراتيژي دا وه چې په افغانستان کې دي جنگ دوام وکړي. او د جنگ د دوام له پاره د احمد شاه مسعود او رباني او دپنجشير باغي توب لازمې اوضروري وه چې دوام ولري.

پنځم: اوبه نن د نړي په اقتصاد کې حتا تر تيلو هم زيات ارزښت لري. سياسي کار پوهان داسي وړاند وينه کوي چې ددنيا راتلونکى نړۍ واله شخړي به هم په اوبو وي. د همدي اصل په رڼا کې دپاکستان بله معضِله هم دکابل او کونړ دسيندونو داوبو څخه گټه اخيستل دى. پاکستان په دى پوهېږي چې که په افغانستان کې سوله او سالمه اداره منځ ته راشي نو دوى به ضرور ددغو سيندونو داوبو څخه گـټه اخلى او بيا به دغه اوبه دپاکستان په لورى کميږى. څرنگه چې پاکستان يو پراخه زراعتې ملك دى او يوه زياته برخه ئي دهمدى سيندونو له لارى خړوبه کېږي، نو ددې له پاره چې دغه مهمه اقتصادى منبع ئي له لاس ورنه کړى نو دوى په افغانستان کښي دسولې او سالمې اداري مخنيوى کوي.

۲. - ايران:

ايران هم دپاکستان په څير دافغانستان سره مختلف اقتصادى، خاورايز، اوبه ايز او تاريخى ستونزۍ لرى. دتاريخ په اوږدو کښي دايران او افغانستان ترمنځ ډېرى داسې جگړې تيري شوي چې دهغي کېنه لا تراوسه هم وجود لرى. دبلې خوا ايران دافغانستان دخاورى په يوه برخه د جهيل په اوبو قبضه کړېده. او د هلمند د اوبو ته د ايران بي کنتروله لاس رسي د ايران پاملرنه د افغانستان په لوري تقوله کوي.

همدا راز دايران داقتصاد له پاره افغانستان ديو ښه مارکېت حيثيت لرى. ترټولو مهمه موضوع داده چې دمنځنى اسيا دنوو ازاد شوو هېوادونو دطبعى منابعو باندې لاس رسى دامريکې، پاکستان او ايران ترمنځ درقابت يو اساسى ټکې دى. امريکائيان غواړى چې دمرکزى اسيا دطبعى منابعو ته دلاس رسى تجارتى کرښه د پاکستان او افغانستان له لارى

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیره کړی چې داپه اقتصادی لحاظ امریکا ته ډېره ارزانترینه او ښه لارده. ولی ایرانیان دیوی خوا نه غواړی چې امریکائیان دی منابعو ته لاره پیدا کړی او که لاره هم پیدا کوی ایرانیان ددې لیوال دی چې دغه لاره باید دایران له لاری تر سره کړای شی. نو پدی خاطر چې ایران دامریکې او د پاکستان ددې ستراتیژی مخه نیولی وی نو غواړی چې په افغانستان کې نا ارامی راولی او بي ثباتی ته دوام ورکړی. ترڅو ددې پلان مخنیوی وکړی.

ایرانیان په افغانستان کې دځپل تسلط له پاره دیوی خوا دافغانستان د هزاره گانو د ځني ناوړه مشرانو نه چې د مذهب په لحاظ شعیه او دایران سره مذهبی اړیکې لری، کار اخلي، او دبلی خوا دژبنیز اړیکو نه د غلطۍ استفادي له لاری د دری ژبو خلکو د یو شمیر نا سالمو تاجکو په پلوۍ او مسلط کولو کوښښ کوی. ایرانیان په ډېره جدی توگه ددغو دواړو وسیلونه په استفاده په افغانستان کې دمختلفو شبکو تر تسلط لاندې راوړلو له لاری خپلی توطئی پرمخ وړی.

۳. روسیه:

روسيي که څه هم په افغانستان دتیر جنگ دبایللو له کبله خپل ځای دبین المللی رقابت په ساحه کې له لاسه ورکړی دی، ولی دوي پدی پوهېږي چې ددوی دناکامی اساسی عامل په افغانستان کې امریکا او ددوی نړۍ وال اقتصادی او سیاسی رقیب هم امریکا ده. دیوی خوا روسان نه غواړی چې دمنځنۍ اسیا تازه ازاد شوی هېوادونه دامریکې سره نږدی اړیکې ولری چې پدی توگه بیا دامریکې نفوذ دروس تر پولو ورسیږی او دبلی خوا روسیه یا د پخوا نی شوروي اتحاد بقایااوس بیا ددې خوبونه گوری چې په کوم بل شکل به دمنځنۍ اسیا ازاد شوی ملکونه یو ځل بیا په خپل ځان راټول کړی. ددې تر خوا، روسیه نه غواړی چې د منځنۍ اسیا طبعی منابع دی ددوی ددشمن په لاس کې پریوزی. نو پدی وجه روسان هم په تمامه معنی ددې کوښښ کوی چې په افغانستان کې دي د امریکایېانو په مقابل کې تاو تریخوالي دوام پیدا کړي. روسان پدی پوهېږي چې کله په افغانستان کې یوه سالمه اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ ته راغله نو هغه به دروسانو نه دجنګ غرامات اخلی او هم به د پنجدی سيمې د بيرته اخيستلو ادعا رامنځ ته کېږي. نو پدی توګه روسان هم په خپله ټوله ورتيا او همداراز داحمدشاه مسعود، رباني او د پرچم د ګوند د يو شمېر وطن پلورونکو دلالانو دزړو اړيکو نه په کار اخستلو سره په افغانستان کې د نا ارامیو په پيداکولو او ادامه ورکولو کې ژور لاسونه لري.

۵۰ - دوهم: دنړۍ د ابرقدرتونو سره اړيکې، او د خپل ملې هويت او ملې ګټو ساتنه:
سره له دې چې اکثره مترقي او پرمختللي هېوادونه خپلی اړيکې د وروسته پاتې هېوادونو سره ددغو هېوادونو سره د مرستو تر عنوان مثلا(داقتصادي پرمختيا له پاره ، ددېموکراسۍ دتامين له پاره ، دبشر د حقوقو، دښځو دحقوقو او دتعليم دانکشاف) تر عنوانو لاندې تبليغ کوي، خو اکثرا دا اړيکی یواځې په همدې برخوکې محدودې نه وي، بلکه هغوی دخپلو سياسي اقتصادي او نظامي اهدافو له پاره دغه ډول کارونه کوي. اکثرا ممکن ددوی دغه اهداف دهغه وروسته پاتې ملکونه دګټو سره په ټکر کې نه وي، خو ځنې خلك د احساساتو له مخې دهغې سره مقابله او مجادله کوي. دمثال په توګه داچې ولي امريکائيان افغانستان ته راغلي او دلته څه اهداف لري، ديو شمېر احساساتي افغانانو لخوا دفوري غبرګون سره مخ دي. او دوی داسې مطرح کوي چې امريکا ئيان زموږ داشغال له پاره راغلی نو بايد ددې په وړاندی جهاد وشي، او په دې کې هېڅ دليل ويل ځاي نه لري.
خو يو تعداد نور افغانان بيا ددې خبرې په وړاندې دتعمق او تفکر نه کار اخلي. او داموضوع داسې ارزوي چې: سره له دې چې امريکائيان افغانستان ته د خپلو مشخصو اهدافو او دځنې خاصو نظامي او اقتصادي پالسيو دعملي کولو په خاطر راغلي دي، خو دامريکائيانو دغه ګټې دافغاني ټولنې دګټو سره په تضاد کې نه بلکه زموږ دملي ګټو له پاره ښه امکانات برابرولی شي. دا په زياته پرخه کې په افغانانو پوري اړه لري چې څرنګه دوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولاي شي چې ځانونه ددې جوګه کړي چې امريکايان زمونږ سره په دغو مهمو موضوعاتو ځانونه ددغه امرانه موقف نه راښکته، او مونږ سره د پارټنر په توګه بحث کولو ته حاضر شي.

چې په لاندې اړخونو ئې توضيح کول ممکن ګڼه ور وي.

لومړی. په سېمه کې دامريکايانو مالي ګټې:

دامريکائيانو مالي ګټې دمنځني اسياطبعي منابعو ته په لاس رسي کې دي. که امريکايان دافغانستان له لارې دمنځنۍ اسيا طبعې زيرمې استخراج او بهر ته وليږدوي په دې کې زموږ ګټې او تاوانونه څه دي؟

۱ . ددې طبعي منابعو داستخراج او استفادې کولو په نتيجه کې به دمنځنۍ اسيا واړه هېوادونه په اقتصادي لحاظ په پښو ودرېږي. ددې ملکونو په مالي لحاظ په خپلو پښو ودريدل ددوی استقلاليت تضمينوي، او په شوروي اتحاد دتکيه کولو او بيا دوباره ديوه کمونستي بلاک دجوړښت مخه نيولی شي. چې دسياسي لحاظه ددغو وړو هېوادونو انکشاف دافغانستان او دشوروي په منځ کې ديوه بفر په توګه په نظامي لحاظ ګټور دی .

۲ . ددې طبعی منابعو دصادرولو په صورت کې يوازينی اقتصادي لاره يې دافغانستان له لارې دهند بحر ته انتقالول دي.

چه پدې صورت کې امريکائيان مجبور دي چې دبين المللی قوانينو داصولو له لاری افغانستان ته ټکس او ددې منابعو څخه دګټې اخيستلو زمينه برابر ه کړی. دابه زموږ دهېواد دپرمختيا او اقتصادي ودې له پاره ډېره ګټه ورروي.

۳. ممکن داکمالاتو دپوره کولو په غرض دهند دبحر نه تر منځنې اسيا دريل پټلۍ او پراخه ترانزيتي لاره جوړه شي، چې ددې تر انزيتي لارې ګټې به افغانانو ته زياتې وي.

دويم: په سيمه کې د امريکايانو ستراتيژيک نظامي ګټې:

امريکائيان غواړي چې په افغا نستان کې دموجوديت او نظامی هډو دلرلو له امله روسيه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چين، ايران، پاکستان او هندوستان تر خپل کنترول لاندې وساتي.

که داخبره رښتياوي او امريکائيان واقعا په افغانستان کې دېښنو نظامي هډو لرل تصميم ولري نو دابه هم دافغانانو په نفعه وي. داځکه چې مونږ خو دسيمې دشاوخوا ټولو هېوادونو سره تاريخي دښمني او جنجالونه لرو. هغوی هېڅ يو هم دافغانستان ازادي او استقلال نه مني، او هريو يې دافغانستان ازادي او استقلال په جدي توګه تحديدولای شي. نو پدې صورت کې افغانستان ته دامريکا په حيث ديوه قوي ملګري لرل ضروری اوګټور دی. خو ددې ټولو حالاتو څخه افغانان په يوه صورت کې ګټه اخستلی شی چې افغانان منظم او ديوه ملي وحدت او وړ زعامت لرونکې او دسيمی او نړۍ په اړه يوه کوټلې او ثابته ستراتيژي ولری.

دبلې خوا امريکائيانو ته هم پدې سيمه کې ديو ښه وړ پارټنر ضرورت دی، چې په حقيقت کې افغانستان ددغې کار له پاره يو موزون هېواد دی. خو کوم شی چې پدې برخه کې پاملرني نه لري پاتی دی هغه دادی چې امريکائيانو ته يو توانمند او په خپلو پښو ولاړ پارټنر افغانستان ضرورت دی نه داسې يو بې کاره اوطفيلي افغانستان چې همدا اوس ددوي په اوږو بار دي. نو دابه ددواړو هېوادو په ګټه او دافغانستان دخلکو له پاره حياتي ارزښت ولري چې دغه حساسه موقع په درسته توګه درک او دهغې نه دموثرې ګټې اخستلو له پاره دفکر او عقل له مخې خپلې دندې او مسئوليتونه ادا کړی.

۵۱ :دهېواد تاريخ، ملي کولتور او ملي شخصيتونو پېژندنه او دهغې نه دفاع:

سره له دی چې موږ دافغانستان خلك تقريبا په عظيم اکثريت مسلمعنان يو، خو د مسلمانانو ترخوا دلته هندوان، سکان او يو محدود شمير عيسويان او يهودان هم اوسيدل. که داديانو تاريخونو ته په غور نظر وکړو نو دټولنو دينونه دوختونو په بدلون سره بدليږی رابدليږی. افغانان يو وخت زردشتان، يو وخت بت پرستان او نور او نور ول، ولی نن مسلمعنان دی. اما په مجموعی توګه هره ټولنه ځانته يو ځانګړی تاريخ او يو ځانګړی کلتور

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري چې دغه تاریخ او کلتور دهغې ټولنې دټولو وګړو صرف النظر ددوی عقیدوی جوړښت او قومی جوړښت څخه دوی سره په ګډه دغه تاریخ او کلتور جوړکړی وی.

نو دنړی بیلا بیل ملتونه که څه هم یوه ژبه یا یو دین ولری ولی یو دبل نه جلا جلا ملتونه وی. دمثال په توګه اوس په نړی کې زیات هېوادونه دی چې ددوی رسمی دین اسلام دی ولی دغه ملتونه بیا یو دبل نه جلا او ځانته ځانګړې ملي هویتونه لری چې په دی ملي هویت کې دهریو تاریخ، کلتور او ګټی شامل دی.

همداراز ډېر عربی ملکونه وجود لری چې دټولو ژبه عربی ده او ټول مسلمان هم دی مګر ددوی ملتونه دهمدغو خصوصیاتو په اساس سره جلا دی.

نو په دې اساس مونږ افغانان هم دیو داسې ملت په حیث چې ۵۰۰۰ کلن ګډ تاریخ او یو ګډ ملي کلتور او ملي افتخارات لرو. باید خپل ځان دافغان په توګه وپېژنو او په خپل ملي هویت افتخار وکړو.

په هر حال مونږ افغانانو (چه په هغې کې پښتانه، تاجک، هزاره، ترکمن، بلوڅ، او نور هم شامل دي) دیوه هېواد په توګه په تېرو څو زره کلنه موده کې یو ګډ تاریخ جوړ کړي چې په هغې پوهېدل او دهغې نه دفاع دهر افغان مسولیت دی. همداراز مونږ ددې تاریخ په اوږدو کې ځینی داسې ځانګړي خصوصیات سره راخپل کړي دي چې هغه دافغانانو کلتور تشکیلوی. سره له دې چې دکلتور جزئیات ممکن دقوم او منطقی په لحاظ یو دبل څخه څه توپېرونه ولري، ولې په مجموعي توګه دغه کلتوري خصوصیات سره ډېر ورته او شریک دي. چې ددوی څو مثالونه په لاندې توګه ذکر کولای شو.

افغان هریو دبل سره په مړي او ژوندي کې ګډون کوي. دمړي په دعا، خښخولو ، جنازی، ختم او خیرات کې یو دبل سره ونډه اخلي او دژوندي په کوژده، واده او نورو خوښیو کې یو دبل سره دایجاباتو مطابق (دغه ایجابات دخلکو په منځ کې په غیر لیکلي توګه وجود لری او یو دبل سره په هغې پوهېږي) ونډه اخلي. دمثال په توګه څوک په مړي کې نه خاندی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی جامی نه اغوندی، ولی په خوښی کې بیا خوشحالی کوي او نوی جامی اغوندی، ټوکی، ټکالی او خنداوی کوي. یو دبل احترام او عزت کوي، څوك دچا په مال او ناموس تېری نه کوي. که دا تېری دهر چا لخوا وشي دټولنې ټول خلك هغه په یوه اواز او یو شان محکوموي. یعنې په ټولنه کې دخلکو ترمنځ یو ډول اجتماعی قراردادونه وجود لري چې که څه هم دغه قراردادونه نه لیکل شوي او نه امضا شوي دی خو دټولنې هر غړی په هغه پوهېږي او ځان دهغې په منلو مکلف بولي. ددغو ټولو قراردادونو مجموعې ته ګډ کلتور وائی. دهرې ټولنې خلك ځانته ځانګړی کلتور لري چې همدې کلتور په ساتنه او عملي کولو دیوې ټولنې یا هېواد خلك دنورو څخه پېژندل کېدای شی. نو ددې له پاره چې هېوادونه ژوندي پاتې شي او یو دبل سره وپېژندل شي نو دهر هېواد دخلکو ته دا ضروري ده چې د خپل هېواد په کلتور باندې ځان پوه کړي او هغه په ژوندي توګه عملي وساتي . او ددې سره دا ویل هم لازمي بولم چې دهر هېواد په کلتور کې ښه او بد، مثبت او منفی ټکې وجود لري. هغه هېوادونه کامیاب او بریالي وي چې تل خپل کلتور ارزوي او ښه ټکې یې تقویه او خراب ټکي او خراب شیان دخپل کلتور نه لري کوي. زه دخپل هېواد ځوان نسل نه په کلکه سپارښتنه کوم چې د ملي کلتور او ملي هویت ساتنې او پالنې ته په جدي توګه ولي په فعاله توګه پاملرنه وکړي یعنې تل دخپل کلتور په صیقل کولو او پالش کولو کې ونډه واخلي. غلط او دردونکې رسم او رواجونو په وړاندې مجادله او مقابله وکړي او ښه او مثبت رواجونو په رواجولو او تشویق کولو سره زیات کړي.

همداراز دتاریخ په اوږدو کې هر هېواد کې داسې علمي، بزمي، سیاسي او اجتماعي شخصیتونه راپېدا کېږي چې دهغوی کارنامې دخپلو خلکو او ټولنې له پاره او همداراز دنړ ی والو له پاره دځانګړی افختار وړ ګرځي. دهر هېواد او سیدونکو ته په کار ده چې ددې شخصیتونو په اړه او دهغوی دکارونو او خدمتونو په اړه ځانونه ته پوره معلومات ترلاسه کړي او دهغوی دشخصیت په پوهېدو سره دهغوی دنیکو خدمتونه قدر او ترممکن حده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوی پیروي وکړي. دخپل هېواد او تاریخ او ملي شخصیتونو نه ناخبر تیا دهغې ټولنې دبدبختی او ورکېدو زمینه برابروي.

زمونږ ځوان نسل باید دې ته پاملرنه وکړي چې زمونږ ګاونډي هېوادونه زمونږ د ټولنې دتاریخ، جغرافیې کلتور اوملي شخصیتونو په وړاندې د رنګارنګ توطیو او دسیسو نه کار اخلي. نو داډېره مهمه ده چې زمونږ ځوان نسل دخپل هېواد په دغو لوړو ارزښتونو پوه او دهغې نه د دفاع په لاره کې علما مجهز او ارادتا اماده وي. په دې اړه له لوستونکو سره یوه د تعجب وړ کېسه شریکول غواړم. ما د افغانستان ځوان نسل ته د سالمې تربیې او ښه تعلیم ورکولو په خاطر د (نوي سید جمال الدین افغان انستېتیوت) په ننګرهار کې په ۱۳۸۸ کال کې پرانسته. د هغې د رسمي کولو له پاره مې د لوړو زده کړو وزارت ته مراجعه وکړه. په دې وزارت کې را ته یو لوړ پوړي په ډېر سپکاوي سره وویل (تا ولې په دې انستېتیوت د سید جمال الدین افغان نوم ایښی دی. ما د الازهر په پوهنتون کې په دي اړه تحقیقات کړي دي او پي، ایچ، ډي مي اخستې ده. هغه (سید جمال الدین افغان) اصلا وجودنلري او که وي هم نو افغان خو نه دی.) ما هغه جناب ته وویل چې (زه افسوس کوم تاسې د دغسې یو غیر اخلاقي او غیر علمي مفکورې سره سره هم د لوړو تحصیلاتو په وزارت کې په داسي یوه لوړه څوکۍ کې کار کوي. سید جمال الدین افغان خو پخپله ځان ته افغان ویلي دی او تاسې وایئ چې
هغه افغان نه دی)

د تاسف خبره ده چې په افغانستان کې اوس داسې هېڅ ډول مسئوله اداره وجود نلري چې هغې ته ددې موضوع نه د شکایت کولو په وجه به دغه شان خائنین او وطن پلورونکي محاکمه کړای شي چې ما به ورته مراجعه کړی وائی. نو وګوری چې په څومره ظالمانه توګه زمونږ په هېواد کې په رسمي څوکېو ناست پردې ایجنټان زمونږ ملي ویاړنې او ملي تاریخ محوه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیارلسم څپرکی

# ملي او بین المللي سیاسي نظریات

۵۲ - ځوانان او په سیاست ځان پوهونه:

دټولنې دیوه فعال عنصر په حیث هر انسان ته په کار ده چې دټولنې په بیلا بیلو اړخونو لکه مذهبي، اجتماعي ،سیاسي او نور تر یوه حده معلوماتونه ولري، ترڅو چې په ښه توګه وکولای شي ورځنۍ پیښې او مسئلې په علمي توګه وارزولی شي، او دهغې په وړاندې یو سالم دریځ غوره کړای شي. دمثال په توګه: کله چې ددیني او مذهبي موضوعاتو په اړه خبرې کېږي، نوکه تاسې دمختلفو ادیانو او مذاهبو په اړه اوهمدا راز دهغې پیروانو په اړه یو څه معلوماتونه ولرئ، نو تاسې به په نسبتا ښه او علمي توګه هغه موضوع درک کړای شئ نسبت وهغه چاته چې پدې اړه هېڅ معلومات ونه لري.

همداراز دسیاسي موضوعاتو، او دمختلفو سیاسي نظریو او احزابو په اړه تاسې هلته ښه قضاوت کولای شئ چې تاسې ددې مفکورو او دهغې پورې مربطو ډلو او دهغوی دپالیسو او کړووړو نه خبر یئ. سیاست دهر ملک ضرورت دی او په هر ملک کې مختلفې سیاسي نظرېې او دهرې نظرېې پورې مربوط حزبونه او ډلې وجود لري. نن ددنیا هر ملک حزبونه لري چې دډېموکراسي په چوکات کې د خپل ملکونو د بهبود له پاره مپارزي کوي. زمونږ ټول همسایه هېوادونه په خپلو ملکونو کې سیاسي احزاب لري، خو زمونږ خلکو ته بیا د خپلو ګوډآګیانو له لاري دا سپارښتني کوي چې پام وکړي، او په سیاست کې ونه‌ه وانخلي، ځکه سیاست ناولي او چټل شي دی. ددې له پاره چې تاسی ځوان نسل سره مو د سیاسي موضوعاتو په اړه او دسیاسي بیلا بیلونظریو پورې مربوط او همداراز دمختلفو حزبونو په اړه یو څه معلوماتونه ستاسې د پوهاوي په خاطر په سالمه توګه وړاندي کړی وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابرخه تاسی ته وړاندي کوو.

په عمومي توگه سیاسي نظریې په دوه ډولو ویشل کېږي، یو یې بین المللی نظریې او بل یې ملي نظریې دي.

## ۵۳ - سیاست که ټوپک؟

په نن زمانه کې دټولنو په منځ کې دمطرح موضوعاتو دحل له پاره دوه لارې وجود لري: یوه لاره یې په زور او جبرسره دیو محدود اقلیت دنظراتو منل دي په لوی اکثریت باندې. چې دا د زور او ټوپک لاره ده. دا یوه غیرقانونی، غیراخلاقي، غیر اصولي لاره ده. ، چې نن سبا په دنیا کې ځای نه لري. چې دې ته دحل نظامي لاره، یا د ټوپک لاره وایې. متاسفانه نن زمونږ په هېواد کې بهرنۍ قواوي او ټولي جنگي ډلي، او جهادي (؟) گروپونه د همدي لاري پیروي او پلوي کوي. زمونږ ځني ناپوهه سیاسیون هم په خپلو خبرو کې په ډېر بي مسؤلیته توگه په ظاهر کې د سیاسي حل خبري کوي او وایي چې د جنگۍ ډلو سره دي بي قیده او شرطه روغه وشي، پداسي حال کې چې ده اصلا د جنگي ډلو سره د اقتدار شریکول دي چې پایله یي د هماغه نظامي ساخت او باخت نه بغیر بل څه نشي کېداي. د جنگي مخالفینو سره خبري کول، یوازي هلته د سیاسي حل مفهوم ادا کولاي شي چې دغه جنگي مخالفین خپلي وسلي پرېږدي، او ددېموکراتیکو اصولو په منلو سره د ولس هغه رایو ته تسلیم شي چې ددوي د ټوپکو او انسان وژنو د تهدیدونو نه خالي وي.

د حل دوهمه لاره یې دقانون، انتخاباتو اواکثریت فیصلو ته تسلیمدل او منل دي. چې دغي لارې ته دیموکراسی ته غاړه ایښودل وایې، او یا په بل عبارت ورته سیاسي لاره وایې. نن په نړۍ کې دغه لاره دنړۍ دزیاتو هېوادونو او عظیم اکثریت له خوا منل شوې چې پدې لاره کې په هر ملك کې د نظام انتخاب او دحکومت طرز هم ددېموکراسی له لارې پیاده او عملي کېږي.. نن سبا سیاست او دسیاسي لارې څخه دانسانانو له پاره دنظام انتخاب یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



منل شوی واقیعت دی، خو متاسفانه زموږ په ملك كې اوس هم یو زیات شمیر خلك د سیاست نه كركه كوي. زموږ دهېواد دخلكو د سیاست نه كركه دوه عوامل لری.

یو عامل یې په افغانستان كې دسیاسي احزابو هغه خراب اعمال تشكلیوی كوم چې دوی د خپلو خلكو دغولولو له پاره ترې كار اخستی. اما په واقیعت كې دوی دخپلو ټولو وعدو او برنامو خلاف دولس په ضد اعمال ترسره كړه. چې پدې كې دكمونستي ګوندونو وطن پلورنه او جنایات، او د جهاد د مقدس نوم او عنوان لاندي د اخواني حزبونو اوډلو جنایات، او دیو شمیر ملي درواغجنو او غولونكو سیاسي ګوندونو غولونكو وعدې وي چې یې دافغانستان خلك د سیاست اوحزب په وړاندی كر كې كولو ته وهڅول.

دو هم عامل یې متاسفانه بیا دګاونډیو هېوادونو توطې دي. ددې له پاره چې افغانان په خپلو كې یو ملي وحدت او په سیاسي لاره د خپل ملك دستونزو حل ته ونه رسېږي، نو دغه حیله ګر همسایه هېوادونه بیا دخپلو شبكو له لاري سیاست او حزب په وړاندې یو شمېر ناروا او دروغجن تهمتونه وایې او دېخواني حزبونو دمثالونو نه په استفاده زموږ عوام د سیاست او مبارزې په وړاندې كر كې او په سیاست كې عدم ګډون ته هڅوي. متاسفانه دا تبلیغات بیا په خلكو كې په ډېره پراخه پیمانه تیتوي. ددې تر خوا غربیانو هم په افغانستان كې ددېموكراسي د خپرولو تر عنوان لاندي ددې په عوص چې د سالنو ملي تشكېلاتو سره مرسته او كومك وكړي، دوي د هغوی په عوض وطن پلورونكې اوداسي لاسپوځي وړي ډلي منځ ته راوړي او تقویه كړي، چې د یوي خوا یي په دي وسیله د اساسي ملي حزبونو د جوړښت مخه یي ونیوله، او د بلي خوا یي ددوي د لا زیاتو غلطیاو په وجه په هېواد كې د هېوادوالو اعتماد او باور په حزب او سیاست لا نور هم له منځه ویوړ.

نو زه دخپل هېواد ځوان نسل پام دغو دواړو نیمګړتیاوو ته په جدي توګه را اړول غواړم. لومړی خو داچې زموږ په ملك كې دیموكراسي ډېره لنډه تاریخچه لري نو پدې لنډه موده كې حتما سیاسي احزاب هم غلطي كوي، خو دېرون غلطي باید داسې ساده وانخستلای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، د هغو نه بايد ذده کړه وکړو او بايد چې بيا تکرار نه شي. اما دابه هم غير علمی او غير اصولي خبره وي چې ووايوهغو پخوانيو غلطي کړي نو مونږ بايد دحزب دجوړولو او سياست څخه ډډه وکړو.

دبلی خوا دګاونډيو هېوادونو دغو سياسي توطيو ته بايد فوق العاده پاملرنه وشې او ددغه منفي تبليغاتو دخپرولو مخه ونيول شي. ددې منفی تبليغاتو دمخنيوي ښه طريقه به دا وي چې ځوانان په فعاله توګه په سياست او دحزب جوړولو کې ونډه واخلي. ولي کو ښښ بايد وکړاى شي چې دوی تېر ې خبرې تکرار نه کړي، بلکه دخپل سياسي علم او عمل له لارې خپلو خلکو ته دلاښه خدمتونو مصدر وګرځي ترڅو په عملي توګه ددغو زهرجنو تبليغاتو اثرات خنثی او له منځه يوسي.

٥٤- په نړي کې د مذهبونو او سياسي نظريو په اړوند معلوماتونه

نړی په څو لويو ګروپونو لکه کمونستې بلاک، سرمايداری بلاک، وروسته پاتی نړی، او دمذهب په اساس په عقيدوی ټولنو او غير عقيدوي ټولنو ويشل شوي ده. چې په غير عقيدوي ټولنو کې کمونستان، او نور هغه خلك شامل دي چې په خداي جل جلا له، پيغمبر (صلی الله وعليه وسلم) او اسماني کتابونو عقيده نه لري. او په عقيدوی ټولنه کې بيا په مسلمانانو ، چې په حضرت محمد(ص) داخری پيغمبرپه توګه او په قران کريم داخری کتاب په توګه عقيده لری، عيسويانو چې هغوی په حضرت عيسي (عليه السلام) داخری پيغمبراو په بايبل داخری کتاب په توګه عقيده لری، او دريمه ډله ئی يهوديان دی چې په حضرت موسی (عليه السلام) داخری پيغمبر په توګه او په تورات داخری کتاب په توګه عقيده لری او څلورمه ډله يې هغه ده چې په داود عليه السلام د اخري پيغامبر او په زبور د اخري اسمانی کتاب په توګه عقيده لريشامل دي.

دعقيدي په برخه کې دری شيان مهم دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ عقیده: عقیدي ته په انګلیسی کې روحانیت یا**Spirituality** وائی: داهغه خلك دی چې په خدای (جل جلا له) عقیده لری او دهغې احکام په مجموعی توګه منی ولی دکوم خاص پیغمبر او دین تابع نه دی. دی خلکو ته **Spiritual** یا روحاني خلك ویل کېږي.

۲ دین: دین دعقیدی په چوکاټ کې دیو مشخص پیغمبر او کتاب منل او پیروی کول دی. چې په همدی اساس بیا عقیدوي خلك په یهودیانو ، عیسویانو او مسلمانانو ویشل شویدی. ددې برسیره په نړی کې ځنی نور واړه ګروپونه هم شته چې هغوی په خدای (جل جلاله) او یو پیغمبر عقیده لری لکن ځانګړی کتاب نه لری.

۳ مذهب: مذهب دیو مشخص دین په چوکاټ کې دننه دځنو لوړو علماوو او اصحابوو ځانګړی طریقی دی چې هغوی هر یو دخپل دین داحکامو تعریف په ځانګړی توګه کوی چې په عیسویانو کې **Catholic** او **Pradestan** او په مسلمانانو کې بیا شعیه او سنی مذهب، یا هم دامام ابو حنیفه، امام غزالی، امام جعفری او نور مذهبونه دی.

په اسلام کې ددېن او مذاهبو نه علاوه دتصوف یوه برخه ده چې (صوفی) ورته ویل کېږي چې دوی بیا داسلام په خوا کې ځنی نوری ازادی ګانی هم قبلوی لکه دموزیک ازادی او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څوارلسم څپرکی

## ۵۵ - سياسي نظريي

الف : بين المللی نظريې:

دا هغه نظريې دي چې په نړۍ واله کچه پېروان او په نړۍ واله کچه تقويه کوونکې سرچېنې لري. چې دانظريې بيا په دوه عمومی ډولو ويشل کېږي.

۱. بين المللي کمونستي نظريات:

دا هغه نظريات دي چې دانسانانو په منځ کې داړیکو او ستونزو معيار يوازې مادي منابع بولي. او معنوي اړخونو ته چې په هغې کې دين او په خدای، کتاب، پيغمبر او نور عقيده هم شامل دي کوم ارزښت نه ورکوي. په نړۍ کې کارل مارکس ددې نظريې ايجاد کوونکی ګڼل شوی دی او په همدې لحاظ ورته مارکسيزم هم وايې .

سره له دې چه دکمونيزم بلاک (په افغانستان کې د شوروي اتحاد د شکست نه وروسته) اوس په نړۍ واله کچه ضعيفه شويدې، خو بياهم وجود لري. دکمونيزم بلاک بيا دځينې خاصو ځانګړتياوو له مخې په دوه نورو عمده ګروپونو وويشل شو. چې يو ته يې مارکسيزم لنينيزم ويل کېږي، چې هغه په روسيه کې د لينن په ذريعه عملي او پياده شو، نو په همدې لحاظ ورته مارکسيزم لينيزم ويل کېږي. چې ددې نمونه يې حزبونه په افغانستان کې دخلق ديموکراتيک ګوند وه چې دنور محمد تره کې په مشرئ او د حفيظ الله امين، ببرک کارمل او نورو غړو په شمول او د روس په مستقيمه همکارئ ايجاد شو. بيا يې دثور کودتاه له لارې په ۱۳۵۷ هـ ش کال کې د محمد داود خان په وژلو سره اقتدار واخست. څه موده دنورمحمد تره کې (دخلق ګوند غړی) تر رهبرۍ لاندې بيا دحفيظ الله امين (دخلق دګوند غړی) لاندې او بلاخره بيا په ۱۳۵۸ هـ ش کال کې دروس دمستقيمې مداخلې له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ببرك كارمل ته چې دپرچم دحزب غړی وه قدرت ورانتقال او بلاخره بيا د ۱۳۶۵ ل نه تر ۱۳۷۱ ل كلونو پورې دنجيب الله (چې دپرچم دگوند غړی وه) دحكومت دوره كي دكمونستانو اقتدار پای ته ورسېده، او نجيب الله رسما ملل المتحد ته دتسليميدو له لارې دحكومت نه لاس واخيست.

تر هغي وروسته بيا دخلق او پرچم گوندونه په ډېرو زياتو ورو وړو ډلو بدل شول او همدا اوس هم دغه وړي ډلې وجود لري.

دكمونيزم دبلاك پورې مربوط دوهمه ډله دماؤئيزم په نوم يادېږي، چې ددوې رهبر ماوتو سنگ وه چې په چېن كې يې دكمونيزم فلسفه په يوه نوی شكل عملي كړه، او دايی وښودله چې دماركس او لينين دنظری خلاف چې هغوی ويل يوه ټولنه بايد هغه پنځه تاريخی مرحلی چې د كمون اوليه نه بردگي ته اودبردگې نه فيوډاليزم ته او دفيوډاليزم نه سرمايداری ته او دسرمايداری نه سوسليزم ته په ترتيب سره تيري كړي، تر څو سوسياليزم او بلاخره بيا كمونيزم ته ورسيږی. خو دوی په چېن كې دفيوډاليزم نه راسا يو كمونستي نظام ته داخل شو، چې دغه شكل ته يې بيا ماوؤ يزم او يا (راه رشد غير سرمايداري) نوم وركړ.

دكمونستي دغې نظرې پېروان په افغانستان كې د شعله جاويد ډله وه چې وروسته بيا په بيلا بيلوگروپونو وويشل شوه او اوس هم دهغې وړې څانگې وجود لری.

۲. بين المللی اسلامي نظريات:

داسلام بين المللي سياسي نظريه چې په۱۳۰۷ ل كال كې لومړي په مصر كی منځ ته راغله په نړۍ كې داسلامی سياسي نظام دتطبيق كولو له پاره هلې ځلې كوي، او د ددې كبله چې ددوی اولين اخبار د(اخوان المسلمين) په نوم يادېده، نو ددوي پوري مربوط ډلي هم په هغه ملك كې داخوانيانو په نوم يادېږي، چې په مختلفو ملكونو كې ورته بيا همدا نوم د هغه ملك په ژبه يادوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخوان المسلمین دنظرېږ له مخې په نړۍ کې باید اسلامي نظام حاکم او اسلامي نظام باید دهېوادونو ټولې چارې اداره او تنظیم کړي چې پدې کې داسلامي بین المللي نظریاتو یا داخوان المسلمین پوري مربوط ډلي شاملي دي. چې دا ډلي عبارت دي له، حزب اسلامي،(انجنیر گلبدین حکمتیار) او حزب اسلامي (مولوی خالص) جمعیت اسلامي افغانستان (برهان الدین رباني) او اتحاد اسلامی افغانستان (عبدالرسول سیاف) ډلی شاملي دي. په دنیا کې اکثر مسلمعنان پدې عقیده دي چې دین او عقیده دانسانانو او خدای ترمنځ یوه رابطه ده او هغه باید دحکومت داري د وسیلې په توګه استعمال نه شي. خو اخوانیان داسې عقیده لری چې دین یوازې دیو شخص او خدای ترمنځ عبادتي رابطه نه، بلکه دا د ټولنې د انسانو ترمنځ او د ټولنې او دولت ترمنځ د نظام دراوړلوسستم هم جوړولای شی. چې پدې برخه کې حتی دوی دقوي او زور له لار ې هم ددېن مسلط کول روا او جائیز بولي. اما یو شمیر زیات مسلمعنان ددوی دغې تحمیلي نظرېږ او د اسلام په زور تحمیلول ، د اسلام ددېن سره یوه مخالف عمل او حتی هغه د اسلام په ضد یو عمل ګڼي، همدا وجه ده چې ددنیا د مسلمانانو اکثریت ددوی سره موافق نه دي.

د دواړو بین المللی نظراتو عمده مشکل پدې کې دی چې دوی دهېوادونو داخلي ځانګړي شرایطو ته کوم خاص ارزښت نه ورکوي، بلکه دنړۍ دهېوادونو په منځ کې سرحدو نه مني. کمونستان یې دکمونستي جهاني بودن تر نظرېږ لاندې دنړۍ هغه هېوادونه چې کمونستی نظامونه لری، سره یو بولي. او اخوانیان بیا ټول هغه اسلامی هېوادونه چې ددوی له نظره اسلامي نظامونه لري یو واحد ملت په توګه پیژني. چې ددوی همدا نظر دیو شمیر زیاتو خلکو داعتراض او ددوی سره مخالفت سبب ګرځیدلی دی. او ددې هېوادونو یو زیات شمیر خلک داسې استدلال کوي چې سره له دې چې موږ به دنورو اسلامي ملکونو سره ګډ دین لرو خو زموږ دهېواد ځانګړي شرایط، دژوند کولو طرز او دخلکو غوښتنې ددې باعث کېږي چې باید داسلام په چوکاټ کې دننه هر هېواد ځانته ازاد، مستقل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاکلي سرحدات ولري.

۳. ملي اسلامي نظرياتي ګروپونه:

داهغه سياسي ډلې دي چې عقيده لري چې مونږ بايد دنړۍ دمهمو او غټو نظريو او عقيدو نه فايده اوچته کړو او دهغوی دتطبيق له پاره بايد ځانګړي شرايط برابر کړل شي. خو دهر هېواد ځانګړی تاريخي، جغرافيوي او روان سياسي حالت يو دبل نه توپير لري، نو ددې کبله نړۍ والې سياسی نظريې نه شي کېدای چې کټ مټ په هر هېواد کې تطبيق شي. دمثال په ډول: دوي دسوسياليزم هغه اقتصادي برخه چې د اجتماعي عدالت سره برابره ده مني، او دا مني چې په ټولنه کې دی اقتصادي منابع ديو اجتماعي عدالت په اساس توضيح شي. خو دوي دسوسياليزم هغه برخه چې ددېن سره مخالفت لري او دين ديوې ټولنې له پاره د اپين او زهرو په توګه پيژني نه مني او نه يې قبلوي. همداراز ملي اسلامی سياسی ډلې په افغانستان کې پداسې حال کې چې داسلام مقدس دين دخپلی عقيدی په توګه مني، خو هغوی نه غواړی چې دين دې دحکومتي نظام په څير په خلکو تحميل کړای شي. همداراز نه غواړي چې دنورو مسلمانو هېوادونو سره دې يو بې سرحده مشترکه نظام ولري. دا ځکه چې نور پرمختللی اسلامي هېوادونه بيا زمونږ دوروسته والي نه په ظالمانه توګه فايده اوچتوي . نو ددوی له نظره دين بايد دعقيدی په توګه او دولت بايد ديو نظام په توګه ديو بل نه جلا پاتې شي.

همدا وجهه ده چې داصولو له مخې ملي اسلامي ډلې اکثرا کومه بين المللی پشتوانه نه لري، نو دهمدې کبله ضعيفې هم وي. ملي اسلامي ډلو کې افغان ملت، دملت ولسی سازمان، دافغانستان دنجات ملي جبهه (صبغت الله مجددې)، دافغانستان ملي اسلامی محاذ (سيد افندی ګيلاني)، حرکت اسلامی افغانستان(مولوي محمد نبي محمدي) او دافغانستان مترقي ديموکرات ګوند (مساوات) او ځنې نورې ډلې شاملې دي.

ددې ليکنې مطلب دا نه دی چې ځوانانو ته ديوې يا بلې ډلې سره ديوځای کېدو سپارښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، ولي هدف يي دادي چې ځوانان بايد د سياسي موضوعاتو په اړه ځانونو ته کافي معلوماتونه تر لاسه کړي، او دهغو معلوماتونو په رڼا کې بايد تصاميم ونيسي. خو دا په ذغرده وايو چې ځوانان بايد دهر ډول افراطيت څخه ډډه وکړي، او ددې کبله چې دهر مملکت ځانګړي شرايط يو دبل څخه توپير کوي، نو په دغو ځانګړو شرايطوپوهيدل او دهغوی اثرات دسياسي مبارزي په انتخابولو کې له نظره ونه غورزوي. دا هم ضوروي ده چې ووايو چې اسلام ا افغانستان د مطلق اکثريت دين او عقيده دهو چې د عقيدي تر خوا يي ددې هېواد په ازادي بخونکې مقاومت کې تل ډېر مثبت او ښه رول لرلي دي. نو هر افغان ځوان ته دا ضروري ده چې د اسلام مقدس دين ته درناوي، او احترام ولري. او په احساساتي توګه نه دداسي نظرياتو ښکار شي چې هغه د اسلام او افغاني کلتور سره مخالف وي، او نه هم داچې د اسلام د مبارك دين نه په استفاده د نورو افراطې او تجاوزګرانه نظرياتو تر اثر لاندي راشي.

د هېواد ددې اوږد بحران د حل اساسي لاره به څه وي؟

دملي احساس او ملي مسئوليتونو په اړه يوه بله موضوع دخورا جدي توب وړ ده چې زموږ ځوان نسل بايد ورته په جدي توګه پاملرنه او په اړه يې هوښيار او بيدار وي. هغه په هېواد کې دملي وحدت دتامين اساسي لاره يعنې د يوه پراخه سياسي وحدت تامينول دي چې په هغې کې دمطرح اصولو او ارزښتونو په اړه داسې يوه سالمه لاره او فارمول بندي منځ ته راشي چې په هغې کې دهېواد ټولې پرګنې چې که هغه دهرقوم، ژبې، دين، مذهب او قشر پورې اړه ولري خپل ځان دخيل او خپلې ګټې پکې خوندي وګوري. خو متاسفانه زموږ په هېواد کې دداسې يوه سياسي وحدت او سالم سياسي فارمول دمنځ ته راتللو په اړه ډېرې ستونزې وجود لري. د بلي خوا زموږ دوطن دښمنانو دافغانستان په خلکو کې دسياسي کار او سياسي فعاليت په اړه داسې تراخه او زهرجن تبليغات کړي او کوي يې چې زموږ هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وال يې د  سياست  په وړاندې کرکجن کړي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځه لسم څپرکی

۵٦- دلوستونکو، کتوونکو او اورېدونکو پوښتنې، ځوابونه او تبصرې:

۱- د ښوونې او روزنې توپير څه دی؟

ښوونه او روزنه ياتعليم او تربيه د يوه انسان د ژوند دمعنوی اړخ (مادی اړخ د هر انسان فزيکي بدن او د هغه غړي تشکيلوي) دوه مهمې او ځانگړې برخې دي.

لومړی: روزنه:

روزنه دهر بنيادم نه ښه او سالم انسان جوړول دي. يعنی روزنه يوه انسان ته انسانی يا اخلاقی او اجتماعی (يعنی دنورو انسانانو سره دسالمو، موثرو او ښو اړيکو لرل). مسئوليتونه ورزده کوی يعنی روزنه ده چه هر انسان په يوه ښه (ځان او نورو ته په گټور) انسان بدلوی. او هر انسان ته په ټولنه کی ديوه گټور او پېژندل شوی مقام ته درسيدو لپاره دضرورت وړ خوی او خصلتونه او بيا ددی مقامونه دلا ښه ساتلو او لوړولو لپاره ضروری اخلاق او خصلتونه ورزده کوې.

روزنه دهری ټولنی په خصوصياتو پوری اړه لر ی او ديوی ټولنی نه بلی ته فرق کوی مثلا په شرقی ټولنو کی دی ته ترجيح ورکول کېږی چه انسانان دې گډ ژوند ولري او هر يو دې بل سره مرسته وکړی، پداسی حال کی چه په غربی ټولنو کی بيا انفراديت يا ځانته والی ته ترجيح ورکول کېږی او ځوانان داسی روزل کېږی چه خپل کارونه پخپله پرمخ بوزی. داد شرقي او غربي تربي يو فرق دي. چې دا هر يوه ټولنی ته منل شوی طريقه بيا دځوانانو دروزنې لپاره جلا جلا لاری لرې او دغه لاری دهری ټولنی لپاره دخلکو له خوا ټاکل شوی او په هغه ټولنه کی منل شوی دی چې دهمدی خصوصياتو په چوکاټ کی تربيه هم ددغی اصلونو تابع او ديوه ځای څخه و بل ځاې ته او ديوه کلتور څخه بل کلتورته فرق کوی.

دويم: ښوونه ياتعليم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعلیم دانسانانو او ټولینزو ضرورتونو دپوره کولو لپاره دټولنو په اړه دمعلوماتو پیداکول او دټولنی دضرورتونو او ستونزو دحل لپاره دعلمی لارو چارو او تخنیکی وسائیلو دکشف، استعمال او دهغې نه دګټو اخستلو د طریقو زده کوونه ده. څرنګه چه دغه موضوعات دټولو ټولنو او ملکونو لپاره یو شان ضرورت او حتی ددوی نه ګټه اخستل تر ډېره حده مشابه او یو شان ده نو تعلیم دټولو هېوادونو لپاره یو شان کېداې شي. همدا وجه ده چه دښوونی او تعلیم مواد دیو ملک نه دبل ملک لپاره هم استعمال کېدای شې. یوازینی فرق به پکښې د ژبې وي چه دغه مشکل بیا دتر جمي له لاري حل کیداي شي.

نو په لنډه توګه ویلي شوو چې ښوونه او د ښووني یا تعلیم مواد د مختلفو ملکونو لپاره مشابه او یو شان ته وي لکن دتربي په اړه مواد او لیکني د هري ټولنې لپاره خاص او ځانګړي وي. ښوونه سړي ته علم او روزنه سړي ته سړیتوب ورزده کوي.

۲- روزنه مهمه ده که ښوونه ولې څوك په روزنه بحث نه کوي؟

ښوونه او روزنه دواړه مهم دی. ښوونه سړی ته علم او روزنه سړی ته سریتوب ورزده کوی. په روزنه کی خلك دخپل ځان، خپلی کورنی، ټولنی او ملت په اړوند مسئولیتونه زده کوي او دهغی دعملی کولو سپارښتنه ورته کوي.پداسی حال کی چی ښوونه ورته یوازی دهمدی او نورو تخنیکی او علمی موضوعاتو په اړه معلوماتونه ورکوی. داروزنه ده چه یو سړی ته سړیتوب، په ټولنه کی داجتماعی اړیکو او مسئولیتونو زده کړه او دهغی دعملی کولو سپارښتنه، دخپل ملك، خلکو، ملی مقدساتو، ملی تاریخی او ملې ګټو نه دفاع ور ښائی. روزنه دانسان په ژوند دوجدان حاکمیت مسلط کوي. بلاخره دا روزنه ده چه مونږ نه یو با احساسه، باوجدانه او با مسولیته انسان جوړوی دا چه ولی نور خلك او نوری تعلیمی اداری رروزنی ته توجه نه کوی دوه عامله لری:

لمړی داچه په روزنه پوهیدنه او روزنه ورښوونه اسان کار نه دی. ځکه دښوونی کتابونه او مواد دنورو ملکونو نه هم ترجمه او کاپی کېدای شې، پداسی حال کی چه دروزنی برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهر هېواد او هري ټولنی پوری په ځانکړی توگه اړه لر ی. دا موضوع زمونږ په ملك کی ځکه ډېره مشکله ده چې په دی اړه لا تر اوسه چا څه ليکنی نه دی کړی او يا هم اقلا د (جهانی صاحب) له قوله لاتر اوسه زما نظر ته نه دی راغلی. زمونږ په هېواد کی روزنه زياترپه دکورنيو او اجتماعی محيطونو کی په غير ارادی توگه ( مخ وگورئ)

په کورونو، حجرو، ديرو، جوماتونو او ښوونځی کی تر يوه حده زده کېده خو متاسفانه تير ديرش کلن جنگ ديو خوا زمونږ دخلکو نه دتربيی دزده کړی دغه محيطونه واخستل او دبله پلوه دجنگونو له کبله دخلکو په داخل کي او خارج ته مهاجرتونو ديوځه گټو ترخوا زمونږ دخلکو تربيی ته ډېری صدمی ورسولی. او دتربيی دزده کړی دغه محيطونه ئي زمونږ نه واخستل.

دوهمه مهمه خبره داده چی دتربيی تدريس يوازی هغه څوك کولای شی چه پدې برخه کې ځوانانو ته مثال جوړيدای شی. خو متاسفانه په ننی بدبخته شرايطو کی زمونږ په ملك کی د تربيوې موضوعاتو په برخه کی مثال جوړيدل خورا مشکل کار دی. دمثال په ډول دتربيی په تدريس کی بايدځوانانو ته دا ووايې چه درواغ به نه وايې، ظلم به نه کوی، خيانت به نه کوی، وطن پال او ښه مسلمان او دټولنی ته به خدمتگار پاتی کېږی. نو داخبری خو هغه څوك کولای شی چه دا ثابته کړای شی چه دوی په خپله په دی صفاتو ملبس دی. چه متاسفانه دداسی شخصيتونو چه ديوی خوا پدی موضوعاتو پوه شی او دهغوی دتدريس کولو توان ولری او دبلې خوا پدی نيکو صفاتو ملبس وی دگوتو په شمار دی. دا چی يو څوك پخپله ښه سړی وی دايوه خبره ده خو داچی نورو ته هم ورونښودلی شی چه څرنگه دې هغوی هم ښه او بامسئوليته انسانان شی دا بيا يوه جلا او جدی موضوع ده چی ځانگړی توانمندی او زياته قربانی غواړی.

۳- ښوونکې مهم دي که مور او پلار او کورنی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر انسان په ژوند کي ، روزنه او پوهنه دواړه ډېر ټاکوونکې نقش لري. خو دپلار او مور او کورنۍ نقش د تربيې په برخه کې او د ښوونکې نقش د ښووني په برخه کې ډېر جدي او دتوجه وړدي. اما ديوه نقش هم په بله برخه کې له نظره نشو غورزولاي. يعنې په داسي حال کې چې هر يو له دواړو (ښووني او روزني) په برخه کې موئثر دي اما د دوي خاص او زيات موئثريت په هغه ځانګړو برخو کې دي چې پورته ذکر شول. دابايد و وايو چې دمور او پلار او کورنۍ اثر او نفوذ دهر انسان په ژوند کې د تهداب ايښودلو معني‌لري که دماشوم ژوند دماشومتوب په لومړی ځو کلونو کې (تر ښوونځي دمخه) په ښه او سالمه توګه عيار شي نو بيا دغه ماشوم حتا ښووني ته هم ښه توجه ورکوي . خو متائسفانه زمونږ اکثرا کورنۍ ددوي د ول او دهغي د ارزښت نه ناخبره دي دوي فکر کوي چې ماشوم يوازي د ښوونځي له لاري تعليم او تربيه زده کوي چې دايوه نادرسته خبره ده. زه په کلکه د کورنيو پلرونو او ميندو باندي غږ کوم چې خپل مسئوليت د خپلو بچېو په سالمه روزنه کي جدي وګڼي او يه دي برخه کې خپل وظايفو ته په جدي توګه متوجه او هغه دي په درسته توګه اداء کړي. د بچېانو د سالمي تر بيي لپاره د اضرور نه ده چې زيږول (پلار او مور) دي حتما زده کړي کړي وي. ځکه چې د سالمي تربېي ورکول دزده کړو پوري کوم خاص تړاو نه لري. د مثال په توګه که غواړو چې بچې مو مودب راشي نو تاسي خپلو ورو بچو ته هر سهار سلام ورکړي، او دي ته ئي وهڅوي چې نورو ته سلام وکړي. يا مو ماشوم له دي څخه منع کړي چې ښکنځل او بد الفاظ استعمال کړئ، دا يو هم د تعليم سره تړوا نه لري. زه پدي برخه کښي په ټولو لوستونکو غږ کو م چې نور نالوستو زيږوالو (ميندو او پلرونو) ته زما پيغام وررورسوي او هغوی ددې نا هيلي نه چې دوي نشي کولاي د خپلو بچو په تربيه کښي موثره ونډه واخلي، راوباسې .

٤- ځوانان اکثرا پلان جوړوي خو عملي کېږي نه ددې عوامل به څه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو مهمه خبرداده چې پلان جوړول زمونږ په ملك کې دومره زیات رواج نه لري. او خلك دپلان په جوړولو دومره نه پو هیږي دپلانونو دناکام کېدوو جی په لاندی ډول خلاصه کولي شو:

۱- اکثره خلك د پلان په جوړولو کی خوش باوری ښکاره کېږی. دوی د پلان دجوړولو په وخت کی هر څه ایډیل یعنی په (سلو کی سل نورمال) فکر کوی او دهغه کار په لاره کی ستونزی اود نورو محیطی شرایطو رول اواثر په نظر کی نه نیسی. یواځي خپل اراده او خپل ځان محاسبه کوی. پداسی حال کی چې دهر پلان په برخه کې یو زیات شمیر نور بهرنی عوامل هم اثر لری چه باید همیش په نظر کی ونیول شی.

۲- اکثره خلك دیوپلان دعملی کولو په برخه کی خپل لمړنی وظایف چه هغه دهغی موضوع په اړوند لومړنی تحقیقات دی نه تر سره کوی او هر څۀ په اټکل محاسبه کوي. دا ددی سبب کېږی چه دپلان دعملی کولو په وخت کی ورته یو شمیر داسی ستونزی په مخه ورځی چه دهغی تصور ئي هم نه وی کړی. پدی صورت کی اکثره خلك وارخطاکېږی او هر څۀ پریږی.ی نو پلانونه ناکام کېږی.

۳- د بدید ل نه لرل :

اکثره خلك چه خپل پلانونه جوړوی فکر کوی چه هر څۀ به ددوی دهیلو سره سم پرمخ ځی نو دځینی ناسنجول شوو پیښو په صورت کی او یا هم ددوی دپلان شویو ستراتیژو دناکام کېدلو په صورت کی ځان ته کوم بل بدیل نه وی سنجولی نوپدی توگه دیو ستراتیژی دناکام کېدو په صورت کی نه شی کولی چی یوه متبادله لاره غوره کړی

پدي اړه جدی مشوره ده چې ځوانان باید په خپل پلان کښي د ځني برخو د ناکامیدو پیش بین اوسي اود هغي لپاره باید متبادل پلانونه هم مخکي له مخکي وسنجوي او دهغي د تطبیق په اړه ځانگړي طرحه له ځان سره ولري.

۴ ځني خلك دیوه پلان په عملی کولو کښي مرحلوي برخي نه تشخیصوي او خپل ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مرحله په مرحله اهداف او هغي ته د رسیدو په برخه کې معیارونه ښه نشي ټاکلي. دا ددې سبب کېږي چې د پلان دعملي کولو په او ږدو کښي خپل ځان ورک محسوسوي او نا هیلي کېږي. ښه به دا وي چې دهر پلان د عملي کولو په برخه کې مرحلوي شا خصونه **(Mile Stones)** روښانه او هغي ته درسیدو معیارونه واضح او معلومدارکړي. تر څو د خپل پلان د عملي کېدو په برخه کښي خپل پرمختګ اندازه کړاي شي. ددې معیارونو دټاکلو لپاره د وخت ټاکل هم یو مهم اصل دي چې متائسفانه اکثرا دنظر نه لري پاتي کېږي.

د مثال په توګه: که تاسي جلال اباد نه کابل ته ځي نو تاسي باید پوه شي چې دا مسافه ۱۵۰ کلیومتره لاره ده. دترافیکو دازدحام په نظر کې نیولوسره او سط سرعت به ۵۰ کلیومتره په ساعت کښي وي نو ته به په ۳ ساعتونو کې کابل ته رسیږی . پدي حساب بایدپه یونیم ساعت کي سروبي ته او په دوه نیمو ساعتو کي پل چرخي ته ورسږی .

نو پدي طریقه ستاسې د پلان شاخصونه لکه.سدوبي او پل چرخي هم معلوم، او دغو ځایونه ته درسیدو وخت هم معلوم دي. که تاسي په خپل وخت سروبي ته ورسیږي نو ستاسې سفر د پلان سره سم روان دي، او که ناوخته ورسیږي نو پلان مو د خنډ سره مخ دي او که ژر ورسیدي نو پلان نه مخکي یئ.

۵- ایا دولت د ځوانانو په سالمه روزنه کي څه کولاي شي؟ او څه ئي کړي؟

هو! دولت تر ټولو مهمه قوه ده چه دیوه مملکت دځوانانو په سالمه روزنه کی ډېره موثره ونډه اخستلی شی. دولت دخپل ورځنی کړو وړو له لاری نه یوازی دا چی ځوانانو ته ښه مثال جوړیدای شی بلکه دخپلو هغه امکاناتو او موثریت له لاری چی یی په ټولنه کي لری په ځوانانو کی مثبتی هیلی او امیدواری راپیداکولای شی.

سره لدی چه همدا اوس زمونږ په هېواد کی دځوانانو په نامه ډېر فعالیتونه او هلی ځلی روانی دی خو متاسفانه دمحتوی له لحاظه دغه پروګرامونه ډېر تش او بې کیفیته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت وائي يو څه اما متاسفانه په عمل کی بيا هغه څه کوی چه ددوی دوينا خلاف وی. دمثال په توګه: دوی وايي او دعوا کوی چه ځوانان بايد پاك او وطن دوست وروزل شي خو چی کله بيا يو ځونان دپوهنتون نه فارغ شی او دخپل ځان دمقرر کيدلو لپاره په دولتی مختلفو ادارو کی په خپل مخ دوه لاسی څپيړی وخوری او په رشوت ورکولو او واسطه کولو مجبور شی نو ددوی هيلی په نا اميدی بدلی شی. خوی او خصلت ئی بيا دخدمت کولو په غوض په رشوت خوړلو او خيانت کولو وربدل شی. نو دادی په عمل کی ددولت ونډه دځوانانو په تربيه کی چی متاسفانه نه يوازی دا چی مثبته نه ده بلکه فوق العاده منفی او خطرناکه ده. زه پدی وسيله دافغانستان د چارواکو توجه دغه فوق العاده مهم اصل ته راړول غواړم چه دوی پدی پوه شي چه داداری فساد دغه جرړی يوازی پر دوی پوری محدودی نه پاتی کيږی بلکه دوی په خپلو دارنګه اعمالو ددی هېواد دراتلونکی بنسټونه خرابوی او دا هېواد ديو تل پاتی فساد سره مخ کوی چه بيا به ددوی خپل بچېان هم ددی فساد قربانيان وی.

۷- زمونږ بچېان په کور کی ښه تربيه لری خو په کوڅه کی دنورو ماشومانو دلاسه خرابيږی څه وکړو؟

دايوه ډېره عامه او پراخه ستونزه ده. ماشومان ضرورت لر ی چه دکور نه دباندی دنورو ماشومانو سره يو ځای لوبی وکړی او دماشومتوب دوخت نه ځانګړی خوند او مزي واخلي. دوی ضرورت لری چی ښوونځی ته ولاړ شي او هلته دنورو ماشومانو سره يو ځای زده کړه وکړی. مونږ نشو کولا ی او دماشومانو په ګټهٔ هم نه ده چی دنورو ماشومانو نه ئي جدا او په کورونو کی راګير وروزو. دبلی خوا په کوڅو او حتی مکتبونو کی په سل ګونو داسی ماشومان دی چه هغوی په کور کی دتربيي څه خاص شرايط نه لری. ممکن هغوی بی پلاره وی، بي موره وی، غريب وی او يا هم پلار او مور ئي اصلا ددوی تربيي لپاره يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت نه لري او یا هم دتربیې په ورکولو نه پوهیږي . داهمدا ډول ماشومان دي چه اکثره په کوڅو کې بې سرنوشته ګرځي، راګرځي او همدوی بیا دنورو ماشومانو لپاره هم د سر درد او د مصیبتونو دپیداکولو لامل ګرځي. دایوه پراخه اجتماعي ستونزه ده چه دحل لپاره یي یوازې په ملك کې یو سالم نظام او سالمه اداره لازمي او جدي اقدامات تر سره کولای شي. خو پدې اړه دومره ویلی شم چې:

۱ دولت باید دخپلې ټولنې دراتلونکې سلامتیا په خاطر ددغې بچو په وړاندې خپل مسئولیتونه تشخیص او ادا کړي. او دغسې یله ګرد ماشومان باید دیو منظم او ټاکلې پلان له لارې روزنتونونو ته ورواستول شي او په سالمه لاره مصروف وساتل شي

۲ پلرونه او میندې باید په دې اړه خپلو مسئولیتونو ته متوجه او تر ممکن حده ددې بچېانو روزنې ته ځان وقف کړي

۳ خیریه موسسې باید پدې اړه خپلې هڅې جدي او منظمې کړي تر څو دا ماشومان ددې مصیبت ناك حالت څخه وژغوري

۴ کوښښ وکړي چه خپل ماشومان دداډول ماشومانو نه جلا وساتي او دلوبو لپاره ئي کوم بل داسې محیط ته یوسي چه تاسې هم ورسره اوسي او یو سالم محیط وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپاړسم څپرکی

## ۵۷ - دلوستونکو نه وروستۍ هيله:

محترمو لوستونکو! داچې تاسې د اکتاب تر پايه ولوست له زغم او حوصلې نه مو مننه کوم. ددې امکان شته چې دکتاب په لوستو کې مو ځينی غلطۍ او سهوې په نظر راغلي وي، نو ددې له پاره چې په راتلونکي چاپ کې د دې ډول غلطيو مخه ونيول شی، نو خپل نظريات او کتنې موږ ته په هغه پته راواستوئ چې د کتاب پر پښتۍ ليکل شوې دي. ددې ترخوا، اجازه راکړئ او زما دوه لانديني وړانديزونه ولولئ، ددې منل او پرې عمل کول ستاسې خو ښه ده.

۱ . لطفا په خپله ټولنه کې د يو کارنده او باتدبيره انسان په توگه ژوند غوره کړئ.

د فعال او غير فعال ژوند په اړه ددې کتاب په ____ مخ کې په تفصيل خبرې شوې دي. د يو فعال شخص په توگه ژوند کول هم تاسې ته او هم دې ټولنې ته نيکمرغي راوړلی شي او د يو باتدبيره انسان په توگه کېدای شي تاسې پخپل ژوند کې د يولړ ستونزو مخه ونيولای شئ او هم به مو اړوند کارونه ښه منظم او موفقانه ډول تر سره کړي وي.

۲- هيله ده د همدې پورته وړانديزونو په رڼا کې دغه کتاب هم په فعاله توگه ولولئ او پدې اړه موږ سره خپل نظريات، وړانديزونه او ځانگړې تجربې شريکې کړئ، چې ددې کتاب په بيا چاپولو کې ځوانانو ته د لا ښه چوپړ په خاطر په پام کې ونيول شي.

د هېوادوالو د لا زياتې سياسي هوښيارۍ، دگران هېواد رښتينې ازادۍ، ابادۍ، هوسايېنې او سرلوړۍ او ترڅنگ يې ستاسې د لا ډېرو برياليتوبونو، کارنده او با مسووليته ژوند کولو په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

ډاکټر تاج الدين ملت مل

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**